


Visit www.ketabton.com for more Pashto ebooks.

# لومړۍ نړیواله جګړه

(د انساني تاریخ د لومړۍ وحشي جګړې له عبرته ډک تاریخ)

لیکوال: سید محمد فضل الله بخاري

ژباړن: زاهد خلیلي

## دکتاب ځانګړنې


د کتاب نوم: لومړۍ نړیواله جګړه

لیکوال: سید محمد فضل الله بخاري

ژباړن: زاهد خلیلي zahidkhalil@yahoo.com

کمپوزر: په خپله ژباړن

ډیزاین چارې: عبدالهادي اثر ۰۷۷۲۱۲۰۷۰۳

خپرندوی: مومند خپرندویه ټولنه-جلال اباد

چاپ کال: ۲۰۱۳/۱۳۹۲

برېښنا لیک: Momand.books@gmail.com

چاپوار: لومړی

چاپځای: مومند خپرندويي ټولنې تخنیکي څانګه



د بیا چاپ حقونه د خپرندویي ټولنې سره خوندي دي

Visit www.ketabton.com for more Pashto ebooks.

بسم الله الرحمن الرحيم

Visit www.ketabton.com for more Pashto ebooks.

# ډالۍ

# قدرمن مور او پلار ته مې

زاهد خلیلي

**نیولیک**


د ژباړن خبرې ........................................................................................ 11
لومړنۍ خبرې ......................................................................................... 13


Visit www.ketabton.com for more Pashto ebooks.

لومړۍ برخه ........................................................................ 16
د لومړۍ نړیوالي جګړې څخه مخکې د ښکېلو هېوادونو حالات........................................ 16
د متحدو هېوادونو حالات............................................................... 16
انګلستان ........................................................................ 16
سیاسي او ټولنیز حالات............................................................... 17
اقتصادي حالات ........................................................................ 18
جغرافیايي او فوځي حالات ............................................................... 19
فرانسه ........................................................................ 20
سیاسي او ټولنیز حالات............................................................... 22
اقتصادي حالات ........................................................................ 23
جغرافیايي او فوځي حالات ............................................................... 24
امریکا........................................................................ 25
سیاسي او ټولنیز حالات............................................................... 26
اقتصادي حالات ........................................................................ 27
جغرافیايي او فوځي حالات ............................................................... 28
روسیه........................................................................ 29
سیاسي او ټولنیز حالات............................................................... 32
اقتصادي حالات ........................................................................ 32
جغرافیايي او فوځي حالات ............................................................... 33
سربیا ........................................................................ 34
رومانیه ........................................................................ 35
بیلجیم ........................................................................ 36
یونان ........................................................................ **Error! Bookmark not defined.**
مونتي نیګرو ........................................................................ 40
ایټالیا ........................................................................ 40
جاپان........................................................................ 43
پرتګال ........................................................................ 45

Visit www.ketabton.com for more Pashto ebooks.

د مرکزي هېوادونو حالات ............ 46
جرمني ............ 48
سیاسي او ټولنیز حالات ............ 50
اقتصادي حالات ............ 52
جغرافیایي او فوځي حالات ............ 53
استریا-هنګري ............ 54
سیاسي او ټولنیز حالات ............ 57
اقتصادي حالات ............ 58
جغرافیایي او فوځي حالات ............ 59
ترکیه ............ 61
بلغاریه ............ 63
د جګړې لاملونه ............ 64
د ځمکني، بحري او هوایي ځواک د برلاستیا لپاره هڅې ............ 65
د اقتصادي پیاوړتیا لپاره هڅې ............ 68
د پخوانیو جګړو څخه رامنځته شوې دښمني ............ 70
قومي تعصبونه ............ 71
اتحادي سیاست ............ 72
د مشرانو ناکامه مشرې ............ 74
صنعتي انقلاب او د نوي والي سره د ځینو خلکو مخالفت ............ 76
د نویو سیمو د نیولو پر سر رقابت ............ 77
دویمه برخه ............ 79
د جګړې احوال ............ 79
د ۱۹۱۴ ز کال د جګړې حالات ............ 79
د جګړې پلانونه ............ 81
د شیلفن پلان ............ 81
۱۷ شمېره پلان ............ 83
ځمکنی او بحري حملې ............ 84

Visit www.ketabton.com for more Pashto ebooks.

لوېدیځه جبهه ........................................................................ 85
سرحدي جګړې........................................................................ 86
د لورن په سیمه کې جګړه........................................................................ 86
د ارډینینس جګړه........................................................................ 88
د سیمبر جګړه........................................................................ 89
د مونز، لاکیټا او ګوئز جګړې ........................................................................ 90
د مارن او ارک جګړې........................................................................ 92
د مارن دویمه جګړه ........................................................................ 95
د سنټ ګاندي د سیمې جګړې ........................................................................ 96
د جنوبي جبهې جګړه ........................................................................ 96
د ائزن لومړی جګړه........................................................................ 98
د پاریس لومړۍ جګړه........................................................................ 98
ختیزه جبهه ........................................................................ 100
د ټینن برګ جبهه........................................................................ 101
د مسیورین، ګلیشیا او د پولینډ جبهه ........................................................................ 103
د بالکانو جبهه ........................................................................ 105
د ترکیې جبهه........................................................................ 107
بحري جبهه ........................................................................ 108
د هولي ګولینډ جګړه ........................................................................ 108
مستعمراتي جبهې........................................................................ 109
د ۱۹۱۵ ز کال د جګړې حالات........................................................................ 111
ځمکنۍ، بحري او هوايي حملې ........................................................................ 112
لوېدیزه جبهه........................................................................ 112
د نو چپیل جګړه........................................................................ 113
د پاریس دویمه جګړه ........................................................................ 113
ختیزه جبهه ........................................................................ 114
په میسوریا کې د ژمي جګړې ........................................................................ 115

Visit www.ketabton.com for more Pashto ebooks.

د ګارلس ټارنوو ماته........................................................................ 115
د ایټالیي جبهه........................................................................ 117
د ایټالیي جګړې ........................................................................ 118
د بالکانو جبهه ........................................................................ 119
د سربیا سقوط ........................................................................ 119
د ترکیي جبهه........................................................................ 120
د کاکیشیا جبهه ........................................................................ 121
د جنوبي میزوپوتامیا جبهه........................................................................ 121
د ګالي پولي جبهه ........................................................................ 122
بحري جبهه........................................................................ 123
د ۱۹۱۶ ز کال د جګړې حالات........................................................................ 124
ځمکنی، بحري او هوایي حملې ........................................................................ 125
د ورډن جګړه ........................................................................ 125
د سوم جګړه........................................................................ 126
ختیزه جبهه ........................................................................ 128
د بروسیلوف حمله........................................................................ 128
د ایټالیي جبهه........................................................................ 130
د استریا د اسیاګو حمله ........................................................................ 130
د ایسونز د سیند جګړې(۶،۷،۸ او ۹ جګړه) ........................................................................ 131
د بالکانو جبهه ........................................................................ 132
د رومانیي حملې او شا تګ........................................................................ 132
د یونان او سالونیکا جبهه ........................................................................ 134
د ترکیي جبهه........................................................................ 135
متحد فوځونه په سینا کې........................................................................ 136
د کټ محاصره ........................................................................ 137
ترکي فوځ په کاکیشیا کې........................................................................ 138
د عربو انقلاب او د فلسطین جبهه........................................................................ 139

Visit www.ketabton.com for more Pashto ebooks.

بحري جبهه ..... 140
د جوټ لینډ جګړه ..... 140
د ۱۹۱۷ ز کال د جګړې حالات..... 141
ځمکنۍ، بحري او هوايي حملې ..... 142
لوېدیزه جبهه..... 142
د ائزن دوېمه جګړه ..... 142
د پاریس دریمه جګړه..... 143
د کیمبرائي جګړه..... 144
فرانسوي سوبې (فتوحات) ..... 144
ختیزه جبهه ..... 145
د ایټالیي جبهه..... 146
د ایسونز ۱۰ او ۱۱ جګړه ..... 146
په ۱۹۱۷ ز کال کې د کیپو ریټو جګړه ..... 148
د ترکیي جبهه..... 150
د غزې لومړۍ او دویمه جګړه..... 150
د غزې دریمه جګړه ..... 152
بحري جبهه ..... 153
هوايي جبهه..... 154
سفارتي اړیکې..... 155
د ۱۹۱۸ ز کال د جګړې حالات..... 156
ځمکنۍ، بحري او هوايي حملې ..... 157
لوېدیزه جبهه..... 157
د هوټیر جنګي پلان..... 158
لومړۍ جرمنۍ حمله (د سوم حمله)..... 158
دویمه جرمنۍ حمله (د لیز حمله) ..... 161
د ریمه جرمنۍ حمله (د ائزن جګړه) ..... 162
څلورمه جرمنۍ حمله (د نویون-ماؤنټډ جګړه)..... 163

Visit www.ketabton.com for more Pashto ebooks.

پنځمه جرمنی حمله (د چمپین-مارین جګړه) ........ 164
د متحدو فوځونو لومړۍ ځوابي حمله (د ائزن-مارن جګړه) ........ 165
د متحدو فوځونو دویمه ځوابي حمله (د ایمنز جګړه) ........ 166
د متحدو فوځونو دریمه ځوابي حمله (د سینټ می هیل جګړه) ........ 167
د متحدو فوځونو وروستۍ حملې ........ 167
د سپتمبر د ۲۶ څخه د اکتوبر د ۳۱ پورې ........ 168
۱- جنوبي پنسر (میوز-ارګان) ........ 168
۲- لوېدیځ پنسر (کیمبرائي-سینټ کوئنټن) ........ 169
۳- د فلنډرز حمله ........ 170
د نومبر د لومړۍ څخه تر یوولسم پورې ........ 170
د ایټالیې جبهه ........ 171
د بالکانو جبهه او د بلغاریې ماته ........ 173
د ترکیې جبهه او د موسل خواته د متحد فوځ مخکې تګ ........ 174
هوایي جبهه ........ 176
دریمه برخه ........ 177
د جګړې پای ........ 177
جنګ بندي ........ 177
د جنګ بندی لاملونه ........ 177
سفارتي هڅې ........ 181
د ولسمشر وېلسن ۱۴ نکتې ........ 183
د ورسلز د سولې تړون ........ 185
د جګړې زیانونه ........ 188
۱- بلاواسطه زیانونه ........ 189
د متحدو هېوادونو او ملګرو یې بلاواسطه زیان ........ 189
د مرکزي هیوادونو بلاواسطه جنګي زیان ........ 191
۲- بالواسطه جنګي زیان ........ 191
د اروپا عمومي حالات ........ 193

Visit www.ketabton.com for more Pashto ebooks.

**د ژباړن خبرې**

د شلمې پیړۍ پیښې په انساني تاریخ کې مهم ځای لري، په دې پیړۍ کې د دوو نړیوالو جګړو سربېره ځو داسې پیښې رامنځته شوې، چې په نړۍ کې یې ستر تغیرات رامنځته کړل او هم ورسره نړیوال سیاست تغیر وکړ، په دې پیړۍ کې په روسیه کې د لینن په مشرۍ د کمونیزم بریالیتوب او وروسته د افغان سپیڅلي جهاد په پایله کې یې ړنګیدل، د عثماني اسلامي خلافت له منځه تلل، د اسلامي فلسطین او یهودو مسئله، کمونستي انقلابونه، سړه جګړه او نورې ډېرې مهمې تاریخې پیښې رامنځته شوې.

دغه په لاس کې کتاب مو د شلمې پیړۍ د یوې سترې تاریخي پیښې په اړه دی، لومړۍ نړیواله جګړه، چې انسانیت ته یې د وژلو، ورانولو، کړکې او نفرت پرته بل څه نه لرل، دغه جګړه د بشریت په تاریخ کې لومړۍ جګړه وه، چې ګڼ شمېر هیوادونو او ان ځو لویو وچو په کې برخه اخیستې وه، جګړې انسانیت ته ډېر زیان واړوه، په میلیونونو ووژل شول، بې کوره او معیوب شول، د بشریت په تاریخ کې دا لومړی ځل وه، چې دومره زیات خلک په لږه موده کې له نړۍ ورک شول.

Visit www.ketabton.com for more Pashto ebooks.

په کتاب کې جګړه په بشپړ تفصیل سره لیکل شوې ده، د جګړې څخه مخکې د هغو هیوادونو حالاتو هم په لنډ ډول لیکل شوي، چې په جګړه کې ښکېل وه، ورپسې د جګړې یوه مهمه موضوع، چې د جګړې لاملونه دي، هم لیکل شوي دي، بیا د جګړې حالات دي، چې په ترتیب سره د هر کال جګړه راوړل شوې ده، د هر کال پیښې د جنورۍ د میاشتې څخه پیل بیا تر د دسمبر د میاشتې پورې لیکل شوي دي.

څرنګه چې جګړه د څو هیوادونو تر منځ وه، همداسې د جګړې جبهې هم په مختلفو ځایونو کې وې، لویدیزه جبهه د فرانسې او جرمني سیمه ده، ختیځه جبهه د روسیې سیمه ده، د ترکیې جبهه د ترکیې سیمه ده، د بالکانو جبهه د بلغاریې، سربیا، یونان او استریا سیمه ده او د فلسطین جبهه د فلسطین او مصر سیمه ده.

د کتاب دریمه برخه د جګړې د پای په اړه ده، دلته د جګړې د پای مراحل او تړونونه راوړل شوي دي، ورپسې د جګړې زیانونه او په پای کې د جګړې وروسته د اروپا عمومي حالات په لنډ ډول لیکل شوي دي.

د کتاب په لیکلو کې د لیکوال لخوا ډېر زیار ایستل شوی او هم په ډېر وخت کې یې لیکلی دی، د لیکوال د څرګندونو داسې ښکاري، چې دا به په اردو ژبه د لومړۍ نړیوالې جګړې په اړه لومړنی تفصیلي او بشپړ اثر وي او په پښتو ژبه خو تر اوسه د داسې نړیوالو مسئلو په اړه نیمه بشپړ اثر هم نه دی لیکل یا ژباړل شوی (ډېر د خواشینۍ ځای ندی؟ په داسې حال کې چې د جګړې نږدې سل کاله پوره کیدونکي دي).

په کتاب کې ډېر زیات عنوانونه راغلي وه، چې ما په ځینو ځایونو کې د موضوع ګانو د یو شان والي په وجه دوه عنوانه یو ځای کړي او یو عنوان مېترې جوړ کړی دی او په ځینو ځایونو کې د موضوع د تکرار په وجه مې دوه درې عنوانه پریښي هم دي، د کتاب په څو وروستیو مخونو کې دوه نورې کوچنۍ موضوع ګانې هم وې، چې ما د ډېرو بوختیاوو او د وخت د کموالي په وجه ونشو کولای هغه وژباړم، که چیرې په راتلونکي کې کتاب بیا چاپیده، انشاءالله هغه به هم وژباړم او یو ځای به یې ورسره چاپ کړم.

Visit www.ketabton.com for more Pashto ebooks.

په درنښت

زاهدخلیلي

ننګرهار پوهنتون

د ښوونې او روزنې پوهنځي د تاریخ دیپارتمنت د څلورم ټولګي زده کړیال

**لومړنۍ خبرې**

د بشریت د تاریخ پاڼې د زرګونو جګړو په دردوونکو کیسو تورې شوي دي؛ خو د شلمې پېړۍ په پېل کې داسې ستره جګړه رامنځته شوه، چې د ځمکې پر مخ یې وحشي او د وینو ډکې کیسې پرېښودې. له دې جګړې مخکې انساني فکر، د دومره قتل، غارت، وینې بهولو، بې رحمۍ او وحشت سره اشنا نه وه، سترګو د انسان په لاس د انساني تباهۍ داسې انځورونه ولیدل، چې وروسته ترې انسان د حیوانیت او وحشت عروج ته ورسیده، جګړې د سرمایه دارۍ نړۍ مکر او فریب ښکاره کړ.

د اروپا د پوهو خلکو د دوکې، لوړتیا غوښتنې، واک غوښتنې، اقتصادي منډو ترړو، قومي تعصبونو، تیاره فکر او د خپل منځي رقابتونو په پایله کې د ۱۹۱۴-۱۹۱۸ کلونو په منځ کې د انساني وینې هغه ارزانه نمونه وړاندې شوه، چې د ځنګلي ژوند په تاریخ کې یې سارې نه لیدل کیږي.

انساني لوړوالی پایمال شو، انسانیت د حیوانیت او وحشت ښه خپله کړه، د بشریت بې دریغه قتل عام وشو، په داسې حال کې چې همدغه خلک، چې لاسونه یې په انساني وینو رنګ دي، د نړیوال امن او د انسانیت د بهبود نه ستړې کیدونکې نعرې وهي.

Visit www.ketabton.com for more Pashto ebooks.

همدې خلکو په ټوله نړۍ کې د سیاسي، اقتصادي او فکري دوکې او منافقت په وجه په خپل قوت او طاقت باندې پوره باور درلود، د خپل بې ساري او غوړیدلي اقتصاد، صنعتي تولید، د نړۍ په معدني ذخیرو باندې په واک درلودلو سره سره یې ځمکنۍ پراختیا غوښته، په دې ډول دوی دوکه شول.

ددې موخې د ترلاسه کولو لپاره اروپایي هیوادونو د نولسمې پیړۍ د اخرو پورې د نړۍ په نورو هیوادونو باندې فوځي، اقتصادي او سیاسي برتري ترلاسه کړې وه. اروپایي هیوادونه د سوداګرۍ په فریب کې راغلي وه، د افریقا، اسیا، د امریکا لویه وچه او په استرالیا کې اروپایي هیوادونو د هغه ځای حکومتونه د تورې په زور یا د سازشونو په ذریعه له منځه وړل او استعمار کړي یې وه.

بل خوا، د نیمایي څخه په زیاتو هیوادونو د ولکې په لرلو سره، یې هغوی غلامان کړي وه، د انساني غلامۍ دغه حالت د استعماري هیوادونو د ناوړه موخو لپاره قرباني کیدې.

اوس استعماري هیوادونو ښه باغونه، معدنونه او د تېلو غوندې ستر نعمتونه په لاس کې لرل، د دولت د لاسته راوړلو او په براعظم باندې د ولکې کولو پېل د نولسمې پیړۍ په دویمه نیمایي کې پېل شوی وه، اروپایان پوهیدل، د چا سره چې دغه شیان په لاس کې وي، د نړۍ په انسانانو باندې به واکمني کوي، پرمختګ به کوي او قوي کیږي به.

پورته ذکر شوې خبرې د همدې کتاب موضوع ده. په دې کتاب کې کوښښ شوی، چې په لومړۍ نړیواله جګړه کې د ښکیلو هیوادونو(اروپا) او نورو حالات وڅیړل شي، د جګړې اسباب، علتونه، احوال، پایلې او اغېزې بیان شي او د اوسنیو حالاتو په نظر کې نیولو سره لوستونکو ته جامع تبصره هم وړاندې شي، دا ددې لپاره، چې کتاب د تاریخي اړخ په درلودلو سره، سره د راتلونکي لپاره د ډیوې کار ورکړي.

شلمه پیړۍ د تاریخ یوه برخه ګرځیدلې ده، موږ اوس په یوویشتمه پیړۍ کې یو، د لومړۍ نړیوالې جګړې یوه پیړۍ پوره کیدونکې ده، نن ددې خبرې اړتیا ده، چې

Visit www.ketabton.com for more Pashto ebooks.

موږ خپل شاوخوا حالات وګورو، خپله ملي تګلاره جوړه کړو او په خپل ذهن کې دې پوښتنو ته ځواب پيداکړو، چې:

اوسني حالات په کوم لور روان دي؟

ايا د نن ورځې انسان د شلمې پيړۍ د پېل د وخت د انسان نه زيات محفوظ دی؟

ايا نړۍ يو ځل بيا د همداسې يو خطرناک او وحشي پای په طرف نه ده روانه؟

همداسې زياتې پوښتنې د بشريت د پايښت په اړه موجودې دي او د يوه قناعت ببښونکي ځواب په تمه دي.

په ظاهري ډول خو ميدان پخواني بربري او وحشي ميدان ته ورته دی، انسانيت يو وار بيا زخمي شوی دی او.... او کيدای شي، چې حالات يو ځل بيا د وروستي ځل لپاره همداسې حالات رامنځته کړي.

سيد محمد فضل الله بخاري

د کتاب ليکوال

Visit www.ketabton.com for more Pashto ebooks.

## لومړۍ برخه

**د لومړۍ نړیوالې جګړې څخه مخکې د ښکېلو هېوادونو حالات**

## د متحدو هېوادونو حالات

### انګلستان

د شلمې پیړۍ په پېل کې انګلستان د نړۍ په نقشه کې تر ټولو د ستر واکمن په توګه پیژندل کیده، دغه انګلیسي واکمني د ۱۱۴۰۰۰۰۰ متره مربع مساحت لرونکې وه، چې ۴۱۰ میلیونه خلک په کې اوسیدل، د دغې سترې واکمنۍ په جوړولو کې یوه نیمه پیړۍ کوښښ شوی وه، سره له دې، چې انګلستان د فرانسې او ځینو نورو اروپایي هیوادونو سره جګړې هم کړې وې؛ خو د نولسمې پیړۍ د دویمې لسیزې پورې انګلستان خپل لوړوالی ساتلی وه.

د ۱۷۵۰ څخه د ۱۹۰۰ پورې انګلیسي ځمکني او بحري فوځ هند، افریقا، استرالیا، نوی زیلاند، کاناډا او هانګ کانګ په مستقیم ډول د خپل واک لاندې راوستي وه، ددغې سترې واکمنۍ ټول وسائل د انګلستان د حکومت د لاس لاندې وه، انګلستان د خپلې ښې پالیسۍ او په هره برخه کې د مثبتو قدمونو د پورته کولو په وجه دې ځای ته رسیدلی وه.

د انګلستان بحري فوځ د دوه لویو بحري کښتیو لرونکی وه، دغو دوه کښتیو به په مسلسل ډول فوځونه او شیان د یو ځای نه بل ځای ته انتقالول، سربیره پر دې به یې بحري لارې هم په واک کې ساتلې وې، په دې ډول په ټوله بحري سوداګرۍ باندې یې هم کنترول درلوده، انګلستان دغه سوداګریز کنترول ته اړتیا هم لرله؛

Visit www.ketabton.com for more Pashto ebooks.

ځکه چې سوداګري يې د براعظمونو تر منځ وه، ددغه کنترول د جاري ساتلو لپاره هر کال نوې کښتۍ په بحري فوځ کې داخليدلې.

انګليسي سفارتونو کې ډېر زيات تکړه او پوه خلک موجود وه، انګلستان د نويو رامنځته شويو اروپايي هيوادونو د سفارتونو سره ښه همکاري درلوده، همدا وجه وه، چې انګلستان د زياتره اروپايي هيوادونو تر منځ جنجالي هيواد نه بلل کيده، هغه هيوادونه چې د انګلستان نه يې شکايت درلوده، انګلستان به هغه په فوځي، سياسي او اقتصادي ډول تر ګواښ لاندې نيول؛ ځکه نو مخالفو هيوادونو به سخت قدم نه پورته کاوه.

د انګلستان قوي اقتصادي حالت د ټولې نړۍ د توجه مرکز ګرځيدلى وه، انګلستان د ټولې نړۍ لپاره په سوداګرۍ، بيمې او بانکي سيستم کې يو د باور وړ هيواد ګرځيدلى وه، په نړيواله سوداګرۍ کې يې د امتياز وجه، په هيواد کې اقتصادي اصلاحات، په ټوله نړۍ کې د بحري اډو موجوديت، د فولادو جوړول او صنعت وه.

سياسي او ټولنيز حالات

په ۱۹۱۴ز کال کې د انګلستان پاچا پنځم جورج وه، په دې وخت اته ميليونه نارينه وو د رايه ورکولو حق درلود، دغه خلک به د ښکتني مجلس لخوا ټاکل کيدل، پورتني مجلس د نګرانۍ دنده درلوده، چې ددې مجلس غړي اشراف وه.

په انګلستان کې دغه وخت شاهي نظام موجود وه، د ۱۹۰۶ز کال څخه ليبرال ګوند واک په لاس کې درلود، د حکومت مشري (لومړى وزير) يې هربرټ ايسکو وه، خارجه سکرتر يې سر ايډورډ ګرى وه د خزانې وزير ډيوډ لائد جورج وه. په ښکتني مجلس کې د حکومت مخالف ګوند ليبر(مزدور) ګوند او کنزرويټو (معتدل) ګوند واک په لاس کې درلود، چې د ليبر ګوند مشري رمسي ميکډونالډ او د معتدل ګوند مشري اينډريو بونر کوله. ملي مسئلې به په ښکتني مجلس کې تر بحث لاندې نيول کيدې، وروسته به پورتني مجلس او په پاى کې به پاچا ته وړاندې کيدې.

Visit www.ketabton.com for more Pashto ebooks.

د انګلستان ښاري اوسیدونکو ازاد او اسوده ژوند تیروه، سپین پوستو نسلي امتیاز درلود، د نړۍ په زیاتره هیوادونو باندې ولکې د انګلستان د خلکو احساسات لوړ کړي وه، عامو انګلیسانو ددې زغم نه درلود، چې انګلستان دې د خپل لومړي مقام څخه ولویږي، هغوی د نورو اروپایي هیوادونو اقتصادي او سیاسي برتري هم نه خوښوله.

انګلیسي ټولنه پرمختللې، فعاله او متحرکه وه او هم یې د وطن پالنې جذبه ډېره قوي وه، په انګلستان کې په ځمکني او بحري فوځ کې داخلیدل، دولتي دندې اجراء کول، سرمایه ګذاري کول، سوداګري، بیمه، فولاد جوړول، صنعت او کسبونه مهم کارونه وه.

اقتصادي حالات

د نولسمې پیړۍ په اخري څلورمه کې د اروپا او په ځانګړي ډول د انګلستان اقتصادي حالت ډېر ښه وه، صنعتي انقلاب د اروپا خلک د سائنس او ټکنالوجۍ په لور روان کړل، یوه بیلګه یې په ۱۸۷۹ ز کال کې د فولادو د جوړولو تجربه وه، چې وروسته په پنځو کلونو کې د فولادو ۸۵ فابریکې جوړې شوې، د مخابراتو د پرمختګ په پایله کې ټیلي ګرام رامنځته شو، چې د میاشتو پیغام به یې په څو دقیقو کې خپل ځای ته رسوه، د براعظمونو تر منځ سفر به اوس په ډېر لږ وخت کې سرته رسیده، په مصنوعاتو کې  هره ورځ ښه والی راته.

د انګلستان سوداګري په ټوله نړۍ کې موجوده وه، انګلستان په هر ځای کې د یوه سوداګر، صنعتي او بانکي هیواد په توګه پیژندل کیده، په ۱۹۱۳ز کې د انګلستان ۳۴,۶ سلنه خلک په ښارونو کې اوسیدل، چې هر ډول اسانتیاوې یې درلودې، نور خلک یې د نړۍ د متوسطو خلکو په شان د اسانتیاوو نه برخمن وه، انګلستان د لومړۍ نړیوالې جګړې څخه مخکې (۱۹۱۳) کې د ۱۹۵ میلیونه میټرک ټن انرژۍ لرونکی وه، چې قوله، اوبه، تیل، طبیعي ګیس، بریښنا او نور په کې شامل وه، چې ټوله انرژي یې د امریکا د متحده ایالاتو څخه زیاته وه.

Visit www.ketabton.com for more Pashto ebooks.

د فولادو صنعت د فوځ په قوي کولو کې زيات ارزښت درلود، د فولادو جوړولو د صنعت اندازه ۷,۷ ميليونو ته رسيدلې وه، بلخوا صنعتي کيدل د اقتصادي پرمختګ لپاره ډېر اړين وه، انګلستان د نړۍ د صنعتي توليد ۱۳,۶ سلنه جوړوله.

د لومړۍ نړيوالې جګړې په پيل کې د انګلستان ملي امدن ۱۱ بليونه ډالره او د يوه کس امدن ۲۴۴ ډالره حساب شوی وه، په انګلستان کې د قولې (ډبرو سکرو) توليد ۲۹۲ ميليونه ټنه وه، دغې اندازې د امريکا د متحده ايالاتو نه وروسته دويم مقام درلوده.

جغرافيايي او فوځي حالات

د انګلستان جزيرې د اروپا د لويې وچې په شمال لويديځ کې پرتې دي، چې ډېر قوي دفاعي اهميت لري، ځلور خوا يې بحر موجود دی، په ۱۹۱۴ز کې د انګلستان جنوب ختيځ خوا ته نږدې هيواد بيلجيم وه، ختيځ خوا ته يې هالينډ او جنوب خوا ته يې نږدې هيواد فرانسه پرته وه، په دې ډول انګلستان د يوه هيواد څخه هم د ځمکنۍ حملې خطر نه درلود؛ خو د بحري حملې د ودرولو لپاره انګلستان قوي بحري فوځ تيار کړی وه.

په اګست ۱۹۱۴ ز کال کې د انګلستان د ځمکني فوځ شمېره ۲۴۷۴۳۲ وه، چې ۱۲۰۰۰۰ يې په انګلستان کې موجود وه، نور پاتې فوځ يې په نويو نيول شويو ځمکو کې د استراليا، نوی زيلاند او کاناډا نه پرته ځای پر ځای کړی وه، د ځمکني او بحري فوځ ټوله شمېره يې ۵۳۲۰۰۰ وه، چې د نويو نيول شويو ځمکو د فوځ سره يې د فوځ ټول تعداد ۹۷۵۰۰۰ وه.

په ۱۹۱۴ ز کال کې د انګلستان هوايي فوځ ۱۱۰ الوتکې درلودې، چې BE2, Farman MF-7, Avro504, Vickers FB7, Bristol Scout, F.E.2 ډوله الوتکې په کې داخلې وې، هوايي فوځ شپږ هوايي کښتۍ هم درلودې.

د انګلستان ستر شاهي بحري فوځ، چې د ملي دفاع اصلي ساتندوی وه، د ۱۸ نويو جنګي بحري کښتيو لرونکی وه، ۲۹ جنګي بيړۍ، ۱۰ چټکې بحري بيړۍ، ۲۰ سکاوټ کروزرز، ۲۰۰ ډيسټرائزرز او د ۱۵۰ کروزرو لرونکی وه.

Visit www.ketabton.com for more Pashto ebooks.

په دې ډول انګلستان په نورو هیوادونو باندې جغرافیایي او فوځي برتري درلوده، انګلیسي فوځ د نویو نیول شویو ځمکو ساتنه کوله، سربیره پر دې یې نوې سیمې هم فتح او کنټرولولې، بحري فوځ یې د هیواد د څلورو خواوو څخه ساتنه کولای شوه، هوایي فوځ یې کولای شول، چې خپلو فوځیانو سره په هر مشکل وخت کې مرسته وکړي او د دښمن پر فوځ باندې حمله وکړي.

**فرانسه**

د فرانسې دریم جمهوریت په کال ۱۸۷۱ ز کې د پروس د شکست نه وروسته رامنځته شو، بسمارک چې د متحد جرمني (پروس او جرمني) مشر وه، د فرانسې څخه یې زیاتې سیمې په ځانګړي ډول د الزاس او لورن ولایتونه نیولي وه، په ۱۸۸۰ ز لسیزه کې فرانسه په اروپایي هیوادونو کې په سفارتي، سیاسي او فوځي لحاظ یوازې وه، یو خوا یې د انګلستان سره د نویو ځمکو د لاسته راوړلو په سر حالات ښه نه وه، بل خوا یې د ایټالیې په شان د ستر هیواد سره اړیکې خرابې وې، جرمني چې د فرانسې ستر دښمن وه، د فرانسې پر ضد هر وخت جګړې ته چمتو وه او هم یې د فرانسې د بل مخالف هیواد سره همکاری ته زړه ښه کوه.

په ۱۸۸۱ ز کال کې درې ګوني اتحاد فرانسې ته ستر ګواښ رامنځته کړ، د فرانسې مشران په اروپا کې د جرمني د اغېز نه په ویره کې وه او جرمني یې په دې کار نه خوښیده، په دې وخت کې فرانسه د یوې بلې سترې مسئلې سره مخ شوه، هغه په بحر کې په نویو ځمکو باندې د واک ټینګولو مسئله وه، په ۱۸۸۲ ز کال کې انګلستان په مصر باندې حمله وکړه، په ځواب کې فرانسې راتلونکي کلونو کې خپله ټوله توجه د خپل بحري فوځ پیاوړي کولو ته واړوله، په همدې لسیزه کې د انګلستان او فرانسې تر منځ په افریقا کې جګړې هم رامنځته شوې او فرانسه او انګلستان د یو بل سخت مخالفین وګرځیدل.

د نولسمې زیږدي پیړۍ په وروستۍ لسیزه کې فرانسې خپله ټوله توجه د نویو ځمکو نیولو ته اړولې وه، چې ددې موخې د ترلاسه کولو په لار کې یې ستر خنډ انګلستان وه، په دې ډول د فرانسوي پالیسي جوړوونکو په نظر د فرانسې ستر

Visit www.ketabton.com for more Pashto ebooks.

دښمن انګلستان وه، همدغه وجه وه، چې د انګلستان نه وروسته فرانسه دويم اروپايي هيواد وه، چې زياتې مستعمرې يې درلودې، فرانسې په دې سيمو کې فوځي اډې جوړې کړې وې او يو ستر فوځ يې چمتو کړی وه، ددې پيړۍ په وروستيو کې جرمني د نړۍ په بحري قوتونو کې د شپږم نمبر نه دويم نمبر ته راغی؛ نو فرانسې خپله زياته توجه خپلې ملي دفاع ته واړوله، ځکه چې د جرمني نه يې د خطر احساس کاوه.

په ۱۸۸۰ ز کال کې فرانسې ستونزې درلودې او د ۱۹۰۰ ز کال څخه وروسته د فرانسې په حالاتو زيات تغيرات رامنځته شوي وه، د شلمې پيړۍ په لومړۍ لسيزه کې فرانسې د جرمني او درې ګوني اتحاد څخه ويره درلوده؛ نو انګلستان او روسيي ته يې د همکارۍ لاس ور اوږد کړ، انګلستان او روسيي هم د جرمني نه د خطر احساس کاوه.

د فرانسې داخلي حالات هم په پوره ډول سم نه وه، په لږ وخت کې به کابينې تغير خوړ، په دې ډول د نويو رامنځته شويو حکومتونو غوښتنو او پاليسۍ به د پخوانيو هغو سره تغير درلود، د مخکيني حکومت پاليسي به د نوي حکومت د پاليسۍ سره په ټکر کې وه او يوه نوې پاليسي به يې جوړوله، د فوځي مشرانو تر منځ اختلافات موجود وه، فوځ به په سياست کې مداخله کوله، فرانسوي حکومت به په خپل بحري فوځ باندې زيات مصرف کاوه؛ خو يوې بشپړې تګلارې موجوديت نه درلود.

فرانسه يو زراعتي هيواد وه او خپلې اړتياوې يې په خپله پوره کولې، صنعتي انقلاب په فرانسې باندې چندان اغېز نه وه کړی، په صنعت او کسبونو کې فرانسه د نورو ګاونډيو هيوادونو نه وروسته پاتې وه، په ګرځنده سرمايه دارۍ باندې يې اقتصاد ولاړ وه، اقتصادي حالت يې ورځ په ورځ خرابيده؛ خو بيا هم د اروپا په دننه او بهر کې فرانسه د انګلستان نه وروسته دويم سوداګريز هيواد ګڼل کيده، په فرانسه کې د فولادو صنعت، کيمياوي صنعت او د ډبرو د سکرو استخراج او توليد ډېر کم او ناقص وه، ددې څخه تيارو شويو شيانو به په نړيوال بازار کې کوم خاص

Visit www.ketabton.com for more Pashto ebooks.

ارزښت نه درلود؛ ځکه نو د خپلو شیانو د پلورلو لپاره یې ځایي بازارونو ته رجوع کوله.

د ۱۸۹۰ څخه د ۱۹۱۴ز کال پورې یې نفوس دومره نه وه ډېر شوی، څومره چې اړین وه، په مقابل کې یې د جرمني نفوس ۸ میلیونه زیات شوی وه، اخوا د فرانسې نفوس یو میلیون تنه زیات شوی وه، فرانسې د خپل نفوس ۸۰ سلنه قوي ځوانان په زور سره په فوځ کې نیولي وه او یو قوي فوځ یې چمتو کړی وه.

سیاسي او ټولنیز حالات

په ۱۹۱۴ ز کال کې په فرانسه کې پارلماني نظام وه، د سنا مجلس هم وجود درلود، ددې مجلس غړي د یوه عامل مجلس لخوا ټاکل کیدل، په دې وخت کې د فرانسې ولسمشر ریمونډ پوئنکیر او لومړی وزیر رین ویویاني وه، حکومتي نظام د مختلفو وزراتونو لخوا اداره کیده؛ خو فوځي مشرانو هم په حکومتي کارونو کې مداخله کوله.

د فرانسې د بهرنیو چارو وزیر ډولکاسي په ښه ډول خپله دنده سرته رسوله، چې په دې سره په ۱۹۱۴ ز کال کې د فرانسې نړیوال حیثیت ډېر ښه شو، اوس د فرانسې اړیکې د روسیې سره ښې وې او د انګلستان سره یې د مستعمراتو پر سر شخړې حل شوې وې، فرانسې، انګلستان او روسیې ته دا باور ورکړی وه، چې د جرمني اغېز او پرمختګ د ټولو هیوادونو لپاره خطرناک دی، په دې سره ایټالیا د درې ګوني اتحاد نه وتې وه، هغه حالت چې فرانسې یې په ۱۸۷۱ ز کال کې خوبونه لیدل، دا وه، چې روسیه او انګلستان د جرمني پر ضد ودریږي.

د فرانسې ټول نفوس ۳۹,۷ میلیونه وه، چې ۴۰ سلنه خلکو یې زراعتي کارونه کول، زراعتي نظام یې دومره منظم او تړلی نه وه، کوچني پټي موجود وه، کرل په پخوانیو زراعتي الاتو باندې کیدل، چې دې کار د فرانسې په ملي تولید باندې بده اغېزه کړې وه.

د فرانسې خلک په ښکلو کلیو کې په خوشحالۍ سره اوسیدل، د وریښمو او شرابو تولید ته زیاته توجه کیده، د فرانسې اقتصاد په بهرنیو هیوادو کې په سرمایه ګزارۍ

Visit www.ketabton.com for more Pashto ebooks.

باندې زياته تکيه درلوده، د فرانسې لخوا ايټاليي ته د پورونو په ورکولو سره د دواړو هيوادونو اړيکې ښې شوې، چې په پايله کې يې درې ګونی اتحاد کمزوری شو.

اقتصادي حالات

د فرانسې په اقتصاد کې د هيواد بهر، اروپا او د اروپا بهر هيوادونو کې سرمايه ګزارۍ ستر رول درلود او په دې سره يې خپلې اقتصادي اړتياوې پوره کولې، د جګړې د پيل په وخت کې دغه سرمايه ګزاري ۹ بيليونو ډالرو ته رسيده، چې د انګلستان نه وروسته يې دويم مقام درلود، فرانسې روسيي ته پورونه هم اداء کول، چې په مقابل کې يې روسيي فرانسې ته د اورګاډي لارې جوړولې او نور امتيازات يې ورکول، چين ته د پورونو ورکولو هم د فرانسې په اقتصاد کې مثبت رول درلوده؛ خو د درستې سرمايه ګزارۍ د سيستم نه موجوديت د فرانسې په اقتصاد کې زياتوالی نه شو راوستلی.

په ۱۹۱۴ ز کال کې د فرانسې ۱۴,۸ سلنه خلک په ښارونو کې اوسيدل، د فرانسې ملي امدن يې ۶ بيليونه ډالره وه، چې په اروپايي هيوادونو کې يې پنځم نمبر درلود او د يوه کس امدن ۱۵۳ ډالره وه، د ډېرو د سکرو توليد ۴۰ ميليونه ټنه وه.

په فرانسه کې د انرژۍ استعمال ۶۲,۵ ميټرک ټنه وه، په نړيوال صنعتي توليد کې يې ۶,۱ سلنه ونډه درلوده، د فولادو صنعت ۴,۶ ميليونه وه، د فرانسې ۴۰ سلنه خلکو زراعتي کارونه کول.

د پورته شمېرو څخه معلوميږي، چې صنعتي انقلاب په فرانسې باندې زيات اغېز نه وه کړی، د فرانسې صنعتي توليد د امريکا، انګلستان او جرمني په نسبت ډېر کم وه، د سائنسي او ماشيني الاتو استعمال د نشت برابر وه، چې دې کار په زراعت او ملکي ملي توليد باندې ناوړه اغېزه کړې وه، د کيمياوي توليد لپاره هلې ځلې کيدې؛ خو ملکي (د هيواد دننه) صنعت ته يې وده نه شوه ورکولای او بهرني توليدات فرانسې ته زيات راوړل کيدل، د کوچنيو فابريکو او د توليد د پخوانۍ طريقې موجوديت د صنعتي پرمختګ په مخ کې خنډ رامنځته کړی وه؛ خو د موټرو

Visit www.ketabton.com for more Pashto ebooks.

په تولید کې فرانسې نوم ګټلی وه، د هیواد دننه د ټلګرام، پوسته خانې او بحري سفر ښه نظام موجود وه، د نفوس مطابق د یوه شخص امدن هم مناسب وه.

جغرافیایي او فوځي حالات

فرانسه په جغرافیایي لحاظ د اروپا د لویې وچې په لویدیځ کې د اوقیانوس بحر په غاړه پرته وه، لویدیځ ته یې هسپانیه او د روم بحیره پرته وه، ختیځ ته یې ایټالیا، سویزرلنډ او جرمني پراته دي، شمال ختیځ ته یې بیلجیم او شمال ته یې د اوقیانوس د بحر جزائر چې د انګلستان پورې رسیږي پراته دي.

د ۱۹۱۴ ز کال په جنورۍ کې د فرانسې د ټول فوځ شمېر ۹۱۰۰۰۰ وه، په دوی کې ۴۶۰۰۰ یې د نویو سیمو فوځیان وه، ۷۷۷۰۰۰ یې ځمکنۍ فوځ وه، چې په ۴۷ فرقو کې په ۲۱ سیمو کې تقسیم شوی وه، ددې فوځ سره سپاره او د توپ خانې څانګو هم موجودیت درلوده، ، ددې فوځ زیاتره یې د فرانسې په ختیزه جبهه کې ځای پر ځای شوی وه، د جرمني د حملې له ویرې څخه یې ۲,۹ میلیونه نور خلک هم چمتو کړي وه، تر څو په ښه ډول د جرمني د حملې ځواب ورکړای شي.

د ۱۹۱۰ ز کال په اکتوبر کې د فرانسې هوایي خدمات (French Army Air Services) رامنځته شول، فرانسه په نړۍ کې د الوتکو د ډیزائن جوړولو لومړنی هیواد دی، په فرانسه کې د ۱۹۱۲ ز کال په منځ کې ۵ سکاډرن الوتکې ترتیب شوې وې، چې په ۱۹۱۴ ز کال کې یې ۱۳۲ الوتکې درلودې.

د فرانسې حکومت د ۱۹۱۰ ز څخه تر ۱۹۱۴ ز کال پورې د خپل بحري فوځ مصرف دوه برابره زیات کړی وه، په دې وخت کې فرانسې ۱۹ جنګي بیړۍ، ۱۱۵ تارپیډو، ۳۴ اب دوزه، ۸۶ ډیسټرائزرز او ۳۲ کروزرز درلودل، حکومت د ۱۹۱۴ ز کال په اوړي کې د ۱۴ نورو بحري جنګي بیړیو د جوړولو امر کړی وه، چې د جګړې د پیل د وخت پورې جوړې نه شوې.

پورتني حالات ښیي، چې فرانسه د هغه وخت د دوه سترو قوتونو جرمني او انګلستان نه ډېره وروسته وه، فرانسې په یوازې ځان نه شو کولای، چې د جرمني مقابله وکړي؛ ځکه نو فرانسې انګلستان او روسیه د جرمني د خطر نه خبرول او

Visit www.ketabton.com for more Pashto ebooks.

د ډېر وخت څخه يې د انګلستان او روسيي نه غوښتل، چې د جرمني پر ضد ودرېږي، فرانسه په دې يقيني شوې وه، چې يو وخت به د خپل دښمن (جرمني) نه خپلې د لاسه وتلې سيمې (الزاس او لورن) بيرته ترلاسه کړي.

امريکا

د امريکا متحده ايالتونه د نولسمې زيږدي پيړۍ په دوران کې د يوه پیاوړي قوت په توګه رامنځته شوه، چې لاندیني لاملونه يې درلودل:

پراخه هيواد وه، نفوس يې زياتيده، د ښاري ابادۍ مناسب تناسب، د نولسمې پيړۍ په منځ کې د نورو اروپايي مهاجرو راتګ او ورسره د ابادۍ زياتوالی، صنعتي پرمختګ، د ماشينونو استعمال، د ګاونډيو هيوادونو سره د دښمنۍ نه موجوديت، جغرافيايي موقعيت يې محفوظ وه، پراخه سوداګري، مناسب فوځي او بحري مصارف، چې دې کار يې اقتصاد پیاوړی او پرمختللی کوه او هم يې کورني عمومي مسائل حل کول.

په داسې حال کې، چې د نولسمې پيړۍ په شپږمه لسيزه کې کورنۍ جګړه پېل شوې او امنيتي حالات يې خراب کړي وه؛ خو همدغو حالاتو د امريکا د متحده ايالاتو قوم په يوه جنګي قوم باندې بدل کړ، په هغو جنګو کې نوې وسلې استعمال شوې، د بحري جنګونو په تاريخ کې په لومړي ځل د اوسپنې لرونکې بحري بيړۍ، چکر لرونکی برج او توپ، سرنګونه، په چټکۍ سره حمله کوونکې تجارتي بيړۍ او تارپيډ استعمال شول.

د شمال او جنوب تر منځ دې جګړو اقتصادي پرمختګ، اورګاډی، سفارت کاري او د پورونو ارزښت زيات کړ، شمال په همدې لاره تګ وکړ او خپل دښمن يې له منځه يوړ، اروپايي هيوادونو په دې جګړو کې هيڅ ونډه وانه خيسته، امريکايانو خپل ټول فکر ملکي توليد، د ټيکسونو ورکولو، د سرمايي ساتلو، مشرۍ، ابادۍ او د جنګونو ادارې ته واړاوه، په دې جنګونو کې د شمال ۳۶۰۰۰۰ او د جنوب ۲۵۸۰۰۰ تنه مړه شول.

Visit www.ketabton.com for more Pashto ebooks.

ددې حالاتو سربېره په شمال کې اقتصادي وضعه ښه وه، د جنګ په جریان کې تولید زیات شو، د ټیکسونو او پورونو په ورکړې سره اقتصاد ته زیان ونه رسیده.

د نولسمې پیړۍ په ورستۍ څلورمه کې امریکا د نړۍ په سترو فوځي، صنعتي او تولیدي هیوادونو کې حساب شوه، همدا لامل وه، چې په ۱۸۹۲ ز کال کې اروپايي هیوادونو په امریکا کې خپلو نمائنده ګانو ته د سفیر درجه ورکړه او امریکا یې د لومړۍ درجې هیواد په توګه ومانه، په داسې حال کې چې په دې وخت کې په اروپا کې برلین مرکزي حیثیت درلود او بسمارک بریالی مشر وه.

د شلمې پیړۍ په پېل کې امریکا دې حالت ته رسیدلې وه، چې د خپلو وسائلو او سرچینو نه کار واخلي او د پرمختګ په لاره چټک ګامونه پورته کړي، په دې وخت کې په امریکا کې د اړیکو ټینګولو نظام د ښه کیدو په لور روان وه او د ښارونو او کلیو تر منځ واټنونه د پای ته رسیدو په حال کې وه، په ۱۹۱۴ ز کال کې د ۲۵۰۰۰۰ میلو په اندازه  د اورګاډي پټلۍ، ټلګرام او د اړتیا وړ توکو لپاره منظم زراعتي نظام موجود وه.

دا هغه تاریخي مرحله ده، چې د تاریخ زده کوونکی د نړۍ مشري د اروپا څخه د امریکا متحده ایالاتو ته د لیږد په حال کې ګوري، داسې ښکاري، چې خدای تعالی په امریکایانو باندې لږ څه زیات مهربانه دی، لومړۍ نړیوالې جګړې د امریکا په مشرۍ کې زیات رول ولوباوه، د ۱۹۲۵ ز کال موخه یې په ۱۹۱۹ ز کال کې ترلاسه کړه، د جګړې څخه وروسته د اروپا حالات ډېر خراب شوي وه او دې حالت یې په نړۍ باندې د تیرو څلورو پیړیو واکمنۍ ته د پای ټکی کیښود.

په دې وخت کې د امریکا بهرنۍ پالیسي په ازاد تجارت او د سرمایه دارۍ سیستم په عامولو باندې ولاړه وه، په هغه وخت کې چې تقریبا ټوله نړۍ کې پاچاهیت او شاهیت موجود وه، امریکا په خپل مسلک باندې ولاړه وه.

سیاسي او ټولنیز حالات

په ۱۹۱۴ ز کال کې په امریکا کې صدارتي پارلماني نظام موجود وه او نلسن یې ولسمشر وه.

Visit www.ketabton.com for more Pashto ebooks.

امریکا د نولسمې پیړۍ په وروستۍ څلورمه کې په ټوله نړۍ کې د ازاد تجارت او د سرمایه دار سیستم ملاتړ کاوه او ددې موخې د ترلاسه کولو لپاره یې بشپړې هلې ځلې کولې، د نورې نړۍ په کارونو کې یې مداخله نه کوله او امریکا هم نه غوښتل، چې نوې سیمې لاسته راوړي، په همدې وخت کې امریکا د چین او فلپاین په شان نوې نیول شوې ځمکې خوښولې.

امریکا په دوه برخو شمال او جنوب باندې ویشل شوې وه، د ۱۸۶۱ز نه تر ۱۸۶۴ز پورې کورنۍ جګړه وه؛ خو د جګړې وروسته حالات ښه شوي وه؛ مګر بیا هم کله، کله جګړه منځته راتله.

امریکا په ۱۹۱۴ ز کال کې ۹۸ میلیونه نفوس درلود، چې ۲۳,۱ سلنه خلک یې په ښارونو کې اوسیدل، په ښارونو کې د ژوند ټول سهولتونه موجود وه، نورو خلکو هم په خوشحالۍ سره ژوند تیروه، زراعت، صنعت او مزدوري کول مهم کارونه وه، په امریکا کې د منځنۍ اروپا په شان زراعت دومره منظم نه وه؛ خو په تولید کې د نورو هیوادونو په نسبت ښه وه.

اقتصادي حالات

د نولسمې پیړۍ په پای او د شلمې په پیل کې د امریکا متحده ایالتونه د یوه پیاوړي نړیوال اقتصادي، سیاسي او فوځي هیواد په توګه رامخته شول، د امریکا صنعتي پرمختګ، زراعت، ډبرو سکاره، د فولادو صنعت، د نویو ماشینونو جوړول او د تیلو تولید د امریکا د پرمختګ انځورګري کوله.

د امریکا متحده ایالتونه یو پراخه هیواد وه، چې خدای تعالی یې ټول طبیعي وسائل په لاس کې ورکړي وه، چې په اروپا کې په لږ شمېر هیوادو کې موجود وه، د امریکا نفوس په مناسبه اندازه زیاتیده او هم یې د ټولو وسائلو څخه په مناسب ډول ګټه اخیسته، چې په دې سره یې پرمختګ ډېر په چټکۍ سره روان وه، د امریکا خلکو د صنعت او کسب، د الوتکو د جوړولو، د لویو ماشینونو د جوړولو او د سائنس او ټکنالوجۍ نه په صحیح ډول ګټه پورته کوله، امریکا په هغه وخت کې د نړۍ د نورو هیوادونو نه زیات موټرونه جوړول او د ټولو نه زیات استعمال یې هم

Visit www.ketabton.com for more Pashto ebooks.

په خپله کاوه، په ۱۹۱۳ ز کال کې امریکا د انرژۍ په استعمال کې د نړۍ د نورو هیوادونو په لومړۍ درجه کې ځای درلود، هلته ۵۴۱ میلیونه میټرک ټنه انرژي مصرفیدله.

د امریکا معدنونه هم زیات وه، هغه وخت د نړۍ د تیلو زیات تولید په امریکا کې کیده، په ۱۸۹۸ ز کال کې ۵۵۰۰۰۰۰۰ بیرله تیل را ایستل شوي وه، په داسې حال کې چې په ۱۸۶۵ ز کال کې ۳۰۰۰۰۰۰ بیرله تیل را ایستل شوي وه، په ۱۹۱۳ ز کال کې ۳۱,۸ میلیونه ټنه فولاد او ۴۵۵ میلیونه ټنه د ډبرو سکاره تولید شوي وه، امریکا د نړۍ په صنعت کې ۳۲ سلنه برخه درلوده.

په هیواد کې د اړیکو د ټینګولو ښه نظام موجود وه، په ۱۹۱۴ ز کال کې ۲۵۰۰۰۰ میله د اورګاډي پټلۍ غزیدلې وه، لویې کمپنۍ جوړې شوې وې، چې ځینې یې انټرنشنل هارویسټر، ډیوپونټ، بیل لیبارټریز او سنګر نومیدې، دې کمپنیو د هیواد په داخل کې ښه بازار درلود، د امریکا مجموعي امدن د خارجي تجارت نه ۸ سلنه وه، یعنې د امریکا په اقتصاد کې بهرني تجارت دومره اغېزمن رول نه دی لوبولی.

په ۱۹۱۴ ز کال کې د امریکا مجموعي امدن ډېر زیات شو، د ۹۸ سلنه خلکو امدن ۳۷ بیلیونه ډالره وه، چې په دویم نمبر کې جرمني موجود وه، جرمني د ۶۵ سلنه نفوس څخه ۱۲ بیلیونه ډالره امدن درلود، د امریکا د یوه کس امدن ۳۷۷ ډالره وه، چې دا د امریکا د پیاوړي اقتصاد ښکارندوی ده.

جغرافیایي او فوځي حالات

امریکا د جګړې د ډګر نه د میلیونو میلو په واټن سره، د جګړې نه محفوظه وه، په امریکا باندې حملې یوازې د بحر له لارې امکان درلود، په داسې حال کې چې د مرکزي قوتونو د فوځونو محاصره په قوي ډول سره شوې وه.

په ۱۹۱۴ ز کال کې امریکا ۱۶۴۰۰۰ تنه ځمکنی او بحري فوځ درلوده، سربیره پر دې ۳۶۰۰۰ تنه نور (نه تربیه شوی) فوځ هم وجود درلود، د فوځ د کموالي لامل د امریکا جغرافیایي موقعیت وه، چې د جګړو څخه په امن وه، یوازې

Visit www.ketabton.com for more Pashto ebooks.

دومره فوځ په کار وه، چې د کورنۍ جګړې مخه ونیسي او د فوځ مصرف د هیواد په اقتصاد باندې هم اغېز درلود؛ ځکه نو امریکا په خپل فوځ باندې د مصرف پر ځای خپل ټول پام د هیواد اقتصاد ته اړولی وه.

امریکا په ۱۹۱۲ ز کال کې هوایي فوځ جوړ کړی وه؛ خو په ۱۹۱۷ ز کال کې د میکسیکو سره په جګړه کې یې فوځ په بشپړ ډول ناکام شوی وه، چې په دې کار سره په لوړو چارواکو کې په هوایي فوځ باندې د ډېر مصرف کولو فکر رامنځته شو، په ۱۹۱۷ ز کې امریکا ۱۱۸۵ تنه هوایي فوځ درلود، چې ۵۵ هوایي الوتکې یې درلودې، د امریکا کانګرس ۶۴۰ میلیونه ډالر د نورو فرانسوي او برتانوي ماډل الوتکو د جوړولو لپاره ځانګړي کړي وه، همدا لامل وه، چې په ۱۹۱۸ ز کال کې د امریکا هوایي فوځ د مرکزي قوتونو فوځونو ته زیات زیان ورساوه.

په ۱۹۱۴ ز کال کې د امریکا هوایی فوځ د نړۍ دریم ستر فوځ وه، هغه وخت ورته ۱۳۹ میلیونه ډالره بودیجه ځانګړې شوې وه، چې د ټولو مصارفو ۱۹ سلنه یې جوړوله، دغه بودیجه د کوم ځانګړي پروګرام له لارې نه مصرفیدله، د هیواد په داخل کې یوه بحري فوځ اډه جوړه شوې وه، یو زیات شمېر پیسې د پانامې د کانال د جوړولو لپاره ځانګړې شوې وې.

روسیه

د شلمې پیړۍ په پیل کې روسیې د نړۍ په نقشه کې د یوه ستر سلطنت په حیث ځای درلوده، د هیواد زیات طول او عرض، زیات نفوس او د یوه پیاوړي فوځ موجودیت روسیه نوره هم پیاوړې کړې وه.

همدغه لاملونه وه، چې فرانسې غوښتل، د روسیې په واسطه د جرمني پرمختګ ودروي، د انګلستان هغه اشراف چې د روسیې سره یې فکري هم اهنګي درلوده، انګلیسي حکومت ته یې ویل، چې روسیه یو ستر ځواک دی، چې باید ښې اړیکې ورسره ولرو.

Visit www.ketabton.com for more Pashto ebooks.

د روسيي د درست ځواک اندازه معلومول د لويديځوالو لپاره ستونزمنه وه، د شمېر له مخې روسيه يو ستر قوت وه؛ خو دغه روسيي شمېرې اکثره وخت د عمل په ډګر کې ناکامې شوې وې، په همدې وجه د روسيي ځواک په اړه نړيوالو کارپوهانو شک درلود، د ۱۸۵۰ ز کال راديخوا تر د لومړۍ نړيوالې جګړې پورې روسي فوځونو په ټولو جګړو کې ماته خوړلې وه، د ۱۷۵,۱ ميليونه نفوس اکثريت خلکو په غربت کې ژوند تيروه، روسيه د مختلفو قومونو هيواد وه، چې دا کار يې د فکري يووالي، قومي جذبې او حب الوطنی نه محروم وه.

روسي تزار دويم نيکولس د روسيي مطلق العنان پاچا وه، د جاپان سره د ۱۹۰۵ ز کال د جګړې نه وروسته د هيواد سياسي حالات د کابو څخه وتلي وه، په دې حالت تزار د عامو خلکو د ملاتړ ته اړتيا لرله، په دې سره د تزار په واک کې کمی راغی او په لومړي وار د روسيي په مشهورو ښارونو کې د پارلماني نظام په شان په ټاکنو کې برخه واخسيته، خلکو نمائنده ګان وټاکل، چې روسي دوما يې بلله او خلکو دا موقع تر لاسه کړه، چې په مهمو پريکړو کې ورسره مشورې وکړل شي.

د ۱۸۶۰ ز کال راديخوا په روسيه کې صنعتي پرمختګ پر مخ روان وه، د تيلو په توليد کې د نړۍ دويم هيواد وه، په بهرنۍ سوداګرۍ کې يې هره راتلونکې ورځ زياتوالی ليدل کيده، په ۱۹۱۴ ز کال کې روسيه د نړۍ څلورم ستر صنعتي ځواک ګڼل کيده؛ خو زياتره صنعتي چارې د نورو هيوادو د خلکو په لاسو کې وې، ځايي خلک يې زياتره بې تجربې او غير کسبي وه، اقتصاد يې په پورونو باندې ولاړ وه او د شلمې پيړۍ په پيل کې د نړۍ ستر پوروړی هيواد وه.

روسيه په اساسي توګه يو زراعتي هيواد وه، ۸۰ سلنه خلکو يې زراعتي ژوند درلوده، په لرې پرتو وروسته پاتې سيمو کې د زراعت پخوانی لارې چارې موجودې وې، چې دې کار په زراعتي توليد باندې ناوړه اغېزه کړې وه، يو خوا په زراعتي توليد کې د کال ۲ سلنه زياتوالی راته، بلخوا د کال ۱,۵ سلنه نفوس زياتيده، چې ددې نفوس لپاره زراعتي توليد کافي نه وه، د هيواد عمومي حالت ډېر وروسته پاتې وه.

Visit www.ketabton.com for more Pashto ebooks.

حکومت ټوله توجه د خپل ځواک او غلبې راوستلو ته اړولې وه، په ۱۹۱۳ ز کال کې د فوځ لپاره ۹۷۰ میلیونه روبله بودیجه ځانګړې شوې وه؛ خو د ښوونې او روغتیا لپاره ۱۵۴ میلیونه روبله ځانګړي شوي وه، د هیواد ۳ میلیونه خلکو مزدوري کوله، چې د هیواد ۱,۷۵ سلنه برخه یې جوړوله، د روغتیا او ښوونې اسانتیاوې ډېرې کمې وې، د کورونو حالت ډېر خراب وه، په خلکو کې د نشې کول ورځ په ورځ زیاتیدل، د مړینې سلنه یې د ټولې اروپا نه زیاته وه، په فابریکو کې ډېره سختي کیده.

همدغه عوامل وه، چې د هیواد ۹۰ سلنه خلکو په ذهن کې د ټول حکومت نه خفګان موجود وه، د ۱۹۱۲ ز کال څخه تر ۱۹۱۴ ز کال پورې کار بندیزونه، لاریونه او د نیولو او وژلو ګراف پورته شوی وه، د روسیي د هر حکومت لپاره د دهقانانو مسئله ستونزمنه وه، په ۱۹۰۸ ز کال کې روسي وزیر داخله سټولي ین د دهقانانو اتحادیي ړنګولې، چې دې کار روسیه کې اورونه بل کړل، ددې کار د ارامولو لپاره یې څو ځلې فوځ وغوښت، په ۱۹۱۳ ز کال کې دولتي املاکو ته د زیان رسولو په تور یو لک کسان ونیول شول، دې کارونو فوځ ډېر نا ارامه کړی وه او فوځ به په مسلسل ډول د داخلي کارونو د ارامولو لپاره استعمالیده.

د تزار دویم نیکولاس په دربار کې غیر ضروري کسان او بې تجربې فوځي جنرالان ډېر زیات موجود وه، د پوهو او ذهینو وزیرانو شمېر ډېر کم وه او ورځ په ورځ یې شمېر کمیده، د حاکمې طبقې لپاره خپلو ګټو لومړیتوب درلود او تزار به خپلې عیاشۍ او ذهني ارام کاوه، د خوراک په شیانو باندې زیاته مالیه وضع شوې وه، چې دې کار ټولنیز ژوند متاثره کړی وه، دا هغه حالت وه، چې پاڅونونه یې راپارول، هیواد د ډلو ټپلو تر منځ د جګړې ډګر ګرځیدلی وه او بلشویکانو ته د منځته راتګ موقع په لاس ورغلې وه.

اوس د لومړۍ نړیوالې جګړې څخه مخکې د روسیي سیاسي، اقتصادي او فوځي حالات په لنډ ډول وړاندې کوو.

Visit www.ketabton.com for more Pashto ebooks.

سیاسي او ټولنیز حالات

د جګړې په پیل کې په روسیه کې پارلماني پاچاهي موجوده وه، دویم تزار پاچاهي کوله، په حکومتي چارو کې د مشورې لپاره (دوما) جوړه شوې وه، د هیواد ټول نفوس ۱۷۵،۱ میلیونه وه، چې د دوی څخه یې ۷ سلنه خلکو په ښارونو کې ژوند کاوه، د هیواد د ۸۰ سلنه خلکو ژوند په زراعت پورې تړلی وه، ۳۰ سلنه خلک باسواده وه، د لوستو او هنري خلکو کموالی زیات وه.

کلیواله ټولنه وه، په خلکو کې د پرمختګ لیوالتیا هم کمه وه، په فصلونو باندې طبیعي افتونه زیات وه، چې په دې سره په بزګرانو کې لوږه او سخت کارونه ډېر وه، د بزګرانو پنځمه برخه په زور سره په فوځ کې شاملیده.

روسیه یو پراخه او زیات عرض لرونکی هیواد وه، چې پولینډ او فن لینډ هم په کې داخل وه، نور کوچني ولایتونه هم په کې داخل وه، چې په دې ولایتونو کې مختلفو قومونو ژوند کاوه، په دې ډول روسیه د قومي یووالي او تړلي ټولنیز حالت نه لرې وه، د خلکو یوې طبقې د حکومت د پخواني شاهي نظام نه ملاتړ کاوه؛ خو د منځنی او ښکتنی طبقې زیاتو خلکو د حکومت نه کرکه درلوده.

د جګړې په پیل کې روسیه د کورنی جګړې، داخلي ناارامی، ډلبندی او ټولنیزو ستونزو ښکار وه، فوځ ددغو ستونزو په هوارولو کې مصروف وه، په دې ډول یو خوا دې حالاتو د روسي په ملي امدن، زراعت او صنعت باندې ناوړه اغېزه کړې وه او بلخوا یې د فوځ نه د خلکو کرکه راپارولې وه.

اقتصادي حالات

د شلمې پیړی په پیل کې د روسیي اقتصادي حالت نسبت تیرې پیړی ته په ښه کیدو وه، صنعتي پرمختګ په چټکی سره روان وه، د جګړې په دوران کې یې د فولادو صنعت د فرانسې، اسټریا او هنګري نه زیات شوی وه، په دې وخت کیمیاوي او برقي صنعت هم پیل شوی وه.

Visit www.ketabton.com for more Pashto ebooks.

د امریکا د متحده ایالاتو نه وروسته روسیه د نړۍ د تیلو د تولید دویم هیواد وه، د انرژۍ (ډبرو سکرو) په تولید کې هم په زیاته اندازه زیاتوالی لیدل کیده، په ۱۹۱۴ ز کال کې د ډبرو د سکرو تولید ۳۶ میلیونه ټنه وه.

په روسیه کې د سوداګرۍ د پیاوړي کولو لپاره ځانګړي قدمونه هم پورته شول، د اورګاډي پټلۍ چې په ۱۹۰۰ ز کال کې ۳۱۰۰۰ میله وه، په ۱۹۱۴ ز کال کې ۴۶۰۰۰ میلو ته وغزول شوه، د ګټورې سوداګرۍ لپاره ښه حالت رامنځته شو، د نورو هیوادونو خلکو په روسیه کې ښه سرمایه ګزاري وکړه، چې په دې سره نغدو پیسو، زرو او نورو د هیواد په اقتصاد کې ښه رول ولوباوه، د محصول نظام د ښه کیدو په حال کې وه او په وړکا شرابو باندې د مالیي لګولو سره اقتصاد نور هم ښه شو.

په ۱۹۱۳ ز کال کې ۲۰ سلنه صنعت موجود وه، روسیي د نړیوال صنعت ۸,۲ سلنه جوړوله او ۵۴ میلیونه میټرک ټنه انرژي یې تولیدوله.

جغرافیایي او فوځي حالات

د روسیي لویدیځ ته جرمني، سهیل لویدیځ ته استریا، هنګري، جنوب ته رومانیه، توره بحیره او ترکیه. په دې جغرافیایي موقعیت سره روسیه د خپلو دریو(جرمني، استریا-هنګري او ترکیي) دښمنانو لخوا محاصره شوې وه، په ټوله نولسمه پیړۍ او وروسته کې روسي فوځونه په ټوله اروپا کې موجود وه، د اړیکو د خراب نظام په وجه په هیواد کې په حمل و نقل کې ستونزې موجودې وې.

روسي سپاره فوځونه په پنځوسو سیمو کې موجود وه، چې ۱۰۰۰۰۰۰ اسونه یې لرل، په ۱۹۱۴ ز کال کې د دفاع لپاره زیاتې پیسې مصرفیدې؛ خو دغه پیسې یوازې د فوځ په خوراک، څښاک او د اسونو د سمبالښت لپاره کافي وې، زیات فوځ د هیواد د کورنۍ جګړې او حالاتو د سمولو لپاره د هیواد دننه موجود وه.

په ۱۹۱۲ ز کال کې روسي هوایي ځواک رامنځته شو، په ۱۹۱۴ ز کال کې یې ۳۷۵ الوتکې درلودې، په هغه وخت د روسي ځواک د ټولو هیوادو څخه زیات وه.

Visit www.ketabton.com for more Pashto ebooks.

په ۱۹۱۴ ز کال کې روسي بحري فوځ د ۴ بحري جنګي بېړو، ۱۰ کروزرز، ۲۱ ډیسټرایزیرز، ۱۱ ابدوزه او ۵۰ تارپیډونو لرونکی وه.

سربیا

د سربیا عامو خلکو د ډېر وخت راهیسې د یو پیاوړي سربیي او یوګوسلاویي خوبونه لیدل، دې هیواد به زیاتره وخت د خپل ګاونډي هیواد بلغاریي سره جګړه درلوده، بلخوا یې د اسټریا-هنګري سره هم اړیکې ښې نه وې، دغه هیواد د اروپا په منځني جنوب خوا کې پروت دی، شمال ته یې اسټریا-هنګري، جنوب ته یې یونان، ختیځ ته یې بلغاریه، شمال ختیځ ته یې رومانیه او جنوب ته یې موټینګرو او البانیه پراته دي.

په ۱۹۰۳ ز کال کې د لرې کړای شوي پاچا الیګزنډر زوی پیټر کریډ د واکمنې کورنۍ واکمني ړنګه کړه، دغه هیواد د ګاونډیو سره ډېرې ستونزې درلودې او اړیکې یې خرابې وې، د بالکان د جګړو پایلې د سربیا د عامو خلکو او حکومت لپاره د منلو وړ نه وې، په بالکان کې لومړۍ جګړه په ۱۹۱۲ ز کال کې وشوه، په دې جګړه کې سربیا، بلغاریي، یونان او مونټینګرو اتحاد کړی وه، د جګړې وروسته بلغاریي په مقدونیي باندې خپله ولکه راوسته، چې دا د سربیا لپاره د منلو نه وه.

دویمه جګړه په ۱۹۱۲-۱۳ ز کلو کې وشوه، په دې جګړه کې د بلغاریي څخه مقدونیه ونیول شوه او د سربیا، یونان او رومانیي تر منځ وویشل شوه، چې په دې ویش باندې بلغاریه ډېره په قهر شوه.

د لومړۍ نړیوالې جګړې د پیل لامل هم سربیا وه، په سربیا کې د اسټریا-هنګري شهزاده او ولي عهد (ارک ډیوک فرینز فردیناند) او میرمن یې صوفیه د ۱۹۱۴ ز کال د جون په ۲۸ د سربیا د قوم پرست جنګي ګروپ بلیک هنډ (Black Hand) د یوه غړي (پرنسب) لخوا ووژل شول. اسټریا-هنګري سربیا ته د جګړې التیماتم ورکړ او خپل شرطونه یې ور وړاندې کړل، لکه څرنګه چې دې ګروپ د حکومت سره پټې اړیکې درلودې، د سربیا حکومت د التیماتم هیڅ پروا ونکړه، په دې وخت

Visit www.ketabton.com for more Pashto ebooks.

کې سربیا د روس ملاتړ د ځان سره درلود او په هر ډول چې وي، روسیه به یې د جګړې په وخت کې ملاتړ کوي؛ ځکه نو سربیا د جګړې د التیماتم هیڅ پروا ونکړه.

د جګړې د التیماتم نه یوه نیمه میاشت وروسته استریا-هنګري په سربیا باندې حمله وکړه، د سربیا خپل فوځي ځواک دومره نه وه، چې د استریا-هنګري نه د ځان دفاع وکړي؛ ځکه هغوی د زیات فوځ لرونکي وه، د سربیا د فوځ شمېر ۲۰۰۰۰۰ وه، په دې ځانګړی فوځ او نور ټول مؤقت فوځ هم شامل وه، دې حالت ته په کتو سره سربیا د نورو هیوادو نه مرسته وغوښته، په مرسته کوونکو هیوادونو کې روسیه، مونټي نیګرو، انګلستان او فرانسه شامل وه او یوه ویره وونکي جګړه پېل شوه.

رومانیه

په ۱۸۸۱ ز کال کې په رومانیه باندې د لومړي کیرول واکمن وه، حکومتي نظام ډیپوټیز(وکیلانو) پر مخ وړه، چې د رایو په واسطه ټاکل کیدل، رایه ورکوونکي په دریو ډلو ویشل شوي وه، لومړی ډله سرمایه دار او ځمکوال وه، دویمه ډله مالیه ورکوونکي، دولتي کارکوونکي، تقاعد شوي اشخاص او باسواده خلک وه، دریمه ډله هغه کسان وه، چې مالیه به یې ورکوله.

په رومانیه کې نورو موجودو اقلیتونو ته هم د رایي ورکولو حق ورکړ شوی وه، په دې اقلیتونو کې ترکان، تاتاریان او یهودان شامل وه، د دوه ذکر شویو اقلیتونو شمېر د هجرت په وجه زیات شوی وه؛ خو یهودانو په زور سره خپل تسلط تینګ کړی وه.

په ۱۹۱۰ ز کال کې د رومانیي نفوس ۶,۹۲ میلیونه وه، زیاته ځمکه د ځمکوالو په ولکه کې وه، ځمکوال په ښارونو کې اوسیدل، په ۱۹۱۳ ز کال کې رومانیي ۲,۱ میټرک ټنه غنم تولید کړي وه، په همدې کال په رومانیه کې ۱,۸ میلیونه میټرک خام تیل را ایستل شوي وه.

Visit www.ketabton.com for more Pashto ebooks.

په رومانیه کې د یهودي او یوناني اقلیتونو په حکومت باندې د واک لرلو په وجه خلک خفه وه، دغو یهودو او یونانیانو به عام خلک لوټل، د همدې بې انصافۍ پایله وه، چې په ۱۹۰۸ ز کال کې انقلاب رامنځته شو او په رومانینه کې د ځمکوالۍ نظام له منځه د تګ په حال کې وه او سرمایه دار نظام د ښکاره کیدو په حال کې، د یهودي او یوناني اقلیتونو واک راکم کړل شو او هیواد د پرمختګ په لاره باندې یون پیل کړ.

په ۱۸۸۳ ز کال کې رومانیه په درې ګوني اتحاد(جرمني، ایټالیا او اسټریا-هنګري) کې شامله شوه، په دې ډول د اروپا د پیاوړو هیوادونو سره په یو ځای کیدو رومانیه د پرمختګ په لور روانه شوه، په ۱۹۱۳ ز کال کې د بالکان په دویمه جګړه رومانیه د سربیا، یونان او مونټي نیګرو سره یو ځای ودریده او بلغاریي ته ماته ورکړه، چې د جګړې وروسته یې په مقدونیه کې څه برخه ورسیده او د ځمکې د پراخوالي خوب یې پوره شو.

په ۱۹۱۴ ز کال کې د رومانیي ټول فوځ ۲۹۰۰۰۰ وه، د ۱۹۱۶ او ۱۹۱۸ ز کلونو تر منځ رومانیه د جرمني او اسټریا-هنګري فوځونو په ولکه کې وه.

بیلجیم

په ۱۸۸۵ ز کال کې په بیلجیم باندې پاچا لیوپولډ دویم واکمن وه، په ۱۸۹۳ ز کال کې د رایې ورکولو قانون نافذ شوی وه، چې ددې څخه دمخه کال باندې په بیلجیم کې د ښځو د حقوقو لپاره یوه ډله جوړه شوې وه، حکومت د رایې ورکولو، حقوقو او د ژبې په اړه د سختو ستونزو سره مخ وه، د نولسمې پیړۍ په پای کې د اقتصاد په اړه هم مختلفې پوښتنې کیدې، میکلوډ یو تحریک کړ، چې والونو ته ښه وظیفې ورکول کیږي؛ خو فلیمنګ ته کوچنۍ وظیفې ورکول کیږي.

په ۱۹۰۶ ز کال کې د فلیمنګ د تحریک ملاتړو په تخنیکي ښوونه کې د فلیمش (فلیمنګي ژبې) غوښتنه وکړه، په ۱۹۰۸ ز کال د کانګو د خلکو سره د تبعیضي چلند پر ضد دغه تحریک نور هم چټک شو او حکومت خپل ټول توان ددې مسئلو د حل لپاره په کار واچوه، په ۱۹۱۲ ز کال کې جولیوس ډیسټري د پاچا په نوم یو

Visit www.ketabton.com for more Pashto ebooks.

سرخلاصی لیک خپور کړ، چې په دې سره د والون تحریک پیل شو، په ۱۹۱۲ ز کال کې ټاکنې وشوې، په دې سره په هیواد کې د فساد یوه سلسله هم پیل شوه، د هیواد زیاتو نا امنو سیمو ته فوځ ولیږل شو؛ خو فوځ خپله فساد پیل کړ، په ۱۹۱۳ ز کال کې ۱۰۰۰۰۰۰ مزدورانو د خپلو حقوقو د غوښتلو لپاره لاریون وکړ، په هم دې کال کې په فوځ کې په زور بانديې د خلکو نیول هم پیل شول.

د لومړۍ نړیوالې جګړې د پیل په وخت کې د هیواد اقتصادي او سیاسي حالات ډېر وروسته پاتې او خراب وه، فساد ډېر زیات موجود وه، کاریګر ډېر زیات نا راحته وه، عام خلک د فلیمنګ او والون په تحریکونو کې شامل وه، چې په دې سره یې د یو بل ګریوان ته لاسونه اچول، د نارینه وو وروستی متوسط عمر ۴۹ او د ښځینه وو کاله۵۲ وه.

یو خوا حکومت د سختو ستونزو سره مخ وه؛ خو بلخوا یې د اقتصادي ستونزو د حل لپاره هم کوښښونه کول، په ۱۹۰۰ ز کال کې تقاعد هم پیل شو، په ۱۹۰۳ ز کال کې د دندو پر وخت د پیښو د منځته راتګ په صورت کې بیمه هم پیل شوه، په ۱۹۰۵ ز کال کې د زیبروک د بندر کار هم پای ته ورسیده، بیلجیم په نړیوالې سوداګرۍ کې مهم ځای درلوده، د لومړۍ نړیوالې جګړې د پیل په وخت کې په شپږم نمبر بانديې وه، په نړیوالې سوداګرۍ کې د روسیي نه مخکې وه، په ۱۹۱۲ ز کال کې د بیلجیم ملي مجموعي امدن ۷۵۵ میلیونه بیلجیمي فرانکه وه.

په دې وخت کې په بیلجیم کې نړیوال شهرت لرونکي خلک هم موجود وه، مشهور لیکوالان، شاعران او د ژوند د نورو اړخونو پورې تړلي وتلي خلک زیات موجود وه، په ۱۹۰۴ ز کال کې د قانون نړیوال انستیتیوټ ته د امن نوبل جایزه ورکړل شوه، په ۱۹۰۹ ز کال کې پخواني لومړي وزیر ای بریناړټ او په ۱۹۱۳ ز کال کې هنري ماري لافونتین ته د امن د نوبل نړیوالې جایزې ورکړل شوې، د بیلجیم وتلي شاعر مورث میترلنګ ته په ۱۹۱۱ ز کال کې د ادب نوبل جایزه ورکړل شوه.

Visit www.ketabton.com for more Pashto ebooks.

بیلجیم د نولسمې پیړۍ په دویمه نیمایي کې د یوه بې طرفه هیواد په توګه موجود وه، زیاتو نړیوالو ځواکونو د بې طرفه هیواد په توګه د اوسیدو په مقابل کې ورسره د مرستو ژمنې کړې وې، په ۱۹۱۳ ز کال کې یې یو ځل بیا د خپلې بې طرفۍ اعلان وکړ، په ۱۹۰۷ ز کال کې جرمني غوښتل، چې د بیلجیم له لارې د خپل شیلفن پلان په اساس په فرانسه باندې حمله وکړي، جرمني د ۱۹۱۴ ز کال په اګست کې بیلجیم ته التیماتوم ورکړ، چې د جرمني فوځ ته باید د خپلې خاورې څخه د تیریدو اجازه ورکړي، د بیلجیم حکومت د لارې د ورکولو څخه انکار وکړ، چې په دې کار سره جرمني په ۴ اګست باندې په بیلجیم او لوګسزامبورګ باندې حمله وکړه، د اګست او سپتمبر په په میاشت کې جرمنی تقریبا په ټول بیلجیم باندې ولکه درلوده، د بیلجیم په مشهورو جګړو کې د پیریس او لینګ مارک جګړې شاملې دي.

یونان

د ۱۸۹۷ څخه تر ۱۹۱۴ ز کال پورې د پراختیا غوښتنې د پالیسۍ په پایله یونان د زیاتو ستونزو سره مخ وه، په ۱۸۹۷ ز کال کې عثماني ترکیي د یونان زیاتې سیمې ونیولې، په ۱۹۰۸ ز کال کې د یونان د کریټ د جزیرې زیاتې سیمې د ایلف تهیر لخوا اداره کیدې؛ خو بیا هم د یونان یوه برخه ګټل کیده.

په ۱۹۱۲ ز کال کې ایټالیي د یونان په نویو نیول شویو افریقایي سیمو باندې ولکه راوسته، بلخوا په ۱۹۱۲-۱۳ ز کال کې د بالکانو دویمه جګړه رامنځته شوه، چې په دې جګړه کې یونان د بلغاریي، سربیا او مونټې نیګرو سره یو ځای د عثماني ترکیي پر ضد جګړه وکړه، په دې جګړه کې د ترکیي څخه ځینې سیمې ونیول شوې؛ خو په دې سیمو باندې بلغاریي زیات تسلط درلوده.

د پاچا لومړي جورج واکمني د سخت مخالفت سره مخ وه، په هیواد کې د کریټ د جزیرې د واکمن ایلف تهیر سره د خلکو مینه زیاتیده، پای په ۱۹۰۹ ز کال کې یې حکومت چپه کړ او ایلف تهیر د لومړي وزیر په توګه وټاکل شو، لومړی وزیر

Visit www.ketabton.com for more Pashto ebooks.

د (میګالي نظریي) ملاتړی وه، چې د یوه ستر یوناني حکومت رامنځته کول یې غوښتل.

په ۱۹۱۲-۱۳ ز کال کې د بالکانو په دویمه جګړه کې یونان، سربیا او مونټې نیګرو یو ځای د بلغاریي څخه د بالکان په لومړۍ جګړه کې نیول شوې سیمې بیرته ونیولې او مقدونیا یې هم بیرته ترلاسه کړه، په دې ډول د یونان په سیمو کې ۷ سلنه پراختیا رامنځته شوه او نفوس یې د ۲,۸ څخه ۴,۸ میلیونو ته پورته شو، په داسې حال کې په دې نوي داخل شوي نفوس کې ۲ میلیونه غیر یونانیان ول، دې کار د لومړي وزیر هم فکره خلکو ته نور هم ځواک ورکړ او په هیواد کې د پراختیا غوښتنې د سیاست ملاتړي نور هم زیات شول، د همدې فکر په پایله کې په ۱۹۱۳ ز کال کې پاچا لومړی جورج ووژل شو او پر ځای یې زوی لومړی قسطنطین کینول شو.

پاچا او لومړی وزیر په دوه جلا لارو باندې روان ول، چې دې سره د هیواد حالات په خطر کې ول، په ۱۹۱۵ ز کال کې لومړی وزیر له دندې ګوښه کړل شو؛ نو هغه بیرته د کریټ په جزیره باندې خپل حکومت جوړ کړ، وروسته یې په سالونیکا باندې هم حکومت جوړ کړ او د نوي یونان اساس یې کیښود، د پاچا د لاس لاندې سیمو ته پخوانی یونان وویل شو.

د یونان حکومت په لومړۍ نړیواله جګړه کې بې طرفي غوره کړې وه، په ۱۹۱۵ ز کال کې بلغاریه په جګړه کې داخله شوه، چې د بلغاریي نه د سربیا او مونټې نیګرو دفاع کول ستونزمن شوي وه، دې هیوادونو ته د خوراک او څښاک او د دفاع لپاره سامان رسول ډېر اړین وه، دغه اړین توکي باید د یونان د سالونیکا د سیمې له لارې رسول شوي وای، متحدینو څو ځلې وغوښتل، چې دغه لاره باید خلاصه شي، خو د یونان حکومت بې طرفي غوره کړې وه، بلخوا ایلف تهیرو ددې کار اجازه ورکړه، سربیا او مونټې نیګرو ته د اړینو توکو د رسولو لاره خلاصه شوه.

Visit www.ketabton.com for more Pashto ebooks.

په دې ستر کار سره متحدينو د ايلف تهيرو حکومت په رسميت وپيژنده، وروسته په ۱۹۱۷ ز کال کې د متحدينو د فشار له امله پاچا له هيواده وشړل شو او په ټول يونان باندې ايلف تهيرو واکمن شو.

مونټي نيګرو

په ۱۸۷۸ ز کال کې د برلين په کنفرانس کې داسې پريکړه شوې وه، چې د عثماني ترکيي د لاس لاندې بندر ګاه بايد مونټي نيګرو ته ورکړل شي، ددې پريکړې مطابق په ۱۸۸۰ ز کال کې د عثماني ترکيي لخوا نيول شوې سيمې بيرته مونټي نيګرو ته ورکړل شوې، په ۱۸۷۹ ز کال کې د سنا مجلس ړنګ شو او يو حکومتي کونسل رامنځته شو، په هيواد کې يوه ستره محکمه هم جوړه شوه، په ۱۸۸۸ ز کال کې نوی قانون تصويب شو او په ۱۹۰۵ ز کال کې لومړی ليکل شوی قانون نافذ کړل شو.

په ۱۹۱۰ ز کال کې پاچاهي نظام ومنل شو او دې نظام ته يې د (زيټا) نوم ورکړ؛ خو دغه اعلان ته دومره ارزښت ورنه کړل شو، په هيواد کې د اورګاډي پټلۍ نوره هم وغځيده او د پوستې نظام يې نور هم ښه کړ.

په ۱۹۱۲-۱۳ ز کال کې د بالکانو په دويم جنګ کې مونټي نيګرو د سربيا او يونان ملاتړې وه او دغو هيوادونو د بلغاريي سره د بالکان د لومړي جنګ د نيول شويو سميو پر سر جګړه کړې وه، مونټي نيګرو د سربيا ملاتړې وه، سربيا د روسيي سره دفاعي تړون لاسليک کړی وه، په ۱۴ اکتوبر ۱۹۱۵ ز کال کې بلغاريي په لومړۍ نړيواله جګړه کې برخه واخيسته او بيا يې په سربيا باندې ولکه تينګه کړه، څرنګه چې مونټي نيګرو د سربيا ملاتړې وه؛ نو په همدې وجه يې په لومړۍ نړيواله جګړه کې د سربيا لپاره داخله شوه.

ايټاليا

د نولسمې پيړۍ په وروستي څلورمه کې ايټاليا په نړۍ کې د يوه متحد حکومت په توګه رامنځته شوه، اوس ايټاليا د تيرې پيړۍ د دريو ربعو غوندې په کوچنيو

Visit www.ketabton.com for more Pashto ebooks.

حکومتونو نه وه ویشل شوې، په ۱۸۹۰ ز کال کې د ایټالیا نفوس ۳۰ میلیونه وه، چې د یوه قوي حکومت ښکارندوی ګڼل کیده، هره راتلونکې ورځ یې په نفوس کې زیاتوالی راته، د بهرنیو حکومتونو اغېز پرې ورځ په ورځ کمیده او حب الوطنی او قومي جذبې په کې زیاتوالی مونده، په ۱۹۱۴ ز کال کې یې نفوس ۳۵,۳ میلیونه تنه وه، چې ددې څخه یې ۱۱,۶ سلنه خلکو په ښارونو کې ژوند کاوه.

درې ګوني اتحاد(۱۸۸۶) د ایټالیي حیثیت ته زیاته ګټه ورسوله، د خپلو دوه ګاونډیو دښمنانو (اسټریا-هنګري او فرانسې) نه یې د اسټریا-هنګري سره ښې سفارتي اړیکې جوړې کړې، په ګاونډیو کې یې یوازې فرانسه د ستونزو ښکار وه؛ خو ایټالیا د یوه قوي ځواک په توګه پیژندل کیده، د نورو مهمو هیوادونو څخه دلته سفیران راولیږل شول او روم د یوه نړیوال ځواک په توګه ومنل شو.

ایټالیا د نړیوال ځواک په کیدو سره هم، په صنعتي پرمختګ، زراعت او د سواد سلنه کې ډېره وروسته پاتې وه، د حمل نقل وسائل یې هم ډېر وروسته پاتې وه او ویې یې نه شو کولای، چې د نړۍ په سترو قومونو کې ځآن ته ځای پیداکړي، د سواد سلنه یې ۳۷,۶ وه، زراعتي نظام ډېر وروسته پاتې وه، چې دې کار د هیواد زراعتي غوښتنې نه شوې پوره کولای.

دغه ځواکمنتیا یې هغه وخت مشکوکه شوه، چې په ۱۸۹۶ ز کال کې یې د کارزار په ډګر کې د یوه افریقایي قوم نه ماته وخوړه، په ۱۹۱۱-۱۲ ز کال کې یې د لیبیا سره د جګړې اعلان وکړ، په دې ډول ایټالیا د کمزوري نه نور هم په کمزوري هیواد باندې بدل شو، په نړیوال صنعت کې یې شراکت د لومړي وخت نه نور هم کم شو، اقتصادي او ټولنیز خراب حالت ایټالیا د نړۍ د ځواکمنو هیوادو څخه بهر کړه، اوس دغه هیواد د ګاونډیو لپاره کوم خطر نه وه، ایټالیا په ۱۹۱۴ ز کال کې د ۱۸۷۱ ز خراب حالت ته رسیدلې وه، بحري فوځ یې کمزوری او د نویو بحري جنګي وسائلو څخه محروم وه، چې په دې سره یې حیثیت ته زیان رسیدلی وه.

Visit www.ketabton.com for more Pashto ebooks.

په ټوله اروپا کې زیات بې سواده خلک په ایټالیا کې موجود وه، په ۱۹۱۳ ز کال کې یوازې ۱۱ میلیونه میټریک ټنه انرژي مصرفیدله، کوم چې په نړیوالو ځواکمنو هیوادونو کې د ټولو څخه کمه فیصدي وه، في کس صنعت ۲۶ وه، ټول مجموعي صنعتي وړتیا یې ۲۲,۵ وه، په نړیوال صنعت کې یې ۲,۴ سلنه ونډه درلوده.

۸۸ سلنه د ډېرو سکاره یې د انګلستان نه واردول، د ډېرو د سکرو په واردولو سره یې مجموعي امدن او د مصرف توازن بیخي خراب شوی وه، د فوځ د اړتیاوو د پوره کولو لپاره یې د نغدو پیسو پیداکول یو ستونزه وه، زیاتره وخت د نفوسو زیاتوالی د یوه هیواد په پرمختګ کې مثبت رول لوبوي؛ خو د ایټالي خبره بیا ددې برعکس وه، وروسته پاتې زراعتي سیستم، د صنعت او کسبونو نه موجودیت، د حمل و نقل د وسائلو کموالی او د په ښوونیز ډګر کې نه پرمختګ هغه څه وه، چې د ایټالیي زیات نفوس یوه ستونزه جوړه شوې وه.

په ۱۹۱۴ ز کال کې د ایټالیي ځمکنی او بحري فوځ ۳۴۵۰۰۰ تنه وه، د فوځ حالت هم خراب وه، فوځ یې د امریکا او جاپان نه زیات وه؛ خو په تخنیکي او فني لحاظ وروسته پاتې وه، چې نه یې قوي وسلې درلودې او یې د جګړې لپاره اړینه جذبه، په فوځ کې د شاملیدو طریقه هم ډېره ستونزمنه وه، د جنوبي ایټالیي او کاتولیکي کلیسا تر منځ شخړې ځایي خلک په حکومت کې د دندې د اجراء کولو او د هیواد د پرمختګ په اړه بد ګمانه کړي وه، په عمومي ډول قومي برترۍ ته ترجیح ورکول کیده او قومي جذبه هم موجوده نه وه.

د فوځ شمېر یې ډېر زیات وه؛ خو جګړه یوازې د زیات فوځ په تکیه باندې نه شي کیدای، د جګړې لپاره قومي جذبه، قوي اقتصاد، قوي سیاسي او ټولنیز استحکام، ځمکني او بحري اړین جنګي وسائل او د صنعتي پرمختګ تر څنګ په نړیواله کچه قوي سفارتي اړیکې هم باید موجودې وي؛ خو ایټالیا ددې صفاتو څخه محرومه وه.

Visit www.ketabton.com for more Pashto ebooks.

جاپان

جاپان د فيوډالي نظام په وجه د نورې نړۍ نه ليرې او بيخي بې اړيکې وه، د خپلې پيچلې ژبې په درلودلو سره په نړيوالو مسئلو کې هم په پيچلي هيواد سره پيژندل کيده، په هيواد کې د طبيعي وسائلو کموالی، غريز جغرافيايي موقعيت او د زلزلو موجوديت د اقتصادي پرمختګ په مخکې خنډ وه، ۲۰ سلنه ځمکه يې د کروندې وړ وه، جاپان کوم نږدې ګاونډی دوست هيواد هم نه درلوده، جاپانيانو په يو ډول هم د بهرنيو مداخلې نه شوې زغملی.

دغه حالت د نولسمې پيړۍ د وروستۍ څلورمې پورې موجود وه او جاپان په سياسي لحاظ خام، په فوځي لحاظ کمزوری او په اقتصادي لحاظ کمزورترين هيواد وه، په ۱۸۶۸ ز کال کې د ميجي د نوي والي تحريک جاپاني عوامو ته د لويديځ د نه تسلط فکر ورکړ، دغه فکر نوي والي، صنعتي پرمختګ او په ځان بسيا کولو فکر ته قوت ورکړ، په فيوډالي نظام کې يې ښه والی راووست، ښوونې او روزنې ته زياته توجه وکړل شوه، چې په دې سره د بې سوادۍ کچه راکمه شوه، په قانون کې اصلاح راوستل شوه او نوی بانکي سيستم يې خپل کړ، ځمکنی او بحري فوځ يې بيا د سره منظم کړ او د انګليسي بحري بيړيو په شان يې بحري بيړۍ جوړې کړې.

دا هغه وخت وه، چې په جاپان کې په يوه وخت کې اقتصادي پرمختګ او په ځمکني او بحري فوځ کې يې زياتوالی رامنځته شو او دا د هغې قومي چغې پايله وه، چې په سياسي لحاظ د جاپانيانو د مستحکم کولو لپاره وهل شوې وه، په دې ډول (يو موړ هيواد-قوي فوځ).

د جاپان جغرافيايي موقعيت هم په اقتصاد کې ستر رول درلود، د جاپان جزيرې د څلورو خواوو څخه په بحرونو کې وې، چې دا کار يې د نورې نړۍ سره د اړيکو د شليدو باعث شوی وه، نږدې ورته کوم دښمن پروت نه وه او که کوم دښمن يې وه؛ نو هغه بايد ځواکمن بحري فوځ درلودای، د جاپان نفوس په چټکۍ سره زياتيده، زراعتي نظام کې هم ښه والی رامنځته شو؛ خو زراعت او د کب نيولو کسب اوس هم د ۱۸۹۰ ز کال په شان وه، صنعتي پرمختګ ته زياته توجه وشوه، په جاپان

Visit www.ketabton.com for more Pashto ebooks.

کې د فولادو صنعت يوازې نوم درلود، د سرمايي کموالي او د پورونو پر سر د نورو پورونو اخيستو يې استحکام ته زيان رسولی وه، همدا وجه وه، چې فوځ يې د نويو اړينو وسلو نه بې برخې وه او صنعتي پرمختګ يې وروسته پاتې وه.

د جاپان د جغرافيايي موقعيت نه علاوه، د جاپانيانو حوصله او اراده، هغه مهم عامل وه، چې د جاپان په پرمختګ کې يې ستر رول لوبولی او ډېر ژر يې ځان په يوه نړيوال ځواک باندې بدل کړی دی، د خپل تمدن په اړه د ښه فکر درلودل، د فوځ او هيواد سره زياته مينه، د شهنشاه احترام او د ټولو نه زيات د نظم او دسپلين مراعت هغه ځانګړتياوې دی، چې جاپانيان يې په يوه ماته نه منونکي قوم باندې بدل کړی دی او په ډول سره دا قوم د هر مشکل او خطر سره د مقابلې لپاره هر وخت چمتو دی.

په ۱۹۰۳-۵ ز کال کې د روسيي سره د جاپانيانو جګړې نړيوال حيران کړل، روسيه چې په ظاهره د ډېرې پراختيا، د زيات نفوس لرونکې او هم د زيات فوځ لرونکی هيواد وه، د کوريا او منچوريا د ځينو سيمو پر سر يې د جاپان سره جګړه وکړه، په ۱۹۰۴ ز کال کې د بحري فوځ مشر ټوګو په واسطه روسي بحري فوځونو ماته وخوړه، جاپانيانو په هر ډول چې وه، برې يې غوښته، جاپاني افسرانو او ځوانانو د زړورتيا او شجاعت ښه بيلګه وړاندې کړه، د روسيي په سرنګونو او ميدانونو باندې يې ګولۍ وورولې او روسي خندقونه جاپانيانو په خپله ولکه کې راوستل.

دغه حالت د جګړې کارپوهان دې خبرې ته متوجه کړل، چې جګړه يوازې په قوي اقتصاد، فوځي قوت، نوې وسلې او په سياسي او جغرافياوي حقائقو په وسيله نه ګټل کيږي، بلکه جګړه جذبې، اطاعت، نظم او دسپلين، عزم او د برې په لاسته راوړلو باندې په يقين درلودلو په واسطه ګټل کيږي.

په ۱۹۱۳ ز کال کې د جاپان ټول نفوس ۵۱,۳ ميليونه تنه وه، چې د دوی څخه يې ۱۲,۸ سلنه په ښارونو کې اوسيدل، په همدې کال د انرژۍ مصرف يې ۲۳ ميليونه ميټريک ټنه وه، عمومي صنعتي صلاحيت يې ۲۵,۱ وه او د يوه کس اندازه

Visit www.ketabton.com for more Pashto ebooks.

يې ۲۰ وه، د فولادو صنعت په کې ۰,۲۵ میلیونه وه، په ۱۹۱۴ ز کال کې يې ملي امدن ۲ بلیونه ډالره وه او في کس امدن يې ۳۶ ډالره حساب شوی وه.

پرتګال

په ۱۸۸۹ ز کال کې شاه لومړی لوئس مړ شو او زوی يې لومړی کارلوس واکمن شو، په پرتګال کې د هسپانيي (سپین) غوندې د اوږد مهال راهیسې دوه جمهوري ګوندونو حکومت کاوه، په ۱۹۰۶ ز کال کې لومړي کارلوس جاوفرانکو د لومړي وزير په توګه وټاکه، کوم چې د جمهوري ګوند ضد وه، په ۱۹۰۸ ز کال کې د جمهوري ګوند ضد يو تحريک پيل شو، چې په همدې کال د فبروری د میاشتې په دويمه لومړی کارلوس ووژل شو.

په ۱۹۰۸ ز کال کې دويم مینول پاچا شو، يو څه موده د پاچا پلوو او جمهوري غوښتونکو تر منځ سخت اختلافات موجود وه، په ۱۹۱۰ ز کال کې فوځي انقلاب رامنځته شو، چې د انقلاب وروسته د جمهوري ګوند حکومت راغی او پاچا يې جلاوطن کړ، په ۱۹۱۱ ز کال کې يو قانون پاس شو، چې ددې قانون مطابق کلیسا او دولتي ادارې يې د يوه بل څخه جلا کړې، په دې سره د پاپ واکونه نور هم راکم شول.

پرتګال د انګلستان سره پخوانۍ دوستانه اړیکې درلودې، په ۱۸۹۰ ز کال کې پرتګال خپلې ګټې د انګلستان د ګټو لپاره قرباني کړې وې، په لومړۍ نړیواله جګړه کې پرتګال د متحدينو سره په صف کې په بشپړ ډول ولاړ نه وه؛ بلکه په لومړي سر کې يې د يوې پالیسۍ په اساس بې طرفي غوره کړې وه.

پرتګال د افريقايي هيوادونو سره سوداګريزې اړیکې درلودې؛ خو بیا يې هم اقتصاد په مندويانو باندې منحصر وه، د جګړې په جريان کې جرمني د انګلستان د بحري فوځ محاصره کوله، په دې وخت د پرتګال سوداګريزو چارو ته زيان رسيده، سربيره پر دې په جنوبي انګولا کې د جرمني او پرتګالي فوځونو تر منځ جګړې هم شوې وې؛ خو ددې سره هم دواړه حکومتونه په بشپړ ډول جګړې ته چمتو نه وه.

Visit www.ketabton.com for more Pashto ebooks.

انګلستان د پرتګال نه وغوښتل، چې په افریقایي نیول شویو ځمکو کې په بندرونو باندې موجودې جرمني بحري بېړۍ ونیسي او انګلستان ته یې ورکړي، پرتګال د ۱۹۱۶ ز کال د فبرورۍ په ۲۴ دا کار وکړ، چې د همدې کال د مارچ په ۸ جرمني د پرتګال پر ضد د جګړې اعلان وکړ.

په ۱۹۱۶ ز کال کې پرتګال د جنوبي افریقا له لارې د جرمني په ختیځه افریقا باندې حمله وکړه، پاول وان لیټووربیک د ځمکني جنګ په واسطه نه یوازې دفاع وکړه، بلکې پرتګالي فوځ یې په افریقا کې مصروف وساته او په اروپا کې یې د جګړې کولو څخه منع کړ، وان لیټووربیک د نړیوالې جګړې تر پایه پورې د پرتګال سره په افریقا کې مصوف وه.

بلخوا پرتګال ته په اروپا کې زیات ځاني زیان واوښته، د خندقونو په جګړه کې یې ۱۰۰۰۰ فوځ ووژل شو، په ۱۹۱۸ ز کال کې یې ۶۰۰۰۰ فوځ د انفلوئینزا په وجه مړ شو، د جګړې په جریان کې پرتګالي حکومتونه څو ځلې تغیر شول، هیواد کې په بشپړ ډول سیاسي استحکام موجود نه وه، د ۱۹۱۸ ز کال په دسمبر کې یې لومړی وزیر سیډونیاپائس ووژل شو.

## د مرکزي هېوادونو حالات

په اسلامي نړۍ کې د ملوک الطوائفۍ او نا اهلۍ په وجه نړیوال مشرتوب د خوارلسمې زیږدي پیړۍ د پای څخه وروسته د اروپا په طرف روان وه، بیا انګلستان په اروپایي قومونو کې د ټولو څخه ځیرک او ځواکمن قوم وه، پراخه حکومت یې ختیځ او لویدیځ طرف ته غځیدلی وه، د لویدیځو قومونو د پراختیا غوښتنې هغه تحریک چې غوښتل یې د نړۍ په ښو هیوادونو کې واوسیږي، نور د پای مرحلې ته نږدې وه، د اروپا زیاتو خلکو د امریکا لویې وچې ته هجرت کړی وه، اروپایي قومونه په نویو نیول شویو ځمکو باندې د ولکې د ټینګولو لپاره د یوه بل سره په جګړه کې وه، دا هغه تاریخي شیبه وه، چې د تاریخ مطالعه کوونکي د نړۍ په مشرۍ کې یو تغیر په خپلو سترګو لیده.

Visit www.ketabton.com for more Pashto ebooks.

لومړۍ نړیوالې جګړې د نړۍ په افق باندې یو نوی پېل رامنځته کړ، د نړۍ مشري داسې یوه هیواد ته ورسیده، چې د اوو بحرونو اخوا په کې اروپایي مهاجر اوسیدل، په جغرافیایي لحاظ یې دا برتري درلوده، چې شاوخوا یې د اسیایي او اروپایي هیوادونو په شان جنګي هیوادونه پراته نه وه او دغه هیواد ته په بشپړ ډول هغه وسائل او حالات برابر وه، چې کوم قوم یې د مشرۍ لپاره باید ولري او دغه هیواد د امریکا متحده ایالات وه.

د اروپا په لویه وچه کې انګلستان، فرانسه، جرمني، پروسیا، اسټریا، هنګري او روسیه او سربیره پر دې عثماني ترکان هغه دولتونه وه، چې د خپل شان و شوکت د ښودلو لپاره یې ملا تړلې وه، د یوه کمزوري د بل ځواکمنتوب ګڼل کیده، اروپا ټوله اتلسمه پیړۍ په همدې حالاتو کې تیره کړه.

قومي تعصبونه، حب الوطني، نسلي برتري، پخواني مسائل او جګړې د نورو زیاتو جګړو او کشمکشونو عوامل وه، په نویو ځمکو ولکه او د زیاتو نه د زیاتو ځمکو لاسته راوړل، وسله، فوځ او نوې جنګي تجربې، دا هغه عوامل وه، چې د اروپا امنیت یې د ګواښ سره مخ کړی وه.

انګلستان د ډېرې مودې څخه د نویو ځمکو په نیولو کې مخکښه وه، سوداګریز مارکیټ یې په ټوله کې نړۍ کې موجود وه، د سوداګرۍ ټول انحصار یې په بحري بندرونو باندې وه، په سوداګریزو لارو باندې یې د خپل ستر او قوي فوځ په واسطه کنترول ترلاسه کړی وه.

که له یوې خوا انګلستان زیاته توجه د خپل بحري فوځ ځواکمنیدو ته اړولې وه، بلخوا جرمني او روسیي خپل ځمکنی فوځ په مسلسل ډول زیاتوه، د نولمسې پیړۍ په نیمایي کې د اروپا حالت په چټکۍ سره تغیر وکړ، په ۱۸۸۲ ز کال کې جرمني د اسټریا-هنګري او د ایټالیي سره درې ګونی تړون لاسلیک کړ، چې په دې سره یې په سیمه کې فرانسه بیخې یوازې کړه.

Visit www.ketabton.com for more Pashto ebooks.

په اروپا کې د جرمني اغېز د بسمارک د ښې سفارک کارۍ او د نه پراختیا غوښتنې فکر په وجه زیات شو، دغه حالت انګلستان ته د تشویش وړ وه، انګلستان غوښتل، چې د جرمني د نړیوال ځواک د کیدو په مخ کې بند واچوي، تر څو نړیواله مشري د انګلستان په لاس کې پاتې شي؛ خو بلخوا فطري جذبې جرمنیان مجبوره کړي وه، تر څو خواري او محنت وکړي او د نړیوال ځواک په توګه رامنځته شي، همدغه تعصب انګلستان مجبوره کړ، چې نوې سیمې ونیسې، جګړې وکړي، د فرانسې ملاتړ وکړي او په هر ډول چې وي د جرمني د پرمختګ مخه ونیسي.

وړاندې مو د متحدینو حالات مطالعه کړل، دلته به مناسبه وي، چې په لومړۍ نړیواله جګړه کې د متحدینو د مخالفو ځواکونو یعنې مرکزي ځواکونو(هیوادونو) حالات هم په لنډ ډول مطالعه کړو.

جرمني

د ۱۸۷۰ ز کال نه وروسته جرمني د اروپا د یوه قوي هیواد په توګه رامخته شو، په ۱۸۷۱ ز کال کې د اتووان بسمارک په ټاکلو سره د جرمني په سفارتي اړیکو کې ښه والی رامنځته شو، جرمني د اروپا په مرکز کې پروت وه؛ ځکه نو د ټولې اروپا د توجه مرکز ګرځیدلی وه، څلورو خواو ته یې پرتو هیوادونو په یو ځای کیدو سره کولای شول، چې جرمني کمزوری کړي.

بسمارک همدې حالت ته په کتو سره دوه مهم سفارتي او پالیسي جوړونکي کارونه وکړل، لومړی دا چې د درې ګوني اتحاد په واسطه یې د اسټریا-هنګري او ایټالیي سره دفاعي تړون لاسلیک کړ، په دې ډول اوس د جرمني دښمنان یوازې فرانسه او روسیه وه؛ خو بحري دښمن یې یوازې انګلستان وه، دویم دا چې د پراختیا غوښتنې فکر یې بیخې پریښوده او نورو اروپایي هیوادونو ته یې داسې ښکاره کړه، چې جرمني غواړي د یوه قوي هیواد په توګه رامنځته شي، چې د نورو هیوادونو د پرمختګ ملاتړی به وي.

په ۱۸۹۰ ز کال کې جرمني د خپلو سفارتي اړیکو په واسطه د اروپا په مرکزي ځواک باندې بدل شوی وه، جرمني د خپلو هم عصره حکومتونو برعکس د پخواني

Visit www.ketabton.com for more Pashto ebooks.

نظام په واسطه ځواکمن شوی وه؛ خو نور هیوادونه د نوي جمهوري نظام په واسطه د پرمختګ په لاره روان وه، دغه کار د جمهوري نظام لرونکو هیوادونو لپاره د تشویش وړ وه، په همدې کال د بسمارک او د جرمني د قیصر(دویم ویلیم) تر منځ د اختلافاتو په پایله کې بسمارک استعفا ورکولو ته مجبور کړای شو؛ خو جرمني د لومړني وروسته پاتې حالت څخه بهر شوی او د پرمختګ په لاره روان وه.

په ۱۸۹۱ ز کال کې د روسیي څخه یو وفد جرمني ته راغی، تر څو دفاعي تړون بیا د سره نوی کړي، جرمني هغوی ته د درې ګوني اتحاد سند ور وښود او د روسیي سره یې د دفاعي تړون د لاسلیکولو څخه بخښنه وغوښته، ویې ویل، چې درې ګونی اتحاد او ستاسو سره دفاعي تړون به په یوه وخت د یوه بل پر ضد وي، دا هغه ستره غلطي وه، چې د جرمني نوی حکومت یې مرتکب شو، روسیي فرانسې ته مخ ورواړه، دواړه هیوادونه د جرمني د ځواک څخه په ویره کې وه او د خپل ځان په اړه د جرمني د ارادې څخه هم خبر ول، په ۱۸۹۴ ز کال کې دواړو هیوادونو اتحاد رامنځته کړ، د بسمارک برعکس دویم ویلیم د پراختیا غوښتنې فکر درلود، داسې نه شو ویلای، چې بسمارک بیخې د پراختیا غوښتنې فکر نه درلود؛ مګر د هغه وخت حالات یې په نظر کې نیولي وه او دا یې درک کړې وه، چې د پراختیا غوښتنې د پالیسۍ په پایله کې به د جرمني پرمختګ او حتی وجود به یې د خطرې سره مخ شي؛ ځکه نو بسمارک د پراختیا غوښتنې لپاره کوم ښکاره اقدام نه وه کړی.

د جرمني د پراختیا غوښتنې د ارادې دوه وجې وې، لومړی دا چې دویم ویلیم دا درک کړې وه، چې د اوسنیو ځواکمنو د ځواک د ماتولو لپاره باید جرمني دومره ځواکمن شي، چې د اوسنیو ځواکمنو هیوادونو په ځواک کې تغیر راوستل شي او د دومره ځواک د ترلاسه کولو لپاره وسائلو ته اړتیا ده، دویم دا چې د جرمني د پرمختګ یون په اروپا نه بلکې په ټوله نړۍ کې په چټکۍ سره روان وه، په نفوسو کې مناسب زیاتوالی، صنعتي، کیمیاوي او بریښنایي پرمختګ، دویم ویلیم ته دا باور ورکړی وه، چې کولای شي د نړۍ نور ځواکمنو هیوادونو او دښمنانو ته نیغ وګوري.

Visit www.ketabton.com for more Pashto ebooks.

د همدې جذبې په وجه جرمني په ۱۸۹۸ ز کال کې د بحري بيړيو په زياتوالي باندې پيل وکړ، د بحري ځواکونو د قومندان (ترپز) په وخت کې جرمني د شپږم نمبر نه دويم نمبر ته راغی، مخکې د جرمني نه يوازې روسيي او فرانسې ويره درلوده، اوس انګلستان هم د بحري ځواک په ډېريدو سره د جرمني نه په ويره کې شو، انګلستان مجبور شو، چې د فرانسې سره خپل ټول اختلافات پريږدي او د جرمني ضد تړون ورسره لاسليک کړي.

د بحري ځواک د زياتولو يوه وجه دا هم وه، چې جرمني د ځانګړو سياسي حالاتو په نظر کې نيول سره، خپل ځمکنی فوځ کموه، د دفاعي بوديجې زياته برخه يې د بحري ځواک د پياوړي کولو لپاره ځانګړې کوله، بلخوا شاوخوا ته يې دښمنان هم زياتيدل، د ايټاليي او رومانيي سره هم سفارتي اړيکې چندان ښې پاتې نه وې.

اوس به د ۱۹۱۳-۱۴ کلونو حالات په لنډ ډول وڅيړو.

سياسي او ټولنيز حالات

په ۱۹۱۴ ز کال کې په جرمني کې د قيصر(دويم ويليم) حکومت وه، چانسلر(لومړی وزير) يې تهيوبيلډوان هال ويګ وه، چې سلطنتي کارونه يې سرته رسول، د فوځ مشر يې هيلميتهـ وان مولټک وه، د جرمني ايوان بالا(پارلمان، باندسټريټ) ته د ولاياتو او ښارونو څخه نمائنده ګان ټاکل کيدل، د ټيټ ايوان(رايشتاګ) لپاره به نمائنده ګان د عمومي رايو لخوا ټاکل کيدل، چانسلر به د پاچا لخوا ټاکل کيده او په خپله خوښه به يې وزارتونه ويشل.

په ۱۸۹۰ ز کال کې د بسمارک په استعفا سره، په کورنۍ او بهرنۍ پاليسۍ کې توازن له منځه ولاړ، د چانسلر په تغير سره پاليسۍ هم تغير کاوه، د بسمارک جوړ شوي اصول له پامه وغورځول شول، چانسلر به د قيصر په حکم ټاکل کيده، چانسلر به د پروسيا او ليوتهرن د اشرافو څخه وه، په دې ډول چانسلر به د ځمکوالو په ګټه پاليسۍ جوړولې او د ټيکس زيات بوج به يې د مزدورانو او بزګرانو په اوږو باندې اچوه.

Visit www.ketabton.com for more Pashto ebooks.

د جرمني پوهنتونو د هیواد په پرمختګ کې مهم رول لوبوه، په جرمني کې د سواد کچه د ټولې اروپا د هیوادونو څخه لوړه وه، څو مسلکي تعلیمي اداري جوړې شوې وې، چې د هغه ځای څخه صنعتي او تخنیکي مهارتونه ټولنې ته لیږدول کیدل، د جرمني د فوځ څخه په ۱۰۰۰ کې یو یې بې سواده وه، په دې ډول د جرمني په پرمختګ کې لوستي مزدور، انجینر، دوکاندار، مدیر او نورو ستر رول درلوده.

د جرمني یوازې څلویښت سلنه خلک په کلیو کې اوسیدل، د جرمني د چټک صنعتي پرمختګ په وجه د جرمني د هیواده بهر تلونکو مهاجرینو شمېر ډېر کم وه، په ۱۸۸۰ ز لسیزه کې په مجموعي ډول ۱۳۰۰۰۰ کسانو هر کال هجرت کاوه؛ خو د کار د پیداکیدو په وجه په ۹۰ لسیزه کې دا شمېر د کال ۲۰۰۰۰ ته راکم شو، جرمني د زیات ښاري نفوس په درلودلو سره هم په زراعتي تولید کې زیاتوالی لیدل کیده.

په ۱۹۱۴ ز کال کې د جرمني نفوس ۶۷ میلیونه وه، په نفوسو کې مسلسل زیاتوالی او صنعتي پرمختګ، کیمیاوي او برېښنایي پرمختګ د جرمني د عمومي پرمختګ او خوشالی لامل وه، تیر کال چې د کار په پیداکیدو کې زیاتوالی راغلی وه، ټول جرمني خوشاله وه، په عامو خلکو د حب الوطنی جذبه ډېره زیاته وه، جرمني قوم په خپل جرمنوالي باندې ویاړ کاوه او متحد جرمني یې د ملي ویاړ نښه وه.

جرمنیانو هم لکه د جاپانیانو غوندې په خپل تمدن باندې ناز کاوه، دا د راتلونکي وخت هغه ځواک وه، چې اوسني نظام ته یې چلینج ورکولای شو، د ۱۸۹۰ ز کال نه وروسته یې د پراختیا غوښتنې جذبه زیاته شوې وه، همدغه هغه جذبه وه، چې جرمني چانسلر هال ویګ په ۱۹۱۴ ز کال کې د ډېر جذباتي کیدو په پایله کې داسې وویل: هر چا ته چلینج ورکوو، د هر چا لاره به تعقیبوو او ددې لارې په اوږدو کې به هیڅوک کمزوری نه ګڼو.

Visit www.ketabton.com for more Pashto ebooks.

د جرمني مشران د روسيي د زيات پرمختګ نه په ويره کې وه، جرمني د اروپا د لويي وچې بهر پرمختګ نه شو کولای؛ نو د اروپا د لويي وچې دننه يې د پراختيا غوښتنې په اړه فکر وکړ.

اقتصادي حالات

په ۱۹۱۴ ز کال کې د جرمني اقتصادي حالت د ۱۸۹۰ ز کال په پرتله دوه درې برابره مستحکم شوی وه، جرمني د پخواني حکومتي نظام يوازينی هيواد وه، چې صنعتي استحکام يې درلود، په دې وخت کې د روسيي او فرانسې نه ډېر مخکې وه او په ځينو برخو کې يې انګلستان هم وروسته پريښی وه، په ۱۸۷۰ ز کال کې د انګلستان د فولادو توليد دوه ځلې د جرمني نه زيات وه؛ خو په ۱۹۱۴ ز کال کې جرمني د انګلستان نه دوه ځلې زيات د فولادو توليد کاوه، د فولادو توليد په دې وخت کې په جرمني کې ۱۷,۶ ميليونه ټنه وه.

په ۱۹۱۳ ز کال کې د جرمني د ملي توليد ۶۰ سلنه صنعت جوړ وه، په جرمني کې د قوي ماشينونو د جوړولو ځو فابريکې موجودې وې، چې په ۱۹۱۱ ز کال کې په کې ۱۳,۲ ميليونه مزدورانو کار کاوه، په جرمني کې د سيمينز او د ايې ای جي په شان سترې صنعتي فابريکې موجودې وې، چې ۱۴۲۰۰۰ تنو په کې کار کاوه، د جرمني د يوه کس امدن د ۳۵۲ جرمني مارکو څخه ۷۲۸ مارکو ته لوړ شو، د جرمني فابريکې د انګلستان او فرانسې د فابريکو څخه څو ځلې لويي او د لوړې درجې ښتنې وې، په کيمياوي صنعت کې د هويچسټ په شان سترې کمپنۍ موجودې وې، چې د جرمني په مجموعي امدن او کيمياوي پرمختګ کې يې ستر رول لوبوه.

د فولادو توليد يې د انګلستان، فرانسې او د اسټريا-هنګري د فولادو د توليد څخه زيات وه، په ۱۹۱۴ ز کال کې يې د فولادو اندازه ۱۷,۶ ميليونه ټنه وه،

په همدې کال د جرمني د ډبرو د سکرو توليد ۲۷۷ ميليونه ټنه وه، جرمني په شلمه پيړۍ کې د نړۍ په صنعتي بريښنا او کيمياوي پرمختګ باندې پوره واکمن وه، د

Visit www.ketabton.com for more Pashto ebooks.

جرمني د بائر او هويچسټ فابريکو د نړۍ ۹۰ سلنه رنګ توليدوه، د ۱۸۹۰ ز کال په نسبت د جرمني په بهرنۍ سوداګرۍ کې درې ځلې زياتوالی راغلی وه.

جرمني په دې وخت کې د نړۍ په صنعت کې ۱۴٫۸ سلنه برخه درلوده، چې د انګلستان نه لږ څه زيات وه.

د لومړۍ نړيوالې جګړې په پيل کې د جرمني مجموعي ملي امدن ۱۲ بليونه ډالره وه او د يوه کس امدن يې ۱۸۴ ډالره وه، دا هماغه شمېرې وې، چې نړيوال قوتونه يې په ويره او تشويش کې اچولي وه.

د جرمني پرمخ روان اقتصادي پرمختګ او پخوانی سياسي نظام، هغه څه وه، چې جمهوري نظامونه يې چلينج کړي وه، د نوي نظام لرونکي حکومتونه د جرمني ددې حالت څخه په ويره کې وه او دوی په خپلو کې د زياتو اختلافاتو په درلودلو هم د جرمني پر ضد متحد شوي وه.

د ۱۸۷۰ څخه تر ۱۸۹۰ ز کال پورې د بسمارک د اوږد فکر په پايله کې د جګړيز ماحول د رامنځته کيدو مخه نيول شوې وه او ټوله توجه يې پرمختګ ته اړولې وه؛ خو دويم ويليم ژر تر ژره د پايلو غوښتونکی وه او د بسمارک د تدريجي ډول نړيوال ځواک د رامنځته کيدو لاره يې پريښوده او برعکس لاره يې ونيوله، چې ددې په پايله کې جرمني په سفارتي اړيکو کې يوازې پاتې شو او داسې واخت راغی، چې د جرمني د جګړې ملګري (ايټاليا او رومانيه) هم د جګړې په دوران کې ترې په شاه شول.

جغرافيايي او فوځي حالات

جرمني په جغرافيايي لحاظ د اروپا د لويې وچې تقريباً په مرکز کې پروت دی، که د هغه وخت په نخشه باندې ژور نظر وکړو؛ نو داسې معلومېږي، چې جرمني د څلورو خواوو څخه د خپلو دښمنو ځواکونو لخوا محاصره شوی دی، همدغه حالت ته په کتو سره، بسمارک په ۱۸۸۲ ز کال کې د ښمنانو د کمولو لپاره درې ګونی اتحاد د استريا-هنګري سره رامنځته کړ او د هغوی دښمني يې په دوستی باندې بدله کړه، دغه تړون د ۱۸۹۱ ز کال پورې پټ وه.

Visit www.ketabton.com for more Pashto ebooks.

په ختيځ کې د جرمني پولې د روسيي ستر سلطنت ته رسيدې، په جنوب ختيځ کې يې استريا-هنګري پراته وه، په جنوب کې يې سويزرليند، جنوب لويديځ ته يې فرانس، لويديځ ته يې لوګزامبورګ او بيلجيم، شمال لويديځ ته يې هاليند او شمال ته يې ډنمارک پراته وه.

د شملې زيږدي پيړۍ په پېل کې جرمني د ځمکني فوځ په ډېروالي باندې پيل وکړ او فوځ ته يې جبري نيول پېل کړل، ددې لپاره هر جرمني ته اړينه وه، چې څو کاله د جرمني په فوځ کې خدمت وکړي، د فوځي خدمت د مودې د پوره کيدو وروسته به له فوځ څخه لرې کيده، په دې ډول فوځ به د هيواد په دفاع کې مهم رول لوبوه او سربيره پر دې هلته د ځوانانو د تربيي لپاره لوی ميدان هم موجود وه، د اړتيا پر وخت به ددې فوځ څخه د کوچنيو ګروپو په ډول کار اخيستل کيده.

په ۱۹۱۴ ز کال کې د جرمني ځمکنی فوځ په ۲۵ بيلابيلو مرکزونو کې موجود وه، چې ټول شمېر يې ۷۰۰۰۰۰ وه او د ټول جرمني فوځ شمېره ۴۵۰۰۰۰۰ وه.

جرمني په ۱۹۱۲ ز کال کې هوايي فوځ رامنځته کړ، مشرانو يې هوايي فوځ ته دومره ارزښت ورنکړ؛ ځکه يې په هوايي فوځ کې زياتوالی رانه وست؛ خو په ۱۹۱۴ ز کال کې د جرمني سره ۲۴۶ الوتکې او ۱۱ هوايي کښتۍ موجودې وې.

په ۱۹۱۴ ز کال کې د جرمني بحري فوځ د نړۍ دويم ستر فوځ وه، په دې وخت کې د جرمني سره ۱۷ نوې سترې جنګي بيړۍ وې، ۲۰ جنګي بيړۍ، ۵ چټکې جنګي بيړۍ، ۷ کوچني او ۱۸ ستر کروزرز، ۳۰ دانې پيټرولي اب دوزه، ۱۰ يو بوټس او د ۱۷ نورو يو بوټس په جوړولو باندې کار روان وه.

استريا-هنګري

په ۱۸۶۷ ز کال کې د استريا-هنګري متحد دولت رامنځته شو، په دې وخت کې د ويانا تړون تر سيوري لاندې يې د سلطنت پر ځای دغه نوی نوم د ځان لپاره غوره کړ، هنګري د منځته راتګ پر وخت د جرمني د پروسيا او د ايتاليي د لاس لاندې سيمو په بدل کې د بالکان د روسي سيمو د نيولو خواهش درلود او دا خبره

Visit www.ketabton.com for more Pashto ebooks.

دې دواړو هیوادونو ته معلومه وه، چې په دې ډول فکر سره به د روسیي لخوا د سخت عکس العمل سره مخ شي.

د اروپا په تاریخ کې د ۱۸۶۰ لسیزه ډېره خونړۍ ده، ددې په پایله کې نوی نړیوال نظام رامنځته شو او سیاسي مشرانو د خپلو هیوادونو لپاره په ښه ډول پالیسي جوړوله، هغوی په دې خبره پوه شوي وه، چې د نړیوال ځواک د کیدو لپاره یوازې د زیات فوځ درلودل اړین نه دي، بلکې د فوځ تر څنګ قوي اقتصادي نظام، قومي جذبه، حب الوطني، قوي سیاسي نظام او ښې سفارتي اړیکې درلودل ډېر اړین دي؛ ځکه نو په ۱۸۷۰ ز کلونو کې اروپایي مشرانو د همدې حالت په رامنځته کولو کې کوښښ کاوه.

د اروپا ستر قوم جرمن، چې مخکې په کوچنیو، کوچنیو حکومتونو باندې ویشل شوی وه، د پروسیا د لومړي وزیر بسمارک د شمالي جرمن فیډریشن په واسطه بیا د سره منظم او متحد شو، چې دې کار فرانسې ته ګواښ متوجه کړ.

د اسټریا-هنګري نوی رامنځته شوی حکومت د سترو ځواکونو په نسبت ډېر کمزوری وه، د نفوس د زیاتوالي سره یې هر ورځ خلکو هجرت کاوه، چې په پایله کې یې د هیواد په ملکي تولید کې کموالی رامنځته کیده، په دې حالت کې هم اسټریا-هنګري د تیرې پیړۍ د شان و شوکت په وجه په سترو قوتونو کې شمېرل کیده.

ددې هیواد د ځینو سیمو امدن دوه چنده زیات شوی وه، د ګلیشیا او بوکووینا ۷۳ سلنه خلکو زراعتي کارونه کول، ددې سیمو د یوه کس امدن ۳۱۳ کراونه وه، د اسټریا د لاس لاندې سیمو د خلکو د یوه کس امدن ۸۵۰ کراونه وه، په بوهمیا کې ۷۶۱ کراونه او په د دلماتیا د یوه کس امدن ۲۶۴ کراونه حساب شوی وه، چې دا په اسټریا-هنګري کې د قومي برترۍ او بد سلوک ښه بیلګه وه.

د اسټریا په ولایاتو او بوهمیایي سیمو کې صنعتي پرمختګ پېل شوی وه؛ خو د هنګري په سیمو کې د زراعتي نظام د ښه کولو لپاره کوښښونه کیدل، غربت ځپلې سیمې د پرمختګ د کارونو څخه محروم وه، د اسټریا او بوهمیا په سیمو کې صنعتي

Visit www.ketabton.com for more Pashto ebooks.

پرمختګ دومره نه وه، چې په نړیواله سطحه د خپل هیواد اړتیاوې پوره کړي او ویانا د نورو قوي هیوادونو تر څنګ ودروي.

او دا د اسټریا-هنګري د مختلف قسم نفوسو وجه وه، چې قومي جذبه یې نه درلوده، ژبې، رنګ، نسل او ډله بازۍ په کې ډېرې وې، د نظر تنګوالی او جامد فکر په کې خپل عروج ته رسیدلی وه، په هیواد کې ۱۵ مختلفې ژبې ویل کیدې، او د یوې ژبې ویونکي د بلې ژبې ویونکی بیخي نه خوښوه، همدا وجه وه، چې د ۱۹۱۴ ز کال په پیل کې د جګړې د پیل حکم د اسټریا-هنګري مشترک فوځ ته په ۱۵ ژبو باندې ورکول شوی وه.

په ۱۸۶۷ ز کال کې ددغه سلطنت(اسټریا-هنګري) اساس په مساوي توګه ایښودل شوی وه؛ خو د پرمختګ په اړه یو اړخیز توب د هنګري پوهان په دې فکر کې کړي وه، چې دغه مشترک سلطنت ته د پای ټکی کیږدي او خپل خپل حکومت د ځان لپاره جوړ کړي او هم ازاد حکومت رامنځته کړي او د پاچاهۍ نظام غړوندی د غاړې څخه لرې کړي.

په دې حالاتو کې فرانسې د روسیې سره خبرې پیل کړې وې، چې په خپلو کې اتحاد وکړي، د جرمني اسټریایي سیمې ونیسي او د اروپا د ستر ځواک په توګه رامنځته شي، په ۱۹۰۵ ز کال کې فوځي مشرانو د هنګري د نیولو په اړه فکر کاوه او ددې لپاره یې پلان جوړوه.

ددې ټولو خطرونو نه زیات خطر په جنوب کې د غلامانو څخه د اسټریا-هنګري سلطنت ته متوجه وه، چې زیاتره وخت به بې لارې کیدل او د سربیا یا روسیې څخه به یې مرسته غوښته، دغې طبقې به د خپل قومي اقلیت امتیازات غوښتل.

د هیواد د عمومي حالاتو د قابو کولو لپاره به هر ځل ویانا د سیاسي حل وړاندیز کاوه او همدا کوښښونه ول، چې د دوی متحد سلطنت مخ پر وړاندې روان وه، د معاملاتو د حل لپاره کمیسونونه جوړیدل، دوی به د مسائلو د حل لپاره کوښښونه کول، مثلا داسې مسائل لکه، د روزګار پیداکول، ټیکسونه، د ښوونځي جوړول، د پوسته خانې رامنځته کول او نور....

Visit www.ketabton.com for more Pashto ebooks.

د همدغه حالاتو په وجه وه، چې د استریا-هنګري د مجموعي امدن زیاتره برخه د مسئلو په حل باندې مصرفیده، د فوځ او دفاع لپاره به بودیجه ډېره کمه پاتې کیده، دغه بودیجه د ګاونډیو هیوادونو د نیمایي برابره وه، د فوځ سره پخوانی وسلې، توپونه او توپکونه وه.

د ټول نفوس ۳۰ سلنه یې په فوځ خدمت کاوه، نیمایي فوځ ته به د ۸ اونیو روزنه ورکول کیده او بیا به رخصتیدل، په دې ډول د جرمني د فوځ برعکس د روزنې وروسته استریایي فوځ نه شو کولای، چې په درست ډول خپله دنده سرته ورسوي.

د شلمې پیړۍ په پېل کې اروپا بیا د یوه ستر بحران سره مخ وه، استریا-هنګري د سترو قوتونو په منځ کې د ټولو نه زیات په تشویش کې ول، د خپلو نږدې ګاونډیو لکه روس، ایټالیې، فرانسې او سربیا څخه یې د زیات خطر احساس کاوه، فرانسې د روسیې سره د دوستی دوه اړخیزه تړون لاسلیکولو او استریا-هنګري د درې خواوو نه د ښمنانو لخوا محاصره وه.

په ۱۹۱۲ ز کال کې رومانیه هم مخالف طرف ته ولاړه، سربیا د مونټي نیګرو سره لاس یو کړ او د جنوب غلامان یې راپارول.

په ۱۹۱۳-۱۴ کې د استریا-هنګري د متحد سلطنت حالات په لنډ ډول تر څیړنې لاندې نیسو.

سیاسي او ټولنیز حالات

په ۱۹۱۴ ز کال کې په استریا-هنګري کې د فرینز جوزف پاچاهي وه، دا د ۱۸۶۷ ز کال راپدیخوا ددې متحد سلطنت پاچا وه، د هیواد مشرانو ټاکل او لرې کول د پاچا په لاس کې ول، په هیواد کې یوه ملي شورا هم موجوده وه، چې د رایو په اساس به ټاکل کیده، دې شورا په عمومي ستر مسئلو کې کوم رول نه درلود.

په ۱۹۱۴ ز کال کې ددې متحد سلطنت نفوس ۵۲,۲ میلیونه وه، چې مختلفو قومونو په کې ژوند کاوه، په هیواد کې اکثریت د جرمن قوم وه، چې شمېر یې د ۱۰ میلیونو څخه زیات وه؛ مګر دویم لوی قوم هنګري وه، چې ۹ میلونه تنه وه،

Visit www.ketabton.com for more Pashto ebooks.

نور نفوس پولنډي، بوسنیایي، چکي، کروشیایي، سربیایي ایټالیایي، روتهینز، رومانیایي، سلواکي او غلام وه، په دې متحد سلطنت کې په ۱۵ مختلفو ژبو باندې خبرې کیدې، یوه قوم د بل قوم د ژبې او تمدن نه انکار کاوه، همدا وجه وه، چې حکومت به زیاتره وخت د ژبني او نسلي ستونزو سره مخ وه.

په دې سلطنت کې مروجې پیسې یو ډول وې، د جوزف د واکمنۍ په دوران کې د اسټریا او هنګري لپاره جلا پارلمانونه جوړ شول، ټول سلطنت په سیمو باندې ویشل شوی وه، ددې سلطنت نفوس د اقتصادي نابرابرۍ ښکار شوی وه، د اسټریا د سیمو میشتو خلکو په خوشحالۍ کې ژوند تیروه، د بوهیمیا حالات لږ څه ښه وه او نورو یې تقریباً په غربت کې او افلاس کې ژوند تیروه.

په مجموعي ډول د لومړۍ نړیوالې جګړې د پیل په وخت کې په اسټریا-هنګري باندې د اشرافوا واک وه او نمائنده ګان زیاتره بې واکه وه، د چک او نورو اقلیتي قومونو د حکومت د نه توجه په وجه د جلا والي په اړه فکر کاوه.

اقتصادي حالات

د ۱۹۱۴ ز کال په پیل کې د اسټریا-هنګري ۸,۹ سلنه خلکو په ښارونو کې ژوند کاوه، د هیواد مجموعي امدن ۳ بلیونه ډالره وه او د یوه کس امدن ۵۷ ډالره حساب شوی وه، د هیواد ۵۰ سلنه خلکو زراعتي کارونه کول، د زراعت لپاره وروسته پاتې سیمې ځانګړې شوې وې.

د صنعتي انقلاب د اغېزو په لړ کې د نولسمې زیږدي پیړۍ په وروستیو کې د اسټریا-هنګري صنعتي پرمختګ هم په چټکۍ سره پیل شو؛ خو د شلمې پیړۍ په پیل کې یې پرمختګ لږ ورو شو، د متحد سلطنت د انرژۍ استعمال د فرانسې او روسیې څخه ډېر کم ۴۹,۴ میټرک ټنه وه.

هغه وخت د اسټریا-هنګري د ډبرو د سکرو تولید ۴۸ میلیونه ټنه وه، کوم چې د پورته ذکر شویو دوو هیوادونو د اندازې څخه ډېر کم وه، دلته د رخت صنعت عروج ته رسیدلی وه، د شرابو او شکرو صنعت هم وروسته پاتې وه، د هیواد په سترو ښارونو کې بریښنا موجوده وه، په همدې وخت کې د ګلیشیا په سیمه کې تیل

Visit www.ketabton.com for more Pashto ebooks.

پیدا شول، بلخوا د اورګاډي د پټلۍ د پرمختګ لپاره مختلف وسائل په کار اچول شوي وه، د وسلو د جوړولو مختلفې فابریکې جوړې شوې وې.

پورته شمېرو ته په کتو سره، بیا هم د اسټریا-هنګري سلطنت په نړیوال تولید کې یوازې ۴,۴ سلنه برخه درلوده، چې دا په هغه وخت د نړۍ د سترو ځواکونو له جملې څخه د ایټالیې نه زیاته وه، په هیواد کې ۳۰ لکه ملکي دولتي مامورینو شتون درلود، چې په مختلفو دولتي ځایونو کې یې دندې اجراء کولې، د ژبني او سیمه ایزو ستونزو د حل لپاره د ویانا حکومت په ټیکسونو او د وظیفو په ورکولو کې ډېر رعایت کاوه، په دې سره هیواد په درست ډول پرمختګ نه شو کولای.

جغرافیایي او فوځي حالات

د اسټریا-هنګري دواړو هیوادونو ټول مساحت ۶۷۵۰۰۰ کیلومتره مربع وه، د هیواد په شمال ختیځ کې روس، ختیځ کې رومانیه، جنوب کې سربیا او مونټې نیګرو، جنوب ختیځ کې ایټالیا، لویدیځ کې سویټزرلینډ او شمال لویدیځ کې یې جرمني پراته وه. په دغه ډول ددې سلطنت د شمال لویدیځ پرته شاوخوا یې ټول دښمنان و، په دې حالت کې د هغه وخت په خارجي پالیسۍ او سفارتي اړیکو کې کومه بریا نه وه ترلاسه کړې.

دې هیواد د خپلو ګاونډیو سره بې شمېره جنجالي مسئلې درلودې، دې متحد سلطنت چې پخوا کومې ځمکې نیولې وې، د هغه سیمو خلک د حکومت د ناکامې پالیسۍ په وجه ناراضه وه، په دې وخت کې د نړیوال بحران په وجه یې په دوستانو کې کمی او دښمنانو کې یې زیاتی رامنځته شو.

د جرمني سره رامنځته شوي اتحاد ته هم خلکو په ښه نظر نه کتل؛ خو په دې یې هم سترګې نه شوې پټولی، چې د جرمني د نه مرستې په پایله کې اسټریا-هنګري ته د روسیې او فرانسې نه خطر موجود وه، هر پنځه کاله وروسته د درې ګوني اتحاد د تړون نوی والی کیده، چې په دې اتحاد کې به اسټریا-هنګري د خپل کمزوري حالت په وجه په کې ګډون کاوه.

Visit www.ketabton.com for more Pashto ebooks.

د هیواد شاهي فوځ د پاچا فریدریک په مشرۍ کې منظم وه، پاچا د فوځ عمومي مشر وه، په ۱۹۱۴ ز کال کې پاچا د ۸۴ کلونو وه، د هغه د ډېر عمر په وجه د فوځ فوځي مشر فرنز کونریډ په فوځ کې ډېر مقبولیت درلود او په عملي ډول هغه د فوځ سپه سالار وه، کونریډ غوښتل، چې داخلي او بهرني مسائل به د فوځ په مټ حلوي، همدا وجه وه، چې زیاتره وخت به یې د ایټالیې او سربیا سره کله کله جګړې کولې، چې په دې سره یې د ګاونډیو هیوادو سره زیاتره وخت اړیکې خړې پړې وې.

د ۱۹۱۴ ز کال څخه مخکې کونریډ د جګړې پلان جوړ کړی وه، چې ددې پلان مطابق فوځ د څېلو دریو خواوو ګاونډیو سره په یوه وخت د جګړې لپاره تیار وه، ددې پلان مطابق یو ځانګړی فوځ جوړ شوی وه، چې د (ای سټافل) په نوم یادیده او د ایټالیې یا هم د روسیې سره د جګړې لپاره چمتو وه.

د درې ډلو څخه یو بل جوړ فوځ چې د (مني ملګرپ بالکان) نوم یې ورکړی وه، د سربیا او مونټي نیګرو پر ضد جګړې ته چمتو وه، د (بي سټافل) په نوم بله ډله وه، چې دا یو ځانګړی منظم فوځ وه، ددې فوځ یوه دنده دا هم وه، که چیرې د ایټالیې یا روسیې سره جګړه ونه شي؛ نو د هغه فوځ چې د سربیا پر ضد جوړ شوی، په جګړه کې د هغوی سره مرسته وکړي.

په ۱۹۱۴ ز کال کې د اسټریا-هنګري ټول فوځ ۴۴۴۰۰۰ تنه وه، دې فوځ سره پخواني توپونه، توپکونه او د اورګاډي د پټلۍ پخوانۍ نظام موجود وه، شاهي فوځ هوایي فوځ ته کومه توجه نه وه کړې، لکه څرنګه چې مخکې ذکر شول، د اسټریا-هنګري دولت د فوځ لپاره ډېره کمه بودیجه ځانګړې کړې وه.

د اسټریا-هنګري بحري فوځ د څېلو دواړو دښمنو ځواکونو روسیې او ایټالیې څخه کمزوری وه، د فوځ په اړه د کم نظر لرلو په اساس یې بحري فوځ ته هم دومره ارزښت نه وه ورکړی، په ۱۹۱۴ ز کال کې د اسټریا-هنګري د بحري فوځ سره ۱۶ جنګي بیړۍ، ۵ کروزه، ۱۸ ډیسټرایزرز او ۵ ابدوزه موجود ول.

Visit www.ketabton.com for more Pashto ebooks.

ترکیه

عثماني سلطنت د ۱۲۹۹ ز څخه تر ۱۹۲۲ ز کال پورې د نړۍ په نخشه کې په ډېر شان و شوکت سره حکومت وکړ، ددې سلطنت لوړوالی په شپاړسمې او اوولسمې زیږدي پیړیو کې خپل اوج ته رسیدلی وه، چې برید یې د سهیلي افریقا، منځني ختیځ، لویدیزې اروپا او سهیل لویدیزې اروپا ته رسیده، عثماني سلطنت په ۲۹ ولایاتو او ۳ باج ورکوونکو سیمو باندې ویشل شوی وه، ددې سلطنت ویره په اروپایي جرګو کې موجوده وه.

د ترکي سلطنت د زوال نښې د ۱۹ ز پیړۍ په لومړیو کې ولیدل شوې، د ۱۵۶۶ ز کال څخه دیخوا په مسلسل ډول ۱۳ نا اهله مشرانو واکمني وکړه او دا سلطنت یې د زوال پر لور روان کړی وه، زیاتره نیول شوې سیمې یې له لاسه ووتې او سلطنت د هرې ورځې په تیریدو سره کمزوری کیده.

د مرکزیت په پای ته رسولو سره په ختیځ او لویدیځ کې پروت سلطنت یې د سیاسي یووالي څخه هره ورځ بې برخې کیده او په لرو پرتو سیمو کې پرتو غیر مسلمانو اقلیتونو د نورو په مټ ورانۍ پیل کړی وه، په دې وخت د سني او شیعه ستونزو او اقتصادي خراب حالت حکومت ته سخت زیان واړوه.

د ۱۸۲۹ ز کال د یونان د ازادۍ په جګړه کې یونان خپله ازادي اعلان کړه، وروسته په ۱۸۳۹ ز کال کې واکمن دویم محمود د هیواد د ساتلو او په ترکیه کې د نوي والي په موخه هلې ځلې پیل کړې، د اصلاحاتو په نوم یې د اروپا د نوي فکري، حکومتي، زراعتي او قانوني نظام پر اساس حکومت کول پیل کړل؛ خو په ۱۸۷۵ ز کال کې په سربیا، مونټي نیګرو، بوسنیا، ولاچیا او مالدووا کې د قومیت تحریکونه پیل شول او پای د ۱۸۷۷-۷۸ ز کلونو په جګړه کې چې د روسیي او ترکیي تر منځ پیښه شوه، د پورته ذکر شویو سیمو خلکو هم خپلواکي اعلان کړه، په داسې حال کې چې دغه پورته سیمې د تیرو شپږو لسیزو راهیسې نیمه خودمختاره وې او د ترکیي د بیرغ لاندې متحدې وې.

Visit www.ketabton.com for more Pashto ebooks.

په وخت کې د سربیا یو یهودي (یهودا سولومن الکلایي) فلسطني سیمو ته ولاړ او هلته یې د اسرائیلو د ازادۍ تحریک پیل کړ.

په ۱۹۰۸ ز کال کې د ترکي ځوانانو تحریک په ټول هیواد کې پیل او د تحریک د غوښتنو د نه پوره کیدو په پایله کې یې په ۱۹۰۹ ز کال کې سلطان عبدالحمید د هیواده وشاړه او ورور یې پنځم محمود په تخت باندې کیناوه، د ځوانو ترکانو د تحریک په وخت کې د اسټریا-هنګري سلطنت وکولای شول، چې د بوسنیا او هرزګونیا سیمې په خپل واک کې شاملې کړي، د ایټالیي سره په جګړه کې یې لیبیا له لاسه ورکړه او بیا د بالکانو په جګړه کې یې نورې زیاتې سیمې له لاسه ووتلې.

د ۱۹۰۸ ز کال وروسته د یووالي او عمل مجلس رامنځته شو، چې د هیواد چارې یې په لاس کې واخیستې، دې مجلس لومړی د هیواد د بحري فوځ جاج واخیست او پریکړه یې وکړه، چې د عوامو نه به چنده راټولوي او بحري فوځ سره به مرسته کوي، په دې سلسله کې د ۱۹۱۰ ز کال په لومړیو کې یې انګلستان ته د دوه نویو بحري بیړۍ د جوړولو لپاره پیسې ورکړې.

د بیړو د جوړولو وروسته یې بیړۍ د ځان سره وساتلې؛ ځکه د جرمني سره یې د جګړې امکان زیات وه او د بیړیو څخه یې په لومړۍ نړیواله جګړه کې د ځان لپاره ګټه واخیسته، په همدې وجه د ترکي عوامو د انګلستان نه ډېر راغلل، بلخوا د جرمني قیصر دویم ویلیم ددې موقع څخه ګټه واخیسته او ترکیي ته یې دوه جنګي بیړۍ ورواستولې او په مقابل کې یې ترکیه په جګړه کې د ځان ملګرې کړه.

د ترکیي هوایي فوځ د نړۍ د څو پخوانیو فوځونو څخه یو وه، هوایي فوځ یې په ۱۹۰۹ ز کال کې رامنځته شو، په دې وخت کې په پاریس کې د هوایي فوځ په اړه نړیوال کنفرانس جوړ شوی وه، چې دوه ترکي په کې د ګډون په موخه ورغلي وه، په ۱۹۱۰ ز کال کې نور ترکان د زده کړې لپاره اروپایي هیوادونو ته ولیږل شول؛ خو زده کړه یې بشپړه نه شوه او د ځینو مسائلو په وجه په ۱۹۱۱ ز کال کې بیرته ترکیي ته راغلل، د ترکیي د دفاع وزیر محمود سیوکیت پاشا د هوایي فوځ سره ډېره مرسته کوله او په همدې کال یې دوه افسران فیسا او یوسف کینان د

Visit www.ketabton.com for more Pashto ebooks.

نړيوال هوايي ټيست لپاره وليږل، چې اعلی نمرې يې واخيستې او نړۍ يې حيرانه کړه، په ۱۹۱۲ ز کال کې په استنبول کې هوايي اکاډمي جوړه شوه او په دې ډول په لومړۍ نړيواله جګړه کې ترکيه د يوه ځواکمن هوايي فوځ لرونکې وه.

ترکيه د جګړې د پيل څخه دوه کاله وروسته د ۱۹۱۴ ز کال په اکتوبر کې په جګړه شامله شوه او د روسيي سره يې د جګړې اعلان وکړ، په دې وخت کې يې د ټول فوځ ۲۱۰۰۰۰ تنه وه.

بلغاريه

په ۱۸۷۸ ز کال کې د برلين د کنفرانس په پايله کې بلغاريه د عثماني ترکيي څخه جلا کړل شوه، د همدې کال څخه تر ۱۹۰۸ کال پورې بلغاريه د شهزاده فرديناند په لاس کې وه، چې د همدې کال په پای کې پاچا وټاکل شو، په ۱۹۱۴ ز کال کې پرواسيل راډوس لاوو لومړی وزير وه، په ۱۹۱۱ ز کال کې پاچا فرديناند د خپل نوم سره د تزار لفظ هم زيات کړ، فرديناند پاچا وه؛ خو د وزيرانو په واسطه يې خپل اختيارات نور هم زيات کړي ول، ددې وجه د هغه وخت سياسي ګوندونه ول، د ۱۹۱۴ څخه تر ۱۹۱۸ ز کلونو پورې وخت ته د فرديناند د پاچاهی نوم ورکول شوی دی.

مقدونيا د نورو سيمو په شان د ازادۍ تحريک پيل کړی وه او د يوه تحريک لپاره يې سر اوچتوه، د مقدونيا خلکو د بلغاريي د خلکو سره هم اهنګي درلوده، په ۱۹۱۲ ز کال کې بلغاريي د سربيا، مونټي نيګرو او يونان سره يو ځای د ترکيي سره جګړه وکړه او هغوی يې مات کړل، دې ته د بالکان لومړۍ جګړه وايي، چې په دې جګړه کې بلغاريي د مقدونيا سربيره تريس او سالونيکا سيمې هم ونيولې، سربيا، مونټي نيګرو او يونان، چې ښې سيمې ورته په برخه نه وې رسيدلې، د بلغاريي پر ضد يې جګړه وکړه، د بالکانو په دويمه جګړه کې بلغاريي ماته وخوړه او د مقدونيا سيمه يې ترې ونيوله.

په ۱۸۹۴ ز کال کې لومړي وزير سټائلوډ کورني صنعت ته پرمختيا ورکړه، ټيکس يې د ۸ سلنې څخه ۱۴ سلنې ته لوړ کړ، چې وروسته په ۱۹۰۵ ز کال کې

Visit www.ketabton.com for more Pashto ebooks.

۲۵ سلني ته لوړ شو، په ۱۸۹۷ ز کال کې تجارتي قوانین جوړ او نافذ شول، په ۱۸۹۶ ز کال کې د اورګاډي پټلۍ یوازې ۸۶۱ کیلو متره وه، چې په ۱۹۱۴ ز کال کې ۲۱۳۳ کیلومترو ته ورسول شوه، یوازې په څلورو کلونو کې په فابریکو او کارکوونکو کې یې څلور سلنه زیاتوالی راغی.

په ۱۹۱۴ ز کال کې د بلغاریې نفوس ۴,۸۵ میلیونه تنه وه او د پلازمینې صوفیا نفوس یې ۱۱۰۰۰۰ تنه وه، د هیواد عامو خلکو خوشحاله ژوند درلود، زیاتره یې د صنعت سره تړلي وه او فابریکو د هیواد اقتصاد ته زیات قوت ورکاوه.

د ۱۹۱۴ ز کال په اګست کې د لومړۍ نړیوالې جګړې په پیل کې، بلغاریه د بالکانو د دویمې جګړې د بوج نه په بشپړ ډول نه وه اوزګاره شوې او په لومړیو کې یې بې طرفي غوره کړې وه، د بلغاریې د مهم جغرافیایي موقعیت په وجه د جګړې دواړو لوریو کوښښ کاوه، چې بلغاریه د ځان ملګرې کړي، بلغاریې د قانون په اساس خارجه چارې ټولې د پاچا په لاس کې وې او پارلمان په دې کې هیڅ مداخله نه شوه کولای؛ خو پاچا د جرمني نژاد په درلودلو سره هم، په جګړه کې د بې طرفۍ د سیاست طرفدار وه.

د ۱۹۱۵ ز کال په ګرمۍ کې چې مرکزي ځواکونو زیاته بریا خپله کړه، بلغاریه د مرکزي ځواکونو په ګټه د متحدینو پر ضد په جګړه کې داخله شوه؛ ځکه مرکزي ځواکونو د بلغاریې د نیول شویو ځمکو د بیرته ورکړې ژمنه کړې وه.

د جګړې لاملونه

په نولسمه زیږدي پیړۍ کې صنعتي انقلاب او په سیاسي لحاظ رامنځته شوې تبدیلي، ددې باعث شوه، چې د شلمې پیړۍ په پیل کې اروپایي قومونه د ناوړه حالاتو سره مخ شي، په زیاترو هیوادو کې خلک د پاچاهي نظام بیزاره وه او په ډیر قوت ورسره د خلکو کرکه زیاتیده، په ځینو هیوادو کې د پاچاهي نظام او پارلمان تر منځ د حل لار رامنځته شوې وې، په دې ډول دغه وخت یو خوا د پاچاهي نظام د پایښت او بلخوا د جمهوري او پارلماني نظام د رامنځته کیدو لپاره جګړه روانه وه.

Visit www.ketabton.com for more Pashto ebooks.

اروپايي قومونو د نړۍ په نخشه کې مهم ځای درلود؛ خو ددې سره هم د انتشار او جګړو ښکار وه، د واک د لاسته راوړو، قومي او تمدني اختلاف، ژبنی اختلاف، پخوانی جګړې او د غچ اخيستو سياست اوج ته رسيدلی وه، د نويو ځمکو لاسته راوړل د هر اروپايي هيواد دويمه غوښتنه وه.

د پراختيا غوښتنې سياست او د نويو ځمکو د لاسته راوړلو په وجه خپلمنځي اختلافات او سترې جګړې رامنځته شوې وې، همدغه حالت د بحري پرمختګ لپاره لاره هواره کړه او د بحري نظام د لوړوالي لپاره کار پيل شو، د لوړ بحري ځواک لرونکي هيواد لپاره دا د منلو نه وه، چې بل هيواد دې ددې هومره ځواک پيدا او ددې پر سيمو دې ولکه ټينګه کړي، ددې په پايله کې داسې حالت رامنځته شو، چې هيوادونه په ګروپونو باندې وويشل شول.

د ځينو هيوادونو د اتحاد په پايله کې مخالفينو ته ګواښ متوجه کيده او د همدې ګواښ په مقابل کې به هغه مخالف يو بل اتحاد رامنځته کاوه، همدغه سياست ټوله اروپا په خپله غيږه کې ونيوله، چې دغه سياست د نولسمې پيړۍ په پيل کې پيل شوی وه.

په دې ناوړه حالاتو کې دا اړينه وه، چې د اروپا مفکرين او پوی خلک بايد د ډېر صبر نه کار واخلي او ستونزې بايد د سفارتي اړيکو له لارې حل کړي او د اروپا لويه وچه د تباهۍ نه وژغوري؛ خو د هغه وخت واکمنو زياته بيړه وکړه او پای جګړې ميليونونه خلک وخوړل، په لکونو بې کوره، يتيم او بې وارثه شول، د ټولې اروپا اقتصاد ته سخت زيان ورسيده.

دلته د لومړۍ نړيوالې جګړې لاملونه په تفصيل سره څيړو.

د ځمکني، بحري او هوايي ځواک د برلاستيا لپاره هڅې

د صنعتي پرمختګ سره يو ځای په اروپايي هيوادو کې د نويو وسلو جوړولو کار ګړندی شو، د نويو ټوپکونو، ماشينو، توپونو او ټانکونو په جوړولو باندې اروپايي هيوادونو زياتې پيسې مصرفولې، د فوځ په متحرک کولو او د فوځي اړيکو نيولو په سامانو باندې هم زيات مصرف کيده، اروپايي جنګي ماهرينو د پخوانيو

Visit www.ketabton.com for more Pashto ebooks.

جګړو څخه زده کړه کړې وه؛ ځکه يې نو فوځ ته زياته توجه کوله، اورګاډې چې په هغه وخت د وړو راوړو لپاره ښه وسيله وه، په چټکۍ سره يې پټلۍ ورته غزولې.

جنګي ماهرين په دې نظر وه، چې يوازې د زيات فوځ درلودل، د بريا ضمانت نه شي کيدای، د بشپړې بريا لپاره نوي تخنيک او وسلې، چټکې فوځي اړيکې، فوځ سره د حب الوطنی جذبه او اطاعت، چټک فوځ او جنګي سامان اړين دی، سربيره پر دې جنګي پلان، ښه سياسي او ټولنيز حالات، اقتصادي استحکام، سفارتي اړيکې او د اوږدې مودې جګړې لپاره ځواکمن اقتصاد ډېر اړين دي.

همدا وجه وه، چې د اروپا ځينو هيوادونو لکه جرمني، فرانسې، انګلستان او روسيي د نويو وسلو جوړولو سربيره د ځواکمن اقتصاد لپاره هلې ځلې پيل کړې وې، د نويو وسلو سره د اشنا کيدو لپاره فوځ ته تمرين ورکول کيده.

د نويو وسلو د جوړولو لپاره يې ځيړنيز مرکزونه جوړ کړي ول، چې هر وخت به خپل راپورونه لوړو چارواکو ته رسول، چې هغوی به د کتلو نه وروسته د وسلو د جوړولو امر ورکاوه.

د ځمکني فوځ سربيره د بحري فوځ دځواکمنولو لپاره هم نويو وسلو ته اړتيا وه، د اروپا ځواکمنو هيوادونو د اروپا څخه بهر مستعمرې درلودې، چې ددې مستعمرو سره د اړيکو ساتلو لپاره يې يو ځواکمن بحري فوځ ته اړتيا درلوده، د بحري فوځ لپاره يې د نوي تخنيک، نوې وسلې، جنګي بيړۍ، اب دوزونه، کروزرونه او نور جنګي توکي جوړول.

دا د اروپا د سيالۍ پايله وه، چې بحري جنګي بيړۍ يې جوړولې، د بحرونو څخه د يرغلونو لپاره يې هوايي بيړۍ جوړې کړې وې، د يوبوټس ټيکنالوجۍ د بحري جګړو بڼې زيات ته تغير ورکړ.

تارپيډ هم يو ډول توغندي وه، چې د سمندر دننه به يې د دښمن بيړۍ په نښه کولای شوې، په دې کار کې انګلستان، جرمني فرانسه او امريکا د نورو هيوادونو

Visit www.ketabton.com for more Pashto ebooks.

نه مخکې وه، په دې ډول د اروپا مهمو هیوادونو د بحري بېړیو د نوي کولو لپاره کوښښونه کول.

د فرانسې بحري فوځ د ۱۹۱۰-۱۴ ز کلونو تر منځ دوه چنده ځواکمن شوی وه، جرمني په ۱۹۱۴ ز کال کې د نړۍ دویم ځواکمن بحري فوځ وه، امریکا د ۱۸۹۸ ز کال د هسپانیې سره د جګړې نه وروسته د بحري فوځ په ارزښت باندې پوه شوه او د شلمې زېږدي پیړۍ په لومړیو کې یې د ځواکمن بحري فوځ په جوړولو باندې پیل وکړ، د انګلستان شاهي بحري فوځ د نړۍ د ټولو څخه ځواکمن او مجهز فوځ وه، په ۱۹۱۴ ز کال کې د انګلستان بحري فوځ په لومړۍ درجه کې وه.

هوایي فوځ هم همدې حالت کې وه؛ خو د هغه وخت جنرالانو د هوایي فوځ نه دومره امید نه درلوده، فرانسې، انګلستان، جرمني، ترکیې، فرانسې او امریکا یې د جوړولو لپاره کوښښ کاوه، د جګړې ډګر ته نوې الوتکې د استعمال لپاره راوړل کیدې او نوې تجربې یې کولې، جنګي الوتکې جوړیدې او د الوتکو په واسطه بارود او د ویجاړۍ رامنځته کوونکي مواد د یوه ځای نه بل ځای ته لیږدول کیدل او هم به یې د دښمن ځایونه بمبارول.

د الوتکو د چټک سرعت او د زیات وزن د پورته کولو لپاره هر هیواد هوایي اکاډمۍ جوړې کړې وې، پیلوټان یې چمتو کول، د الوتکو په واسطه به یې ځمکنی فوځ هم بمباروه.

په ۱۹۱۴ ز کال په اروپا کې همدغه حالت موجود وه، انګلستان د نړۍ ځواکمن هیواد وه او جرمني یوازینی هیواد وه، چې انګلستان ته یې چلینج ورکولای شو، بلخوا روسیې په چټکۍ سره نور هیوادونه لاندې کول، چې دا د روسیې دوو ګاونډیو جرمني او اسټریا-هنګري ته ستر ګواښ وه، په دې حالاتو کې هر هیواد کوښښ کاوه، چې په وسلو او نورو جنګي وسائلو کې په نورو باندې برلاسی شي.

Visit www.ketabton.com for more Pashto ebooks.

د اقتصادي پیاوړتیا لپاره هڅې

د ایډم سمت کتاب[1] په اروپایي قومونو کې یو نوی فکر رامنځته کړ، چې ددې کتاب وروسته د اروپایي قومونو د اقتصادي پرمختګ لپاره ځانګړې څېړنې پیل شوې او اروپایي قومونو د نویو اقتصادي لارو چارو په رامنځته کولو لاس پورې کړ، د بارټر[2] سیستم پر ځای یې نړیوال تجارت رامنځته کړ.

قومونو به خپلې اړتیاوې د خپلو وسائلو په واسطه پوره کولې او د نورو اړتیاوو لپاره به یې نړیوالې مندویې ته مراجعه کوله، د انګلیسي استعمار په پراخولو کې همدغه نظریه ډېره ځواکمنه وه، د اروپا څخه د تجارت په بهانه راووتل، اسیا، افریقا او استرالیا ته ورسیدل او هلته یې د هغه ځای ساده خلک محکوم کړل.

ټول اروپایي قومونه د اروپا د کوچنۍ وچې نه د وتلو په حال کې وه او د نړیوال تولید څخه یې ښه کټه واخیسته، هر اروپایي هیواد د نورو هیوادونو سره د سوداګرۍ لپاره بحري فوځ جوړ کړی وه.

دغه کار چې د کومو هیوادونو لپاره ستونزمن وه؛ نو د نورو هیوادنو د بېړیو په واسطه یې خپل سوداګریز مالونه نورو هیوادو ته رسول، نړیواله سوداګري نوې رامنځته شوې وه.

د شلمې زیږدي پیړۍ په پیل کې د اروپایي قومونو د اقتصادي پرمختګ غوښتنه لاپسې زیاته شوه او خبره جګړې ته ورسیده، د سویس کانال ډېر مهم رول درلود؛ ځکه همدا کانال د اسیایي هیوادونو سره د سوداګرۍ نږدې لاره وه، هر اروپایي هیواد به کوښښ کاوه، چې دا ځای ونیسي او محصول یې لاسته راوړي.

انګلیسي شاهي بحري فوځ د خپل شان و شوکت په درلودلو سره د نړیوالې سوداګرۍ په ښو لارو باندې واکمنه وه، نورو هیوادونو به د خپلې سوداګرۍ لږه

[1] Wealth of Nations
[2] Barter جنس په جنس بدلول

Visit www.ketabton.com for more Pashto ebooks.

برخه محصول انګلستان ته ورکاوه، چې دې کار د انګلستان اقتصاد ته ډېره ګټه رسوله او نور هیوادونه برعکس له زیان سره مخ وه.

د فولادو ،صنعت، کیمیاوي تولیداتو او د بریښنا په واسطه د انرژۍ لاسته راوړل په ډېره پیمانه سره پیل شوي وه او هر هیواد به د خپلې وسې په اندازه کوښښ کاوه، ددې کار لپاره اروپایي هیوادونو د خپلې سوداګرۍ ساحه پراخه کړې وه او د هغو هیوادونو څخه به یې چې ګټه ترلاسه کوله؛ نو هغوی به د خپل انحصار لاندې راوستل، د هیواد د ګټو د ترلاسه کولو لپاره به یې بل هیواد انحصاروه او ځواکمنو هیوادونو به ددې کار نه ناوړه ګټه اخیسته.

جرمني غوښتل، چې په نړیوالې سوداګرۍ کې مخکې وي؛ نو ددې کار لپاره یې نوې بحري بیړۍ جوړې کړې، بلخوا د جرمني د بحري بیړیو د قوي کیدو په وجه انګلستان ته ګواښ متوجه وه او همدغه وجه وه، چې انګلستان د فرانسې او روسیې سره د لږو اختلافاتو په درلودلو سره بیا هم یو ځای شو، ددې خبرې مطلب دا نه دی، چې پورته ذکر شوي درې هیوادونه د یو بل خیرخواه وه؛ مګر د ځان شاوخوا د یوه قوي اقتصادي هیواد(جرمني) څخه یې ویره درلوده او دوی د ډېر وخت لپاره خپلمنځي اختلافات شاته وغورځول او د جرمني پر ضد متحد شول.

فرانسې د خپل بیروني ځواکمن اقتصاد په وجه نورو هیوادونو ته پور ورکوه او سودي ګټه یې ترلاسه کوله، چې دې کار یې اقتصاد ته زیاته ګټه رسوله، روسیې د صنعتي پرمختګ او فولادو جوړولو لپاره کوښښ کاوه، جرمني په دې فکر کاوه، چې څنګه د فولادو جوړولو، کیمیاوي تولیداتو، سترو ماشینونو او د بریښنا د تولید لپاره نوي وسائل رامنځته کړي، انګلستان د نړۍ د ستر سوداګر هیواد په توګه پیژندل کیده، دغه ټول قدمونه د اقتصادي پیاوړتیا او او استحکام لپاره پورته کیدل او ددې تر څنګ یې یو بل د څارنې لاندې هم نیولي وه، چې بل هیواد څومره ځواکمن اقتصاد لري او مقابل هیواد وکولای شي، چې د هغه نه ځواکمن وسائل او لارې چارې رامنځته کړي.

Visit www.ketabton.com for more Pashto ebooks.

د اروپا د تیرې پیړۍ جګړې د ځمکې د نیولو لپاره نه وې، بلکې ددې لپاره وې، چې څرنګه وکولای شي پیاوړی اقتصاد ولري.

د پخوانیو جګړو څخه رامنځته شوې دښمني

د اروپا تاریخ دا روښانوي، چې د نولسمې پیړۍ په پیل کې اروپا د جګړو په اور کې سوځیده، په دې جګړو کې هغه وخت کموالی رامنځته شو، چې د اروپا خلک د ځواک د توازن له کموالي سره مخ شو او بسمارک وکولای شول، چې د خپل مداریتوب په پایله کې د برلین په تخت تکیه ووهله.

د کریمین جګړې (۱۸۵۴-۵۶) د روسیې حالت ډېر خراب کړ او د روسیې د پراختیا غوښتنې خوبونه یې د خاورو سره خاورې کړل، بلخوا متحد هیوادونه (فرانسه او انګلستان) د خپل خراب حالت په وجه ډېر پریشانه ول، د ترکیې فوځ د روسیې لخوا له منځه تللی وه.

فرانسه د پروسیا (چې وروسته د متحد جرمني سلطنت شو) لخوا د ۱۸۷۰ ز کال په جګړه کې د ماتې سره مخ شوه او دریم ناپیلیون یې بندي کړ، د فرانسې دوه سیمې الزاس او لورن د جرمني په ولکه کې پریوتې، فرانسویانو ماته وخوړه او دوه سیمې یې هم له لاسه ورکړې، چې دا کار فرانسویانو ته د منلو او برداشت نه وه، د ماتې وروسته یې د خپلو سیمو د نیولو خوبونه لیدل، چې د همدې کار لپاره یې د انګلستان او روسیې سره لاس یو کړ او هغوی ته یې داسې ښکاره کړه، چې جرمني په سیمه کې د دوی دواړو هیوادونو د ګټو مخالف دی.

په ۱۸۹۸-۹۹ کې انګلستان او فرانسه د نیل د سیند د لوړې برخې پر سر په جګړه شول، چې فرانسې زیان ولیده او دا یوه کوچنۍ جګړه وه، فرانسویان د اروپا څخه بهر د خپلو ګټو د ساتلو لپاره جګړې ته چمتو ول.

په جنوبي اروپا کې سربیا، بلغاریه، مونټي نیګرو او یونان د بالکانو په لومړي جنګ د ترکیې سره په جګړه وه، چې د ترکیې د ولکې لاندې سیمې مقدونیا، تریس او سالونیکا یې ونیول؛ خو د غنیمت په مال باندې پورته بریالي شوي هیوادونه په

Visit www.ketabton.com for more Pashto ebooks.

خپلو کې په جګړه شول، د بالکانو په دویمه جګړه کې سربیا، مونټې نیګرو او یونان د بلغاریې پر ضد وجنګیدل او د بلغاریې د لاس لاندې سیمه مقدونیا یې ترې ونیوله.

دې جګړو د بالکانو او جنوبي اروپا د هیوادونو ترمنځ کرکه او دښمني رامنځته کړه، ترکیې او بلغاریې زیات زیان لیدلی وه؛ نو جګړې ته چمتو ول، تر څو خپلې د لاسه وتلې سیمې بیرته تر لاسه کړي.

د اسټریا-هنګري حکومت د خپل لاس لاندې سیمې ایټالیا باندې سختې پالیسې وضع کړې وې، چې ایټالیا په دې کار ډېر په قهر وه، په دې کار سره د اسټریا-هنګري جنرال فرنز کونیریډ لخوا وخت په وخت ایټالیا ته د جګړې ګواښ کیده، په داسې حال کې چې دواړه هیوادونه د درې ګوني اتحاد ژمنو ته ژمن وه.

د لومړۍ نړیوالې جګړې لپاره پیلامه د اسټریا-هنګري د شهزاده ډیوک فرینزفردیناند او د هغه د میرمن صوفیې وژل کیدل وه، چې د سربیا په ښار سراجیو کې د ۱۹۱۴ ز کال د جون په ۲۸ باندې ووژل شول، وروسته دا خبره ثابته شوه، چې په وژلو کې د سربیا د حکومت لاس وه، په دې وخت کې اروپایان د پخوانیو دښمنیو په وجه د یوه بل وینو ته تږي ناست وه.

قومي تعصبونه

اروپا د پنځه ویشتو لویو قومونو لویه وچه ده، په ۱۹۱۴ ز کال کې هر قوم د خپلې ژبې، اوسیدو، رسمونو او رواجونو په وجه د نورو قومونو څخه ځانګړی وه او په نورو قومونو باندې یې د خپل شان و شوکت لپاره هلې ځلې کولې، په دې قومونو کې جرمن، چیک، هنګري، پولینډي، فرانسوي، انګلیسي، سربیایي، کوشیایي، پرتګالي، هسپانوي، غلام او رومانوي قومونه د ذکر وړ دي، ددې ټولو قومونو ژبې مختلفې وې او هر قوم د بل قوم د ژبې برترۍ ته نه قائل کیده، په دې سره فساد رامنځته شو.

د اسټریا-هنګري په سلطنت کې د ۱۵ څخه د زیاتو ژبو ویونکي موجود ول، همدغه وجه وه، چې حکومت به تل د ستونزو سره مخ وه، بله دا چې، د سربیا سره د جګړې پر وخت یې فوځ ته په ۱۵ ژبو باندې د جګړې اعلان واوروه.

Visit www.ketabton.com for more Pashto ebooks.

د پروسیا لخوا فرانسې ته د ماتې (۱۸۶۷) څخه وروسته یې قوم د پروسیا سخت دښمن ګرځېدلی وه او فرانسویانو د بل هر قوم د لاندې کولو لپاره پلانونه جوړول، بلخوا د جرمني قوم په خپل لوړ کلتور او تمدن باندې فخر کاوه، په دې سره یې د قومي برترۍ جذبه پیاوړې شوې وه، انګلیسانو د نړۍ په څلورو لویو وچو باندې واکمني کوله، چې دا کار یې د برترۍ وړ ګانه او ویاړ یې پرې کاوه.

دغه اختلافات دومره زیات شول، چې یو قوم بل ته د منلو نه وه، د اروپا تاریخ د خپلمنځي جګړو څخه ډک دی، نولسمه پیړۍ د اروپا د جګړو پیړۍ وه، چې په دې پیړۍ کې د اروپا زیاتره جګړو قومي رنګ درلوده، د لړې ارامتیا څخه وروسته د شلمې پیړۍ په پیل کې دغه لاوا یو ځل بیا د چاودیدو حال ته نږدې شوې وه.

په سربیا کې د استریا-هنګري د شهزاده او د هغه د ښځې سیاسي وژنه، چې د لومړۍ نړیوالې جګړې پېلامه ګڼل کیږي، د قومي تعصب او کرکې څرګند دلیل دی، چې په دې سره سربیا د استریا-هنګري د لاس لاندې سیمو د غلامانو غچ اخیستل غوښتل؛ خو دې جګړې ټوله اروپا په اور کې وسوځوله.

اتحادي سیاست

د پروسیا د مشر بسمارک د سفارتي اړیکو د هڅو په پایله کې د جرمني متحد سلطنت رامنځته شو، چې ددې سلطنت مشر(قیصر) دویم ویلیم وټاکل شو او لومړۍ وزارت یې بسمارک ته وسپاره، بسمارک د پراختیا غوښتنې د سیاست برعکس فکر خپل کړ او د خپل سلطنت او دفاع لپاره یې هلې ځلې پیل کړې، ددې تر څنګ یې د استریا-هنګري او ایټالیا سره پټ درې ګونی تړون هم لاسلیک کړ، بسمارک به د سترو جګړو پر ځای کوچنۍ سیمه ایزې جګړې کولې؛ ځکه یې نو د اروپا بهر د نویو سیمو نیولو ته چندان ارزښت نه ورکاوه.

بسمارک یو خوا د درې ګوني اتحاد غړیتوب درلود، بلخوا یې د روسیې سره هم د دفاعي تړون په اړه خبرې پیل کړې وې، په دې ډول د بسمارک وخت د اروپا لپاره په سفارتي اړیکو کې یو ښه دور ګڼل کیږي، په دې وخت برلین د اروپا مهمې پریکړې کولې او نور اروپایي هیوادونه به یې هم ځان سره ملګري کول، په ۱۸۹۰

Visit www.ketabton.com for more Pashto ebooks.

ز کال کې بسمارک د وزارت د چوکۍ څخه لرې کړل شو، چې په دې سره د جرمني په پالیسۍ کې زیات تغیرات رامنځته شول او خارجه پالیسي یې د بد حالت سره مخ شوه، په بل کال د روسیي څخه یو کمیسون د امنیتي تړون د لاسلیکولو لپاره برلین ته راغی، چې دلته یې روسان د درې ګوني پټ تړون نه خبر کړل او هم یې د امنیتي(دفاعي) تړون د لاسلیکولو څخه انکار وکړ.

د جرمني دې کار روسیه فرانسې ته نوره هم نږدې کړه او په پای کې دواړو هیوادونو په ۱۸۹۴ ز کال کې د درې ګوني اتحاد پر ضد یو تړون لاسلیک کړ، فرانسه په سیمه کې د انګلستان د اغېز نه خبره وه او په ځانګړې ډول د انګلستان د بحري شاهي فوځ د اغېز نه یې پوره اګاهي درلوده؛ ځکه نو فرانسې زیاتره وخت انګلستان ته ویل، چې برلین یو ګواښ دی او انګلستان ته یې د دوستۍ دعوت ورکوه.

قیصر دویم ویلیم د پراختیا غوښتنې فکر درلود او د نویو سیمو نیول یې ډېر خوښ ول، همدا وجه وه، چې بسمارک یې رخصت کړ، جرمني امیرالبحر ترپز د جرمني د بحري فوځ د پرمختګ لپاره ډېرې هلې ځلې کولې، هغه څه چې فرانسې د جرمني په اړه انګلستان ته ویلي وه، د امیرالبحر کړنو په ثبوت ورسول؛ ځکه نو په ۱۹۰۵ ز کال کې د فرانسې او روسیي په دوه ګوني تړون کې انګلستان هم شامل شو.

په دې وخت د دواړو خواوو څخه د یوه هیواد لږې غلطۍ کولای شول، چې جګړه رامنځته کړي، سربیره پر دې څو نورو کوچنیو هیوادونو سره انګلستان، فرانسې او روسیي تړونونه لاسلیک کړي ول، چې د جګړې د پیښیدو په صورت کې به یې دفاع کوي، د بیلګې په ډول د سربیا سره روسیي تړون کړی وه او د بیلجیم سره انګلستان تړون لاسلیک کړی وه.

دغه اتحادي سیاست د هیوادونو د اقتصادي، ټولنیز، سیاسي او خپلو ګټو په اساس رامنځته شوی وه، په دې حال کې چې یوه هم ذاتي دښمني یا دوستي نلرله،

Visit www.ketabton.com for more Pashto ebooks.

د نړیوالو اړیکو په اساس دا قاعده ده، چې د قومي ګټو په اساس باید د نورو هیوادونو سره دښمني یا دوستي له منځه ولاړه شي.

د هغه وخت د اروپایي هیوادونو سیاست ثابت نه وه، د بیلګې په ډول، ایټالیا او رومانیه، په داسې حال کې چې دواړه د درې ګوني اتحاد غړي ول، سره ددې هم یو بل ته په قهر او غصه ول.

د مشرانو ناکامه مشري

په ۱۸۷۰ لسیزه کې په اروپا کې سیاسي استحکام لیدل کیږي، په دې لسیزه کې اروپایي مشران لیدل کیږي، چې په ذمه وارۍ سره خپلې دندې په درست ډول پرمخ وړي او د مسئلو لپاره د حل لارې لټوي، چې ددې کار وجه د شپیتمو کلونو خونړۍ جګړې دي، په دې جګړو کې ټوله اروپا تباه شوې وه.

په تیرو مخونو کې چې د اروپا کوم حالات موږ مطالعه کړل، هغه ددې خبرې ښکارندویي کوي، چې د اروپا مشرانو په دغه وخت د پوهې پر ځای د سطحي فکر نه کار اخلي او هره ورځ ددې لپاره چې حالات ښه کړي، حالات د خرابتیا پرمخ وړي، د خونړیو جګړو د وخت په تیریدو سره بیا هم د مشرانو په فکر د جګړو اغیزې لیدل کیدې او هر هیواد د خپلو ګټو لپاره د نورو سره تړونونه لاسلیکول، په دې وخت کې هر هیواد ځان محفوظ نه ګاڼه.

د پوهې څخه مطلب هیڅکله هم بزدلي نه ده، د یوې خوا د مصلحت په ښکاره کیدو سره بل هیواد داسې فکر کوي، چې مقابل هیواد یې کمزوری دی، دوی بیا خپلې غوښتنې لوړوي، په دې وخت د یوه اروپایي مشر لخوا هم داسې کار نه لیدل کیږي، چې خپل مسئولیت دې په درست ډول سرته رسولی وي.

په ۱۸۹۱ ز کال کې د جرمني لخوا غیر ذمه وارانه سلوک رامنځته شو، یو خوا دې حکومت د فرانسې او روسیې سره دښمني درلوده، بلخوا یې بحري فوځ د انګلستان سره د جګړې په هکله فکر کاوه، فرانسه په عملي ډګر کې غیر فعاله وه او د جرمني په شان ځواکمن هیواد ته ترې ګواښ نه متوجه کیده.

Visit www.ketabton.com for more Pashto ebooks.

فرانسې د خپلو دلاسه وتلو سیمو الزاس او لورن د نیولو خوبونه لیدل او پاریس په دې خبره ښه پوهیده، چې په یوازې ځان نه شي کولای د جرمني سره جګړه وکړي؛ نو د روسیي سره په اتحاد کولو سره یې دا خوب پوره کول غوښتل، په دې وخت کې د جرمني د فوځ مشر د قیصر دویم ویلیم په غوښتنه د شیلفن پلان جوړ کړ، چې ددې پلان له مخې به په فرانسه یرغل کیږي، چې یو ناوړه پلان وه.

روسیي د کریمین په جګړه کې ماته خوړلې وه او زخمونه یې لا تازه وه او د تیرې نیمې پیړۍ راهیسې یې کوښښ کاوه، چې خپل حالات سم کړي؛ خو د زیات مساحت او زیات فوځ په درلودلو سره بیا هم یو ځواکمن هیواد وه، د جرمني لخوا د روسي پلاوي بیرته لیږل، د جګړې پرته بل څه نه وه، کوم چې ډېر ناوړه کار وه.

د دویم ویلیم د پراختیا غوښتنې فکر هم د نورو نړیوالو په فکر ښه نه وه، وروسته اتحادي سیاست رامنځته شو او بیا د هیوادونو تر منځ د دوستۍ او دښمنۍ رامنځته کیدل هم ډېر ناوړه کار وه.

جرمني ته په کار وه، چې د شاوخوا دښمنانو سره ښه اړیکې ولري؛ خو دویم ویلیم ډېر په جذبه کې وه، د نویو ځمکو نیول او جرمني په نړیوال ځواک بدلول د هغه غوښتنې وې، چې په هغه وخت کې دا مناسبه رویه نه وه.

بلخوا اسټریا-هنګري د سیاسي استحکام د نه موجودیت، خراب اقتصادي حالت او د دفاعي کمزورۍ سره مخ وه، چې ددې په موجودیت کې یې هم د ګاونډیو هیوادونو سره د جګړې فکر درلود، تر دې بریده، ایټالیا چې د درې ګوني اتحاد د تړون غړې وه، د اسټریا-هنګري د شهزاده او د فوځ د مشر فرنزکونریډ څخه په تنګ شوي وه، د اسټریا-هنګري د پاچا لخوا د دوی دا کارونه غندل کیدل؛ خو ددې سره هم دا کار پای ته ونه رسید.

په همدې ډول رومانیه هم د اسټریا-هنګري د واک څخه چې په رومانوي قوم یې درلود خوښه نه وه، د سربیا سره یې هم اړیکې خرابې وې، په داسې حال کې چې اسټریا-هنګري په دې ښه پوهیدل، چې د سربیا تر شا روسیه ولاړه ده.

Visit www.ketabton.com for more Pashto ebooks.

په هغه وخت کې د اروپا مشرانو د پوهې او عقل نه کار وانه خیست، د عقل ډېر کمی په کې لیدل کیږي، چې د همدې کم عقلۍ په پایله کې لومړۍ نړیواله جګړه رامنځته شوه او د جګړې د لاملونو څخه یو لامل شو.

صنعتي انقلاب او د نوي والي سره د ځینو خلکو مخالفت

د نولسمې پیړۍ په پیل کې د نړۍ په زیاتو قومونو کې د صنعتي انقلاب اغېزې لیدل کیدې، په دې وخت د اروپا زیات مفکرین او پوهان د پخواني سیاسي، اقتصادي، ټولنیز، جغرافیایي، قومي او فوځي نظام پر ځای د نوي نظام سره اشنا شوي وه؛ خو اوس هم داسې کسان موجود ول، چې نه یې غوښتل خپل پخواني روایات او نظامونه پریږدي، هغوی شاهي نظام غوښته او په همغه نظام کې د پرمختګ او نوي والي غوښتونکي ول، هغوی د نوي پارلماني نظام سره مخالفت ښوده.

بلخوا د نوي والي غوښتونکو ډله د اروپا په سترو ادارو باندې واکمنه شوې وه، تر دې چې د انګلستان او فرانسې سیاسي مشران هم د شاهي او پارلماني نظام په اړه غږیدل او د دواړو ادارو واکونه یې سره ویشلي وه، په دې ډول نه بشپړ شاهي نظام موجود وه او نه هم بشپړ جمهوري پارلماني نظام، د اروپا په زیاتو هیوادونو کې فساد رامنځته شوی وه او وسله وال کوښښونه پیل شوي وه.

د کارل مارکس نظریې زیات ملاتړ ترلاسه کړی وه، مارکسیستانو خپلې اتحادیې جوړې کړې وه او په دې ډول یې کوښښونه کول، د واک د ترلاسه کولو لپاره یې د زیات جدت څخه کار اخیسته، هره فابریکه، کمپنۍ، مارکیټ، ځمکه او هر څه د حکومت ملکیت شمېرل کیدل، انسان ته د انسان په نظر نه کتل کیدل، بلکې د یوه ماشین په سترګه ورته کتل کیدل، چې د نه د ملکیت خاونده وه او نه هم د شخصي ژوند، بس دوه وخته ډوډۍ او د ځان پټولو لپاره یې د کالیو حق درلوده.

د نوي پارلماني نظام غوښتونکي په دې ډاریدل، چې کوم بل نظام یې مخې ته ونه دریږي او غوښتل یې، چې باید خپل هیوادونه یې ددې نظام نه ښه ګټه پورته کړي او نور هیوادونه باید ددې هیوادونو د نظام تقلید وکړي، بلخوا د شاهي نظام

Visit www.ketabton.com for more Pashto ebooks.

غوښتونکي خلک په دې لګیا وه، چې دغه نظام په څه ډول ښه کړي او کوښښ یې کاوه، چې نور هیوادونه هم همدغه نظام په خپلو هیوادونو کې پلی کړي.

په دې جګړه کې د اروپا ځو هیوادونه او قومونه شریک وه، هر هیواد د بل هم نظره هیواد نه ملاتړ کاوه، حالات تر دې اندازې خراب شوي وه، چې د پخواني نظام پر ضد ډېر پاڅونونه شوي وه، د ځینو پاچاهانو سیاسي وژنې هم رامنځته شوې وې او ځینې نور یې تبعید کړي وه.

په دې حالاتو کې یو خوا په انګلستان او فرانسه کې جمهوري نظامونه واکمن وه او صنعتي پرمختګ پر مخ روان وه، بلخو په جرمني کې پخوانی شاهي نظام واکمن وه؛ خو ددې نظام په درلودلو سره یې هم په کسب، صنعت او اقتصاد کې ښه پرمختګ کړی وه، چې دا کار د انګلستان او فرانسې لپاره یو ډول چلینج وه او کیدای شوای، چې جرمني د نړۍ مشري په لاس کې اخیستې وای.

دې حالاتو ټول جمهوري نظامونه په ویره کې اچولي ول او د هرې ممکنې لارې نه یې غوښتل، چې د جرمني د پرمختګ مخه ونیسي، هغوی غوښتل، چې په جرمني کې پخوانی شاهي نظام له منځه یوسي.

د نویو سیمو د نیولو پر سر رقابت

د اتلسمې پیړۍ په پای کې اروپایي هیوادونو د مختلفو بهانو په رامنځته کولو سره د اسیا او افریقا په هیوادونو باندې یرغلونه پیل کړ، د هغه هیوادونو حکومتونه یې د سوداګرۍ په واسطه ډېر اغېزمن کړي وه، د امریکا او استرالیا په براعظم یې هم ولکه درلوده، د نولسمې پیړۍ په پېل اروپایي هیوادونو ښې ډېرې مستعمرې درلودې.

اروپایي هیوادونه د خپلو کوچنیو هیوادونو څخه بهر وتل او د بهرنۍ نړۍ د نیولو په هڅه کې ول، هلته یې خپل خلک ځای پر ځای کول او د اوسیدو په صورت کې یې د هغه ځای ټوله اقتصادي ګټه لاسته راوړه، هغوی د ګټې د لاسته راوړلو لپاره د سلطنت او کنترول غوښتونکي ول، د نولسمې پیړۍ په پای کې تقریبا ټولو اروپایي هیوادونو د اروپا څخه بهر مستعمرې درلودې.

Visit www.ketabton.com for more Pashto ebooks.

دا د اروپايي قومونو د عروج پيړۍ وه، داسې قوم چې په اروپا کې بيخي بې اغېزې او بې ارزښته وه، اسيايي او افريقايي هيوادونه يې د خپل تسلط لاندې راوستل، انګلستان، فرانسې، جرمني، پرتګال، بليجيم او نورو هيوادونه استعمار کړي وه، انګلستان، فرانسه، جرمني او پرتګال داسې هيوادونه ول، چې په يوه وخت کې يې څو هيوادونه نيولي و.

دا د پراختيا غوښتنې فکر په چټکۍ سره زياتيده، څرنګه چې هر اروپايي هيواد غوښتل، مستعمرې ولري؛ نو دوی په خپلو کې ښې اړيکې نه درلودې، د اروپا دننه چې اړيکې هر څنګه وې؛ خو د اروپا بهر يې د خپلو ګټو لپاره جګړې ته هم وردانګل، فرانسې د انګلستان نه سر ټکاوه او د انګلستان د ځواک د پای ته رسيدو هيله يې دردلوه، انګلستان د فرانسې د مستعمرو د محدودولو کوښښ کاوه.

د جرمني لومړی وزير بسمارک د پراختيا غوښتنې هيله نه درلود؛ خو قيصر دويم ويليم يې خوبونه ليدل او ددې خوب د پوره کولو لپاره هر ډول قربانۍ ته چمتو وه، بسمارک يې په ۱۸۹۰ ز کال کې له دندې ګوښه کړ او ويليم د خپلو خوبونو په بشپړولو پيل وکړ.

په دې کار سره جرمني په هغو هيوادو سخت په قهر شو، چې د جرمني قوم د غوښتنو په لار کې يې خنډ رامنځته کاوه، جرمني قوم شاوخوا ډېر دښمنان درلودل، چانسلر وويل، چې هر هيواد به ځاري او هيچا ته به زيان نه رسيږي.

په دې وخت کې اروپايي هيوادونو د مستعمرو د زياتولو خوبونه ليدل، چې کمزوري هيوادونه به يې لاندې کول، ځواکمن هيوادونه يې دې ته نه پريښودل، چې د هغوی پر ضد څه ووايي؛ ځکه اروپايانو غوښتل، چې په هر کمزوري هيواد باندې سلطه ولري، هر هيواد د بل هيواد نه شکايت کاوه، په نويو ځمکو سره د استعماري هيوادونو اقتصاد ته زياته ګټه رسيده.

Visit www.ketabton.com for more Pashto ebooks.

## دویمه برخه

### د جګړې احوال

د ۱۹۱۴ ز کال د جګړې حالات

۱۹۱۴ ز کال د نړۍ په تاریخ کې د تباهۍ او ورانۍ د پیل کال دی، د اروپا قومونه چې په دغه وخت کې د نورو قومونو څخه پرمختللي وه، په نویو او ویجاړوونکو وسلو باندې سمبال وه، د وینې تویولو لپاره یو پیل په کار وه، چې دغه پیل د ۱۹۱۴ ز کال د جون په ۲۸ رامنځته شو، په دې وخت کې د اسټریا-هنګري د سلطنت ولیعهد ارک ډیوک فرینز فردیناند او میرمن یې صوفیه د سراجیو په سیمه کې د سربیایي قوم پرستو لخوا ووژل شول، قاتل شخص د یوې تروریستي ډلې سره اړیکه درلوده، چې ددغې ډلې نوم بلیک هنډ (Black Hand) وه.

د سربیا او اسټریا-هنګري اړیکې د پخوا څخه خرابې وې، سربیا د روسیې په اشاره د اسټریا-هنګري په داخلي چارو کې لاس وهنه کوله، همدې روسانو د سربیا د تروریستې ډلې په واسطه د اسټریا-هنګري ولیعهد او میرمن یې ووژل، په همدې وخت کې اسټریا-هنګري د سربیا په ځینو سیمو باندې ولکه هم درلوده، چې ددې پیښې په پایله کې لومړۍ نړیواله جګړه پیل شوه.

د اتحادي سیاست په پایله کې اروپا په دوه ډلو ویشل شوې وه، یو خوا د انګلستان، روسیې او فرانسې په شان ځواکمن هیوادونه او بلخوا جرمني، اسټریا-هنګري او ترکیي قرار درلود، ددې سترو دولتونو په منځ کې کوچني هیوادونه هم د جګړې څخه په امان نه شو پاتې کیدای، د ځینو هیوادونو جغرافیایي موقعیت داسې وه، چې په جګړه کې داخل شول؛ خو ځینې داسې هیوادونه ول، چې د ګټو په خاطر یې جګړه پیل کړه.

د سربیا او روسیې تر منځ دفاعي تړون موجود وه، چې ددې تړون له مخې د جګړې پر وخت به روسیه د سربیا ملاتړ کوي، بلخوا اسټریا-هنګري او جرمني د

Visit www.ketabton.com for more Pashto ebooks.

درې ګوني تړون غړي وه، د درې ګوني تړون له مخې د یوه هیواد سره په جګړه کې به بل هیواد مرسته کوي، انګلستان هم د بیلجیم سره یو پخوانی تړون درلود، چې بیلجیم بې طرفي غوره کړې او انګلستان یې د هر ډول مرستې ژمنه کړې وه، یو تړون د انګلستان، روسیي او فرانسې تر منځ هم موجود وه، چې د جګړې پر وخت به د یو بل سره مرسته کوي.

د انګلستان او فرانسې مشرانو د جګړې لپاره یو پلان جوړ کړی وه، ددې پلان مطابق باید داسې حالات رامنځته شي، چې د اسټریا-هنګري یا هم جرمني فوځونه په کوم هیواد حمله وکړي او انګلستان، روسیي او فرانسې ته ددې چانس په لاس ورشي، چې دوی په جرمني حمله وکړي، جرمني د متحدو هیوادونو ځواکمن دښمن وه؛ خو اسټریا-هنګري کمزوری وه.

د سربیا او اسټریا-هنګري دې (د قتل) مسئلې نړیوال رنګ خپل کړ او پلان جوړوونکو دغه دواړه هیوادونه په خپل پلان کې شامل کړل، سربیا د روسیي په ملاتړ د اسټریا-هنګري ولیعهد او میرمن ووژل، ددې قتل پړه د سربیا په حکومت باندې واچول شوه؛ ځکه هغه تروروستي ډله د سربیا د حکومت د ملاتړ څخه برخمنه وه.

د اسټریا-هنګري حکومت د سربیا ددې کار د انګیزې څخه خبر وه، پاچا فرینز جوزف د روسیي، انګلستان او فرانسې د فکر او پلان څخه خبر وه، هغه د سربیا سره د جګړې د پیل څخه دمخه د جګړې په اغېزو باندې فکر کړی وه، هغه پوهیده، چې جرمني به د اسټریا-هنګري څخه ملاتړ کوي.

د ۱۹۱۴ ز کال د جولایي په ۵ د فرینز جوزف سفیر د قیصر دویم ویلیم سره کتنه وکړه، دویم ویلیم اسټریا د خپل ملاتړ نه خبره کړه او د روسیي د حملې په مقابل کې یې په جګړه کې د شریکیدو ملاتړ ور ښکاره کړ، د جولایي په ۷ د اسټریا-هنګري د وزیرانو مجلس د سربیا څخه وغوښتل، باید د اسټریا افسرانو ته اجازه ورکړل شي، چې ددې قتل په اړه څېړنې وکړي او په ثابتولو سره باید قاتلینو ته سزا ورکړل شي.

Visit www.ketabton.com for more Pashto ebooks.

په ۱۵ جولايي کې د فرانسې ولسمشر او لومړی وزير په روسيه کې ول، د جولايي په ۲۳ د اسټريا حکومت سربيا ته التيماتم ورکړ او ۴۸ ساعت وخت يې ورکړ، چې بايد د اسټريا ټولې غوښتنې ومني، کنه جګړې ته دې چمتو شي، سربيا د روسيې په ملاتړ خپل کوچني فوځ ته حرکت ورکړ، التيماتم د جولايي په ۲۵ پای ته ورسيده.

په دې ځای کې به د جرمني او متحدينو د جګړې پلانونه تر مطالعې لاندې ونيسو، تر ځو وروسته د جګړې په حالاتو باندې په ښه ډول پوه شو.

د جګړې پلانونه

کله، چې حالات خراب شول، نو جګړې ته ليوال هيوادونو د يو بل خلاف د جګړې لپاره پلانونه جوړ کړل، په پلانونو کې تر ټولو مهم هغه يې د شيلفن پلان وه، ايلفر ډوان شيلفن د جرمني پخوانی فوځي مشر وه، چې په ۱۹۰۵ ز کال کې تقاعد شوی وه، شيلفن د داسې طبيعت خاوند وه، چې غوښتل يې خپل دښمن بايد نيست او نابود کړي، دده پلان د لومړۍ نړيوالې جګړې تر ټولو بريالی پلان وه او په لومړي سر د جرمني د بريا لامل هم همدا پلان وه.

د شيلفن پلان

جنرال شيلفن په دې نظر وه، چې فرانسه به د خپلو سيمو د ترلاسه کولو لپاره حمتاً په جرمني باندې حمله کوي او فرانسه به ددې کار لپاره د الزاس او لورن په سرحدونو کې خپل فوځ هم ځای پر ځای کوي، په دې حالت کې به جرمني د بيلجيم له لارې د فرانسې دفاعي حالت کمزوری کوي او په کمزورو برخو مزريز او ډونکرنک باندې به حمله کوي او د پاريس د نيولو کوښښ به کوي.

ددې موخې لپاره يې فوځ په ښه ډول ترتيب کړی وه، د راسته خوا فوځ د قوي کولو لپاره يې ډېر کوښښ کړی وه، هلته يې لومړی او دويم فوځ ځای پر ځای کړی وه، دغه فوځ به د بيلجيم او نيدرلينډ له لارې په فرانسه حمله کوي، د الزاس او لورن نه د دفاع لپاره يې پنځم او شپږم فوځ چمتو کړی وه، ددې فوځ موخه دا وه،

Visit www.ketabton.com for more Pashto ebooks.

چې فرانسوي فوځ د ځان سره بوخت وساتي، تر څو لومړي او دويم فوځ ته ددې موقع په لاس ورشي، چې د دښمن د فوځ د مرستې لاره بنده کړي.

په دې وخت کې به پنځم او شپږم فوځ چټکې حملې کوي او مخکې به ځي، ددې فوځ(شاته) ملاتړی فوځ يې د هغوی د مرستې لپاره چمتو کړی وه، په دې ډول ددې پلان مطابق به د فرانسې ټول فوځ محاصره شي.

په دې پلان کې د جرمني ټوله توجه د فرانسې خواته وه، د روسيي څخه د دفاع لپاره يې چندان ځواکمن فوځ نه وه ټاکلی او ددې کار وجه دا وه، چې هغه وخت روسيه په اقتصادي او فوځي لحاظ دومره قوي نه وه.

دا پلان په ۱۹۰۵ ز کال کې جوړ شوی وه، په همدې کال جنرال شيلفن تقاعد اخيستی وه، پر ځای يې جنرال هيلموت وان مولټک ټاکل شوی وه، په لومړيو کې مولټک هم دا پلان خوښ کړی وه؛ خو وروسته د نړيوالو حالاتو په بدليدو سره په دې پلان کې د تغير اړتيا وليدل شوه؛ ځکه يو خوا په ۱۹۰۵ ز کال کې روسيي د جاپان نه ماته خوړلې وه او په خپلو فوځي اصلاحاتو کې مصروفه وه، دويم دا چې د جرمني د سرحد سره نږدې د ډبرو د سکرو کانونه او د راهين لينډ صنعتي ښارګوټې موجود وه، چې دښمن ته ددې پريښودل، يو احمقانه کار ګڼل کيده.

شيلفن په ۱۹۱۲ ز کال کې په دې پلان کې د تغير خبره وکړه او ويې ويل، چې په ختيزه جبهه کې د بيلفورټ د سمندر د سرحد پورې بايد فوځ ځای پر ځای کړای شي او په يوه وخت کې يې د ختيزې او لويديزې جبهې د ښي او کيڼې برخې د فوځ په ځواکمنولو باندې ټينګار کاوه، مولټک د شيلفن په پلان کې ځينې تغيرات راوستل.

د شيلفن د پلان اصلي کار دا وه، چې ښي بازو دې قوي کړای شي؛ خو د جګړې په دوران کې مولټک د کيڼ بازو د قوي کولو کوښښ کاوه، تر څو جرمني په يوه وخت کې په دوه جبهو کې بريا ترلاسه کړي.

Visit www.ketabton.com for more Pashto ebooks.

۱۷ شمېره پلان

بلخوا فرانسې او نورو متحدینو هم پلانونه جوړ کړي ول؛ خو د دوی په پلانونو کې هغه پخوالی او بشپړوالی نه وه، کوم چې د شیلفن په پلان کې موجود وه، په ۱۹۱۱ ز کال کې د فرانسې او انګلستان تر منځ نږدې اړیکې موجودې وې او دا پریکړه شوې وه، چې خپل فوځونه به د جرمني د مقابلې لپاره د فرانسې ښي اړخ ته لیږي، تر څو هلته جګړه وکړي، د ۱۸۷۰-۷۱ ز کال په جګړه کې فرانسې خپلې سیمې له لاسه ورکړې وې، چې د هغه د لاسته راوړلو لپاره یې زیات کوښښ کاوه، هغوی ډیر په جذبه کې وه او فوځي مشرانو یې هم د جذبو په اساس پلانونه جوړول.

په ۱۹۱۱ ز کال کې ۱۶ شمېره پلان د الزاس او لورن د نیولو لپاره جوړ شوی وه، جنرال اګستین ایډیورډ ۱۶ شمېره پلان د فرانسې لپاره زیان رسوونکی باله، هغه په دې عقیده وه، چې جرمني به د الزاس او لورن پر ځای د بیلجیم له لارې په فرانسه باندې حمله کوي، هغه وړاندیز کړی وه، چې د بیلجیم له لارې د جرمني د حملې نه د ځان ساتلو لپاره په کار ده، چې د بیلجیم په سرحد باندې فوځ واچول شي او د حملې پر وخت جرمنیانو ته ماته ورکړي.

ددې پلان د پلي کولو لپاره فرانسې خپل ټول فوځ بیا منظم کړ، بلخوا ددې پلان د پلي کولو لپاره فرانسې باید د بیلجیم بې پریتوب د پښو لاندې کړی وای، جنرال ګستین دغه پلان رد کړ او جنرال جوزف جوفر یې د فوځ د ستر جنرال په توګه وټاکه، چې وروسته مارشال شو.

جنرال جوزف یو نا بشپړه او غیر واضحه پلان وړاندې کړ، په دې پلان کې هغه سیمې په نښه شوې وې، چې د دښمن لخوا پرې د حملې امکان وه، دې پلان ته یې د ۱۷ شمېرې نوم ورکړ، ددې پلان مطابق جرمنیان به د الزاس او لورن لخوا په فرانسې باندې حمله کوي، په دې پلان کې د جرمني لخوا د بیلجیم له لارې حمله کول هم په نظر کې نیول شوي وه.

ددې پلان مطابق د فرانسې لومړی، دویم، دریم او پنځم فوځ به د ښي څخه کیڼ خوا ته د الزاس او لورن په سیمه کې د جرمني د حملې لپاره چمتو وي، د څلورم

Visit www.ketabton.com for more Pashto ebooks.

فوځ به په کينه خوا کې د جرمني سره مقابله کوي او د پنځم فوځ ځای به نيسي، پنځم فوځ به د بيلجيم له لارې د راننوتي جرمني سره جګړه کوي او د کينې لوري به د جرمني فوځ د پرمختګ مخه نيسي، څلورم فوځ ته لاربنوونه شوې وه، د دريم فوځ ښي خوا ته د الزاس او لورن په سيمه کې دې د جرمني فوځ سره جګړه وکړي.

په دې پلان کې انګليسي فوځ ته کوم ځای نه وه ورکړل شوی؛ خو د فرانسوي پنځم فوځ کينې طرف ته په سرحد کې يو ځای پريښودل شوی وه، چې هلته انګليسي فوځ د جرمنيانو مقابله وکړي، په دې ډول فرانسوي او انګليسي ځواکونو غوښتل، چې دواړه فوځونه يو قوي حمله وکړي؛ خو د فوځ شمېر او وخت يې ټاکلی نه وه؛ ځکه نو دا يو ناکام پلان وه، فرانسوي فوځ هغه څه وکړل، د کومو چې په شيلفن پلان کې يې وړاندوينه شوې وه.

ځمکنۍ او بحري حملې

د جولايي په ۲۸ استريا-هنګري سربيا ته د جګړې اعلان وکړ، په دا بله ورځ روسيي د خپل پلان له مخې خپلو فوځونو ته په استريا باندې د حملې حکم وکړ، په ۳۱ تاريخ جرمني د روسيي څخه د فوځونو د ودرولو غوښتنه وکړه؛ خو روسيي يې غوښتنه رد کړه، چې په ځواب کې يې د ۱۹۱۴ ز کال د اګست په لومړۍ نيټه جرمني د روسيي پر ضد د جګړې اعلان وکړ او د روسيي د ملګري فرانسې نه يې وغوښتل، چې بايد مداخله ونکړي؛خو د فرانسې د بهرنيو چارو وزير دغه غوښتنه رد کړه او خپلو فوځونو ته يې د حرکت حکم وکړ.

په همدې ورځو کې د جرمني او عثماني ترکيي ترمنځ يو پټ تړون لاسليک شوی وه، په تړون کې راغلي وه، چې دواړه به د يوه بل سره فوځي مرسته کوي، ايټاليا چې د درې ګوني اتحاد غړې وه، ځان يې بې طرفه اعلان کړ.

د اګست په ۲ جرمني بيلجيم ته وويل، چې د فرانسوي فوځونو د حملې لپاره چمتو شي، ددې کار لپاره بايد جرمني خپل فوځ بيلجيم ته داخل کړي او بيلجيم ته يې وويل، چې بې طرفي به يې وساتل شي، که د بيلجيم فوځ ورانی وکړ؛ نو دا به حمله وګڼل شي، چې د ۱۲ ساعتو التيماتم يې ورکړی وه.

Visit www.ketabton.com for more Pashto ebooks.

په ۳ اګست بيلجيم د جرمني غوښتنه رد کړه، په همدې ورځ جرمني د فرانسې پر ضد د جګړې اعلان وکړ، په بله ورځ د جرمني فوځ د بريښنا په شان بيلجيم ته ننوت، د بليجيم پاچا د بې طرفۍ لاسليکونه ټولو خواوو ته ښکاره کړل او د مرستې غوښتنه يې وکړه، په دې سره انګلستان جرمني ته التيماتم ورکړ، چې خپل فوځ بايد بليجيم نه وباسي، د التيماتم وخت نيمه شپه پای ته ورسيد؛ خو د جرمني لخوا انګلستان ته ځواب ورنکړل شو، د اګست په پنځمه انګلستان د جرمني او اسټريا-هنګري پر ضد د جګړې اعلان وکړ، بلخوا مونټې نيګرو هم د اسټريا پر ضد جګړه اعلان کړه.

په همدې ورځ جرمني د بليجيم په کلاګانو باندې حمله وکړه او د ۱۶ اګست پورې يې ټولې کلاګانې ونيولې، په ۶ اګست باندې د اسټريا فوځ د روسيي سره جګړه اعلان کړه او سربيا د جرمني پر ضد د جګړې اعلان وکړ، د اګست په ۹۷ د انګلستان فوځ فرانسې ته ورسيد او د اګست په ۹ مونټې نيګرو د جرمني سره د جګړې اعلان وکړ.

د اګست په ۱۰ اسټريا د روسيي د لاس لاندې سيمې پولينډ باندې حمله وکړه، د اګست په ۱۱ او ۱۲ فرانسې او انګلستان د اسټريا پر ضد د جګړې اعلان وکړ، په دې ډول لومړۍ نړيواله جګړه د ۱۹۱۴ څخه تر ۱۹۱۸ ز کال پورې روانه وه او هر وخت د جګړې وخت وه، په مختلفو جبهو کې جګړې کيدې، چې ځينو جبهو يې ډېر شهرت موندلی دی.

لوېديځه جبهه

جرمني دوو خواته جګړه کوله، په لويديځ کې فرانسوي، انګليسي او بيلجيمي فوځونه او ختيځ ته روسيي ديوهيکل فوځ په ختيځې پروسيا(جرمني) باندې حمله کوله، په لويديځه جبهه کې په جګړو باندې د ښه پوهيدلو لپاره بايد ختيزه، لويديزه او د اسټريا-هنګري جنوبي جبهې جلا جلا مطالعه کړو، تر څو په بشپړ ډول د جګړې په نقشه باندې پوه شو.

Visit www.ketabton.com for more Pashto ebooks.

سرحدي جګړې

د اګست په ۵ جرمني فوځونو په بیلجیم باندې حمله کړې وه، د بیلجیم لږ فوځ په کلاګانو کې د جرمني د سیلابي فوځ سره په جګړه وه، د جرمني لومړي او دویم فوځ د بیلجیم کلاګانې یوه په بلې پسې نیولې، د بیلجیم پاچا البرټ خپل فوځ په دوه برخو ویشلی وه، یوه برخه یې د کلاګانو د دفاع لپاره او بله برخه یې د په کلاګانو کې د جرمني لپاره د خنډ اچولو په موخه ګمارلې وه.

په لیج او نیمور کې د بیلجیم فوځ په میړانه جګړه کوله؛ خو د جرمني د لومړي او دویم فوځ سره تخنیکي وسائل او پرمختللي توپونه موجود وه.

اوس د جرمني په مخ کې یوازې د بیلجیم ساتونکی فوځ خنډ وه، جرمني فوځ خپل حرکت کابو نه شو کړای او د بیلجیمي فوځ لخوا د مقابلې سره مخ شو، جرمني فوځ په بشپړ ډول د حرکت کولو نه مخکې حمله پیل کړه؛ ځکه نو فوځ یې بریا وروسته ترلاسه کړه، په لیج او نیمور کې دوی ۱۱ ورځې جګړه وکړه، جرمني فوځ د اګست په ۱۶ دغه سیمې ونیولې.

اوس د بیلجیم ګشت کوونکي فوځ مقابله کوله، چې څو ورځې یې د جرمني فوځ ته ستونزه جوړه کړې وه؛ خو د جرمني د بریښنا په شان چټک فوځ په مخکې د بیلجیم کمزوري فوځ ډېره مقابله ونکړه او پای د اګست په ۲۰ جرمني فوځ د فرانسې پولې ته ورسید.

د لورن په سیمه کې جګړه

د فرانسې فوځ د الزاس او لورن په سیمه د ۱۷ شمېرې د پلان مطابق خپل فوځ ځای پر ځای کړی وه، د اګست په ۷ د فرانسې لومړي فوځ په الزاس باندې حمله وکړه او په دا بله ورځ یې په خپله ولکه کې راووست، په دې سره د فرانسې فوځ ډېر خوشحاله شو؛ خو خوشحالي هغه پای ته ورسیده، چې د اګست په ۹ جرمني فوځ په یوه حمله کې د فرانسې ټول فوځ د الزاس نه وویست او خپل لومړني ځای ته یې ورسوه.

Visit www.ketabton.com for more Pashto ebooks.

دې کوچنی ماتې جنرال جوفر اړ کړ، چې خپل پلان بیا د سره جوړ کړي، جوفر د فرانسې د اووم فوځ مشر اګست لرې او پر ځای یې تقاعد شوی جنرال پاول وتاکه، ددې د مرستې لپاره د الزاس فوځ ته امر وکړ، چې دده د شاته ښې خواته دې ورسره په حرکت کې وي.

د ۱۷ شمېره پلان تفصیل د اګست په ۸ تاریخ باندې برسیره شول، کوم چې جنرال جوفر لخوا جوړ شوی وه، ددې پلان مطابق د فرانسې لومړی او دویم فوځ به د الزاس او لورن په شمال لویدیځ کې جګړه کوي، دغه فوځ ته ساربرګ نیسي او جرمني فوځ ته ستریس برګ سیمې ته په شا تمبوي.

جنرال جوسیاس وان هیرفګن په الزاس او لورن کې د جرمني د شپږم فوځ مشر وه، د اووم فوځ مشر د شهزاده روبرټ په لاس کې وه؛ خو اصلي مشري یې د جنرال کونارډ کرافټ وان ډیلمن سره وه.

د جرمنیانو د پلان له مخې شپږم او اووم فوځ به د فرانسې د فوځ سره جګړه کوي او فرانسوي فوځ به کومورهینګ، ساربرګ او د دوسکس غره ایزې سیمې ته په شا کوي، چې دلته به پرې په یوه ځل حمله کوي، فرانسوي فوځ به محاصره کوي او وژني به یې، هغه څه چې جرمنیانو غوښتل فرانسوي فوځ همغسې وکړل او فرانسوي فوځ ته درووند ځاني او مالي زیان واوښت.

د ۱۴ اګست نه دیخوا د فرانسې دویم او دریم فوځ قوي جګړه پیل کړه، په څلور ورځینی جګړه، جرمني فوځ چې قوي توپونه ورسره وه، د فرانسویانو لخوا په شا کړل شو، فرانسویان په دې جګړه کې خپل سرحد ته ورسیدل، فرانسوي جنرالان د جرمني د قوي حملې څخه په ویره کې ول؛ خو په دې ډاډه ول، چې کولای شي، جرمني فوځ ته قوي ځواب ورکړي.

د اګست په ۲۰ د جرمني لخوا یوه قوي ځوابي حمله وشوه، فرانسوي فوځ یې په شا کړ او خپل لومړني ځای ته یې ورسوه، فرانسوي فوځ د پنځو نورو ورځو لپاره د جګړې نه لاس واخیست.

Visit www.ketabton.com for more Pashto ebooks.

جرمني جنرال ډيملسن د فوځ د مشر نه غوښتنه وکړه، چې د شيلفن پلان برعکس دې هغه ته اجازه ورکړل، چې د نينسي په سيمه کې په فرانسوي فوځ باندې حمله وکړي، تر څو ټول له منځه يوسي، جنرال ډيلمسن د فوځ مشر مولټک ته ويلي ول، چې فرانسوي فوځ ډېر کمزوری شوی او کيدای شي په يوه حمله کې ټول له منځه ولاړ شي او دا د هغوی د له منځه وړلو لپاره يو ښه چانس دی.

د فوځ مشر مولټک د حملې اجازه ورکړه، د جرمني اووم او اتم فوځ د نيسني په طرف روان شو؛ خو د فرانسې فوځ يې مقابله وکړه، د جرمني فوځ ته ځاني او مالي زيان ورسيد، جرمني فوځ خپل فوځ ته امر وکړ، چې د ښي اړخ ځينې فوځ ته کينې خوا ته راشي، چې په دې سره يې په شمال کې فوځ کمزوری شو، دا کار يې د شيلفن پلان پر ضد وه او جرمني ونه شو کړای، چې ددې پلان نه په درست ډول ګټه ترلاسه کړي.

جرمني فوځ ډيره لږه ګټه وکړه، د لږ وخت لپاره بريالي وه؛ خو خپله موخه يې ترلاسه نکړه، په الزاس او لورن کې يې ماته وخوړه، د جنرال ډيلمسن په غوښتنه د فوځ مشر جنرال مولټک يوه ستره تاريخي غلطي وکړه، په دې کار سره جرمني ونه توانيده، چې پاريس ونيسي.

د اردينينس جګړه

د جنرال جوفر د پلان مطابق د فرانسې د لومړي او دويم فوځ لخوا په لورن د حملې په دوران کې بايد دريم، څلورم او پنځم فوځ د شمال خواته مخکې ولاړ شي، دغه د جنرال فوش پلان وه.

د پنځم فوځ مشر جنرال چارلس په دې پوهيده، چې جرمنی فوځ ډېر او ځواکمن دی، چې په درست ډول يې روزنه هم ترلاسه کړې ده، هغه غوښتل، چې د ميوز د سيند ړ شمال او جنوب له لارې بيلجيم ته د داخليدونکي جرمني فوځ مخه دې ونيول شي.

د اګست په ۱۵ جرمني فوځ د ډينټ په سيمه يوه قوي حمله وکړه، په دې وخت جنرال جوفر د جنرال چارلس خبره ومنله، هغه يې د ميوز او سيمبر د سيمو مينځ

Visit www.ketabton.com for more Pashto ebooks.

ته ولیږه، د څلورم فوځ کینې اړخ یې متحرک کړ، هلته پنځم فوځ له مخکې څخه موجود وه.

د لورن د سترې خونړۍ جګړې دوه ورځې وروسته د اګست په ۲۲ په ځنګلونو کې دا جګړه رامنځته شوه، د فرانسې فوځ فوځ حملې کولې، په دې سره فرانسوي فوځ ته زیات ځاني او مالي زیان هم ورسیده، د جګړې په دریمه ورځ د جرمني فوځ د یوې قوي حملې په پایله فرانسوي په شا وتمبول شو او خپل لومړني ځای ته یې ولیږه.

په دا بله ورځ یې د لورن نوی جوړ شوی فوځ هم له منځه یوړ، په دې سره د جرمني په فوځي قرار ګاه کې د فرانسې په ماته خوشحالي ښکاره شوه، اوس د جرمني فوځي مشرانو داسې احساسوله، چې کولای شي، پاریس ونیسي.

د سیمبر جګړه

د جنرال جوفر په امر د فرانسې پنځم فوځ د میوز او سیمبر په سیمه کې ګشت ګاوه، جنرال چارلس د خپلې اصلي موخه په اړه غلط پوه شوی وه، هغه ته ویل شوي وه، چې په سیمبر او خیتځ کې د میوز په سیمه کې به د جرمني د فوځ سره جګړه کوي؛ خو د اګست د ۲۱ پورې جنرال چارلس د جرمني فوځ ځای نه وه موندلی، هغه هیڅ حرکت ونکړ.

د جرمني دویم فوځ د جنرال کارل وان بولو په مشرۍ د میوز او سیمبر په طرف مخکې روان وه، هلته د جنرال چارلس په مشرۍ فرانسوي فوځ موجود وه، په همدې ورځ جرمني فوځ د سیمبر سیمې ته ورسید، چې د پنځم فرانسوي فوځ سره یې جګړه پیل کړه.

ټوله شپه خونړۍ جګړه روانه وه، په پای کې جرمني فوځ د سیمبر د سیند په جنوب کې خپلې پښې ټینګې کړې، اوس نو جرمني فوځ د جنرال میکس وان هوسین په مشرۍ د دریم فوځ د راتګ انتظار کاوه، بلخوا د فرانسې د پنځم فوځ جنرالانو په جرمني فوځ باندې د حملې خبرې کولې، چې جنرال چارلس پرې هیڅ تبصره ونکړه.

Visit www.ketabton.com for more Pashto ebooks.

د اګست په ۲۳ جرمني فوځ د فرانسي پنځم فوځ په شا وتمبوه او زيات ځاني او مالي زيان يې ورواړه، جنرال کارل وان بولو داسې احساس کړه، چې د نورې مرستې د رارسيدو پرته کولای شي، چې فرانسوي فوځ مات کړي، د همدې ورځې په ماښام يې په فرانسوي فوځ باندې حمله وکړه او هغه يې د جنوب خوا څو کيلومتره لرې شا تګ ته اړ کړ.

د بيلجيم فوځ د نيمور سيمه پريښوده او د فرانسې د پنځم فوځ شاته يې پناه واخيسته، بلخوا کله چې د جرمني فوځ په جنوب کې د ميوز او سيمبر منځنۍ سيمې ته د حملې لپاره ور ورسيدل؛ نو هلته يې د فرانسې پنځم فوځ پيدانکړ.

دې جګړې ته کله نا کله د چارليرويي يا نيمور جګړه هم وايي، په دې جګړه کې هم د جرمني فوځ د نورو جګړو په شان بريا ترلاسه کړه، د فرانسې فوځ په بشپړ ډول ختم نه شو؛ خو زيات مالي او ځاني زيان ورواوښت.

جرمني ونه شو کولای، چې ستره بريا ترلاسه کړي او وجه يې په پلان کې يوه ستره غلطي وه، جرمني خپل دويم او دريم فوځ همداسې پريښود، جنرال بولو چې د پروسيا د يوې سترې کورنۍ غړی وه، د جرمني د سترو چارواکو لخوا يې ملاتړ کيده.

جنرال بولو د خپلې بريا لپاره دويم او دريم فوځ راوغوښته، په داسې حال کې چې دريم فوځ د هغه د لاس لاندې نه وه، د لومړي او دريم فوځ په موجوديت کې به هغه دويم فوځ د خپلې ساتنې لپاره راغوښته، په دې ډول جرمني فوځ ونه شو کولای، هغه بريا چې د فرانسې د فوځ پر ضد يې غوښته، په بشپړ ډول لاسته راوړي.

د مونز، لاکيټا او ګوئز جګړې

انګليسي فوځ د اګست په ۱۴ د فرانسې سرحد ته رسيدلی وه، هغوی د چمتو والي لپاره ډېر وخت درلود، د جنرال فرينچ په مشرۍ ۷۰۰۰۰ فوځ د لاکيټا سيمې ته رارسيدلی وه، دوی غوښتل، چې د جرمني خاورې ته داخل شي او د هغوی مخه ډب کړي.

Visit www.ketabton.com for more Pashto ebooks.

بلخوا جرمني جنرال مولتېک هم خپل فوځ ته خبر ورکړی وه، چې انګليسي فوځ د ليل په سيمه کې موجود دی.

جنرال جان فرينچ ته ويل شوي وه، چې د فرانسوي فوځ سره بايد ښه مرسته وکړي او خپل پلانونه د فرانسوي فوځ د مشرانو سره شريک کړي، هغه د جنرال جوفر او جنرال چارلس سره وليدل.

د اګست په ۲۲ انګليسي فوځ د مونز په سيمه کې تم شول، د انګليسي او فرانسوي پنځم فوځ تر منځ ډېر واټن موجود وه، د جرمني د لومړي فوځ مشر جنرال کلارک وه او په چټکۍ سره د مونز په خوا روان وه، د اګست په ۲۳ د انګليسي او جرمني فوځونو تر منځ جګړه رامنځته شوه، چې انګليسانو د جرمني فوځ د حملو ځواب په ښه ډول سره ورکاوه.

په ځينو سيمو کې جرمني فوځ انګليسي فوځ په شا وتمبوه، بلخوا کله چې فرانسوي فوځ د انګليسي فوځ دا حالت وليده؛ نو جنرال چارلس خپل فوځ ته د شاته تګ امر وکړ، انګليسي فوځ دا کار خوښ نه کړ، چې په دې سره د انګلستان د جنګ وزير خپل فوځ د مارن سيمې ته وليږه.

پورتنۍ جګړو ته سرحدي جګړې هم وايي، په دې جګړه د فرانسې درې لکه فوځ ووژل شو، د فرانسي فوځ په هر ځای کې شا تګ ته اړ کړای شو؛ خو ددې سره هم فرانسوي جنرال هنري ايم برتي لاټ په خپلې بريا باندې يقين درلود، هغوی دماتې خوړلو نه وروسته د جرمني په پلان باندې پوه شول.

د اګست په ۲۷ مولتيک خپل فوځ ته نوې لارښوونې وکړې، فوځ يې مخکې تګ ته چمتو کړ، چې فرانسې د پنځم فوځ ور سره مخ شو، چې د جرمني فوځ سره يې سخته جګړه وکړه.

د لاکيټا په سيمه کې انګليسي فوځ د ډير سخت حالت سره مخ شو، په همدې وخت کې د انګليسي فوځ مشرانو د فرانسوي جنرال جوفر نه د مرستې غوښتنه وکړه، ورته يې وويل، چې موږ په ډېر بد حالت کې يو او د بشپړې تباهۍ په لور

Visit www.ketabton.com for more Pashto ebooks.

روان یو، هغوی ته یې وویل، چې د جرمني په فوځ باندې حمله وکړي، تر څو د فوځ مخه یې زموږ نه واوړي او فرانسوي فوځ سره په جګړه شي.

جنرال جوفر همداسې وکړل، د جرمني په لومړي فوځ باندې یې په جنوب کې د حملې امر وکړ، د جنرال چارلس فوځ د مخکې څخه دوه برابره قوي شوی وه او د جرمني فوځ سره یې جګړه کوله.

فرانسوي فوځ ته ویل شوي وه، چې په جګړه کې د انګلیسي فوځ سره مرسته وکړي؛ خو انګلیسي فوځ یې دا کار ونه مانه، چې فرانسوي فوځ په دې کار سره د انګلیسي فوځ نه سخت خفه شول.

وروسته په جګړه کې د فرانسې فوځ لږ څه کامیابي لاسته راوړه؛ خو جنوب خوا ته د پنځم فوځ حمله یې په بشپړ ډول ناکامه شوې وه، شمال کې یې د جرمني د مخکې تګ مخه نیولې وه.

د مارن او ارک جګړې

د لاکیټا د جګړې نه وروسته جنرال مولټک جنرال کلاک ته امر وکړ، چې خپل فوځ دې جنوب لویدیځ خوا ته بوځي، د اګست په ۳۰ د جنرال بولو لخوا جنرال کلاک ته وویل شول، چې فرانسوي فوځ په بشپړ ډول مات شوی دی او د دښمن د مخې د ډب کولو لپاره یوې قوي حملې ته اړتیا ده، چې لومړی فوځ یې باید مرسته وکړي.

جنرال کلاک چې د جګړې په پیل کې د جنرال بولو د لاس لاندې وه، اوس په یوه مستقل جنرال باندې بدل شوی وه.

جنرال کلاک د جنوب ختیځ خواته مخکې ولاړ، غوښتل یې د فرانسې پنځم فوځ ته ماته ورکړي او د پاریس ښار ختیځ ته ځان ورسوي او خپل فوځ ته یې د همدې کار د سرته رسولو امر ورکړ.

د فرانسې پنځم فوځ چې شمېر یې کم شوی وه، دریم او څلورم فوځ ته یې حرکت ورکړ، ټول فوځ په یوه ځای کې راټول شو، دوی غوښتل، چې په جرمني فوځ

Visit www.ketabton.com for more Pashto ebooks.

باندې يد فرانسې پنځم فوځ چې شمېر يې کم شوی وه، دريم او څلورم فوځ ته يې حرکت ورکړ، ټول فوځ په يوه ځای کې راټول شو، دوی په جرمني فوځ باندې يوه قوي حمله کول غوښتل.

فرانسويانو خپله پلازمينه د پاريس نه بورديوکس ته ليږلې وه، تقريبا پنځه لکه خلکو د پاريس نه هجرت کړی وه، د نويو حالاتو په کتو سره جنرال جوفر يو ځل بيا خپل پلان تغير کړ؛ ځکه انګليسي فوځ په بشپړ ډول له منځه تللی وه، جنرال جوفر د حالاتو د سمولو لپاره ډېر وخت ته اړتيا درلوده، هغوی د جرمني فوځ د مخکې تګ نه هم خبر شوي وه.

د سپتمبر په لومړۍ نيټه جنرال جوفر خپل څلورم فرمان صادر کړ، خپل فوځ ته يې د نور شاتګ امر ورکړی وه، چې ورډن نوجينسټر ته دې وروسته لاړ شي، د جنرال چارلس پر ځای يې جنرال فرينچټ ډي ايسپير وټاکه.

بلخوا جرمني جنرال کلاک خپل فوځ د سپتمبر په ۲ جنوب ختيځ ته ورسوه، هغه غوښتل، چې د فرانسوي پنځم فوځ ښي خوا په بشپړ ډول له منځه يوسي، د جنرال بولو فوځ د جنرال کلاک د فوځ نه ۳۶ ساعته وروسته پاتې وه.

د سپتمبر په ۲ د شپې مهال لومړی فوځ د مارن سيمې ته ورسيد، په دې وخت جنرال مولټک جنرال کلاک د فرانسوي فوځ د حرکت څخه نه وه خبر کړی.

د سپتمبر په ۶ جنرال جوفر د خپل پلان له مخې د جنرال مائيکل ماؤنيوري د شپږم فوځ څخه وغوښتل، چې د جرمني په فوځ باندې يوه ځوابي حمله وکړي، بلخوا پنځم فوځ او هم انګليسي فوځ د جرمني په فوځ باندې د څنګ لخوا د حملې کولو لپاره چمتو وه.

جنرال مولټک د جنرال جوفر په پلان باندې پوه شوی وه، د پلان څخه معلوميده، چې جنرال جوفر يوه قوي حمله کول غواړي.

جنرال مولټک په شيلفن پلان کې تغيرات راوستل؛ ځکه لومړی او دويم فوځ ددې وړتيا نه درلوده، چې د دښمن د فوځ د حملې ځواب ورکړي، هغه غوښتل، چې د

Visit www.ketabton.com for more Pashto ebooks.

دوه فوځونو په واسطه د فرانسوي فوځ مخه ونیسي او د پنځو نورو په واسطه د فرانسې د ټول راټول شوي فوځ سره جګړه وکړي.

جنرال جوفر چې د ۲ اګست څخه د سپټمبر د ۶ پورې خپل فوځ منظم کړی او د کنترول لاندې نیولی وه، هغه یې د ۳ فوځي مشرانو، ۱۰ مرکزي فوځونو او ۳۸ ساحوي فوځي مرکزونو مشر وټاکه، په دې کار سره د فوځ دننه د هغه پر ضد ځینې کسان راولاړ شول؛ خو هغه کسان چې اهلیت یې نه درلود او ستونزې یې ورته پیداکولې، له دندې یې ګوښه کړل.

جنرال جوفر شپږم فوځ ته امر وکړ، چې د خپلو خندقونو نه راووځي او د شمال خواته د ارک د سیند نه واوړي، د سپټمبر په ۶ سهار مهال یې په دښمن باندې حمله کوله، ټیک په همدې وخت انګلیسي او فرانسوي فوځونو غوښتل، چې په دښمن باندې به حمله کوي، جنرال جوفر دا معلومه کړې وه، که چیرې په دې جګړه کې فرانسوي فوځ ماتې وخوري؛ نو دا د فرانسې لپاره د ډېر شرم او ذلت خبره وي.

شپږم فوځ د سپټمبر په ۵ د ارک د سیند په طرف روان وه، په همدې وخت کې جرمني څلورم فوځ د جنرال هینز په مشرۍ د سیند شاوخوا ګزمه کوله، د جنرال هینز فوځ کم وه؛ خو بیا یې هم په فرانسوي فوځ باندې حمله وکړه، تر څو هغوی معلوم کړي.

ددې حملې لپاره فرانسوي شپږم بیخي چمتو نه وه، جرمني فوځ پرې برلاسی وه؛ خو د ورځې تر پایه جنرال هنیز پوه شوی وه، چې فرانسوي فوځ څومره قوي دی، خپل فوځ ته یې د شاته تګ امر وکړ.

جنرال کلاک چې خبر شو؛ نو یو ګروپ نور فوځ یې وروړلیږه، د ارک د سیند سره د جرمني د دوه ګروپ فوځونو او د فرانسې د شپږم فوځ تر منځ د سپټمبر په ۶ ټوله ورځ جګړه روانه وه، جرمني فوځي مشر د جنرال کلاک نه د نورې مرستې غوښتنه وکړه؛ خو جنرال کلاک دې جګړې ته هیڅ ارزښت ورنکړ، په دا بله ورځ چې فاتح جنرال جوفر خبر شو؛ نو دوه نور فرانسوي ګروپ فوځونه یې د مارن نه د ارک سیمې ته ولیږل.

Visit www.ketabton.com for more Pashto ebooks.

جنرال کلاک پوه شوی وه، چې انګلیسي فوځ جرمني فوځ ته کوم ګوابښ نه شي پیښولای، بلخوا جنرال ماؤنیوري ته د جنرال ګیلیني لخوا مسلسل مرسته رسیده، هغه د سپټمبر په ۷ او ۸ ښې حملې وکړې، جنرال کلاک د سپټمبر په ۹ د یوې قوي حملې حکم وکړ.

جنرال ماؤنیوري د خپلو مشرانو نه غوښتل، چې باید فوځ ته د پاریس خواته د شاتګ امر ورکړي، د فرانسوي او جرمني فوځ تر منځ ۵۰ کیلومتر واټن موجود وه، که جنرال بولو خپل فوځ د لویدیځ خواته بوولی وای؛ نو دا واټن به نه رامنځته کیده.

د مارن دویمه جګړه

د جنرال فرینچټ ډی ایسپیر فوځ د سپټمبر په ۶ د خپل پلان مطابق مخکې روان وه، فوځ یې د مارن په جنوب کې د جنرال کلاک د سختې حملې سره مخ شو، ټوله شپه جګړه روانه وه.

جنرال فرینچټ د سپټمبر په ۷ د یوې سترې حملې امر وکړ، جنرال بولو کیڼ خواته په شا تګ وکړ او حکم یې وکړ، چې د مارن د سیند دویمې خواته دې صف بندي وکړل شي، د سپټمبر په ۸ فرانسوي فوځونو حمله وکړه؛ خو بریالي نشول، ماسپښین ناوخت جنرال بولو یوه بله حمله وکړه؛ خو دا هم بریالی نشو، کله چې جنرال فرینچټ دده کمزوري ولیده؛ نو د شپې یې بیا حمله وکړه، چې فرانسوي فوځ بریالی شو او جنرال بولو شپږ میله شا تګ ته اړ کړای شو.

په دې سره د د لومړي او دویم فوځ تر منځ یو ستر واټن رامنځته شو، دوه توپخانې ورسره وې، چې یوازې ۱۰۰۰۰ فوځیان یې ساتنې ته پاتې شول، انګلیسي فوځ ، چې تر اوسه پورې یې کومه د پام وړ بریا نه وه ترلاسه کړې، د یوې قوي حملې په چمتو والي بوخت وه.

انګلیسي فوځ ډېر سست وه؛ خو مقابل کې یې جرمنی فوځ ډیر چټک وه، په درې ورځو کې انګلیسي فوځ یوزاې ۲۵ میله واټن وواهه.

Visit www.ketabton.com for more Pashto ebooks.

د سنټ ګاندي د سيمې جګړې

د جنرال مولټک د پلان له مخې جنرال بولو او جنرال هوسين د پاريس په طرف مخکې روان وه، په دې وخت کې فرانسې يو نوی فوځ د نهم فوځ په نوم جوړ کړی وه، چې مشري يې جنرال فوش کوله، کله چې جرمنی فوځ د هغوی د څنګ نه تيريده، جنرال فوش خپل فوځونه شا ته کړل.

جنرال هوسين د شپې په تياره کې د حملې لپاره چمتووالی نيوه، د سپتمبر په ۸ د شپې ۳ بجې يې د فرانسې په نهم فوځ باندې حمله وکړه، چې بريا يې ترلاسه کړه او د دښمن فوځ يې درې کيلومتره شا تګ ته اړ کړ، جنرال فوش خپل فوځ ته د اظطراري حالت اعلان وکړ، هغه خپل فوځ ته وويل، چې نور بايد د ماتې خبره د زړه نه وباسي او يوازې حملې بايد وکړي.

د سپتمبر په ۹ د جنرال هوسين فوځ په مسلسل ډول حملې پيل کړې، نږدې وه، چې د فرانسې نهم فوځ شاته کړي او پاريس ته يې ورسوي، د لويديزې جبهې نه د ترلاسه شويو خبرو په وجه د جرمني فوځ مورال کمزوری شو، جرمني فوځ د پاريس د حملې نه تير شو، د جنرال فوش هغه اقدم چې کړی يې وه، ناکامي يې په بريا باندې بدله کړه او د جګړې يوه بيلګه يې وړاندې کړه.

د جنوبې جبهې جګړې

د فرانسې څلورم فوځ د ارډيننس د جګړې وروسته شاته روان وه، د سپتمبر په ۵ د جنرال جوفر لخوا د يوه نوي پلان امر ور ورسيد، ددې فوځ اصلي موخه د جرمني فوځ په منځ کې داخليدل وه، تر څو په فرانسوي فوځونو باندې حمله ونکړي، د دوی مقابل کې د جرمني څلورم فوځ وه، چې شهزاده ايلبرټ ډيوک هم په کې موجود وه، د جرمني پنځم فوځ هم دلته موجود وه، چې شهزاده ويليم هم په کې موجود وه.

په لومړيو کې د جرمني څلورم فوځ د فرانسې په څلورم فوځ باندې حملې کولې، دواړه جرمني شهزادګان د حملې په اړه په يوه نظر نه ول، اخر يې د جنرال مولټګ نه مرسته وغوښته.

Visit www.ketabton.com for more Pashto ebooks.

د فرانسې څلورم فوځ ته په کمک رسیدو سره یې مورال لوړ شو او په بریالۍ توګه یې د جرمني د څلورم فوځ د حملو دفاع کوله، په همدې مهال کې د فرانسې څلورم فوځ یوه قوي حمله وکړه او د جرمني فوځ یې د شمال خواته شا تګ ته اړ کړ، بلخوا د جرمني پنځم فوځ د فرانسې د دریم فوځ سره په جګړه کې بوخت وه، د پنځم فوځ مشر شهزاده ویلیم په څلورو ورځو کې څو ځلې حملې وکړې؛ خو بریالی نشو.

د اګست په ۲۴ د لورن د جګړې وروسته جرمنی فوځ ورو ورو د پاریس خواته نږدې کیده، د فرانسې دویم او دریم فوځ یو ستر قوت جوړ کړی وه؛ خو جرمني فوځ د فرانسې دفاعي کرښه کمزورې کړه؛ مګر جرمنی فوځ هم د زیاتو جګړو سره مخ شو، د ۳ څخه تر ۱۰ سپتمبر پورې جرمني فوځ حملې وکړې؛ خو کومه بریا یې په برخه نشوه.

جنرال مولټک اوس پوه شو، چې د شیلفن پلان درست وه، باید په لورن باندې مو کومه ستره او ځواکمه حمله نه وای کړې، هغه نورې حملې ودرولې او د ائزن خواته یې د تلو امر وکړ.

جنرال مولټک ته د جګړې ټول راپور وړاندې کړل شو، د جګړې وروسته جنرال خپله د جګړې ځای ته راغی، هغه خپل فوځ ته د شا تګ امر وکړ او ویې ویل، چې د نویون-واردن په سیمه کې دې دفاعي کرښه جوړه شي، د سپتمبر د ۱۴ پورې جرمني فوځ خپله دفاعي کرښه جوړوله او د مارن جګړه هم پای ته رسیدلې وه.

په همدې ورځ جنرال مولټک له دندې ګوښه کړای شو او جنرال ایرک وان فالکن هین د فوځ د مشر په توګه وټاکل شو، ددې لپاره چې د فوځ مورال ټیټ نه شي، دا خبر یې پټ وساته او جنرال مولټک ته یې د فوځ په قرار ګاه کې د اوسیدو امر وکړ، چې ددې تبدیلۍ اعلان یې د نومبر په لومړۍ نیټه فوځ ته واوروه.

Visit www.ketabton.com for more Pashto ebooks.

د ائزن لومړی جګړه

جرمنی فوځ شاته تللی وه او د ائزن د سیند بلې خواته یې صف بندي کوله، د سیند نه دوه میله لرې شمال خواته په یوه لوړ ځای باندې یې پړاو اچولی وه، د سپتمبر د ۱۳ نه د ۱۸ پورې متحدو فوځونو حملې کولې، چې د سیند نه ورپورې وتل، د حملو نه یې کومه پایله ترلاسه نکړه؛ ځکه نو جنرال جوفر د حملو د ودرولو امر وکړ.

په دې جګړې سره د فرانسوي فوځ مورال لوړ شو؛ ځکه ددې څخه مخکې فرانسوي فوځ هر وخت شاته روان وه او دفاعي جګړې یې کولې، دا لومړی جګړه وه، چې فرانسوي فوځ په دښمن باندې حمله وکړه، بلخوا په لومړي ځل جرمنیان دا حس کړه، چې مقابل لوری یې قوي دی، چې په دې سره یې مورال لږ څه ټیټ شو.

دا لومړۍ جګړه وه، چې په خندقونو کې وشوه، د مورال د ټیټیدو سره سره جرمني فوځ د جګړې په ډګر کې دفاع کوله، په دې جګړه کې د الوتکو څخه هم کار واخیستل شو.

د جګړې حالت د مخکې څخه بدلیده، دواړه فوځونه د میتز څخه د نویون پورې د یوه بل مخالف ولاړ ول، متحدو فوځونو د شمال له لوري د دښمن د کیڼې خوا د کمزوري کولو کوښښ پیل کړی وه، په دې ډول د شمال له لوري د سیند لخوا یې په یوه بل باندې حملې پیل کړې.

دغې جګړې د سپتمبر نه د اکتوبر د میاشتې پورې روانې وې، چې یوه خوا هم په کې بریالۍ نشوه، په دې وخت کې د دواړو تر منځ ځینې مشهورې جګړې وشوې، چې تر ټولو مهمه یې د پاریس لومړی جګړه ده.

د پاریس لومړۍ جګړه

د اکتوبر په ۱۲ جنرال فالکن د بیلجیم په یوه ښار باندې حمله وکړه، چې هلته یې موجود انګلیسي فوځ کمزوری کړ، د حملې موخه په دې ځای کې د دښمن په فوځونو کې د درز رامنځته کول او مخکې تګ وه، تر څو د دښمن فوځ په دوه

Visit www.ketabton.com for more Pashto ebooks.

برخو باندې وویشل شي، دښمن د دوو خواوو څخه محاصره شي او له منځه یوړل شي، انګلیسي فوځ د جرمني فوځ مقابله نشوه کولای او هره ورځ یې حالت خرابیده.

سربیره پر انګلیسي فوځ د بیلجیم فوځ هم د جرمني فوځ سره په جګړه وه، جنرال جوفر جنرال فوش د انګلیسي فوځ د مرستې لپاره ور ولیږه، هغه په رسیدو سره د انګلیسي او بیلجیمي دواړو فوځونو کنترول په خپل لاس کې واخیست او د دښمن سره یې په میړانې جګړه وکړه.

د اکتوبر په ۲۰ جرمني فوځ حملې ودرولې، جنرال فوش او جنرال فرینچ فکر وکړ، چې دښمن خپل مورال له لاسه ورکړی دی؛ ځکه یې په جرمني فوځ باندې حمله وکړه، څرنګه چې هوا ډیره یخه وه؛ نو باران او واوره پیل شوه.

همدغو حالاتو ته په کتو سره جرمني فوځ خپلې حملې درولې وې او کله چې د انګلیسي فوځ لخوا حمله وشوه، جرمني فوځ یې په میړانې ځواب ورکړ، چې په پایله کې یې متحدو ځواکونو ته زیات زیان ورسیده، د اکتوبر په ۲۸ د زیات زیان په وجه جنرال فوش خپلې حملې بندې کړې.

په دا بله ورځ سمدستي جنرال فالکن په انګلیسي فوځ باندې حمله وکړه، د جګړې په دریمه ورځ د انګلیسي فوځ دفاعي کرښه ډېره زیاته کمزورې شوه، نږدې وه، چې جرمني فوځ د انګلیسي فوځ دغه کرښه په دوه برخو وویشي؛ خو انګلیسي فوځ خپل ټول فوځ ته د جګړې کولو امر وکړ، جنرال فالکن د نومبر د ۱۱ پورې جګړې روانې وساتلې؛ خو بریالی نشو.

د پاریس په دې جګړه کې د انګلستان دفاعي کرښه په بشپړ ډول ناکامه شوې وه، بیلجیمي فوځ ته ۳۵ سلنه زیان واوښت، د فرانسې فوځ ته هم تقریبا همدمره زیان واوښت، د جرمني ۱۳۵۰۰۰ جنګیالي په دې جګړه کې ووژل شول، جرمني فوځ د پاریس د ښار شاوخوا په لوړو ځایونو کې موجود وه او د متحدو فوځونو حالات یې څارل.

Visit www.ketabton.com for more Pashto ebooks.

د ۱۹۱۴ ز کال د پاريس لومړۍ جګړه د لويديزې جبهې وروستۍ خو مهمه جګړه وه، دواړو خواوو ځانونه په خندقونو کې ځای په ځای کړي وه او د يوه بل سره په جګړه وه، چې دا جګړه د راتلونکو څلورو کلونو پورې روانه وه.

د خندقونو دا جګړه د دواړو خواوو لپاره د يخ موسم په وجه سخته وه؛ ځکه يوې خوا هم په خندق کې د جګړې کولو مهارت نه درلود؛ خو په راتلونکو کلونو کې د فوځونو حالت ښه وه.

د ۱۹۱۴ ز کال په پای ته رسيدو د فرانسې ۳۸۰۰۰۰ ځوانان وژل شوي وه، شپږ لکه ټپي يا ورک شوي وه؛ خو بلخوا د جرمني زيان د فرانسې په نسبت کم وه، د مارن برياليۍ جګړه د جرمني لپاره د چين د ديوال حيثيت غوره کړی وه، په لويديزه جبهه کې د متحدو فوځونو ماته په بريا باندې بدله شوه او جرمني په پرلپسې ډول د څلورو کلونو د برياوو وروسته د ماتې سره مخ شو.

ختيزه جبهه

په ختيزه جبهه کې د روسيي او جرمني تر منځ يوه پراخه سيمه پرته وه، چې د جګړې يو پراخ ډګر يې جوړ کړی وه، دلته پولينډ د ۲۳۰ ميلو په اوږدوالي او ۲۱۰ ميلو په لنډوالي مساحت درلود، د وارسا کلا د وسټولا د سيند په غاړه پرته وه.

روسيي غوښتل، چې د وارسا له لارې په جرمني باندې حمله وکړي؛ خو شمال کې يې ختيزه پروسيا او جنوب کې يې ګليشيا خنډ وه، روسي فوځ بايد په ختيزې پروسيا يا هم په ګليشيا باندې ولکه ټينګه کړې وای؛ ځکه د ختيزې پروسيا او ګليشيا له لارې د اسټريا-هنګري فوځ کولای شول، چې په روسي فوځ باندې حمله وکړي او له منځه يې يوسي.

ددې حالت نه د وتو لپاره روسي فوځ دواړو خواوو ته قوي کلاګانې جوړې کړې وې او خپل فوځ يې د وارسا په جنوب کې نه وه ځای په ځای کړی، دلته د اورګاډي پټلۍ نه وه او نه هم ښه جوړ سړکونه موجود ول، همدا وجه وه، چې جرمني فوځ د ستونزو سره مخ وه.

Visit www.ketabton.com for more Pashto ebooks.

بلخوا جرمني او استریا-هنګري هم د خپلو سیمو د ساتلو لپاره قوي کلاګانې جوړې کړې وې، روسي فوځ په خوراک، څښاک او پوښاک کې ډېر کمزوری وه.

د ۱۸۹۰ ز کال د پلان له مخې چې جرمني به په فرانسه باندې د حملې کولو څخه مخکې په ختیزه جبهه کې روسیه له مینځه وړي، هغه یې پریښود او د شیلفن د پلان له مخې لومړی یې د فرانسې سره جګړه وکړه او وروسته یې د روسیي پر ضد د جګړې پلان جوړ کړ، ددې پلان له مخې جرمني به د شپږو اونیو دننه فرانسه له منځه وړي او روسیي ته به متوجه کیږي، په دې وخت به روسیه نه شي کولای، چې د خپل سست حرکت په وجه په جرمني باندې حمله وکړي.

روسیي او استریا-هنګري د جګړې لپاره دوه پلانه درلودل، د روسیي لومړی پلان دا وه، چې جرمني به په ختیزه جبهه کې د روسیي سره جګړه کوي او روسي فوځ به د هغوی سره ورو ورو جنګیږي او شاته به راځي، تر څو جرمنیان داسې یو ځای ته راولي، چې هلته پرې یوه قوي ځوابي حمله وکړي.

دویم فکر دا وه، چې جرمني به په لویدیزه جبهه کې په فرانسې باندې حمله کوي او روسي فوځ به په همدې وخت کې د ختیزې پروسیا له لارې ځان برلین ته رسوي.

د استریا-هنګري لومړي پلان د روسیي سره د جګړې اړیکه نه درلوده، د استریا-هنګري درې فوځونه به په سربیا باندې حمله کوي او درې نور فوځونه به یې په سرحد کې د روسي فوځ څخه د پولې د ساتنې لپاره ولاړ وي، دویم پلان یې په یوه وخت کې د سربیا او روسیي پر ضد د جګړې پلان وه او همدغه پلان یې عملي کړ، ددې پلان له مخې دوه فوځونه به د سربیا سره په جګړه وي او څلور نور فوځونه به یې د روسیي سره.

د تینن برګ جبهه

روسیه د خپل دوست فرانسې نه د دفاع لپاره ناارامه وه، جګړه چې پیل شوه؛ نو د روسي فوځ مشر ته معلومه شوې وه، چې جرمني په فرانسې باندې حمله کړې

Visit www.ketabton.com for more Pashto ebooks.

ده، په دې وخت کې يې دويم پلان په نظر کې ونيوه او روسيي خپل ۲۰ لکه فوځ د جرمني د پولې سره ځای پر ځای کړ.

په ختيزې پروسيا باندې د حملې لپاره يې لومړی فوځ د جنرال پاول رنين کيمپف او دويم فوځ يې د جنرال اليګزنډر رسام سنووکي په مشرۍ باندې روان کړ، د دواړو فوځونو مشري د جنرال ائيون زهلين سکائيکي په لاس کې وه.

هغه خپل فوځ ته امر وکړ، چې ځان زر تر زره د جرمني پولې ته ورسوي او حمله پرې وکړي، د اګست په ۱۷ د جنرال رنين فوځ د سرحد نه واوښته، د پلان له مخې د جنرال سنووکي فوځ به پنځه ورځې وروسته د پولې څخه اوړي، جنرال رنين ته امر شوی وه، چې خپل فوځ بايد شمال او ختيځ ته ورسوي او جنرال سنووکي ته يې ويلي ول، چې د هغه شاته بايد روان وي.

په ختيزه جبهه کې د جرمني د فوځ مشري د جنرال پريټ وتز په لاس کې وه، دده د پلان له مخې بايد روسي فوځ پروسيا ته ننوځي او بيا پرې ناڅاپه حمله وکړي او د پروسيا څخه يې وباسي، ددې څخه مخکې لومړي ګروپ مشر جنرال هرمن وان فرينکويز د روسيي د لومړي فوځ د مخکې تګ مخه نيولې وه، روسي فوځ ته يې زيات ځاني او مالي زيان اړولی وه، د جنرال فرينکويز دا حمله پر ځای وه؛ خو بلخوا د جنرال پريټ وتز د پلان سره په ټکر کې وه.

دا وخت د جنرال پريټ وتز لپاره ډېر ارزښتناک وه؛ ځکه هغه پوهيده چې پنځه ورځې وروسته به د روسيي دويم فوځ د جنرال سنووکي په مشرۍ رارسيږي، ده غوښتل، چې د پنځو ورځو دننه بايد د روسيي دويم فوځ د پروسيا څخه بيرون کړي او د جنوب له لارې راتلونکي دويم روسي فوځ ته ځان چمتو کړي؛ خو جنرال رنين پرمخ روان وه، ترڅو ځان د جرمني پولې ته ورسوي.

د اګست په ۲۰ جنرال پريټ وتز د يوې قوي حملې امر وکړ؛ خو بشپړه بريا يې ترلاسه نکړه؛ مګر څه نا څه يې ترلاسه کړل، په همدې ورځ جنرال پريټ وتز ته خبر ورکړل شو، چې د جنرال سنووکي دويم فوځ هم ختيزې پروسيا ته داخل شوی دی؛ نو هغه خپل فوځ ته د وسټولا د سيند خواته د شاته تګ حکم وکړ.

Visit www.ketabton.com for more Pashto ebooks.

په همدې حالاتو کې جنرال پریټ وټز د خپلې دندې لرې کړای شو او پر ځای یې تقاعد شوی جنرال پاول وان هیډن برګ او جنرل ایرک ایف ډبلیو لیوډ ندروف د حالاتو د کنترول لپاره ولیږل شول، دواړو جنرالانو فوځ په دوه جبهو باندې تقسیم کړ، هغه د جنرال رنین فوځ چې شمال لویدیځ کې وه، تقریباً محاصره کړ او پاتې د جنرال سنووکي لومړی فوځ یې د شمال، جنوب او نږدې سیمو کې د ټنین برګ سیمې سره نږدې یوه تنګ ځای ته راوسته، دلته د جرمني فوځ د دښمن فوځونه محاصره کړل.

قوي جګړه وشوه، د اګست د ۳۱ پورې د روسیې د ۱۵۰۰۰۰ فوځ څخه یوازې ۱۰۰۰۰ فوځ ژوندی پاتې شو، جرمني فوځ ستره بریا وګټله، یوازې د ۱۰ څخه د ۱۵ زره پورې جرمني فوځ په جګړه کې برخه واخیسته، روسي جنرال الیګزنډر سام سونووکي ډېر مایوسه شو او په همدې حالاتو کې یې ځان وژنه وکړه.

د میسیورین، ګلیشیا او د پولینډ جبهه

روسي جنرال لومړی فوځ د دویم فوځ مرستې ته راوغوښته؛ خو د رسیدو څخه مخکې جرمني فوځ دویم فوځ له منځه وړی وه، روسي لومړی فوځ بیرته خپلې جبهې ته ولاړ، د بالکانو د بحیرې څخه تر د میسیورین د جهیل پورې روسي فوځونه ځای پر ځای کیدونکي وه؛ ځکه جنرال سکایي پوهیده، چې جرمنی فوځ به په وارسا باندې حمله کوي، اسټریا-هنګري هم د جرمني نه دا غوښتل، چې په وارسا باندې حمله وکړي، تر څو د دښمن نظر د ګلیشیا څخه واوړي او وارسا ته متوجه شي.

خو، ددې څخه مخکې جرمني فوځ باید د جنرال کیمپف فوځ له منځه وړی وای، د سپتمبر په ۹-۱۰ د جرمني فوځ روسي فوځ د لائک په سیمه کې شا تګ ته اړ کړ، جنرال کیمپف د مخکینی جګړې له ویرې خپلو فوځونو ته د شاته تګ امر وکړ.

خو، په همدې حالاتو کې جنرال کیمپف یوه ځوابي حمله وکړه، چې په جګړه کې جرمني فوځ ته زیات زیان ورسیده، روسي لومړي فوځ په ۵۵ ساعتونو کې ۵۵

Visit www.ketabton.com for more Pashto ebooks.

کیلومتره شاته ولاړل او خپل روسي سرحد ته داخل شول، وروسته جرمني فوځ روسي فوځ ته زیات زیان ورسوه.

په دې ډول په درې اونیو کې جنرال هیډن برگ، لیونډروف او فرینکویز ختیزه پروسیا د دښمن نه خلاصه کړه او هم یې زیات زیان ور واړوه، بلخوا روسانو جنرال کیمپف د سپتمبر په ۱۷ له دندې گوښه کړای شو او جنرال نیکولای روسکي یې مشر وټاکه؛ ځکه د کیمپف د نا اهلی په اړه شکایتونه شوي وه.

کله، چې د جنرال سکایي فوځونه د ختیزې پروسیا څخه پر شا کیدل، په همدې وخت کې نور روسي فوځ د جنرال نیکولایي په مشرۍ د اسټریا د گلیشیا سیمې ته داخل شو، په مقابل کې یې د جنرال کونریډ اسټریایي فوځ د سربیا او روسیي په جبهو کې په جگړه بوخت وه.

جنرال کونریډ دلته دوه غلطۍ وکړې، لومړی هغه خپل زیات فوځ یې د سربیا د جبهې څخه روسي جبهې ته راوغوښته او دا فوځ ډېر وروسته ور ورسیده، چې په دواړو جبهو کې یې خپل قوت ته زیان ورسوه، بله ستره جنگي غلطي یې دا وه، هغه فکر کاوه، چې روسان به د ریبلن-خولم له خوا حمله کوي؛ نو دوه برخې فوځ یې هلته واستوه او پاتې فوځ یې د لیمبرگ نه مخکې سرحدي سیمو ته د دفاع لپاره ولیږه، بلخوا جنرال نیکولایي په لیمبرگ باندې د حملې امر وکړ.

د دواړو فوځونو معلوماتي سرچینې ډېرې کمزورې وې، د اگست په ۲۳ د روسیي څلورم فوځ د اسټریا د لومړي فوځ سره په جگړه شو او جگړه پیل شوه، جنرال کونریډ روسي فوځ شاته وتمبوه، د اگست په ۲۵ جنرال کونریډ خپل فوځ ته امر وکړ، چې په زیموسک او ماروو باندې حمله وکړي، ددې موخې لپاره یې خپل فوځ د لیمبرگ نه ماروو ته راوغوښت، جگړ د سپتمبر د لومړی نیټې پورې روانه وه، چې د اسټریا فوځ په کې لږه بریا ترلاسه کړه.

د اگست په ۲۶ روسي فوځونو په لیمبرگ باندې حمله وکړه، په جگړه کې جنرال کونریډ میدان پریښود او د شا تگ امر یې وکړ، د سپتمبر د ۲۶ پورې د اسټریا فوځ ۱۰۰ میله شا تگ کړی وه او ۳۵۰۰۰۰ فوځیان یې وژل شوي وه.

Visit www.ketabton.com for more Pashto ebooks.

روسي فوځ بريا خپله کړه او د جرمني د سيليسيا سيمې ته د ننوتو لاره يې پر مخ خلاصه شوې وه، جنرال هيډن برګ ته امرونه کيدل، چې استريا ته فوځ ولیږي او د سپتمبر د ۲۸ پورې يې د مرستې لپاره نوی فوځ جوړ کړ.

د روسانو د حملې د مخنيوي لپاره جنرال هيډن برګ غوښتل، چې په وارسا باندې حمله وکړي، د اکتوبر په ۹ نهم فوځ وسټولا ته ورسيده، هلته جنرال نيکولايي د جرمني د فوځ د حرکت څخه خبر شوی وه؛ خو د جرمني نهم فوځ لا هم مخ پر وړاندې روان وه.

د اکتوبر په نيمايي کې جرمنی فوځ د وارسا څخه یوازې ۱۲ کيلومتره لرې وه؛ خو قوي روسي فوځ او د استریا-هنګري[3] کمزروي ته په کتو سره جرمني فوځ خپله حوصله له لاسه ورکړه او د نومبر په لومړی نیټه یې د حملې څخه لاس واخيست او خپل مرکز ته راغی.

د بالکانو جبهه

د جګړې په پیل کې استریا پر سربیا باندې درې قوي حملې وکړې، چې سربیا په خپل قوت سره په شا وتمبولې.

د جګړې په پیل کې بلغاریه بې طرفه وه؛ خو د اکتوبر په ۱۴-۱۹۱۴ ز کال يې په جګړه کې د داخليدو اعلان وکړ، ددې څخه مخکې د استريا لپاره په سربيا باندې د حملې يوازې شمالي او لويديزې سرحدې پولې خلاصې وې، دلته د دانيوب، ساوا او ډرينا سيندونه بهيدل او د غرونو يوه اوږده سلسله پرته وه، چې همدا د حمله کوونکي فوځ لپاره خنډ ول.

د سربيا جنرال ريډومير پوټنک د دفاعي جګړې پريکړه کړې وه او سيندونه يې خپله لومړی جبهه ګرځولې وه، خپل فوځ يې په ختيځ ځای پر ځای کړی وه، فوځ يې نوی تخنيک او نوې وسلې نه درلودې.

---

[3] په ځينو ځايونو کې يوازې استريا ليکل شوې، چې موخه ترې هماغه د استريا-هنګري مشترک سلطنت دی، استريا د اتريش يا اطريش په شکل هم ليکل کيږي(ژباړن)

Visit www.ketabton.com for more Pashto ebooks.

د اګست په ۱۲ د اسټریا په ۱۹ برخو باندې ویشل شوي فوځ د سربیا پر ضد جګړه پیل کړه، دویم فوځ د شمال او پنځم او شپږم فوځ یې د لویدیځ لخوا جګړه پیل کړه، په مقابل کې یې د جنرال پوټنک سره یوازې ۱۲,۵ برخې فوځ وه، چې په دریو فوځونو باندې ویشل شوی وه، د اګست د ۱۵ پورې د اسټریا یوه ګروپ فوځ سیبک په خپله ولکه کې راووست او پنځم فوځ د سربیا فوځونه د جاډر سیند پورې شا تګ ته اړ کړل.

خو، په دا بله ورځ جنرال پوټنک یوه قوي ځوابي حمله وکړه، د اسټریا فوځونه یې بیرته خپلې پولې ته ورسول، په دې سره اسټریا ماته وخوړه، جنرال اسکر وان پوټیورک د خپل فوځ پ مشرۍ او د ارتباط په ټینګولو کې په بشپړه توګه ناکام شوی وه، د ۱۹ برخو څخه یې یوازې ۸ برخې فوځ د جګړې ډګر ته راوسته، د اسټریا د فکر برعکس د سربیا او روسیي فوځ ډېر قوي او چټک وه.

د سپتمبر په ۸ جنرال پوټیورک یوه بله حمله پلان کړه، ددې پلان مطابق فوځ به یې د ډرینا او ساوا څخه سربیا ته داخلیږي، په لومړیو کې یې بریا ترلاسه کړه؛خو د سپتمبر په ۱۶ د سربیا لخوا یوه قوي ځوابي حمله وشوه، د اسټریا فوځونه یې اړ کړل، چې بیرته خپلې پولې ته ولاړ شي، د سربیا فوځ بیرته دفاعي حالت ونیوه.

د نومبر په ۵ جنرال پوټیورک په سربیا باندې دریمه حمله وکړه، بریا یې ترلاسه کړه، د نومبر د ۱۵ پورې جنرال پوټیورک وال جیوو په خپله ولکه کې درلود.

د سربیا فوځ یوه قوي ځوابي حمله وکړه، د دسمبر د ۳ او ۹ تر منځ یې د اسټریا فوځ شا تګ ته اړ کړ، د دسمبر د ۱۵ پورې د اسټریا فوځ خپل سرحد ته رسیدلی وه، د جګړو دا سلسله ډېره خونړۍ وه، په همدې وخت کې د سربیا ۶۷ کلن جنرال پوټنک د خپلو فوځونو د منظمولو لپاره بیا پلان جوړ کړ.

د روسي فوځ لخوا په ګلیشیا باندې د ولکې وروسته د اسټریا لخوا په سربیا باندې حملې کول د مؤقت وخت لپاره ودریدې، د اپریل د ۱۵-۱۹۱۵ پورې ۷۰۰۰۰ سربیایي فوځیان او ځینې عام خلک د ټائفس د ناروغۍ له امله مړه شول.

Visit www.ketabton.com for more Pashto ebooks.

د ترکيې جبهه

د اګست د ۲ د تړون له مخې ترکيه د مرکزي ځواکونو د مرستې لپاره جګړې ته چمتو وه، په لومړی نړیواله جګړه کې د ترکيې د داخلیدو وجه انګلستان وه، ترکيې د بیړیو د جوړولو پیسې ورکړې وې؛ خو انګلستان جوړې شوې بیړۍ بیرته ترکيې ته نه ورکولې، ددې حالت څخه جرمني ګټه پورته کړه او دوه بیړیو مرسته یې د ترکيې سره وکړه او ترکيه یې د مرکزي ځواکونو څخه د ملاتړ لپاره چمتو کړه.

د کاکیشیا په جبهه کې ترکي فوځ د جنرال حسن عزت په مشرۍ د روسي فوځونو سره جګړه کوله، د ترکيې د جنګ وزیر انور پاشا د جګړې پلانونه جوړول او جنرال حسن عزت پلي کول او د هغه غلطۍ یې اصلاح کولې، د انور پاشا د پلان له مخې روسي فوځ ته باید د مخکې تګ اجازه ورکړل شي، تر څو د ترکيې سیمې ته داخل شي او د داخلیدو سره سم به ترکان ځوابي حمله کوي، په همدې دوران کې به د روسي فوځ اړیکه د نور فوځ سره پریکوي او راغلی فوځ به یې په بشپړ ډول له منځه وړي.

دغه پلان د اوړي موسم لپاره ښه وي؛ خو د ژمي په موسم کې چې د حرارت درجه د فارن هایټ منفي ۲۰ ته ښکته راځي او هم قوي طوفان ورسره مل وي، په دې وخت کې دغه پلان د پلي کیدو وړ نه وي.

ترکي مشرانو کولای شول، چې ۱۵۰۰۰۰ فوځیان د جنګ ډګر ته راولي، بلخوا د روسي فوځ شمېره ۱۰۰۰۰۰ تنه وه، جنرال حسن عزت وکولای شول، چې یوازې ۹۵۰۰۰ فوځ د جنګ ډګر ته راولي، د دواړو خواوو څخه زیات فوځیان ووژل شول، د ناروغانو سره د مرستې د مناسب نظام په نه درلودلو سره د مرګ کچه نوره هم زیاتیده.

د جګړې په دوران کې ترکي فوځ د سختو لارو، طوفانونو او واورې سره مخ شو، په غریزه سیمو کې د مخکې تګ په وجه یې د یوه ګروپ د ۸۰۰۰ تنو څخه

Visit www.ketabton.com for more Pashto ebooks.

۴۰۰۰ تنه ووژل شول، د جنرال حسن عزت ۲۵۰۰۰ فوځ یوازې د صفونو د جوړولو په وخت کې له منځه ولاړ.

د ۱۹۱۴ ز کال د دسمبر په ۲۹ روسي فوځ بریا ترلاسه کړه، د جنرال حسن عزت د ۹۵۰۰۰ فوځ څخه یوازې ۱۸۰۰۰ فوځ پاتې شو، په دې جګړه کې ترکي فوځ ته زیات زیان ورسیده.

بلخوا میزوپوتامیا ته د انګلیسانو ننوتل هم پیل شوې وې، د انګلستان هندي افسر د اینګلو-پرشین د تیلو د کمپنۍ د ساتنې لپاره د انګلیسانو څخه د مرستې غوښتنه کړې وه، چې په دې یو غونډ فوځ ور روان شوی وه، بحرین ته ورسیده او د اکتوبر په ۲۳ انګلیسي حکومت د بصرې د نیولو حکم ورکړ.

په یوه سخته جګړه کې، چې د نومبر په ۲۲ رامنځته شوه، په دې جګړه کې ۴۸۹ هندي او انګلیسي فوځیان ووژل شول او د ترکانو څخه یې بصره ونیوله، د همدې ځای څخه انګلیسانو په نورو عربي هیوادونو کې داخلي اختلافاتو او پاڅونونو ته پوکی ورکوه.

بحري جبهه

د لومړۍ نړیوالې جګړې د پیل سره بحري جګړې پیل شوې وې، لومړۍ بحري بریا د جرمنیانو وه، چې د روم په بحیره کې تر لاسه کړه، ددې جګړې له لارې د جرمني کروز(ګوئی بن) او واړه کروز(بریسلو) د روم د بحیرې له لارې قسطنطینې ته رسول وه؛ ځکه انګلیسي بحري فوځ د جرمني بحري په بشپړ ډول محاصره کړی وه، دویم دا چې، دا هغه بیړۍ وې، د کومو په واسطه چې ترکیه په جګړه کې داخله شوې وه.

د هولي ګولینډ جګړه

د ۱۹۱۴ ز کال د اګست په ۲۸ د انګلستان امیرالبحر ډیوډ بیټي د جرمني په بحري ځواک باندې د حملې لپاره یو پلان چمتو کړ، ددې پلان مطابق پنځه جنګي کروز او ۲۵ ډیسټرایزرز به د جرمني په ګولینډ بندرګاه باندې حمله کوي او ژر به بیرته راځي، په دې جګړه کې د جرمني درې کروز له منځه ولاړل او د انګلستان کروز

Visit www.ketabton.com for more Pashto ebooks.

ایری تهوسا ته هم زیات زیان ورسیده؛ خو په بیرته راتلو کې بریالی شو، په دې ډول د (حمله وکړه- او- وتښته) جګړه په ټوله نړیواله جګړې کې روانه وه.

د سپتمبر په ۲۲ د جرمني فوځ ځوابي حمله وکړه، په دې حمله کې د انګلستان درې کروز له منځه ولاړل.

د نومبر په ۲ شمالي سیمې د جګړې مرکز وټاکل شو او د سوادګریزو او نورو الوتکو د تګ راتګ لپاره ځانګړې لاره وټاکل شوه، د جرمني هغه بیړۍ چې په مستعمرو کې وې، ویې کولای شول، چې انګلیسي بیړۍ له منځه یوسي، ایمډن وکولای شول، چې ۱۵ انګلیسي بیړۍ له منځه یوسي، په ویسټ انډیز کې د (لارل سروهی) په نوم موجودې بیړۍ وکولای شول، چې ۱۷ انګلیسي بیړۍ له منځه یوسي؛ خو په پای کې په خپله وچاودیده.

د نومبر په لومړۍ نیټه د جرمني په ختیځ یوې بیړۍ په انګلیسي بیړۍ باندې حمله وکړه، چې دوه جنګي کروزه یې له منځه یوړل او نورې بیړۍ په تیښته بریالۍ شوې، جرمنیانو د ډېر وخت لپاره خپل بحري کوډونه تغیر نکړل، انګلیسانو وکولای شول، چې د دوی په خبرو پوه شي او کوډونه یې ترجمه کړي، چې ددې څخه وروسته د جرمني بحري جګړې دومره بریالۍ نه وې.

مستعمراتي جبهې

د افریقا په لویه وچه کې د جګړې حالت بدل وه، هلته د سختو لارو، ځنګلونو او ډېرینو لارو په موجودیت سره جګړیز فعالیتونه یوازې د بحرونو پورې تړلي وه، په بحرونو کې د بیړیو په واسطه حمل و نقل په اسانه ترسره کیده، جرمني د لومړۍ نړیوالې جګړې د پیل پورې زیاتې مستعمرې درلودې.

ټوګو لینډ(اوسنی ګانا او د ټوګو سیمه) کې جرمني د اړیکو یو قوي بې سیمه سیستم جوړ کړی وه او په افریقا کې یې د خپلو نورو مستعمرو سره د همدې ځایه اړیکه ټینګوله.

Visit www.ketabton.com for more Pashto ebooks.

د اګست په ۷-۱۹۱۴ ز کال کې انګلستان د لویدیځ او فرانسې د ختیځ لخوا په توګو لینډ باندې حمله وکړه، ۲۰۰ جرمني او ۱۰۰۰ افریقایي فوځیانو د یوې کوچنۍ جګړې څخه وروسته وسله وغورځوله او د اګست په ۲۶ یې دغه سیمه متحدو فوځونو ته پرېښوده، متحدو فوځونو هغه بې سیمه دستګاه له منځه یوړه او خپل سیستم یې نصب کړ.

د اګست په ۲۰ فرانسوي او بیلجیمي او د اګست په ۲۷ انګلیسي فوځونو په کیمرون باندې حمله وکړه، په پېل کې دغو فوځونو بریا ترلاسه کړه؛ خو د جرمني او افریقایي فوځونو په ځوابي حمله کې دغه فوځونه شاته تګ ته اړ کړل شول.

جرمنیانو جنوب لویدیزه افریقا هم په خپله ولکه کې راوستې وه، دغه سیمه په لومړیو هیڅ اروپایي هیواد نه نیوله، په ۱۸۷۸ ز کال کې انګلیسانو یوه کالونی جوړه کې وه؛ خو په ۱۸۸۴ ز کال کې دغه سیمه د جرمنیانو په ولکه کې راغله، وروسته ددې سیمې څخه قیمتي شیان لاسته راغلل، چې په دې سیمه کې ورسره پرمختګ پېل شو، د ریل ګاډي پټلۍ او د حمل و نقل نورې لارې جوړې شوې او په وندوک ې د بې سیمه اړیکو نیولو یو قوي مرکز هم جوړ شو.

قبائلي قومونه د جرمني د فوځ د سلوک څخه ناخوښه وه، حمله کوونکو ددې موقع څخه ګټه واخیسته، د ۱۹۱۵ ز کال د جولایي په ۱ په اوتاوی کې جرمنیانو خپله وروستي مورچه جوړه کړه او د یوه قوي جنګ وروسته ۳۵۰۰ جرمني فوځیانو د جولایي په ۹ خپلې وسلې وغورځولې او دغه سیمه یې د جنوبي افریقا په کنترول کې راوستې.

د جرمني ختیزه افریقا د زیات نفوس او زیات مال لرونکې وه، په دې هیواد باندې د حملې لپاره انګلستان فوځ نه درلوده؛ نو د هند نه یې فوځ راوغوښت او د اګست په ۸ یې د دارالسلام بندر او بې سیمه مرکز له منځه یوړ، ورپسې جګړه پېل شوه، جرمني فوځ ښه جګړه کوله او انګلیسي فوځ ته یې د مخکې تګ اجازه نه ورکوله.

د ۱۹۱۵ ز کال په پای کې جرمني فوځ وکولای شول، چې انګلیسي فوځ ددغه هیواد څخه وباسي او هم یې د انګلستان د ولکې لاندې سیمې ختیزې افریقا باندې

Visit www.ketabton.com for more Pashto ebooks.

حمله وکړه، د جنرال لاټو په مشرۍ کې جرمني فوځ د ۱۹۱۶ ز کال په مارچ کې د یوګاندا د ریل پټلۍ د ولکې لاندې راوسته.

وروسته انګلستان د هند نه نور فوځ راوغوښته او جنرال لاټو ورسره جګړه پیل کړه، د انګلستان ۳۰۰۰۰۰ فوځ یې د دوه کلونو لپاره دلته مصروف وساته، په داسې حال کې چې د جنرال لاټو سره یوازې ۱۳۰۰ تنه فوځ وه، په دې جګړه کې د انګلستان ۳۵۰ میلیونه پاونډه مصرف شول او تقریبا ۷۰۰۰۰۰ تنه ووژل شول، د ۱۹۱۸ ز کال په نومبر کې جنرال لاټو وسله وغورځوله.

کائیو چو د چین د شانتونګ د ولایت یوه جزیره وه، دا سیمه جرمني نیولې وه، تر څو خپلې بحري موخې ترلاسه کړي، د اګست په ۱۵ جاپان جرمنیانو ته التیماتم ورکړ، چې دا جزیره پریږدي یا هم جګړې ته تیار شي، د اګست په ۲۳ جاپان د جرمني پرضد د جګړې اعلان وکړ.

د سپتمبر په ۲ جاپانی فوځ د لنګ کو سیمې ته ورسیده، د سپتمبر په ۱۸ نور جاپانی فوځ هم ورورسیده، پنځه ورځې وروسته انګلیسي فوځ هم ورورسید او یوه خونړۍ جګړه پیل شوه، جرمنیان د فوځ د کموالي سره مخ ول، د یوې سختې جګړې وروسته د نومبر په ۷ جرمني فوځ وسله وغورځوله او جزیره یې جاپاني او انګلیسي فوځ ته تسلیم کړه.

د ۱۹۱۵ ز کال د جګړې حالات

لومړۍ نړیواله جګړه د تیر کال د اګست څخه پیل شوې وه او په هره جبهه کې جګړه ښه په درز کې روانه وه، د افریقا په صحرا کې، د چین جزیرې، نږدې ختیځ، بالکان، پولینډ، ګلیشیا، پروسیا او فرانسه ټول د جګړې تاوده ډګرونه ول او فوځونه د یوه په مقابل کې په جګړه باندې بوخت وه او د یوه بل د ماتې لپاره یې موقع لټوله.

Visit www.ketabton.com for more Pashto ebooks.

انګليسي فوځ چې په لومړيو کې يې يوازې په شپږو برخو کې جګړه کوله، په دې کال کې يې جګړه لسو برخو ته وغځوله، ددې کال په جريان کې يې فوځ ۳۷ برخو ته ورسوه، د فرانسې فوځ ۱۰۴ برخې وه، د جرمني فوځ په لويديځ کې ۹۴ او په ختيځ کې ۶۵ برخو کې جګړه کوله، ددې کال د جګړې حالات په لاندې ډول دي.

ځمکنی، بحري او هوايي حملې

د ۱۹۱۵ ز کال په دوران کې لويديزه جبهه لږ څه ارامه ښکاري، دواړو خواوو خپل فوځونه په لومړيو ليکو کې اچولي وه او د خندقونو جګړه يې کوله، متحدو فوځونو د نيول شويو سيمو د بيرته لاسته راوړلو لپاره په جرمني فوځ باندې حملې کولې، ناکاميدل او بيرته خپلو خندقونو ته راتلل.

ختيزه جبهه د جرمني او روسي فوځونو د توجه مرکز وه، د جرمنيانو د پلان له مخې لومړی بايد ختيزه جبهه ارامه کړي او بيا خپل پام لويديزې جبهې ته واړوي؛ خو دې پلان ته عملي جامه اغوستل لږ څه ستونزمن ول، د ۱۹۱۵ ز کال په دوران کې ډېره توجه بالکان، ترکيي او بحري جبهو ته وه، په همدې کال بلغاريي په جګړه کې د مرکزي قوتونو سره ملاتړ اعلان کړ او جګړه کې داخله شوه.

دلته هره جبهه جلا جلا مطالعه کوو.

لويديزه جبهه

د ۱۹۱۴ ز کال د سپتمبر په ۱۴ جرمنی فوځ خپل نوي ځای ته په شا شوي وه، دغه کرښه د ۱۹۱۴ ز کال په نومبر کې يو ځانګړی سرحد وه، دې ځای ته يې د هيډن برګ نوم ورکړی وه، متحدو فوځونو څو ځلې په جرمني فوځ باندې حمله وکړه، چې دواړه خواوې به درې ميله شاته يا مخکې شوې او يوې خوا هم بريا خپله نکړه.

په همدې کال په لويديزه جبهه کې د جرمنيانو لخوا په لومړي ځل زهرجن ګاز(کلورن ګاز) استعمال شو، دغه هرجن ګاز د اپريل په ۲۲ د پاريس په دويمه جګړه کې په انګليسي فوځ باندې استعمال شو.

Visit www.ketabton.com for more Pashto ebooks.

د نو چپیل جګړه

فرانسوي جنرال جوفر د اریس په شمال کې د یوې قوي حملې پلان جوړ کړ، د ۱۹۱۵ کال د مارچ په ۱۰ انګلیسي فوځ یوه قوي حمله وکړه، ددې ناڅاپي حملې په پایله کې د جرمني فوځ په لومړي صف کې درز رامنځته شو، په همدې درز کې انګلیسي فوځ ورننوت او پر جرمنیانو یې حملې پیل کړې، د جګړې په دوران کې جرمني فوځ ته مرسته هم وړورسیده؛ خو جرمني فوځ ونشو کولای، چې ځوابي حمله وکړي او ناکام شول، دوی د خپل فوځ په منځ د رامنځته شوي درز په ختمولو باندې بوخت ول.

په دا بله ورځ ۱۶۰۰۰ فوځ د جرمني فوځ مرستې راورسیده او ځوابي حملې لپاره یې چمتوالی پیل کړ، د مارچ د ۱۳ پورې جرمني فوځ ځوابي حملې کولې؛ خو بریالي نشول، هو، جرمني فوځ دومره ګټه ترلاسه کړه، چې انګلیسي فوځ یې د نورو حملو څخه منع کړ او جګړه پای ته ورسیده.

د پاریس دویمه جګړه

د جرمني د فوځ مشر جنرال فالکن پریکړه وکړه، چې په پاریس کې به زهرجن ګاز استعمالوي، د اپریل په ۲۲ ماښام ۵ بجې یې دغه ګاز استعمال کړ او په پاریس کې موجود انګلیسي فوځ وپاشل شو.

انګلیسي جنرال سمت ډورن یو ځل بیا خپل لومړنی صف منظم کړ، د اپریل په ۲۴ جرمني فوځ بیا زهرجن ګاز استعمال کړل، چې د انګلیسي فوځ ته یې زیات ځاني زیان واړاوه، د اپریل په ۲۷ جنرال سمت ډورن خپل فوځ ته د شاته تګ امر وکړ.

په دې کار یې جنرال سمت له دندې ګوښه او پر ځای جنرال هربرټ پلمر د متحدو فوځونو مشر وټاکه؛ خو جنرال پلمر د ځای د کتلو وروسته د جنرال سمت کړنه تائید کړه، دا ځلې فرانسوي مشرانو دغه پریکړه ومنله.

د انګلیسي فوځ شاته تګ د مئ په لومړۍ نیټه پیل شو، د جرمنیانو لخوا د مئ په ۲۴-۲۵ حملې څخه وروسته انګلیسي فوځ په بشپړ ډول د پاریس نه وشړل شو

Visit www.ketabton.com for more Pashto ebooks.

او پاریس د جرمنیانو په ولکه کې پریوت، په دې جګړه کې ۷۰۰۰۰ انګلیسي فوځ ووژل شو او د جرمني فوځ زیان د نیمایي څخه هم کم وه.

بله جګړه د ارتوئز وه، چې ۱۰۰۰۰۰ څخه زیات فرانسوي او ۷۵۰۰۰ جرمني فوځیان په کې ووژل شول.

د ۱۹۱۵ ز کال په مني کې فرانسوي فوځ کوښښ کاوه، چې د جرمني د فوځ په لومړي صف کې درز رامنځته کړي، په لومړیو کې د فرانسوي فوځ حملې ناکامې وې، وروسته یې نور فوځ هم چمتو کړ او د سپټمبر د ۲۵ پورې جګړه وځنډوله، په دویم یې چې جګړه پیل کړه؛ نو د جرمني فوځ لومړی صف یې له منځه یوړ.

په دې وخت کې جرمني جنرال فالکن خپله د جګړې ډګر ته راغی، د هغوی حوصله یې زیاته کړه او جګړه یې پیل کړه، چې دښمن یې شا تګ ته اړ او بیرته خپل ځای ته راغلل.

ختیزه جبهه

د ۱۹۱۵ ز کال په پیل کې روسان په داسې حال کې وه، چې نږدې وه جرمنیان به یې د جګړې څخه وباسي، جنرال هیډن برګ او لیوډنډروف دواړو دویم ویلیم ته ویلي ول، چې لومړی باید ختیزه جبهه په ارامه کړل شي، تر څو لویدیزې جبهې ته اوزګار شي.

ددې موخې لپاره جرمنیانو پلان جوړ کړی وه، هغوی د اسټریا څخه د لږ کومک په پایله کې کولای شو، چې روسانو ته زیات زیان ورسوي او داسې زیان چې بیا سر راپورته نکړي.

د کاکیشیا په سیمه ترکي فوځ د روسانو سره په جګړه وه، که چیرته روسي فوځ خپل پام ختیزې جبهې ته اړولی وای؛ نو ترکانو کولای شول، چې د روسیي خاورې ته ننوځي، همدغه وجه چې روسانو خپل پام دواړو خواوو ته اړولی وه.

که چیرته روسي فوځ خپله توجه ترکیي ته اړولې وه؛ نو جرمني کولای شول، چې روسي فوځ له منځه یوسي او بیا روسي فوځ نه شو کولای، چې په یوه جبهه

Visit www.ketabton.com for more Pashto ebooks.

کې هم خپل فوځ راټول کړي، په دې وخت کې مرکزي قوتونو کولای شول، چې نیمه جګړه وګټي؛ ځکه بلخوا د انګلستان، فرانسې، بیلجیم او سربیا د فوځ سره د جرمني نیم فوځ په جګړه کې ښکیل وه او هغوی په سم ډول جګړه نشوه کولای.

په ختیزه جبهه کې جرمنیانو د ۱۹۱۵ ز کال په پېل کې جګړه پېل کړې وه، په دې جبهه کې زیاتې جګړې د روسیې سره دي.

په میسوریا کې د ژمي جګړې

د اوړي په موسم کې مرکزي قوتونو د جګړې څخه د روسي د ویستلو پلان جوړ کړی وه او یوه متحده جبهه یې ددې پلان د پلي کولو لپاره ترتیب کړې وه، ددې پلان مطابق د جرمني لسم فوځ به د ختیزې پروسیا له لارې په روسي فوځ باندې حمله کوي او په همدې وخت کې به د اسټریا فوځ د کارپیتهنیز په غاړو باندې حمله پېلوي.

د جرمني لسم فوځ د نی مین د سیند په غاړه مخکې تګ پېل کړ او د روسیې دریم، شپږویشتم او شلم او هم یې سایبیریا دریم ګروپ فوځ د اګسټوو د ځنګلو خواته په شا تګ ته اړ کړ، په دې شاته تګ کې دریم، شپږویشتم او د سایبیریا دریم ګروپ فوځ بریالی شو؛ خو شلم ګروپ فوځ په بشپړ ډول په ځنګلونو کې د جرمني فوځ لخوا محاصره شو.

په دې جګړه کې د ۱۰۰۰۰۰ څخه زیات روسي فوځ ووژل شو او اسیر شویو روسي فوځیانو شمېر ددې څخه زیات وه، بلخوا د اسټریا د فوځ لخوا په جنوب باندې حمله ناکامه شوې وه، چې ددې په وجه ټول پلان خراب شو او مرکزي قوتونو هیڅ ترلاسه نکړل، په دې سره د جرمني تخنیکي او فوځي بریا ناکامه شوه.

د ګارلس ټارنوو ماته

د مارچ د میاشتې پورې د روسیې اقتصاد، ټولنیز او د دهیواد دننه حالات ډېر خراب شوي وه، د خوراکي توکو کمښت، د چارواکو نا اهلي او فساد هغه څه وه، چې د روسیې هرې طبقې د امنیت غوښتنه کوله، یوازې روسي چارواکو د خپلو متحدو قوتونو د خوشحالولو لپاره د جرمني ضد جګړه کې برخه اخیسته، تر خپل

Visit www.ketabton.com for more Pashto ebooks.

ترون ته ژمن پاتې وي.

په جرمني کې د روسيي د داخلي حالاتو جاج په ژور ډول اخيستل کيده، د جرمني چارواکو په نظر دا هغه وخت وه، چې په روسيه باندې يوه وروستۍ قوي حمله وکړل شي، تر څو يې د جګړې کولو څخه وباسي او بيا خپله ټوله توجه نورو متحدو قوتونو ته واړوي.

د جرمني چارواکو د فکر مطابق، که چيرته روسي فوځ د جګړې څخه وويستل شي؛ نو بيا کولای شو، چې متحدو فوځونو ته يوه قوي ماته ورکړو او کيدای شي، چې بيا په نړۍ باندې جرمني واکمن شي.

خو، حالات د داسې فکرونو په واسطه په اسانۍ سره تغير نکوي، قومونه بايد خپلو فکرونو ته عملي جامه واغوندي او د خپلو پلانونو د عملي کولو لپاره بايد سخته خواري وکړي.

د روسي فوځ حالت ډېر کمزوری وه، هغوی نه شو کولای، چې په جرمني فوځ باندې يوه قوي حمله وکړي، روسي فوځ په هره جبهه کې د جامو(لباس) او وسلو د کموالي سره مخ وه، بلخوا جرمني فوځ په هر لحاظ بشپړ او با اعتماده وه، هغوی د ګارليس ټارنوو د سيمو څخه يوه قوي حمله پلانوله.

ددې موخې لپاره يې توپ خانه او پياده فوځ د لويديزې جبهې څخه ختيزې جبهې ته انتقال کړ، اوس څلورم او دولسم فوځ زيات قوي شوی وه او په دښمن باندې حملې ته چمتو وه، د مۍ په دويم باندې حمله پيل شوه، په دې حمله کې ۹۵۰ توپونه استعمال شول، دغه حمله يې پټه وساتله، چې روسي فوځ ددې حملې څخه هيڅ خبر نه شو.

په راتلونکو دوو ورځو کې د جرمني فوځ توپخانو د روسي فوځ په منځ کې يو درز رامنځته کړ، په دې سره جرمني فوځ نور هم مخکې ولاړ، د جون د ۲۲ پورې جرمني فوځ ليمبرګ ونيوه، د شمال خواته مخکې ولاړل او د اګست په ۴-۵ يې وارسا فتحه کړه.

Visit www.ketabton.com for more Pashto ebooks.

د اګست په ۲۵ بریسټ-لیټوسک سقوط وکړ، د اکتوبر په پیل کې جرمني فوځ د روسیې په خاوره کې مخکې تللی وه، په دې جګړه کې د لس لکه څخه زیات روسان ووژل شول، په همدې اندازه نور اسیر شو، په همدې کال کې روسي تزار دویم نیکولاس د فوځ مشري په خپل لاس کې واخیسته.

د ایټالیې جبهه

ایټالیا د مئ په ۲۳-۱۹۱۵ د انګلستان او فرانسې په غوښتنه د درې ګوني اتحاد څخه ووتله او د اسټریا پر ضد یې د جګړې اعلان وکړ.

په جګړه کې د ایټالیا په داخلیدو سره د جګړې نقشه بدله شوه، ایټالیا په جګړه کې د متحدو فوځونو سره ځکه شامله شوه، چې متحد فوځونه بریا ته نږدې شوي ول.

ایټالیې او اسټریا ۴۸۴ میله اوږده پوله درلوده، دغه پوله په دریو برخو باندې ویشل کیدای شي، په لویدیځ کې د ټائرول سیمې، په منځ کې د ډالومټس او کارنک غریزې سیمې او په ختیځ کې د ایسونز د سیند غاړه پرته وه.

د لومړیو دوو سیمو څخه حمله کول نا شوني وه، ایټالیا باید د دریمې سیمې څخه پوریوځي، تر څو حمله وکړي؛ خو د جګړې لپاره دا لاره ډېره ستونزمنه وه، بله ستونزه دا وه، که چیرته د اسټریا فوځ د لومړی سیمې (ټائرول) له لارې حمله وکړي؛ نو اسټریا کولای شي، چې د ایټالیې فوځ د ایسونز د سیند په غاړه له منځه یوسي.

د غریزو سیمو لوړوالي توپیر درلود، په مرکز کې یې لوړولی ۶۵۰۰ فټه وه، چې یوازې د ایټالیا غریزو فوځیانو کولای شول، ترې تیر شي، په دې ځای باندې د حملې پایله دا وه، چې ایټالیا د اسټریا د فوځ د حمل و نقل لاره بنده کړي؛ خو ددې کار لپاره زیاتو غریزو فوځیانو ته اړتیا وه، دویم دا چې دې کار په میاشتو وخت ته اړتیا درلوده.

Visit www.ketabton.com for more Pashto ebooks.

د ایټالیا په جبهه کې د اسټریا فوځ د ایټالیا حملو ته د ښه دفاعي ځواب ورکولو پریکړه کړې وه، جنرال کونرید د ایټالیا په جبهه کې ۱۴ ګروپه فوځ ځای پر ځای کړی وه، بلخوا د جرمني لخوا هم یوه برخه فوځ غریزو سیمو ته لیږل شوی وه، ایټالوي جنرال لویي ګو کیډورنا یوازې ۳۵ برخه فوځ راوستلای شو.

د ایټالیي جګړې

د جګړې په لومړۍ ورځ جنرال لویي ګو د یوې عمومي حملې اعلان وکړ، د هغه لومړي فوځ په ټرینټینو باندې حمله وکړه، څلورم فوځ یې په شمال ختیزو لومړیو صفونو باندې حمله وکړ، دویم فوځ یې په کیپو ریټو باندې د حملې لپاره چمتو وه او دریم فوځ یې په ایسونز او مونټ فیلکن باندې د حملې لپاره چمتو کړی وه، پّه دې ډول ټول ۲۳ برخې فوځ یې په مختلفو ځآیونو باندې ځای پر ځای کړی وه او د امر انتظار یې ویست.

د جون په ۲۳-۱۹۱۵ ایټالیي د ایسونز د سیند لومړۍ جګړه پیل کړه، دغه جګړه د جولایي د ۷ پورې روانه وه؛ خو ایټالوي فوځ دومره بریالی نه شو، وروسته د جولایي په ۱۸ دویمه جګړه پیل شوه، چې د اګست د ۳ پورې روانه وه، دریمه جګړه د اکتوبر په ۱۸ پیل او د نومبر د ۳ پورې روانه وه، څلورمه جګړه د نومبر په ۱۰ او د دسمبر په ۲ پای ته ورسیده.

په دې جګړو کې د ایټالیي فوځ نمونه یي قربانۍ ورکړې؛ خو کومه ستره بریا یې ترلاسه نکړه، د اسټریا فوځ په ځینو ځایونو کې وروسته ولاړ؛ خو د فوځ د صفونو تر منځ یې اړیکې موجودې وې، اسټریایي فوځ د ایټالوي فوځ د حملو ځواب په ښه شکل سره ورکاوه.

د ۱۹۱۵ ز کال په پای کې د زیان اندازه داسې وه، ۶۶۰۰۰ تنه ایټالوي فوځیان وژل شوي ول، ۱۹۰۰۰۰ تنه ټپیان ول او ۲۲۵۰۰ تنه اسیر شوي ول، بلخوا اسټریا ته ۱۶۵۰۰۰ تنه زیان اوښتی وه، د اسټریا فوځ نور هم زیات کړل؛ خو ایټالوي فوځ همداسې کم پاتې شو.

Visit www.ketabton.com for more Pashto ebooks.

د بالکانو جبهه

د ۱۹۱۵ ز کال په پسرلي کې جرمني د سربیا او بلغاریي له لارې بغداد د ریل د پټلۍ د غځولو اړتیا حس کړه، ددې موخې د ترلاسه کولو لپاره بلغاریي ته ځینې امتیازات ومنل، تر څو د مرکزي قوتونو سره په جګړه کې مرسته وکړي.

بلخوا متحدو فوځونو هم په جګړه د ملاتړ د ترلاسه کولو لپاره بلغاریي ته د امتیازاتو وړاندیځ کړی وه، دلته سربیا هم موجوده وه، د بالکانو په جګړه کې سربیا بلغاریي ته ماته ورکړې وه؛ نو بلغاریي د موقع نه ګټه پورته کړه او د جرمني سره ودریده.

د جرمني مخې ته یو بل مشکل د انګلستان د فوځ وه، چې د ترکیي په جبهه کې یې په ګالي پولي باندې حمله کړې وه، په ګالي پولي کې د ماتې وروسته بلغاریه د جرمني سره ودریده، د سپتمبر په ۶ جرمني، استریا او بلغاریي د سربیا په مقابل کې د یوې متحدې جبهې د جوړولو پریکړه وکړه.

د سربیا سقوط

سربیا د درې خواوو نه محاصره شوې وه، مرکزي قوتونو درې لکه فوځ د سربیا ضد جګړې ته چمتو کړی وه، په شمال کې یې د جرمني یوولسم فوځ وه او د استریا دریم فوځ د بلګراد د ختیځ او لویدیځ له لارې حملې ته چمتو وه، په ختیځ کې یې د بلغاریي لومړی او دویم فوځ چمتو وه او د شمال له لوري یې په جنوب باندې حمله کولای شو.

د مرکزي قوتونو سره نور فوځ هم موجود وه، د بلغاریي د فوځ مشري د بلغاریي د فوځ مشر کوله؛ خو د نورو فوځونو مشري د جرمني د فیلډ مارشال اګسټ وان میکنسن په لاس کې وه، د سربیا دوه لکه فوځ وه، چې په پنځو برخو ویشل شوی وه.

د اکتوبر په ۶ د جرمني او استریا فوځ ګوله باري پیل کړه او د ساوا په طرف مخکې ولاړل، په دا بله ورځ د دانیوب سیند نه تیر شوي ول، بلګراد د اکتوبر په

Visit www.ketabton.com for more Pashto ebooks.

۹ سقوط وکړ، د سربیا دویم او دریم فوځ یوه قوي ځوابي حمله وکړه؛ خو ناکامه شوه.

بلخوا د بلغاریي فوځ د اکتوبر په ۱۱ سربیا ته ننوتلی وه، د اکتوبر په ۱۸ ټول فوځونه د جنرال میکنسن په مشرئ لاندې د سیند په غاړه راټول شوي وو او غوښتل یې چې په سربیا باندې یوه ستره قوي حمله وکړي، د سربیا فوځ په چټکۍ سره په شا روان وه او هم عامو سربیایانو خپلې فابریکې، دوکانونه او کورونه پریښودل او د خپل فوځ سره یو ځای په شا روان وه.

د بلغاریي فوځ د مقدونیا فوځ ته ماتې ورکړه، د اکتوبر په ۲۳ یې ویلز ونیوه، د انګلستان او فرانسې دوه برخې فوځ چې د مرستې لپاره را روان وه، د هغه مخه یې ونیوله، دا فوځ د سربیا د مرستې لپاره ډېر کم وه او ډېر وروسته را ورسیده، د نومبر په منځ کې د سربیا د فوځ سره د وسلو د غورځولو سربیره یوه بله لاره هم وه او هغه دا چې غرو ته په شا شي.

هغوی ته د غرو ختلو پریکړه ډېره قیمتي وغورځیده، په دې تاریخي شا تګ کې ۱۵۰۰۰۰ تنه د متحدو فوځونو لخوا د بیړیو په واسطه د کرفو سیمې ته ورسول شول، په دې شا تګ کې د لوږې، تندې، یخنی او د دښمن د قوي ګوله بارئ په پایله کې ۱۰۰۰۰۰ تنه سربیایي فوځ ووژل شو او ۱۶۰۰۰۰ تنه یې اسیر شول.

بلغاریه غوښتل، چې د سربیا فوځ نور هم تعقیب کړي؛ خو جرمني او اسټریا یې مخالفت وکړ؛ ځکه جرمني غوښتل، چې متحد فوځونه د سالونیکا څخه وباسي.

د ترکیي جبهه

د ترکیي جبهه د ۱۹۱۵ ز کال په دوران کې ډېره ګرمه جبهه وه، ترکان کومې خونړئ جګړې ته چمتو نه ول؛ خو د انګلستان لخوا په ګالي پولي باندې حملې ترکي فوځ د سره بیا منظم کړ، جرمني ورسره مرسته وکړ، د ترکیي په جبهه کې فوځ د ۴۰۰۰۰۰ څخه ۸۰۰۰۰۰ ته لوړ کړل شو.

Visit www.ketabton.com for more Pashto ebooks.

### د کاکیشیا جبهه

د کاکیشیا جنرال یوډنچ ته خبر ورکړل شو، د وان د جهیل په شمالي غریزو سیمو کې درې برخې ترکي فوځ ځای پر ځای شوی دی، هلته یې جنرال اوګانووسکي ور ولیږه، تر څو ترکي فوځ د هغه ځایه وباسي.

وروسته چې د ترکي فوځ د شمېر څخه خبر شو؛ نو جنرال اوګانووسکي ته یې د احتیاط کولو امر وکړ؛ خو دغه ځواب ډېر وروسته ور ورسید او ترکي جنرال عبدالکریم پاشا یې فوځ محاصره کړی وه، یوه شوې وه، چې جنرال اوګانووسکي خپل مرکز ته کوم ځواب نه وه لیږلی، کله چې د مرکز څخه یو پلاوی دلته راورسید، ګوري چې د جنرال اوګانووسکي توپ خانه او ټرانسپورټ یې تباه شوي دي.

د ترکیي د جنګ وزیر انور پاشا ته امر وکړ، چې دښمن د کاکیشیا څخه وباسي، جنرال ډیونچ یو بل فوځ د مرستې لپاره جنرال اوګانووسکي ته ور ولیږه، تر څو د ترکانو مقابله وکړي او هم د ترکي فوځ د حمل و نقل لاره بنده کړي، بلخوا روسي فوځ هم د ترکي فوځ د حمل و نقل په لاره باندې حمله کړې وه او ډیر زیات ټوپکونه او خوراکي شیان یې نیولي وه.

په دې جګړه ۱۰۰۰۰ ترکي فوځ ووژل شو، ۶۰۰۰ تنه یې اسیر شول او جنرال ډیونچ ته بریا ترلاسه شوه؛خو ددې بریا څخه یې نوره ګټه وانه خیستلای شوه.

### د جنوبي مېزوپوتامیا جبهه

انګلیسي فوځ د بصرې وروسته القرنا هم نیولې وه، اوس د اماره په طرف مخکې روان وه، د جون په ۳ یې اماره ونیوله، یو فوځ یې د اهواز(احواز) په طرف مخکې روان وه، جنرال جارج ایف ګورنیچ په میزوپوتامیا باندې یوه قوي حمله کوله، په دې حملې سره انګلیسي فوځ کولای شول، چې د تیلو ټولې ذخیرې د خپل کنترول لاندې راولي، د جولایي په ۲۵ یې ناصریه ونیوله.

Visit www.ketabton.com for more Pashto ebooks.

ټاون شینډ چې د پاکستان د سرحد ایالات[4] د انګلیسي فوځ مشر وه، هغه د اکتوبر په ۵ العزیزیه ونیوله.

اوس انګلیسي فوځ ته د بغداد د نیولو اجازه ورکړل شوې وه، جنرال نکسن چې د هند د انګلیسي فوځ مشر وه، ددې جبهې مشري يې کوله، د نومبر په ۲۲ يې په بغداد باندې حمله وکړه، چې دا حمله په بشپړ ډول ناکامه حمله وه، ۴۵۰۰ تنه انګلیسي فوځ ووژل شو او انګلیسي فوځ بیرته ستون شو.

د ګالي پولي جبهه

د ۱۹۱۵ ز کال د جنوری په ۲ د روسيي د فوځ مشر جنرال نیکولایي د متحدو فوځونو نه وغوښتل، چې د ترکيي په جبهه باندې حمله وکړي، تر څو په کاکیشیا باندې د ترکيي د حملې ګواښ له منځه ولاړ شي.

مخکې انګلیسي فوځونو د بحر د لارې حمله کړې وه، چې په بشپړ ډول ناکامه شوې وه، اوس يې پریکړه وکړه، چې ګالي پولي ته به خپل زیات فوځ استوي، جنرال هیملټن يې د حملې لپاره چمتو کړ، هغه ۱۵۰۰۰۰ تنه فوځ وغوښته، په ځواب کې يې ۷۵۰۰۰ فوځ چې د استریلیا، نوي زیلاند(اینزیک) او فرانسویانو نه جوړ شوی، ورواستول شو او په ۲۹ برخه يې مأمور کړ.

د روسيي بحري بیړیو د باسفورس په کلاګانو باندې ګوله باري پیل کړه، روسي فوځونو غوښتل، چې د قسطنطیني په فتحه کې باید روسي فوځ د متحدو فوځونو سره څنګ په څنګ وي، مصطفی کمال پاشا چې په ترکي فوځ کې یو کوچنی مشر وه، د اینزیک او انګلیسي فوځ په مقابل کې ودریده او هغوی يې مخکې تګ ته پرې نښوول.

انګلیسي فوځ د بحري بیړیو له لارې ګالي پولي ته راورسیده؛ خو هلته ترکي فوځ موجود وه او انګلیسان يې مخکې تګ ته پرې نښوول او زیات زیان يې ورواړوه، د متحدو فوځونو لپاره د ګالي پولي جبهه د ټولو نه مهمه جبهه ګڼل کیږي.

---

[4] اوسنی خیبر پښتنخوا

Visit www.ketabton.com for more Pashto ebooks.

د مئ په ۲۵ یو متحد حکومت رامنځته شو او چرچل چې په ګالي پولي کې یې ماته خوړلې وه، له دندې ګوښه کړای شو، حکومت په دې جبهه کې فوځ زیات کړ او ۱۳ برخې یې کړ، بلخوا ترکي فوځ هم ۱۶ برخې فوځ ځای پر ځای کړ.

حالات ډېر خراب وه، متحد فوځونه په ډېر بد حالت کې ول، اخر متحدو فوځونو پریکړه وکړه، چې د ګالي پولي جبهه له منځه یوسي او خپل فوځ ژر له دې جبهې ځخه وباسي؛ نو خپل فوځ ته یې د وتلو امر وکړ، د دسمبر په ۲۰ د اینزیک فوځ ووته او د جنوري په ۹ انګلیسي او فرانسوي فوځونه ووتل.

د ګالي پولي نه د وتلو په مهال متحدو فوځونو ته هیڅ ډول زیان ونه رسیده؛ خو مخکې یې ۲۱۴۰۰۰ فوځیان وژل شوي ول، د ګالي پولي نه د وتلو دوه لاملونه وه، لومړی دا چې دلته انګلیسي فوځ ته زیات زیان اوښتی وه، دویم دا چې د سربیا د سقوط وروسته د بغداد د ریل د پټلۍ له لارې ترکي فوځ ته زیات خوراکي توکي او وسلې رسول کیدې، چې په دې سره ترکي فوځ قوي شوی وه.

بحري جبهه

د ۱۹۱۵ ز کال په پېل کې جرمني فوځ په انګلیسي فوځ باندې د زیپلن په واسطه حمله کړې وه، وروسته د جنوري په ۲۴ د ډوګر بینک جګړه وشوه.

د فبرورۍ په ۱۹ انګلیسي او فرانسوي فوځ په دردا نیل باندې ګوله باري پېل کړه، ددې ګوله بارۍ موخه د بحر په غاړه د موجودو کلاګانو ځخه د دښمن د فوځ ویستل وه.

متحدو فوځونو د فبرورۍ په ۲۵ دویمه حمله وکړه، په دې حمله کې د بیرون خوا کلاګانې ورانې شوې او دښمن یې اړ کړ، چې شا تګ وکړي؛ خو امیرالبحر کارډن پوه شوی وه، چې یوازې د بحري حملو پواسطه بریا نه شي ترلاسه کیدای؛ خو چرچل یې خبرې ته هیڅ فکر ونکړ او د مخکې تګ امر یې ورکړ.

د مارچ په ۴ په پلان کې لږ تغیر راوستل شو، د راتلونکو دوو اونیو په دوران کې انګلیسي فوځ د ورځې لخوا ګوله باري کوله، تر ځو دښمن شا تګ وکړي او د

Visit www.ketabton.com for more Pashto ebooks.

شپې لخوا کارکوونکو سرنګونه پاکول؛ خو کارکوونکي په بارودي سرنګونو کې د ستونزو سره مخ ول؛ ځکه ګوله باری زیات زیان ور اړولی وه.

د چرچل لخوا په کارډن باندې فشار زیات وه، چې په دې سره هغه ذهني ناروغ شو او کور ته یې ولیږه، پر ځای یې امیرالبحر روبک د جبهې مشر وټاکل شو، د مارچ په ۱۸ یې حمله وکړه، د ماسپښین پورې دا حمله زیاته بریالۍ ښکاریده.

خو، کله چې د سرنګونو کارکوونکو بیا خپل کار پیل کړ، د سمندر د غاړو څخه ګولیو ویشتلو یې کار ورخراب کړ، په دې وخت د متحدو فوځونو درې بیړۍ د سرنګونو سره ټکر او غرقې شوې، دې حالت ته په کتو سره روبک د عمومي شا تګ امر وکړ.

د ۱۹۱۶ ز کال د جګړې حالات

لومړۍ نړیواله جګړه ښه په درز کې روانه وه، متحدو او مرکزي هیوادونو د جګړې لپاره تېل تولیدول، په ځینو هیوادونو کې اقتصادي بحران رامنځته شوی وه اوخلکو یې د امنیت او د جګړې پای ته رسولو غوښتنه کوله، په جګړه کې د وژل شویو خلکو وارثانو خپل واکمن د هغوی قاتلان ګڼل.

جګړه د خلکو لپاره دومره مهمه شوې وه، چې تیر کال د انګلستان د جګړې سکرتر چرچل چې ماته یې خوړلې وه، له دندې ګوښه کړل شو، تر دې چې انګلیسي پارلمان حکومت تبدیل کړ او نوی حکومت یې رامنځته کړ، د روسیې د فوځ مشر لرې کړای شو او مشري یې خپله تزار دویم نیکولای په لاس کې واخیسته.

خو، جګړه اوس هم چټکه روانه وه، د جګړې په ډګرونو کې دواړو خواوو یو پر بل باندې حملې کولې، ګوله باری او پوپ خانې چلیدې، هر خوا مړي پراته او د وینو سیندونه روان ول.

Visit www.ketabton.com for more Pashto ebooks.

ځمکنی، بحري او هوايي حملې

۱۹۱۶ ز کال هم د ځان سره ورانۍ راوړې، په دې کال هم په ټولو جبهو کې په شدت سره جګړه روانه وه، د بحري برلاسۍ لپاره هلې ځلې اوج ته رسيدلې وې او په مستعمرو کې د وينو تويولو بازار ښه ګرم وه.

لوېديزه جبهه

د لويديزې جبهې حالت د تير کال په څير وه، دواړو خواوو د لومړي صف د مخکيوالي لپاره هڅې کولې، په دې کال چې کومې جګړې شوي لاندې يې مطالعه کوو.

د وردن جګړه

د جرمني د فوځ مشر جنرال فالکن غوښتل، چې په لويديزه جبهه کې د فرانسوي فوځ مورال کمزوری کړي، ددې لپاره په کار وه، چې فرانسوي فوځ شا تګ ته اړ کړي، دې جنرال غوښتل، چې زيات فرانسوي فوځ ووژني، تر څو عام خلک فوځ کې شامل نه شي او هم د عامو خلکو فکر د فرانسوي فوځ په اړه خراب کړي.

هغوی ددې کار لپار پروپاګند کاوه، جرمني فوځ د جګړې په دوران کې هغه فرانسويان وژل، چې د فرانسې سره يې مينه درلوده او هغه کسان يې پرېښودل، چې د وطن پر ځای يې د خپل ځان سره ډېره مينه درلوده.

د همدې موخې لپاره جنرال فالکن د جرمني د شهزاده ويليم لپاره د وردن په سيمه کې د جګړې پلان جوړ کړ، دلته د فرانسې د فوځ مشر پيټين وه، فرانسوي فوځ خوراکي توکو د راوړو لپاره د ريل ګاډي يوه لاره درلوده، چې هغه هم د جرمني د فوځ د ګوله بارۍ په پايله کې ورانه شوې وه او هره ورځ به يې پرې کار کاوه، چې جوړه يې کړي.

جرمني فوځ کې د جګړې صلاحيت موجود وه، جنګي مشق او تمرين يې درلوده او په ډېر مهارت سره يې جګړه کوله، د دښمن قوي حمله به يې په څو دقيقو کې له منځه وړه، توپ خانه به په وخت اړين ځای ته رسيده او هم به په درست وخت کې ترې ګټه پورته کيده.

Visit www.ketabton.com for more Pashto ebooks.

بلخوا فرانسوي فوځ بهادر فوځ وه؛ خو جنګي مشق او تمرين نه درلوده، هغوی په يوه وخت کې نشو کولای، چې منظم شي او د يوه ځای نه بل ځای ته لاړ شي.

وردن د پاريس نه ۲۰۰ کيلومتره لرې او د فرانسې د ښو ښارګوټو څخه يو ښارګوټی وه، د فبرورۍ په ۲۱ د جرمني پنځم فوځ په فرانسوي فوځ باندې حمله وکړه، د فبرورۍ په ۲۲ د جرمني فوځ د ډواماؤنټ کلا ونيوله، فرانسوي فوځ شا تګ وکړ او خپلو خندقونو ته ولاړ.

د جرمني د فوځ د پرلپسې حملو په وجه د فبرورۍ د ۲۴ پورې فرانسوي فوځ دريم خندق ته په شا شو، ددې ځای څخه وردن يوازې ۸ کيلومتره لرې وه، په همدې ورځ جنرال هنري فليپ پيټين د وردن د جبهې مشر وټاکل شو.

د فبرورۍ په وروستيو کې د جرمني د فوځ مخکې تګ ودريده؛ خو د مارچ په ۵ يې يوه بله حمله وکړه، فرانسوي فوځ يې ۳ کيلومتره نور هم شاته کړ، د مۍ د مياشتې د ۲۹ پورې فرانسوي فوځ ښه مقابله وکړه؛ خو جرمني فوځ د مارټ هوم غرونه ونيول او د جون په ۷ يې د دوکس کلا هم ونيوله.

د فرانسې فوځ د جنرال چارلس منجبن په مشرۍ ځوابي حملې پيل کړې، جنرال منجبن هغه وخت هيرو شو، چې د جرمني فوځ يې د ډواماؤنټ او د دوکس نه وشړه او دا سيمې يې بيرته ونيولې، راتلونکو دوو اونيو کې يې د جرمني فوځ دوه کيلومتره نور هم شا تګ ته اړ کړ.

د وردن جګړه د لومړۍ نړيوالې جګړې تر ټولو اوږده جګړه وه، دا جګړه د فبرورۍ په ۲ پيل او د دسمبر د ۱۸ پورې روانه وه، په دې جګړه کې ۵۵۰۰۰۰ فرانسوي او نږدې ۴۳۰۰۰۰ جرمني فوځ ووژل شو.

د سوم جګړه

انګليسي او فرانسوي فوځونو د سوم په جبهه باندې د حملې لپاره مشترک پلان ونيوه.

Visit www.ketabton.com for more Pashto ebooks.

د سوم سیمه د فوځي حمل و نقل لپاره غیر مناسبه وه، د جنرال هیګ په نظر لومړی ۸ ورځې به په پرلپسې ډول په جرمني فوځ باندې ګوله باري کیږي، تر څو د هغوی دفاعي کربنه ماته شي او ورپسې به یوه قوي حمله کیږي، هغه ددې موخې لپاره د ۲۷ برخو (۷۵۰۰۰۰) فوځ د جګړې ډګر ته راوسته، بلخوا جرمنی فوځ یوازې ۱۶ برخې وه.

د جولایي په لومړی نیټه سهار ۷:۳۰ انګلیسي فوځ حمله وکړه؛ خو جرمني فوځ یې حمله په بشپړ ډول ناکامه کړه، دا جګړه انګلیسانو ته ډېره ګرانه تمامه شوه او په یوه ورځ کې یې ۵۸۰۰۰ فوځیان ووژل شو.

دا د انګلیسانو د تاریخ تیاره ورځ وه؛ خو جنرال هیګ بیا هم د جګړې د جاري ساتلو امر وکړ، د جولایي په ۱۳ د شپې مهال انګلیسي فوځ وکولای شول، چې د جرمني د فوځ په صف کې درز رامنځته کړي؛ خو د جرمني د فوځ سمدستي مرستې دا خالیګاه بیرته ډکه کړه او انګلیسي فوځ یې شا تګ ته اړ کړ.

د اګست په ۲۹ یې جرمني جنرال فالکن له دندې ګوښه کړ او پر ځای یې جنرال هیډن برګ راولیږه، دده سره جنرال لیونډروف هم د ختیزې جبهې څخه د لویدیزې جبهې د کنټلو لپاره راغی.

د سپتمبر د ۱۵ پورې انګلیسي فوځ بریالی نشو، اوس یې په یو ۱۰ میله اوږدې جبهې باندې د عمومي حملې پریکړه وکړه، ددې حملې ځانګړتیا دا وه، چې په لومړي ځل په کې ټانک استعمال شو.

بلخوا جنرال جوفر او جنرال فوش د ۱۹۱۶ ز کال په دسمبر کې تقاعد کړل شول، د جنرال جوفر پر ځای جنرال نیویل د فرانسوي فوځ مشر وټاکل شو، د موسم د زیات یخوالي په وجه د انګلیسي فوځ په حملو کې کموالی راغی؛ خو د نومبر د ۱۳ پورې یې د بیومونټ کلا فتحه کړه، د زیاتې واورې په وجه انګلیسي فوځ شا تګ وکړ او جنرال هیګ د سوم د جبهې د پای ته رسیدو اعلان وکړ.

Visit www.ketabton.com for more Pashto ebooks.

د سوم په جبهه کې ۴۲۰۰۰۰ انګلیسي فوځ ووژل شو، ۲۰۰۰۰۰ تنه فرانسوي او ۵۰۰۰۰۰ تنه جرمنی فوځ ووژل شو.

ختیزه جبهه

د ګارلس ټارنو د ماتې وروسته روسي فوځ بیا د سره د منظم کیدو لپاره کوښښ کاوه، تزار دویم نیکولاس غوښتل، چې په دې ګرم موسم کې په جرمني فوځ باندې یوه قوي حمله وکړي، هغه د فرانسې د حکومت نه هم مرسته غوښتې وه، چې د ورډن په سیمه کې جرمني فوځ کمزوری کړی، تر څو روسي فوځ په ختیزه جبهه کې په جرمني فوځ باندې حمله وکړي.

په مارچ کې روسي فوځ د نیروچ د جهیل سره نږدې په جرمني فوځ باندې حمله وکړه، د ښه نظم د نه موجودیت په وجه روسي فوځ قوي حمله ونشوه کړای، په پایله کې جرمني فوځ ستره بریا ترلاسه کړه او روسي حمله یې ناکامه کړه.

په ختیزه جبهه کې د ګرم موسم د راتلو په وجه دواړو خواوو د جګړې لپاره پلانونه جوړول، په دې وخت کومه قوي جګړه ونشوه، د می په میاشت کې استریا د ایټالیي په جبهه باندې حمله وکړه، اوس ایټالیي د روسیي نه مرسته غوښته، ایټالیي غوښتل، چې روسي فوځ په استریا باندې حمله وکړي، تر څو توجه یې هغوی(روسیي) ته واوړي او د ایټالیي په جبهه کې یې فوځ کم شي.

د ګرم موسم په وجه د دویم نیکولای د پلان په اساس جګړه ونشوه، په دې سره د روسي فوځ مشر ایلیکسي بروسیلوف په خپله خوښه د استریا پر ضد د جګړې پلان جوړ کړ او د جون په ۴ یې حمله پیل کړه.

د بروسیلوف حمله

د روسي فوځ په جنرالانو کې بروسیلوف یو قوي او تکړه جنرال وه، هغه د جرمني د فوځ تخنیک معاینه کړی وه، هغه په ډېر مهارت سره د جګړې لپاره پلان جوړ کړ، هغه پریکړه وکړه، چې د ستر فوځ پر ځای دې، ګشتي(ګرځیدونکی) فوځ جوړ کړل شي، تر څو په دښمن باندې په خاموش ډول حمله وشي او زیات زیان وروړسول شي.

Visit www.ketabton.com for more Pashto ebooks.

د جنرال بروسیلوف دا پلان ډېر بریالی وه، دا په لومړۍ نړیواله جګړه د روسیي لومړنی ستره بریا وه، دا خبره ښکاره ده، چې متحدو فوځونو روسي فوځ د خپلو ګټو لپاره استعمالوه او متحدو فوځونو د تزار د حماقت او بې عقلۍ نه ګټه پورته کوله.

د جنرال بروسیلوف ددې حملې ګټه هم نورو متحدو قوتونو ته ورسیده او هم په زیاتره ځایونو کې د غنیمت په مال کې روسیي ته برخه نه ورکول کیده.

د ډینسیټر او سترائیا د سیند په غاړه د اسټریا د فوځ لومړی صف د یوې اونۍ په دوران کې مات کړل شو، روسي فوځ د طوفان غوندې حملې کولې، روسي فوځ نور هم مخکې لاړه او لیوتسک یې ونیوه او کوویل کاریل ته یې ځان ورسوه.

د جرمني د فوځ مشر امر وکړ، چې په چټک ډول دې د اسټریا فوځ ته مرسته ورسول شي، جرمني فوځ په درست مهال د جګړې ډګر ته ورسیده او تر ډېره یې د جنرال بروسیلوف د جګړو چټکتیا ورو کړه؛ خو په بشپړه توګه یې ونه دروله.

د روسي جنرال بروسیلوف د قوي حملو په وجه روسانو یو ځل بیا خپلې د لاسه ورکړې سیمې د دویم ځل لپاره ونیولې؛ خو د هیواد د کمزوري اقتصادي حالت په وجه د وسلو د کموالي سره مخ وه؛ ځکه نو د لومړیو بریاوو وروسته یې د جګړې څخه لاس واخیست.

د جنرال بروسیلوف د بریالیو حملو په وجه جرمني په هر ځای کې د ماتې سره مخ وه، کله، چې رومانیي مرکزي قوتونه کمزوري ولیدل؛ نو د متحدو قوتونو سره یې لاس یو کړ.

د بروسیلوف حمله د دواړو خواوو لپاره ګرانه تمامه شوه، د یوې اندازې له مخې د دواړو خواوو لخوا لس لکه فوځیان په کار ګمارل شوي وه، د اسټریا ملا همدې جګړې ور ماته کړه او په سمدستي توګه د ایټالیي د جبهې څخه په شا شوه.

Visit www.ketabton.com for more Pashto ebooks.

د ایټالیې جبهه

د ایټالیي د فوځ مشر جنرال کیډورنا د ایټالیي په جبهه کې د حملې پلان جوړ کړی وه.

د ایسونز د سیند په غاړه پنځمه جګړه د مارچ په ۹ پیل شوه، چې د مارچ د ۱۷ پورې روانه وه، حمله د ګوریز د شمال او جنوب لخوا شوې وه، د موسم خرابوالي حمله کوونکي فوځ ته ستونزې پیداکړې، د واورې او یخ موسم په وجه مخکې تګ ناشونی وه، په دې وخت کې جنرال کیډورنا ته د استریا لخوا په ټرینټینو باندې د جګړې خبر ورکړل شو، چې په دې د ایسونز پنځمه جګړه پای ته ورسیده.

د استریا د اسیاګو حمله

د مئ ۱۹۱۶ کال د استریا د پلان له مخې جنرال کونریډ غوښتل، چې د ټرینټینو لخوا په ایټالیا باندې حمله وکړل شي، د هغه له نظره دا وخت اوس رارسیدلی وه، ددې موخې لپاره یې د جرمني نه مرسته وغوښته؛ خو د جرمني مرسته ورونه رسیده او جنرال کونریډ د جګړې پروګرام جوړ کړ.

ددې حملې په پیل کې ایټالیي د روسي فوځ نه مرسته وغوښته، جنرال بروسیلوف چې په جنوب لویدیزه جبهه کې موجود وه، ویې ویل، چې په استریا باندې به رضا کارانه حمله وکړي.

جګړه د ۱۹۱۶ ز کال د مئ په ۱۵ پیل شوه، د جګړې په پیل کې جنرال کونریډ بریالی وه، د روسیي د لومړي فوځ د جنرال رابرټو بروساټي د ځنډ له وجې استریا وکولای شول، چې ارسیرو او اسیاګو ونیسي، دغې سیمې د شمالي سیمو لپاره د دروازې حیثیت درلوده.

استریایي فوځ چې دې سیمې ته راورسید، په حملو کې یې کموالی راغی؛ ځکه چې د استریا سره فوځ کم وه، دویم دا چې د بروسیلوف فوځ ختیزې جبهې ته روان وه، لاره ستونزمنه وه او ځلورم دا چې د ایټالیي فوځ مرستې ته رارسیدلی وه.

Visit www.ketabton.com for more Pashto ebooks.

د جون په ۱۷ جنرال کونریډ د ایټالیا د قوي ځوابي حملو سره مخ شو، هغه د جګړې لومړني ځای ته راغی او جګړه پای ته ورسیده، د دواړو خواوو څخه نږدې یولک، یولک کسان ووژل شول.

د ایسونز د سیند جګړې (۶،۷،۸ او ۹ جګړه)

په اسیاګو کې د ماتې وروسته جنرال کیډورنا د ایسونز په جبهه باندې د ځوابي حملې پلان جوړ کړ، ایټالوي فوځ د راتګ لپاره ښه سرکونه او د ریل پټلۍ درلودې؛ خو د اسټریا فوځ چې ایسونز ته راته د ډېرو ستونزو سره مخ شو.

د ایسونز یا د ګوریز جګړه د اګست په ۶ پېل شوه، ایټالیي په لومړیو کې د ګوریز او د رسین مائیکل غریزې سیمې ونیولې، ددې ځای یې کولای شول، چې په کارسو باندې حمله وکړي، د یوې قوي جګړې وروسته اسټریایي فوځ ددې سیمې څخه شا تګ ته اړ شو.

دا لومړی جګړه وه، چې ایټالیي خپله موخه ترلاسه کړه، مخکې یې داسې کومه ستره بریا نه وه ترلاسه کړې او نه یې وروسته بیا ترلاسه کړه.

ایټالیي غوښتل، چې د اسټریا-هنګري مشترک سلطنت پای ته ورسوي، د ایټالویانو لپاره دا ښه چانس وه، چې ادریا تیک ونیسي او د اسټریا-هنګري تر منځ د ټریزټ پخوانی شخړه بیا راتازه کړي او د هیپس برګ پاچاهۍ ته د پای ټکی کیږدي.

ددې موخې د ترلاسه کولو لپاره ښه تدبیر، جذبې، قوت او د کم نه کم د ځاني زیان ورکولو اړتیا وه او د پرلپسې حملو کولو اړتیا لیدل کیده.

د سپتمبر د ۱۴ څخه د ۱۷ پورې د ایسونز د سیند اوومه، د ۱۰ اکتوبر څخه د ۱۲ پورې اتمه او د نومبر د لومړۍ څخه د ۴ پورې د ایسونز نهمه جګړه شوه، چې پېل یې د ایټالیي لخوا کیده، د ایټالیي د فوځ سره د توپ خانې کمبود وه، چې ویې نشو کولای، خپلې موخې ته ورسیږي.

Visit www.ketabton.com for more Pashto ebooks.

د ۱۹۱۶ ز کال د مني په موسم کې ایټالوي فوځ بیا د سره منظم شو، ۱۶ برخو باندې وویشل شو او د مرستې لپاره یې ۶ نورې برخې هم چمتو کړې وې، متوسطه پوپخانه یې دوه برابره کړه او ستره توپخانه یې څلور برابره زیاته کړه.

د جګړې په پیل کې ایټالوي فوځ سره ۶۰۰ ماشینې وې، چې دا شمېر یې ۸۲۰۰ ته لوړ کړ، په پیل کې یې د جنګي الوتکو شمېر ۳۸۲ وه، چې دا شمېر یې ۳۸۶۰ ته لوړ کړ، ایټالوي جنرال کېډورنا په ۱۹۱۷ ز کال کې په اسټریا باندې د حملې پلان جوړ کړ.

د بالکانو جبهه

ددې کال د جګړې په جریان کې رومانیه د مرکزي قوتونو پر ضد په جګړه کې داخله شوه، رومانیې د تېلو او زراعتي ذخیرو په وجه د دواړو خواوو لپاره ارزښت درلوده، دواړو خواوو رومانیې ته ځینې وړاندیځونه هم کړي وه.

په دې وړاندیزونو کې د متحدو قوتونو وړاندیزونه د رومانیې لپاره ښه ول، د رومانیې ځینې سیمې د بلغاریې او اسټریا د لاس لاندې وې.

د ۱۹۱۶ ز کال په منځ کې حالات د رومانیې لپاره ډېر ښه وه، جرمني فوځ په ورډن کې بوخت وه، بلخوا په سوم کې د متحدو قوتونو قوي حملې روانې وې، ایټالیې اسټریا تر برید لاندې نیولې وه، همدارنګه د بروسیلوف حمله هم روانه وه او هم متحدو فوځونو د سالونیکا له لارې په بلغاریې باندې د حملې پلان نیولی وه.

په دې حالاتو متحد قوتونه په مرکزي قوتونو باندې غالب ول، د اګست په ۲۷ یې په جګړه کې د داخلیدو اعلان وکړ.

د رومانیې حملې او شا تګ

رومانوي ۵۶۰۰۰۰ تنه فوځ د ټرانسلوانیا د لاسته راوړلو لپاره حمله وکړه، چې په څلورو برخو باندې ویشل شوی وه، لومړي، دویم او څلورم فوځ په غرونو کې مخکې ته او غوښتل یې، چې په ټرانسلوانیا باندې حمله وکړي او دریم فوځ د بلغاریه سره د پولې ساتنه کوله.

Visit www.ketabton.com for more Pashto ebooks.

د رومانيي د فوځ سره د ټوپکو، ماشينو، پوپخانو او سګنلو زيات کمی وه، کوم ځانګړی پلان يې هم نه درلوده او نه يې باتجربه مشر په رأس کې قرار درلود، د وسلو او فوځي اړتياوو فابريکې يې نه درلودې، د متحدو فوځونو لخوا ورته د ورځې ۳۰۰ ټنه سامان ور رسيده، چې د همدې سامان په مرسته يې د اګست په ۲۸ باندې حمله وکړه.

جرمني مشرانو فکر کاوه، چې د سپتمبر په ۳۰ به رومانوي فوځ حمله کوي؛ خو رومانوي فوځ يوه مياشت مخکې حمله وکړه، په ټرانسلوانيا کې د جرمني نهم او د استيريا لومړی فوځ موجود وه.

دلته غرونه هم موجود ول، چې په ځينو ځايونو کې يې لوړوالی ۴۰ ميلو ته رسيده، رومانوي فوځ د کوچنيو غونډيو له لارې مخکې روان وه، رومانوي فوځ په خپلو کې د اړيکو ټينګولو لپاره کوم نظام هم نه درلوده.

جرمني فوځ د سپتمبر د نيمايي پورې ځان سمبال کړی وه، د سپتمبر په لومړی نيټه جنرال ميکنسن د رومانيي سرحد نه تېر شو او د کانستانټا ښار يې ونيوه، دغه ښار د رومانيي، روسيي او نورو متحدو فوځونو لپاره ډېر مهم ښار وه؛ ځکه دلته د رومانيي د دولت يوازينی بندر پروت وه، چې د تورې بحيرې له لارې يې رومانيه د متحدو هيوادونو سره نښلوله.

ددې ښار د ساتلو لپاره د رومانيي دريم فوځ او د روسيي درې فوځونه د ټرانسلوانيا نه غوښتل شول، د سربيا يو رضاکار فوځ هم راورسيده او د روسي جنرال په مشرئ باندې راټول شول، دغه متحد فوځ د مؤقت وخت لپاره د جنرال ميکنسن مخکې تګ وځنډوه.

د اکتوبر په ۲۰ ترکي فوځ ور ورسيده، چې په دې سره جنرال ميکنسن بيا حمله وکړه، د اکتوبر په ۲۳ يې د کانستانټا ښار ونيوه او ټولې لارې او د ريل پټلۍ يې د کنترول لاندې راوستې، جنرال ميکنسن د سويشتوف خواته مخکې ولاړ، چيرته چې جنرال فالکن موجود وه.

Visit www.ketabton.com for more Pashto ebooks.

په دې وخت کې جنرال فالکن د رومانيي د فوځ د مخکې تګ مخه نيولې وه، هغه غوښتل، چې يوه قوي حمله وکړي، تر د ګرم موسم د رارسيدو دمخه د رومانيي فوځ ته ماته ورکړي، د نومبر په ۱۰ يوه قوي حمله وکړه، د رومانوي فوځ ۳۰۰ ټنه سامان ۳۰ ټنو ته راټيټ شوی وه، د نومبر په ۲۳ جنرال ميکنسن د جنوب له لارې حمله وکړه.

په ۱۹۱۷ ز کال کې د رومانوي فوځ شمېر ۱۵۰۰۰۰ ته راټيټ شو، اوس بارانونه پېل شوي او سړکونه خراب هم خراب شوي وه، د رومانيي تېل او زراعتي ذخيرې د مرکزي قوتونو لاسته ورغلې.

د يونان او سالونيکا جبهه

په يونان باندې متحدو فوځونو فشار زياتوه، تر څو د ۱۹۱۳ ز کال د تړون له مخې د سربيا سره مرسته وکړي، ددې تړون له مخې سربيا بايد د بلغاريي سره د جګړې لپاره ۱۵۰۰۰۰ تنه فوځ يونان ته ورکړي، د يونان لومړي وزير د دغه فوځ د نه ورکولو په وجه په جګړه کې د شرکت کولو نه انکار کړی وه.

متحدو فوځونو يونان ته ويلي ول، که په جګړه کې داخل شي، متحد فوځونه به همدغه اندازه فوځ ورکړي، د کتوبر په ۳-۱۹۱۵ کال کې ۴۰۰۰۰ تنه فوځ سالونيکا ته ورسيده؛ خو دغه شمېر اوس هم کم وه او يونان بيا هم د جګړې د کولو نه انکار کاوه.

د يونان پخوانی لومړی وزير ساريل يې له دندې ګوښه کړی وه؛ ځکه هغه د سربيا طرفداري کوله، هغه په دې کار سره بغاوت وکړ او د ۱۹۱۶ ز کال په جولايي کې ۲۵۰۰۰۰ تنه فوځ پرې راټول شو، هغه دا وخت په سالونيکا کې وه، په دې فوځ کې متحد فوځ او د سربيا هغه فوځ چې د کرفو څخه راغلی وه، هم شامل وه.

هغه د بلغاريي پر ضد د جګړې پلان جوړ کړ، په دې وخت کې ۳۵۰۰۰۰ تنه فوځ ورسره وه.

Visit www.ketabton.com for more Pashto ebooks.

د سپتمبر په ۱۰ يې د سربيا د فوځ د کيڼې خوا څخه په بلغاريي باندې حمله وکړه، په دې حمله کې يې بريا ترلاسه کړه او بيټوليج(موناسټر) يې ونيوه.

په همدې وخت د يونان د پاچا پر ضد چې د جرمني يې خواخوږي درلوده، بغاوت شو، دا د متحدو فوځونو په مرسته وشو، د متحدو فوځونو ملاتړي ويني زيلوني په کريټ کې نوی حکومت اعلان کړ، اوس په سالونيکا کې د ساريل حکومت وه؛ خو په حقيقت کې دی هم يو سمبول وه او ټول کارونه متحدو فوځونو کول، ټولې لارې، د ريل پټلۍ، بحري بيړۍ او بندرونه د متحدو فوځونو په ولکه کې ول.

د ترکيې جبهه

د ۱۹۱۴ ز کال په دسمبر کې انګليسي فوځ د مصر پاچا دويم عباس لرې کړ او کاکا يې حسين کامل پر تخت کيناوه، په دې سره انګليسانو په مصر کې سياسي واک په بشپړ ډول ترلاسه کړ، ددې لپاره چې حسين کامل نور هم د انګليسانو غلام شي، هغه ته يې د پاچا لقب ورکړ.

د ترکيي يو ۲۰۰۰۰ کسيز فوځ د جرمني د وتلي جنرال بارون فريډرک کريس وان کرينسټين په مشرۍ کې وه، دوی د ۱۹۱۵ ز کال د فبرورۍ په مياشت کې د سويس په کانال باندې د حملې لپاره روان شول، دوی د نخل د لارې د سينا ته تېر شول او نهر يې لاندې کړ، دلته انګليسي او فرانسوي فوځ د ترکيي فوځ سره جګړه وکړه، چې ترکي فوځ يې شا تګ ته اړ کړ.

د نيل د سيند په سيمه کې د احمد الشريف جوسينوسي يو قوي فوځ موجود وه، چې د انګليسي فوځ په مخکې يې خنډ جوړ کړی وه، د ۱۹۱۵ ز کال د کرسمس په وخت کې د مجيد په تنګي کې يوه قوي جګړه وشوه، ترکي جنرال جعفر پاشا وکولای شول، چې ۲۵۰۰ تنه د انګليسي فوځ مقابلې ته راولي.

د ۱۹۱۶ ز کال په جنورۍ کې د حلازن په جګړه کې جعفر پاشا په نوې وسله سمبال انګليسي فوځ ته ډېر زيان واړوه او ۳۰۰ انګليسي فوځ يې د مرګ کندې ته

Visit www.ketabton.com for more Pashto ebooks.

وغورځوه؛ خو د فبرورۍ په ۲۶ يې جعفر پاشا په ټپي حالت کې ونيوه، چې د هغه په نيول کيدو سره سينوسي جبهه ارامه شوه.

متحد فوځونه په سينا کې

د ۱۹۱۶ ز کال په پيل کې انګليسي فوځ د فلسطين په جبهه کې د جګړې پريکړه کړې وه، ددې مخکې تګ او جګړې موخه په فلسطين کې د اروپايي يهودانو لپاره يو ازاد او خپلواک حکومت رامنځته کول ول، په دې کار سره هغوی کولای شول، چې په عمومي ډول ټول مسلمانان او په ځانګړي ډول عرب مسلمانان په خپله ولکه کې راولي.

د اسرئيلو په رامنځته کولو انګلستان او نورو متحدو هيوادونو غوښتل، چې په داسې يو هيواد رامنځته کړي، چې د هغوی د ګټو ساتنه په اسلامي او په ځانګړي ډول په عربي نړۍ کې وکړي.

متحد فوځونه د جنرال مري په مشرۍ ورو ورو د فلسطين خواته مخکې روان ول، د اپريل په مياشت کې په لومړي ځل د ترکي فوځ سره مخامخ شول، جنرال کريسنسټين يوه ناڅاپي حمله وکړه، چې ددې فوځ شمېر ۳۵۰۰ تنه وه، دغه حمله د لږ ځنډ وروسته ورکه شوه.

د مۍ د مياشتې په پای کې جنرال مري د الرومانيي په طرف مخکې تګ پيل کړ، اوس يې اوبه د ټانکرونو او اوښانو په ذريعه رسولې، د جولايي په پای کې حالات بدل شوي وه، متحد فوځونه د جرمني او ترکي فوځ څخه، چې د متحدو فوځونو شاوخوا موجود وه، سخت په ويره کې ول، ددې فوځ شمېره ۱۶۰۰۰ تنه وه.

جنرال مري د يوه پوه فوځي مشر په توګه دفاعي حالت غوره کړی وه، جنرال مري فکر کړی وه، چې ترکي فوځ ددې لپاره چې مخامخ جګړه کړي، د سمندر له لارې به د اوبو رسولو په لاره باندې حمله کوي.

Visit www.ketabton.com for more Pashto ebooks.

جنرال مري دښمن ته دوکه ورکول غوښتل، هغه خپل دوه برخې فوځ ته د څلور میله لوړ ځای په طرف د حرکت کولو امر وکړ، ددې فوځ شاته يې يو قوي فوځ روان کړی وه، مخکې فوځ به هغه وخت حمله کوي، تر څو شاتنی فوځ ترکي فوځ محاصره کړي.

د خپل پلان له مخې جنرال مري ترکي فوځ محاصره کړ، ترکي فوځ په بې زړه توب سره جګړه پېل کړه، د اوبو د کمبود په وجه ترکي فوځ وسله وغورځوله، په دې ډول د ترکي فوځ حمله ناکامه شوه، ۲۰۰۰ ترکي فوځ ووژل شو، ۴۰۰۰ تنه يې اسير شول، بلخوا يوازې ۱۱۳۰ تنه انګليسي فوځ وژل شوی وه.

د کټ محاصره

په ۱۹۱۵ ز کال کې په بغداد باندې انګليسي حمله ناکامه شوې وه، د جنرال نيکنسن پر ځای جنرال ټاون شنيډ مشر ټاکل شوی وه، هغه دا وخت په کټ کې موجود وه، اوس ترکي فوځ د کټ د محاصرې لپاره کوښښ کاوه، ټاون شنيډ د کټ په شمال لويديځ کې درې ستر خندقونه ويستي ول.

په ۱۹۱۶ ز کال کې د ټاون شنيډ د مرستې لپاره جنرال فيټن جان کوښښ کړی وه، د ترکي فوځ سره يې په شيخ السعد کې جګړه هم کړې وه؛ خو ۶۰۰۰ تنه فوځيان يې ووژل شول.

جنرال ايلمر په مارچ کې بيا حمله وکړه؛ خو بيا ناکام شو، ترکي فوځ په ډېرې ميړانې مقابله کوله، د ايلمر ۳۵۰۰ فوځ ووژل شو او شا تګ يې غوره کړ، جنرال ټاون شنيډ فوځ ته د خوراک د چمتو کولو لپاره ۱۱۰۰ خره او کچرې ووژلې.

د اپريل په مياشت د جنرال ايلمر پر ځای جنرال ګورنج وټاکل شو، تر څو د کټ محاصره پای ته ورسوي، دې جنرال د کټ په ښي خوا باندې حمله وکړه او د ترکي فوځ په منځ کې يې درز رامنځته کړ؛ خو ترکي فوځ حمله وکړه او هغوی يې وشړل.

Visit www.ketabton.com for more Pashto ebooks.

د اپریل په ۲۲ جنرال ګورنج بیا حمله وکړه؛ خو بیا پخواني ځای ته وشړل شو.

د اپریل په ۲۹ انګلیسي فوځ خپله وسله وغورځوله، په دې محاصره کې انګلیسانو ته زیات زیان واوښت، جنرال پرسي لیک یې له دندې ګوښه او پر ځای یې جنرال فریډرک ستینلي موود هلته واستوه، د جنرال موود سره ۳۴۰۰۰۰ تنه فوځ وه، چې ۱۰۷۰۰۰ تنه یې هندي فوځ وه.

په مقابل کې یې ۴۲۰۰۰ تنه ترکي فوځ وه، چې نیمایي یې د بغداد د ساتنې لپاره ګمارل شوي وه، په دې ترکي فوځ ناروغان او ټپیان هم ډېر زیات ول، د مرستې په وخت کې دومره مرسته هم نه ورسره کیده، جنرال موود د دسمبر په ۱۳ د میزوپوتامیا په طرف مخکې تګ پېل کړ، چې ددې کال د پای ته رسیدو پورې کومه خاصه جګړه ونشوه.

ترکي فوځ په کاکیشیا کې

ترکي فوځ په ګالي پولي کې بریا ترلاسه کړې وه، په کاکیشیا کې د ترکي فوځ موجودیت د روسي فوځ لپاره د تشویش وړ وه، هغه فکر کاوه، چې دغه ترکي فوځ به شام او اروپایي جبهې ته ولیږل شي.

روسي جنرال یوډنیچ د حملې پلان جوړ کړ او حمله یې وکړه، د جنورۍ د ۱۷ پورې ترکي فوځ ته زیات زیان واوښت، ترکي جنرال عبدالکریم کوهر په چټکۍ سره شا تګ وکړ، په دې شا تګ کې ۲۵۰۰۰ ترکي فوځ ووژل شو.

جنرال یوډنیچ د فبرورۍ په ۱۲ په ارزورم باندې حمله وکړه او د همدې میاشتې په ۱۶ یې دغه سیمه ونیوله، دغه یې جنرال لایي خوف د تورې بحیرې غاړو ته ولیږه، تر څو په ټریبیزونډ باندې حمله وکړي او په خپله ولکه کې یې راولي.

بلخو د ترکیي د جنګ وزیر انور پاشا په ارزورم باندې د یوې قوي حملې پلان جوړ کړ، د مۍ د میاشتې په اخر کې د ترکیي دریم فوځ حمله وکړه؛ خو روسي فوځ یې ښه ځواب ورکړ او د ترکیي دا حمله یې ناکامه کړه، ترکي فوځ ته زیات زیان واوښت.

Visit www.ketabton.com for more Pashto ebooks.

جنرال یوډنچ د یوې قوي حملې پلان جوړ کړی وه، هغه د جولایي په ۲ په بي برټ باندې حمله وکړه، دغې قوي حملې ترکي فوځ شا تګ ته اړ کړ، د جولایي په ۲۵ ارزن کین ونیوه، د ترکیي دریم فوځ ته ډېر زیات زیان واوښت او نقریباً له منځه تللې وه، په دې جګړه کې ۱۷۰۰۰ ترکي فوځ ووژل شو او تقریباً همدومره یې اسیر شول.

ددې فوځ په ښۍ خوا کې دویم ترکي فوځ موجود وه، چې مشري یې مصطفی کمال پاشا کوله، هغه د اګست په ۱۵ موس او بیټلس سیمې ونیولې، هغه یو ډېر قوي جګړه مار وه، ښه پلان جوړونکی او د مشرۍ وړ وه، چې د انور پاشا د پام وړ کرځیدلی وه؛ خو د اګست په ۲۴ جنرال یوډنچ بېرته موس او بیټلس ونیول.

د عربو انقلاب او د فلسطین جبهه

د ۱۹۱۶ ز کال د جون په ۵ د ترکیي د حجاز والي شریف حسین د ترکي حکومت پر ضد بغاوت وکړ، چې انګلستان یې تر شا ولاړ وه، درې ورځې یې د مکې معظمې په کوڅو وینې توی کړې او د جون په ۱۰ یې په ولکه کې راوسته، هغه اوس خپله توجه طائف ته واړوله، چیرته چې د حجاز فوځ موجود وه، مصري غلام پاچا د شریف حسین د مرستې لپاره فوځ ور واستوه، ددې ټول فوځ مشري د شریف حسین دویم زوی عبدالله کوله، چې وروسته د مصر پاچا وټاکل شو.
د شریف حسین دریم زوی د مدینې منورې په نیولو ناکام شو، مدینه منوره د جګړې تر پایه د ترکي فوځ په لاس کې وه، کله چې انګلیسانو خپل پام د شریف حسین نه واړوه؛ نو د خپل عادت له مخې شام یې فرانسې ته وسپاره.

د دسمبر د میاشتې پورې انګلیسي فوځ په سینا کې العرش ته رسیدلی وه، دغه سیمه د فلسطین د پولې نه یوازې ۲۷ میله لرې وه، جنرال مري ته د انګلستان د لومړي وزیر ډیوډ لائیډ جارج لخوا امر شوی وه، چې په فلسطین باندې ژر تر ژره حمله وکړي، د جنرال مري په نظر د هغه فوځ د حملې لپاره کافي نه وه.

خو، حمله ی وکړه او د دسمبر په ۲۳ یې ماغدهابه ونیوله، په دې جګړه کې ۱۳۰۰ ترکي فوځ اسیر شو او ډېر کم په تیښته بریالي شول، په مقابل کې ۱۴۶ تنه

Visit www.ketabton.com for more Pashto ebooks.

انګلیسي فوځ ووژل شو، وروسته یې په رفاه باندې حمله وکړه او ویې نیوله، چې د ۵۰۰ څخه زیات کسان په کې ونه وژل شول.

بحري جبهه

د ۱۹۱۶ ز کال په فبرورۍ کې جرمني وان شیکر د جرمني د بحري فوځ مشر (امیرالبحر) وټاکل شو، وان شیکر په انګلیسي فوځ باندې د حملې کولو پریکړه کړې وه.

لومړۍ حمله د ۱۹۱۶ ز کال د اپریل په ۲۵ وشوه، د کروزونو په واسطه یې په لووسټوفټ او یارموت باندې قوي ګوله باري وکړه او بېرته ستانه شول، د پلان مطابق یې غوښتل په سنډرلینډ باندې حمله وکړي؛ خو د خراب موسم په وجه یې دا حمله ونکړه.

د جوټ لینډ جګړه

دا جګړه د مۍ د ۳۱ نیټې څخه د جون د لومړۍ نیټې پورې روانه وه، دا جګړه د بحري جګړو تر ټولو اوږده جګړه وه.

شیکر د خپل لاس لاندې امیرالبحر فرینز وان هپر ته امر وکړ، چې ۲۹ بیړۍ دې د ډنمارک د سمندر غاړو ته ورسوي.

انګلیسي فوځ هم د هغوی لټون پیل کړ، ۴۰ بیړۍ یې ور روانې کړې، چې ۲۶ په کې ډریډناټس وې، د مۍ په ۳۱ د ورځې دوه بجې انګلیسي امیرالبحر هیټي ته جرمني بیړۍ ښکاره شوې، اوس دواړه (وان هپر او هیټي) یو بل ته مخامخ ول.

هیټي د ۱۷۰۰۰ کزه واټن نه لرې، په جرمني بیړیو باندې ګوله باري پیل کړه، دا دوه اړخیزه ګوله باري دوه ساعته روانه وه، د جرمني لخوا دوه انګلیسي شاهي بیړۍ غرقې شوې او یوې یو برج له منځه ولاړ، د یوې جرمنۍ بیړۍ برج هم خراب شو.

په دې جګړه کې د ۲۵۰ څخه زیاتو بیړو برخه اخیستې وه، دا په تاریخ کې تر ټولو ستره بحري جګړه وه، په دې جګړه کې ۱۰۰۰۰ ځلې پیغامونه تبادله شو،

Visit www.ketabton.com for more Pashto ebooks.

۳۰۰ ځلې راپورونه وړاندې شول، د ۶۵ سلنې ښځه د زیاتې ګوله بارۍ ریکارډ موجود دی.

په دې جګړه کې جرمنیان بریالي ول، ټول یې ۱۴ انګلیسي بیړۍ غرقې کړې او ۶۱۰۰ تنه یې ووژل شول، ۹ جرمنی بیړۍ له منځه ولاړې او ۲۵۵۰ تنه یې ووژل شول.

د ۱۹۱۷ ز کال د جګړې حالات

دا د سختو او خونړیو جګړو کال وه؛ خو ددې سره د سولې لپاره هم کوښښونه پیل شوي وه، مګر یوه خوا هم د جګړې د بندولو لپاره چمتو نه وه، مرکزي قوتونو د سولې لپاره خپل شرائط نه وړاندې کول، بلخوا د متحدو هیوادو لخوا داسې شرطونه وړاندې کیدل، چې د منلو وړ نه ول، چې یو په کې د اسټریا-هنګري د مشترک سلطنت د ویشلو شرط وه.

په همدې کال په روسیه کې بلشویکي انقلاب رامنځته شو، چې روسي جګړه ورسره کمزورې شوه، د مرکزي قوتونو دوست هیواد بلغاریې ماته خوړلې وه، د ترکي جبهې حالات هم ابتر ول، ترکي فوځ د بغداد نه شاته ولاړ او یروشلم (بیت المقدس) د دښمن لاس ته ورغی.

په همدې کال د اپریل په ۶ د امریکا متحده ایالاتو د جرمني پر ضد د جګړې اعلان وکړ، په دې سره متحد قوتونه نور هم پیاوړي شول، امریکا د مرکزي هیوادونو د بحري سوداګرۍ د پای ته رسولو لپاره اقدامات وکړل او هم یې د مرکزي قوتونو سوداګرۍ ته، چې د نورو هیوادونو سره یې کوله، د پای ټکی کیښود.

په مقابل کې یې جرمني د انګلستان د بحري سوداګرۍ د مخنیوي لپاره جګړه پیل کړه، په دې جګړه کې جرمني بریالی وه؛ خو اصلي موخې یې ترلاسه نکړې.

Visit www.ketabton.com for more Pashto ebooks.

ځمکنی، بحري او هوايي حملې

د ۱۹۱۷ ز کال په دوران کې هم په ټولو جبهو کې جګړه په زور او شور کې روانه وه او د انسانیت قتل عام روان وه، د برلاسۍ جګړې د انسان شکل بدرنګ کړی وه، قومونو ته جګړه کوونکي ښه او ستر اشخاص ښکاریدل، د امریکې ولسمشر ویلسن چې تېر کال یې د سولې لپاره هلې ځلې کولې، اوس یې د جګړې په ډګر کې قدم کیښود.

دا کال د شدت او سختی کال وه، د ټولو جبهو سره سره هوايي جبهې هم ښې فعالې وې، د بحري برلاستیا لپاره هلې ځلې اوج ته رسیدلې وې او په مستعمرو کې قتل و غارت ښه په کش کې روان وه.

لویدیزه جبهه

په لویدیزه جبهه کې یو بدلون تر سترګو کیږي، هغه دا چې د جنرال جوفر پر ځای جنرال نیویل ټاکل شوی وه، هغه تقاعد شوی وه، جنرال نیویل غوښتل، چې خپلې موخې باید د سترو کوښښونو له لارې ترلاسه کړي؛ خو جنرال جوفر بیا برعکس نظر درلود، جنرال نیویل غوښتل، چې یوه ستره حمله پلان شي، تر څو خپل دښمن له سیمې څخه وباسي.

ددې موخې د ترلاسه کولو لپاره فرانسوي فوځ په ۱۹۱۷ ز کال کې د ائزن د سیند په غاړه د حملې لپاره یو ستر پلان جوړ کړ، انګلیسي فوځ د فرانسوي فوځ سره مرسته وکړه او د کواریس له لارې یې په جرمني فوځ باندې حمله وکړه.

د ائزن دویمه جګړه

د جنرال نیویل د پلان جوړولو په وخت کې، د یوه پټ تړون له مخې انګلیسي لومړي وزیر د خپل فوځ مشر جنرال هیګ د جنرال نیویل د لاس لاندې مقرر کړ، ددې کار څخه جنرال هیګ ناخبره وه.

بلخوا د جنرال نیویل پلان د جنرال پیټین لخوا رد کړل شو، د ائزن د دویمې جګړې پیل د اپریل په ۱۶ وشو، د جنرال مینګن او اولیویر فوځ په میرانې سره حمله وکړه؛ خو د جرمني فوځ یې د حملې ښه ځواب ورکړ.

Visit www.ketabton.com for more Pashto ebooks.

د فرانسي لخوا ټانکونه هم استعمال شول، مخکې د وردن په جګړه کې هم ټانکونه استعمال شوي وه، دلته جرمني فوځ د فرانسې د ټانکونو ښه ځواب ورکړ، د جګړې په لومړۍ ورځ يې ۲۰۰ ټانکونه ور ويجاړ کړل؛ خو د فرانسوي فوځ لخوا حملې روانې وې.

په دا بله ورځ فرانسوي فوځ ۲,۵ ميله مخکې لاړه او جرمني فوځ د خپلې مشهورې دفاعي کرښې (هيډن برګ) نه په خپله خوښه شا تګ وکړ، فرانسوي فوځ د مال ميسن کلا ونيوله، په همدې ورځ جرمني توپ خانې ته ډېر زيان واوښت، د مۍ په ۲۹ جنرال پيټين د فرانسې د فوځ مشر وټاکل شو.

د ائزن په دې دويمه جګړه کې فرانسوي فوځ ته زيات زيان واوښت، د زيان په شمېره کې اختلاف موجود دی، د فرانسې د دولت د شمېر له مخې ۹۶۰۰۰ تنو څخه زيات فوځيان يې وژل شوي دي، ۱۵۰۰۰۰ تنه شاوخوا جرمنی فوځ وژل شوی دی.

د پاريس دريمه جګړه

جنرال هيګ ددې لپاره چې جرمنی فوځ بوخت وساتي، د پاريس جګړه يې پيل کړه، ۱۰ ورځې پرلپسې بمبار وه، د لسو ورځو وروسته جګړه پيل شوه، د جولايي په ۳۱ مخکې تګ پيل شو.

د همدې ورځې په ماښام سخت اورښت پيل شو، چې ۱۴ ورځې يې دوام وکړ؛ خو بيا هم فرانسوي فوځ جرمنی فوځ بوخت ساتلی وه، د اګست په ۱۶ بيا جګړه پيل شوه، د لينګ مارک د جګړې وروسته يو ځل بيا موسم خراب شو، د جګړې په ډګر کې په کاريدونکي وسله په ډېر مشکل سره راوړل کيده، څو کچرې او انسانان په اوبو کې ډوب شول.

جنرال پلمر د پاريس د نيولو پلان جوړ کړی وه، دا د هغه خوشبختي وه، چې د لږ باران په وريدو کې يې هم مخکې تګ کولای شو، د ۲۰ سپټمبر نه د ۲۵ پورې او د ۲۶ سپټمبر نه د اکتوبر د ۳ جګړې د وريځو په موجوديت کې وشوې.

Visit www.ketabton.com for more Pashto ebooks.

بله جګړه د اکتوبر د ۲۶ څخه تر د نومبر د ۶ پورې په پرلپسې ډول روانه وه، چې په دې جګړه کې د هیچنډیل کلی فتحه شو، د همدې نوم له وجې د پاریس دریمې جګړې ته د هیچنډیل جګړه هم ویل کیږي.

په دې جګړه کې ۲۴۰۰۰۰ تنه انګلیسي او تقریباً همدومره جرمنی فوځ ووژل شو او ۳۷۰۰۰ تنه اسیر شول.

د کیمبرائي جګړه

جنرال هیګ د نومبر په ۲۰ د ۵۰۰ ټانکونو سره حمله وکړه، په لومړیو کې بریالی وه، څور ورځې قوي جګړي روانه وه، د جرمني د فوځ د قوي ځوابي حملو په پایله کې انګلیسي فوځ شا تګ ته اړ شو، جرمني فوځ وکولای شول، چې د دښمن فوځ بېرته پخواني ځای ته په شا کړي.

په دې جګړه کې ۴۳۰۰۰ تنه انګلیسي فوځ ووژل شو، ۶۰۰۰ تنه یې اسیر شول، ۳۰۰۰۰ تنه جرمنی فوځ ووژل شو او ۱۱۰۰۰ تنه یې اسیر شول، انګلیسي فوځ وکولای شول، چې د جرمني فوځ نه ۱۳۸ توپکې ونیسي؛ خو جرمني فوځ د انګلیسي فوځ نه ۱۵۸ توپکې ونیولې، انګلیسي جنرال هیګ د سختو نیوکو سره مخ وه.

فرانسوي سوبې (فتوحات)

جنرال پیټین یو ځل بیا خپل فوځ منظم کړ، غوښتل یې په دښمن باندې یوه قوي حمله وکړي، هغه په دښمن فوځ باندې مسلسل حملې پیل کړې.

د اګست په ۲۰ د وردن په سیمه کې لومړی حمله وشوه، دښمن یې شا تګ ته اړ کړ، د اکتوبر په ۲۳ یې بله حمله وکړه، په دې جګړه کې د فرانسې لسم فوځ په جرمني فوځ باندې یوه قوي حمله وکړه، چې د ملامیسن کلا یې بېرته ونیوله.

دا دومره سترې جګړې نه وې او نه هم دښمن دې جګړو ته کوم ارزښت ورکړ؛ خو د فرانسوي فوځ مورال یې لوړ کړ.

Visit www.ketabton.com for more Pashto ebooks.

ختيزه جبهه

د جنرال بروسيلوف د قوي او ښو حملو باوجود د روسي فوځ مورال ټيټ وه، اقتصاد په بشپړ ډول خراب شوی وه، د فوځ سره يې کالي(لباس) او بوټان نه ول، د خوراکي توکو په رسولو کې يې ستونزه درلوده، د فوځ د مړينې په شمېر کې زياتوالی راغلی وه، عامو خلکو فکر کاوه، چې د فوځ مشران د خپل فوځ په کيسه کې نه دي او د هغوی ژوند ته ارزښت نه ورکوي.

حالات خراب ول، د اصلاحاتو سره مخالفت کيده، روسي عوامو همدا غږ پورته کاوه، چې (سوله او ډوډۍ)، فساد او بغاوتونه پيل شوي وه، په پتروگراد کې د مارچ په ۱۲ يو ستر پاڅون وشو او درې ورځې وروسته يې تزار دويم نيکولای د واک څخه لرې کړ.

د سوسيالست اليګزنډر کرانسکې په مشرۍ يو مؤقت حکومت رامنځته شو.

جرمني فوځ نه غوښتل، چې په دې وخت په روسيې باندې حمله وکړي ؛ ځکه هسې نه چې يوه ويده شوې جبهه بيا راويښه نشي.

په همدې وخت کې په ناڅاپي ډول سويټزرلينډ ته تبعيد شوي بلشويکي مشران لينن او سربهمر د ريل ګاډي په واسطه روسيې ته راوستل شول.

جنرال بروسيلوف ته ويل شول، چې د ليمبرګ په جبهه کې يوه نوې حمله پيل کړي، د جولايي په لومړۍ نيټه يې استريا په پاتې فوځ باندې حمله وکړه، ددې جګړې په پايله کې روسي فوځ ۳۰ ميله مخکې تګ وکړ او د دښمن د سيمو فتحه کول يې پيل کړل.

په همدې وخت د جرمني لخوا يوه قوي حمله وشوه، چې روسي فوځ يې بېرته ګليشيا ته وشړه، په دې ډول ټوله حمله هسې بې ګټې ثابته شوه، دا هم بايد ويل شي، چې دا په لومړۍ نړيواله جګړه کې د روسيې وروستۍ حمله وه.

جنرال هيډن برګ او ليونډروف فکر کاوه، چې په يوه قوي حمله کې به د کرانسکي حکومت پای ته ورسوي او روسيه به د جګړې څخه وباسي، د همدې

Visit www.ketabton.com for more Pashto ebooks.

موخې لپاره د سپتمبر په لومړۍ نېټه د جرمني اتم فوځ يوه قوي حمله وکړه او دوه ورځې وروسته يې د ريجا ښار ونيوه، د نومبر په ۶-۷ د کرانسکي حکومت له منځه ولاړ او لينن په پتروګراد کې واکمن شو.

په دا بله ورځ نوي حکومت د سولې تړون لاسليک کړ، په تړون کې د شرطونو د ذکر کولو لپاره روسيي ليون تروتسکي خپل نمائنده وټاکه.

د جرمنی لخوا جنرال ميکس هوفمين د ۱۹۱۸ ز کال د فبرورۍ په ۱۰ نېټه اعلان وکړ، چې روسيه د جرمني د سولې شرائط نه مني، جرمني د غصې په حالات کې د فبرورۍ په ۱۸ د روسيي په پوله باندې جګړه پېل کړه، په شمال کې يې ډوينسک او په جنوب کې يې ليوټسک ونيول.

جرمني فوځ په روسيي کې ډېر مخکې لاړه، کولای يې شول، چې پتروګراد هم ونيسي؛ خو اخر د مارچ په ۳ د بريسټ-ليوټسک د سولې تړون لاسليک شو، دواړو خواوو پرې د سولې لاسليک وکړ، ددې تړون له مخې جرمني د روسيي په زياتو سيمو باندې ولکه درلوده.

د ايټاليي جبهه

د ايټاليي په جبهه کې دا کال مرکزي قوتونو برياوې ترلاسه کړې، استريا ډېره کمزورې شوې وه، که چيرته استريا په ايټاليا باندې حمله کړې وای او هغه د جګړې څخه بهر کړې وای؛ نو اوس به د جګړې پايله بل ډول وه.

د ايسونز ۱۰ او ۱۱ جګړه

د ايټاليي د فوځ مشر جنرال کيډورنا د ۱۹۱۶ ز کال په پای کې په چمتوالي باندې بوخت وه، د ۱۹۱۷ ز کال په پېل کې د حملې لپاره پلان جوړوه، د متحدو فوځونو له خوا ډاډ ورکړ شوی وه، چې د همدې کال په پسرلي کې د جګړې د پېل په وخت کې به ورسره مرسته وکړي.

د همدې حملو په سلسله کې انګليسي فوځ د اپريل په ۹ په اريس باندې حمله وکړه، د اپريل په ۱۶ فرانسوي فوځ په ائزن باندې حمله وکړه، د مۍ په ۱۲ ايټاليي

Visit www.ketabton.com for more Pashto ebooks.

د ایسونز په سیمه کې د لسمې حملې پیل وکړ، پلان داسې وه، چې ایټالیا به د دواړو خواوو څخه حمله پیلوي، یوه د بین سزا او بله په کارسو کې.

د مې د ۲۸ ایټالوي فوځ ته زیات زیان رسیدلی وه، د جون په ۴ د اسټریا لخوا یو قوي ځوابي حمله وشوه، چې ایټالوي فوځ ته یې زیات زیان واړوه، ایټالوي فوځ یې شا تګ ته اړ کړ او جګړه د جون په ۸ پای ته ورسیده.

اوس جنرال کیډورنا په ټریټینو باندې حمله پیل کړه، دا جګړه د جون د ۱۰ څخه د جون د ۲۹ پورې روانه وه، په لومړیو کې ایټالوي فوځ لږ څه بریا ترلاسه کړه؛ خو دا جبهه هم جنرال کیډورنا ته ښه تمامه نشوه، دلته هم ایټالیي ته زیات زیان واوښت او اخر یې جګړه پای ته ورسوله.

متحدو فوځونو د جنرال کیډورنا نه په پرلپسې ډول دا غوښتنه کوله، چې په لویدیزه جبهه کې دې د جرمني فوځ د مخکې تګ مخه ونیول شي او ایټالیا دې په اسټریا باندې حمله وکړي، تر څو د جرمني فوځ د اسټریا مرستې ورشي او لویدیزه جبهه پریږدي.

په دې وخت جنرال کیډورنا د ایسونز ۱۱ جګړه پیل کړه، خپل ټول فوځ یې راټول کړ، مخکې دلته دومره فوځ نه وه راټول شوی، ۵۱ برخې فوځ او ۵۲۰۰ توپ خانې وې، جګړه د اګست په ۱۹ پیل شوه، دویم فوځ د بین سیزا سیمه نیول غوښتل، دا سیمه د ټارنوو لپاره دروازه وه، دریم فوځ کاسو نیول غوښتل.

د دریم فوځ حمله په بشپړ ډول ناکامه شوه، د اسټریا قوي ځوابي حملې ایټالوي فوځ شا تګ ته اړ کړ، د دویم فوځ سرټمبه او ضدي مشر جنرال لویګي کیپیلو د اصلي موخې پر ځای بې ځایه حمله وکړه، د حملې د ناکامیدو په پایله کې یې بیا هم خپلسري کوله او حملې یې روانې ساتلې وې، چې په دې سره ایټالوي فوځ ته زیات زیان واوښت.

Visit www.ketabton.com for more Pashto ebooks.

ایټالوي فوځ په ډېر خراب حالت کې وه، هغه په بشپړ ډول مات شوی فوځ ښکاریده، مورال یې ډېر ټیټ شوی وه، هغه د بې طرفۍ د غوره کولو خبرې پیل کړې وې.

په ۱۹۱۷ ز کال کې د کیپو ریټو جګړه

یو خوا ایټالوي فوځ ماته خوړلې وه، بلخوا د اسټریا فوځ ډېر ستړی شوی وه، ماتو او پرلپسې جګړو عام خلک او حکومت ټول بې حیثیته کړي ول، هغوی د یوې حملې مخه نشوه نیولای، ټوله جګړه د جرمني په اوږو بار وه، اسټریا غوښتل، چې د جګړې څخه لاس واخلي.

د اسټریا حکومت د جرمني مشرانو نه وغوښتل، چې د رومانیې په جبهه کې روسي فوځ کنترول کړي، تر څو اسټریا د ایټالوي فوځ دفاع وکړي، جرمني فکر کاوه، چې په یوې قوي حملې سره باید ایټالیا د جګړې د صحنې وویستل شي او ددې موخې لپاره باید د اسټریا فوځ قوي حملې پیل کړي.

ددې موخې لپاره جرمني او اسټریایي فوځ یو مشترک ۱۴ فوځ جوړ کړ، په دې فوځ ۷ برخې جرمنی فوځ وه، په دې جرمني فوځ وتلی الپین کور هم شامل وه، پاتې نور ۸ برخې فوځ د اسټریا فوه، ددې مشترک فوځ مشري د لویدیزې جبهې مشر جنرال اټووان بلو کوله.

د سپتمبر په ۱۸ جنرال کیډورنا ته معلومه شوې وه، چې دا مشترک فوځ به یوه قوي حمله کوي، په همدې ورځ یې د جنرال کیپېلو دویم او د جنرال ایمانویل دریم فوځ ته امر وکړ، چې د ایسونز څخه لږ وروسته یو قوي کلا ته لاړشي او خپله د نورو جبهو د معائنې لپاره ولاړ.

د اکتوبر په ۲۴ سهار مهال، د جرمني ۱۴ فوځ په ایټالوي فوځ باندې لومړی ګیس او بیا ګوله باري پیل کړه، د ګیس ماسکونو ایټالوي فوځ ته لږه ګټه ورسوله؛ خو بیا هم مخکې ولاړ نشول، ۸:۰۰ بجې د جنرال بلو فوځ د ټالمینو نه د پلیزو په طرف مخکې روان شو، مشترک فوځ ۱۵ برخې او د ایټالیا فوځ ۲۵ برخې وه.

Visit www.ketabton.com for more Pashto ebooks.

مشترک فوځ د نوي جنګي تکتيک په خپلولو سره مخکې روان وه، په دې سره د ایټالیا لومړی فوځ وډار شو او شا تګ یې پیل کړ، د اکتوبر د ۲۵ پورې د ایټالوي فوځ لومړی صف په بشپړ ډول له منځه تللی وه.

جنرال کیډورنا د نومبر په ۴ خپل فوځ ته د نور شا تګ امر هم وکړ، د ایټالوي فوځ په شا تګ سره یې فوځ بې اړیکې شو، د نومبر په ۱۰ د پي ایو کی د سیند په غاړه یوه قوي دفاعي کربښه جوړه کړه، دلته یې جنرال کیډورنا له دندې ګوښه او پر ځای یې جنرال ارمینډ وډیاز د ایټالوي فوځ مشر وټاکه.

د استریا-جرمني مشترک نور هم زیات شوی وه او ۵۰ برخو ته رسیدلی وه، بلخوا ۱۱ برخې نور انګلیسي او فرانسوي فوځ د ایټالیي مرستې ته رسیدلی وه، د ایټالیي د فوځ مشر څلورم او دریم فوځ لومړي صف ته راوستل، تر څو دویم مشترک فوځ تعقیب کړي.

د جګړې په ډګر کې ۶۵ برخې ایټالوي فوځ موجود وه؛ خو یوازې ۳۳ برخو یې د جګړې وړتیا درلوده، د دسمبر د ۲۶ پورې مشترک فوځ د پي ایو کی د سیند نه واوښت، کوښښ یې وکړ، چې دښمن فوځ له منځه یوسي؛ خو بریالی نشو.

۳۲۰۰۰۰ ایټالوي فوځ ووژل شو، په زرګونو ټوپکې او ماشینې یې له لاسه ووتې، دغه جګړه چې د کیپو ریټو په سیمه کې وشوه، کله کله د ایسونز د ۱۲ جګړې په نوم هم یادیږي، ایټالوي فوځ چې اقتصاد او ټولنیز حالات یې ډېر خراب شوي و، اوس یې په میړانه جګړه کوله او دې ته چمتو نه وه، چې د ګراپا غرونه دې د دښمن لاسته ورشي، هغه په پرعزمه او باحوصله وه، په میړانه یې جګړه کوله، د کیپو ریټو د جګړې په پیل او پای کې اوس توپیر موجود وه.

لومړیو کې ایټالوي فوځ ماته خوړلې او کم همته ښکاریده؛ خو د قوي دښمن په مخکې یې اوس په ډېرې میړانې سره جګړه کوله، هغوی ته یې موقع ورنکړه، چې په غره باندې یو قدم هم مخکې راشي، اوس یې د دښمن پروا نه کوله او د سره یې د خپلو سیمو د نیولو لپاره کوښښونه پیل کړي وه، اوس ایټالوي فوځ په هر لحاظ ښه شوی وه.

Visit www.ketabton.com for more Pashto ebooks.

د ترکيې جبهه

جنرال موود ته په بغداد باندې د حملې کولو امر شوی وه، هغه ددې موخې لپاره خپل د حمل و نقل سیستم محفوظ کړ، هغه ته ۶۴ بحري بیړۍ هم ورکړې وې.

هغه اوس د کټ د نیولو کوښښ پیل کړی وه، د فبرورۍ په ۱۷ یې کوښښ پیل کړ؛ خو د ترکي فوځ لخوا په شا وتمبول شو، ۵ ورځې وروسته د فبرورۍ په ۲۲ یې ګوله باري وکړه او دغه ښار یې وران ویجاړ کړ، د جنرال موود فوځ د مارچ په منځ ددې وړ وه، چې په بغداد باندې حمله وکړي.

د بغداد خواته روان وه، چې په العزیزیه کې د ترکي فوځ د سخت مخالفت سره مخ شو، دلته ۳۵۰۰۰ تنه ترکي فوځ موجود وه، د جنرال موود سره ۱۲۰۰۰ فوځ وه، چې درندې وسلې، قوي توپ خانې، جنګې الوتکې او کوچنۍ بحري بیړۍ یې هم په لاس کې وې، دا د ترکي فوځ څخه څو ځله زیات وه.

جنرال موود د حملې پلان جوړ کړ، د هوایي ځواک، توپخانې او بحري بیړیو په واسطه یې ګوله باري پیل کړه، په ګوله بارۍ کې یې خپل فوځ ته د مخکې تګ امر هم وکړ، ترکي فوځ یې مقابله ونشوه کړای او د مارچ په ۱۱ یې بغداد په خپله ولکه کې راووست او ۹۰۰۰ تنه ترکي فوځ یې اسیر کړ.

د غزې لومړۍ او دویمه جګړه

د ۱۹۱۷ ز کال په مارچ کې جنرال مري ددې وړتیا ترلاسه کړه، چې په سینا کې ترکي فوځ شا تګ ته اړ کړي او د فلسطین خواته مخکې ولاړ شي، اوس یې په غزې باندې د حملې پلان جوړ کړی وه، د مارچ په ۲۶ یې حمله پیل کړه، په دې وخت کې ۱۶۰۰۰ پیاده فوځ، ۶۰۰۰ سپور فوځ د جنرال مري د لاس لاندې وه، په مقابل کې یې ۴۰۰۰ ترکي فوځ وه.

ددې حملې یوه موخه په جغرافیایي لحاظ د ترکیې د فوځ ویشل وه؛ خو اصلي موخه یې د ترکیې منتشر کول او له منځه وړل وه، تر څو د مسلمانانو اسلامي جذبه ختمه کړي او د ترکیې د قوت د پای ته رسیدو په پایله کې لویدیز او اسلام دښمنه

Visit www.ketabton.com for more Pashto ebooks.

هیوادو ته وروستی قوي مسلمان هیواد هم له منځه یوسي او په فلسطین کې یو قوي یهودي هیواد رامنځته کړي.

د غزې په لومړۍ جګړه کې د انګلیسي فوځ مشري جنرال مري د خپل لاس لاندې جنرال ډوبل ته وسپارله، جنرال ډوبل سره ۳ برخې پیاده او ۲ برخې سپور فوځ وه، چې مشري د جنرال چیټ ووډ په لاس کې وه، د سینا د جګړې په شان په دې جګړه کې هم د اوبو رسول ډېر اړین وه، چې دا د بریا لپاره ډېر اړین شرط ګڼل کیده.

د مارچ په ۲۶ سهار د لوګي باوجود انګلیسي فوځ حمله وکړه او د غزې ښار په ښار یې حمله پیل کړه، سپور فوځ مخکې او پیاده ورپسې وه، حمله ډېره قوي وه، سپور فوځ د خپلو اسونو لپاره اوبه نه درلودې، د اوبو یوازینی لاره د غزې دننه یو ډنډ وه.

۱۰۰۰۰ اسونه د تندې له لاسه په ډېر بد حالت کې ول، انګلیسي سپور فوځ مخکې لاړه او یوه قوي حمله یې وکړه، څو ګروپه فوځ یې نږدې ډنډ ته ورسیده او خپل اسونه یې پښه کول؛ خو په همدې وخت جنرال چیټ ووډ د شا تګ امر ورکړ او د بلې ورځ لپاره یې حمله ودروله، په دې وخت کې دا ډېره غلطه پریکړه وه؛ ځکه سپرو کولای شول، چې حمله وکړي او غزه ونیسي.

دویمه ورځ یې بیا حمله وکړه؛ خو بریالي نشول، ترکي فوځ انګلیسي فوځ شا تګ ته اړ کړ، جنرال مري خپلو مشرانو ته ټیلي ګراف وکړ، چې دښمن ته درې برابره زیان رسیدلی ده او محاصره کړی مو دی؛ خو ددې پیغام د وررسیدو لږ ځنډ وروسته انګلیسي فوځ شا تګ کړی وه، ۴۰۰۰ تنه انګلیسي او ۲۴۰۰ تنه ترکي فوځ وژل شوی وه.

جنرال ډوبل د ۱۹۱۷ ز کال د اپریل په ۱۷-۱۹ د یوې بلې حملې پلان جوړ کړ، ترکي فوځ اوس په خپل دفاعي حالت کې نه وه، زیات خندقونه یې ویستي ول او د غزې ښار یې د خندقونو په واسطه کلابند کړی وه.

Visit www.ketabton.com for more Pashto ebooks.

د انګلیسي فوځ حمله بیخي ناکامه شوه، په دې جګړه انګلیسي فوځ ټانکونه هم استعمال کړي ول.

۶۵۰۰ تنه انګلیسي او ۲۰۰۰ تنه ترکي فوځ وژل شوی وه.

د غزې دریمه جګړه

د انګلیسي جنرال موود پر ځای جنرال ایډمونډ ایلن بي د انګلیسي فوځ مشر ټاکل شوی وه، دلته نور درې برخې انګلیسي فوځ هم زیات کړل شوی وه او څلور نور رالیږلی وه، اوس جنرال ایلن بي په غزه باندې د حملې پلان جوړه.

هغه خپل فوځ په دوه برخو باندې ویشلی وه، توپ خانې، سپور او پیاده فوځ ته یې په غزه باندې د حملې امر کړی وه او د استرېلیا او نوي زیلاند فوځ ته یې د ختیځ له لارې په ببرشیبا باندې د حملې امر کړی وه.

په ببرشیبا باندې د اکتوبر په ۳۱ حمله پیل شوه، دا ډېره مهمه جبهه وه؛ ځکه د سپور فوځ اوبه ډېرې مهمې وې.

د جنرال ایلن بي فوځ ببرشیبا په اسانۍ ونیوله، هغه اوس دسمندر غاړې ته متوجه شوی وه، ددې موخه په غزه کې د جنګیدونکي ترکي فوځ پام اړول وه، هلته موجود انګلیسي او فرانسوي فوځ د توپونو په مرسته حمله وکړه او د ترکي فوځ اړیکه یې د غزې سره پرې کړه.

انور پاشا کوښښ کاوه، چې د ترکي او ۶۰۰۰ جرمني فوځ په مرسته په بغداد حمله وکړي او د دښمن نه یې ونیسي؛ خو دا کار ونشو؛ ځکه په چټک ډول د یوه ځای څخه وبل ځای د دومره زیات فوځ انتقال اسانه کار نه وه.

جنرال فالکن د فلسطین خواته مخکې لاړه؛ خو دومره فوځ قوت ورسره نه وه، اخر انګلیسانو د نومبر په ۷ غزه ونیوله.

ددې لپاره چې د ښار تقدس پایمال نشي، ترکي حکومت پریکړه وکړه، چې ښار انګلیسي حکومت ته وسپاري، هماغه وه، چې د دسمبر په ۱۱ جنرال ایلن بي د یروشلم (بیت المقدس) ښار ونیوه او ښار یې ښاري ښاروالۍ ته وسپاره.

Visit www.ketabton.com for more Pashto ebooks.

جنرال فالکن یو ځل بیا خپل فوځ راټول کړ او د بیت المقدس د نیولو کوښښ یې وکړ، د دسمبر د ۲۶-۳۰ پورې ترکي فوځ په ډېره میړانه جګړه وکړه؛ خو د خپل ځان څلور برابره فوځ یې شاته نکړ، مقابل کې یې انګلیسي جنرال چیټ ووډ یوه قوي حمله وکړه او ترکی فوځ یې ۸ میله شا تګ ته اړ کړ.

د فلسطین په دې جګړه کې ترکیې ته د ۲۵۰۰۰ فوځ زیان واوښت، چې ددې څخه یې ۱۲۰۰۰ تنه اسیر ول، بلخوا انګلیسي فوځ ته د ۱۸۰۰۰ تنو زیان اوښتی وه.

د عربو په جبهه کې انګلیسي فوځ شریف حسین ته دنده ورکړې وه، چې د ترکیې د حکومت سره غداري وکړي، د شریف حسین زامنو د حجاز په ریل پټلۍ باندې حمله وکړه او د حمل و نقل لاره یې ورانه کړه، لارنس ته دنده ورکړل شوې وه، چې د شریف حسین د زوی سره واوسیږي.

ترکي فوځ ارمنیا او جارجیا ته مخه کړه، ویل کیږي، چې زیات خلک یې ووژل، د ځینو امریکایي مؤرخینو په نظر چې پنځه لکه کسان یې وژلي دي.

بحري جبهه

په ۱۹۱۷ ز کال کې په جګړه کې د امریکا په داخلیدو سره متحدو فوځونو ته قوت ور په برخه شو، چې بحري جبهه یې ډېره قوي شوه، امریکا د جرمنی سوداګري د نورو هیوادونو سره منع کړه.

په دې کار سره مرکزي قوتونه د ماشینونو، لیږد رالیږد او د جګړې د نورو وسائلو څخه محرومه شو.

ددې کار په ځواب کې جرمني د ابدوزو جګړه پیل کړه، ددې څخه یې هدف د انګلستان د سوداګرۍ مخه نیول ول، انګلستان چې ټول انحصار یې په بحري سوداګرۍ باندې وه، جګړه ساتل یې پرته له بحري لارو څخه ناشونی ښکاریدل، که چیرته جرمني یو کال په دې بحري جګړه کامیاب شوی وای؛ نو د جګړې پایلې داسې نه وې لکه اوس چې دي.

Visit www.ketabton.com for more Pashto ebooks.

د جرمني د حکومت او فوځ تر منځ يې ځيني ستونزې موجودې وې، اميرالبحر ترپز غوښتل، چې د قوي حملو له لارې دښمن ته ماتې ورکړي؛ خو د جرمني پاچا دويم ويليم او چانسلر يې په سفارتي اړيکو باندې ټينګار کاوه، اميرالبحر ترپز د ۱۹۱۶ ز کال د مارچ په ۱۶ استعفاء ورکړه، چې په ځای يې شيکر وټاکل شو، شيکر د ابدوزو او د نړيوال بحري سوداګريز قانون د ماتولو څخه انکار وکړ.

په جګړه کې د انګلستان او فرانسې سربيره د امريکا په داخليدو د جرمني خلکو د حکومت څخه غوښتل، چې اوس بايد انګلستان ته ماته ورکړل شي، د انګليسي تلويزونو د پروپاګند په ذريعه د امريکا د خلکو کرکه د جرمني پر ضد راپاريدلې وه، چې په دې سره د امريکا خلکو د جرمني پر ضد د جګړې اعلان وکړ.

د ابدوزو د جګړې په پېل کې د انګلستان حکومت د ستونزو سره مخ شو؛ ځکه چې د پسرلي موسم وه، په هرو څلور بيړو کې يې يوه خپل ځای ته نه رسيده.

جرمني د ابدوزو په جوړولو باندې ډېرې پيسې مصرف کړې، متحدو قوتونو د بحري بيړيو کاروانونه روان کړل.

په دې حالاتو کې امريکا شل لکه فوځ فرانسې ته ورسوه، چې همدا د متحدو فوځونو د بريا لامل شو.

هوايي جبهه

د لومړۍ نړيوالې جګړې په پېل کې هوايي جګړې په خپل لومړني دور کې وې، د جګړې لس کاله مخکې لومړنی هوايي پرواز شوی وه، د جګړې د پېل کيدو په وخت کې جنرالانو هوايي جګړه دومره بريالۍ نه ګڼله؛ خو هوايي حملو خپل ارزښت ثابت کړ.

جرمني د خپل قوي بحري فوځ په درلودلو سربيره په هوايي فوځ کې هم بريالی وه، د هوايي جګړې مهارت، ماشينونه جوړول او هوايي حملې يې د نورو نه ډېرې ښې وې.

Visit www.ketabton.com for more Pashto ebooks.

د جګړې په لومړیو څلورو کلونو کې هوايي حملو ته دومره توجه ونشوه، د ځمکني فوځ جنرالانو هم دومره ارزښت نه ورکاوه.

جرمني، فرانسې او انګلستان په ختیزه جبهه کې د خپلو فوځونو د مرستې لپاره د جنګي الوتکو استعمال پیل کړ، په لومړیو د الوتکو له لارې د فوځ د ځای په اړه معلومات اخیستل کیدل، وروسته یې مشینې ګنې پرې نصب کړې او یو یو ټوپک یې هم پرې ولګوه، اوس د الوتکو په جوړولو کې پرمختګ هم رامنځته شوی وه، د پیلوټ نه مخکې د مشینې ګڼ لپاره ځای هم جوړ شوی وه، تر څو د کومې ستونزې پرته ډزې وکړي.

د ۱۹۱۷ ز کال په منځ کې د الوتکو ارزښت زیات شود ایټالیي پر ضد د کیپو ریټو په جګړه کې جرمني د الوتکو څخه کار واخیست او د دښمن مورچو ته یې زیات زیان واړوه.

سفارتي اړیکې

د ۱۹۱۶ ز کال په پای کې د اسټریا حالات ډېر خراب شوي وه، د دوه ګوني سلطنت پاچا لومړي چارلس د بیلجیم شهزاده سیکسټس د فرانسې لومړي وزیر او ولسمشر ته ور ولیږه او د خپلې خوا نه یې د سولې شرائط ور وړاندې کړل، فرانسوي چارواکو دغه هڅه وستایله، په شرطونو باندې د نورو خبرو لپاره یې سیکسټس د ۱۹۱۷ ز کال په مارچ کې ور واستوه.

اوس د دواړو خواوو استازو ملاقات وکړ، د فرانسې لخوا څو نکتې وړاندې شوې، لومړی دا چې الزاس او لورن باید د فرانسې سیمې وګڼل شي، سربیا باید پخواني حالت ته پریښودل شي، بیلجیم باید ازاد او خودمختاره کړای شي، روس باید په قسطنطینیه باندي واکمن شي، سیکسټس د اسټریا پاچا لومړي چارلس ته ورغی او هم یې په برلین کې د چرمني د بهرنیو چارو د وزیر سره وکتل او شرطونه یې ور وړاندې کړل.

د اسټریا حکومت په دې شرائطو باندې غور پیل کړ؛ خو جرمني حکومت یې نه وه خبر کړی، چې د فرانسې د حکومت سره په خبرو اترو لګیا ده، په دې وخت

Visit www.ketabton.com for more Pashto ebooks.

کې د فرانسې لومړی وزیر انډ بدل او پر ځای یې الیګزنډر ری بوټ په چوکۍ کیناست، دا ظالم، جګړه مار او ضدي شخص وه او هم یې د بوربون کورنۍ نه خوښیده.

انګلستان هم ددې خبرو څخه خبر شو، انګلستان او فرانسې پریکړه وکړه، چې د سولې په خبرو کې دې ایټالیا هم شریکه کړای شي.

ایټالیې د لندن د تړون په پلې کولو باندې تأکید کاوه، په دې ډول د سیکسټس لخوا د سولې پېل شوې خبرې ناکامې شوې.

د ۱۹۱۷ ز کال په جون کې پاپ بینیډکټ واتیکان پنځم لسم دا وخت مناسب وګڼه، هغه د جګړه کوونکو هیوادونو د داخلي حالاتو او د سولې په اړ د هغوی د نظر د معلومولو لپاره خپل نمائنده مونسیګنو راو ګینیو پیسیلي ولیږه، هغه د جګړه کوونکو هیوادونو په اړه معلومات ورکړل، د جرمني په اړه راپور کې پیسیلي وویل، چې چانسلر د مثبت فکر لرونکی دی او قیصر او د هغه جنرال د سولې په اړه هیڅ مثبت نظر نه لري؛ خو کیدای شي، چې قیصر د سولې خوا ته مائله کړای شي.

واتیکان ددې راپورونو په رڼا کې د ۱۹۱۷ ز کال د اګست په لومړۍ نیټه د جنګ بندۍ او عامه امن لپاره یو عمومي غوښتنه وکړه او د ټولو خواوو نه یې وغوښتل، چې د جګړې د پېل څخه دمخه جغرافیایي حالات دې رامنځته کړي.

متحدو هیوادونو د پاپ غوښتنه د جرمني غوښتنه وبلله، د پاپ لخوا د سولې لپاره دا کوښښ هم ناکام شو؛ ځکه اصلي ستونزه د بیلجیم د هیواد ستونزه وه.

**د ۱۹۱۸ ز کال د جګړې حالات**

دا د قوي جګړو د کال په نوم یادیږي، په دې کال کې هر هیواد د خپل دښمن هیواد د ماتولو کوښښ کاوه، دا د بشریت په تاریخ ځکه مهم دی، چې لومړۍ نړیواله جګړه په کې پای ته ورسیده، د انسانیت نور قتل عام ودریده، انسان یو ځل بیا ساه واخیسته.

Visit www.ketabton.com for more Pashto ebooks.

په عمومي ډول استریا، ترکیه، فرانسه او انګلستان د خپل خراب اقتصادي او ټولنیز حالات له امله ستړي شوي ول.

جرمني هم د بحري سوداګرۍ د بندیدو له وجې د خراب اقتصادي حالت سره مخ شوی وه؛ خو بیا هم د نورو هیوادونو په پرتله یې اقتصادي حالت ښه وه؛ خو نوي شریک شوي هیواد امریکا پرې ناوړه اغېز کړې وه.

اوس هغه پیښې چې په دې کال کې پیښې شوي دي، تر مطالعې لاندې نیسو.

ځمکنۍ، بحري او هوایي حملې

سږکال د پروسږکال په نسبت په ځمکنیو حملو کې زیاتوالی راغلی وه، په بحري جبهه کې جرمني د ولکې راوستلو لپاره ډېر کوښښ کاوه.

په دې کال کې هوایي فوځ خپل ارزښت ښکاره کړی وه، په دې کال دواړو خواوو خپل هوایي فوځ ښه وروزه، جنګي مهارت او چلونه ورزده کړل، ښې مشینګنې، عمله او نظم یې په کې رامنځته کړ.

د ختیزې جبهې پرته په ټولو جبهو کې جګړه په شدت روانه وه، لویدیزه جبهه د جګړې اصلي ډګر وه، دلته به د جګړې هره جبهه مطالعه کړو.

لوېدیزه جبهه

د ۱۹۱۸ ز کال په پیل کې د جګړه کوونکو هیوادونو حالات ډېر خراب شوي ول، امریکا یوازینی هیواد وه، چې د قوي اقتصاد په درلودلو یې په جګړه کې فیصله کن رول لوبوه.

امریکا تېر کال د اپریل په میاشت کې په جګړه کې د داخلیدو اعلان کړی وه؛خو فوځ یې سست حرکت کاوه او غیر فعال وه، متحدو فوځونو ترې ډېره هیله درلوده؛خو هغسې ونشول، د جرمني د فوځ مشر متحدو فوځونو ته د امریکا د مرستې د رسیدو څخه مخکې غوښتل، چې هغوی ته یوه قوي ماته ورکړي، هغه ددې لپاره د هوټیر پلان جوړ کړ.

Visit www.ketabton.com for more Pashto ebooks.

## د هوتیر جنګي پلان

د جرمني د فوځ مشر جنرال اوسکر وان هوتیر نومیده، د هوتیر د جنګي پلان له مخې لومړی باید د دښمن په فوځ باندې ګوله باري وکړل شي، تر څو د هغوی حالت خراب شي او بیا د پیاده فوځ لخوا پرې حمله وشي، هغوی به جګړه کوي ؛خو شا تګ ته به اړ شي.

ددې قوي ګوله باری لپاره ډېرې توپ خانې او بارودو ته اړتیا وه، د هوتیر جنګي پلان ډېرې معاملې اسانه کړې، هغه غوښتل، چې د دښمن په سیمو باندې دې ګیس وغورځول شي، تر څو د دښمن فوځ بې حسه او د حرکته ولویږي، په دې حمله کې به د دښمن خندقونه او فوځي مرکزونه هم په نښه کیږي.

ددې وروسته به دویمه مرحله شروع کیږي، په دې پړاو کې به د دښمن په فوځ باندې ګوله باري کیږي، د دښمن فوځ به د یوه بل سره بې اړیکې کیږي او شا تګ به کوي، د شا تګ په دوران کې به توپ خانه مخکې وړل کیږي، په عمومي ډول په یوه ساعت کې به یو کیلومتر مخکې تګ کیږي.

په دریمه مرحله کې به پیاده فوځ د توپ خانې وروسته روان وي او ساتنه به یې کوي، د دښمن فوځ به اسیروي او په نیول شویو سیمو به ولکه ټینګوي، په پای کې به کنترول د جرمني فوځ په لاس کې وي، نور مخکې تګ به هم وي او حمله به بریالی کیږي.

په څلورمه مرحله کې به حمله کوونکی فوځ یوه ځانګړي ځای ته مخکې تګ کوي، تر هغه ځایه چې مخکې تګ شونی وي، چې موخه یې معلومه شوې نه وه.

### لومړۍ جرمنی حمله (د سوم حمله)

د ۱۹۱۸ ز کال په پسرلي کې په جګړه کې د امریکا د داخلیدو دمخه جرمني په لویدیزه جبهه کې د یوې پریکونې حملې پلان جوړ کړی وه، ددې پلان مطابق د جرمني ۷۱ برخې فوځ به په دریو فوځونو باندې ویشل کیږي او د سوم د سیند په غاړه به مخکې ځي، په شمال کې به انګلیسي او جنوب کې به فرانسوي فوځ سره ویشي.

Visit www.ketabton.com for more Pashto ebooks.

د جرمني د فوځ مشر لیونډروف پوهیده، چې متحد فوځونه به د یوې مشترکې جبهې په جوړولو ناکامیږي، د فرانسوي فوځ لپاره مهم کار د پاریس ساتل وه؛ خو انګلیسي فوځ خپل بندرونه ساتل غوښتل، په دې ډول دواړه د یوې مشترکې جبهې په جوړولو کې پاتې راغلل او دواړه فوځونه سره وویشل شول.

د حملې پلان په لومړي سر کې ډېر ساده وه، د جرمني دریواړو فوځونو د اریس نه د لافیر پورې یوه دفاعي کرښه جوړوله، تر څو انګلیسي فوځ له منځه یوسي او د فرانسې نه یې وباسي او هم یې د فرانسوي فوځ سره اړیکه پرې کړي، د جنرال اټووان بلو په مشرۍ د جرمني ۱۷ فوځ چې د ۲۵ برخو څخه جوړ شوی وه، په شمال کې ځای پر ځای کړل شو، په منځ کې یې د جنرال ډرمارویټز په مشرۍ ۲۱ برخې فوځ ځای پر ځای شوی وه، په جنوب کې یې د اوسکر وان هوټیر په مشرۍ اتلسم فوځ چې د ۲۵ برخو څخه جوړ شوی وه، ځای پر ځای وه، دوی غوښتل، چې د دښمن فوځ په منځ کې درز رامنځته کړي.

د پلان مطابق د جرمني ۱۷ او دویم فوځ به دښمن شا تګ ته اړ کوي، د هوټیر اتلسم فوځ به د جنوب خواته مخکې ځي په جنوب کې به د دښمن فوځ څاري او د ځوابي حملو بار په خپلو اوږو واخلي، تر څو د دویم او ۱۷ فوځ په مخکې تګ کې کومه ستونزه رامنځته شي.

انګلیسي جنرال هیګ د خپل پنځم فوځ نه د حملې هیله وکړه، هغه د جنرل ګوه په مشرۍ پنځم فوځ، چې ۱۵ برخې وه، سربیره پر دې ۱۴ برخې نور فوځ او دریم فوځ د جنرال بینګ په مشرۍ شمال خواته ولیږه، تر څو هلته صف بندي وکړي، د جنرال ګوه پنځم فوځ په جنوب کې د فرانسي شپږم فوځ موجود وه، د فرانسې او انګلستان دفاعي تدبیرونه ډېر زیات مختلف ول، انګلیسي فوځ په دې وخت کې په ډېر کمزوري ځای کې وه.

د مارچ په ۲۱ سهار ۴:۴۰ د جرمني توپ خانې ۶۰۰۰ توپونه او ۳۰۰۰ دانې مارټر ګولۍ وویشتلې، چې د پنځه نیمو ساعتونو لپاره جارې وې، ګیس، دود او بارود وریدل، په ۹:۴۰ باندې جرمني فوځ په همدې حال کې مخکې تګ پیل کړ،

Visit www.ketabton.com for more Pashto ebooks.

په دوی پسې د هوتېر د پلان له مخې ۲۸ برخې نور فوځ وروسته روان وه، دود (لوګي) د انګليسي فوځ ګوله باري او ډزې کول سخت زيانمن کړل.

د حملې په لومړۍ ورځ انګليسي دفاعي کربښې ورانې شوې، په دا بله ورځ جنرال ګوه خپل فوځ ته امر وکړ، چې د سوم د سيند خواته شا تګ وکړي، جنرال بينګ هم په خراب حالت کې وه؛ خو په مقابل کې د جرمني دويم او ۱۷ فوځ ته هم دومره بريا ترلاسه نشوه.

د جنرال ليونډروف د پلان او هيلو مطابق ۱۷ او دويم فوځ اصلي موخه لاسته ترلاسه نکړه؛ خو د جنرال هوتېر ۱۸ فوځ بريا ترلاسه کړه، اوس نو د پلان د تغير وخت وه، جنرال ليونډروف جنرال هوتېر ته امر وکړ، چې د سوم د سيند په غاړه مخکې تګ وکړي او په انګليسي او فرانسوي فوځ باندې حملې جاري وساتي.

د مارچ په ۲۳ او ۲۴ د جرمني فوځ مخکې تګ روان وه، په ځانګړي ډول جنرال هوتېر چټک مخکې روان وه.

د مارچ په ۲۶ جنرال هوتېر بنه مخکې تګ وکړ، چې د فرانسوي او انګليسي فوځ تر منځ د اړيکو مرکز ته يې ګواښ پيښ کړ.

د جنرال هوتېر د مخکې تګ د مخې د نيولو لپاره فرانسې خپل ۶ برخې فوځ ور ولېږه، دوی ته يې امر وکړ، چې هر څنګه وي، د پاريس خواته يې د پرمختګ مخه بايد ونيسي، کنه نو خپله دفاعي کربښه دې وساتي، د مارچ په ۲۷ جنرال هوتېر ماؤنټډ ونيوه، اوس د جرمني ۱۸ فوځ ډېر ستړی شوی وه.

د مارچ په ۳۰ جنرال ليونډروف په نويون باندې حمله وکړه؛ خو دومره بريالۍ نه وه، د اپريل په ۴ يې کوښښ وکړ، چې د انګليسي فوځ په منځ کې درز رامنځته کړي؛ خو دا ځل هم ناکام شو او دا جګړه يې پای ته ورسوله.

په دې جګړه کې جرمني ۴۰ ميله مخکې تګ وکړ، ۷۰۰۰۰ تنه يې ونيول او ۱۱۰۰ توپکې يې لاسته ورغلې، بلخوا ۲۰۰۰۰۰ انګليسي فوځ قرباني ورکړه،

Visit www.ketabton.com for more Pashto ebooks.

جرمني هم همدومره زيان وکړ، د جرمني د فوځ زيان له دې هم ډېر وه؛ ځکه چې روزل شوی فوځ يې زيات ووژل شو، چې دا کمي يې بيا پوره نشو کړای.

دويمه جرمنۍ حمله (د لېز حمله)

جرمني په لومړۍ حمله کې خپلې موخې ترلاسه نکړې، جنرال ليونډروف د انګليسي فوځ د له منځه وړلو لپاره بيا پلان جوړ کړ، هغه يقيني وه، چې که په سټرې انګليسي فوځ باندې حمله وکړي؛ نو زيات زيان به ورواړوي.

هغه د پاريس سره نږدې د ليز په سيمه کې موجود ۳۵ برخې فوځ ته چې څلورم او شپږم فوځ وه، د حملې امر وکړ، د څلورم فوځ مشري جنرال سکسټ او د شپږم فوځ مشري د جنرال فرديناند په لاس کې وه.

د اپريل په سهار ۹:۰۰ د ګيس او ګوله بارودو وروسته د جرمني د شپږم فوځ ۸ برخو د ارمينټير له جنوب نه حمله وکړه، مقابل کې يې ۳ برخې انګليسي فوځ موجود وه، د انګليسي فوځ په منځ کې پرتګالی فوځ پروت وه، چې دوه برخې فوځ ته يې د دفاع دنده ورکړل شوې وه.

د جرمني شپږم فوځ په درې ساعتونو کې وکولای شول، چې د انګليسي فوځ دفاعي نظام له منځه يوسي او اوس جرمني فوځ ټول خندقونه نيولي ول، د ورځې تر پايه انګليسي فوځ ۵ ميله شا تګ کړی وه.

په دا بله ورځ د جنرال ارنم څلورم فوځ د ۴ برخو په واسطه په يوه برخه فوځ باندې حمله وکړه، د تېرې ورځې د حملې په وجه انګليسي فوځ جنوب ته وغوښتل شو، د اپريل په ۱۱ د جرمني دواړو فوځونو د يوه بل سره وليدل او د جنوب خواته يې مخکې تګ پيل کړ.

د اپريل په ۱۲ د انګليسي فوځ حالت ډېر خراب وه، هغوی کليوالو سيمو ته منډې وهلې، د جرمني د فوځ حملې د اپريل د ۲۹ پورې روانې وې؛ خو نوره بريا يې ترلاسه نکړه.

Visit www.ketabton.com for more Pashto ebooks.

په دې جګړه کې جرمنی فوځ بریالی وه؛ خو اصلي موخې یې ترلاسه نکړې، په دې دویمه حمله کې یې ۳۵۰۰۰۰ تنه فوځ په کار شو او د انګلستان ۳۰۵۰۰۰ تنه د جګړې خوراک شو، جرمني د فوځ د کموالي سره مخ وه او د پوره کولو لپاره یې هیڅ لاره نه درلوده؛ خو مقابل کې متحد فوځ ته امریکا قوت ورکړی وه، چې تکړه او روزل شوی فوځ وه.

دریمه جرمنۍ حمله (د ائزن جګړه)

جنرال لیونډروف ددې لپاره چې دښمن ته بیا ماته ورکړي، د فلینډرز په سیمه یې د دوه حملو پریکړه وکړه، د جګړې لپاره یې د ائزن د سیند غاړه ډیس ډامیس وټاکله، دلته د ائزن د سیند سره د سوئزون او رائمز سیندونه یو ځای کیدل، چې دې سیمې جرمني ته زیاته ګټه رسولای شوه.

د مۍ په ۲۷ سهار د جنرال وان بلو لومړي فوځ او د جنرال میکس د اووم فوځ ۱۷ برخې د متحد فوځ په جنرال ډوچین باندې حمله وکړه، د جرمني فوځ وروسته ۱۳ برخه هم راراونه وه، د حمله کوونکي جرمني فوځ سره ۴۶۰۰ ټوپکې هم وې، جنرال ډوچین د خپلو سیمو ساتنه کول غوښتل، ټول فوځ یې د دښمن مخې ته ودروه او دفاعي کربښه یې جوړه کړه او شاته ځای یې خالي پریښوده، تر څو په ښه ډول د دښمن مقابله وکړي.

جرمني فوځ د جنرال ډوچین لومړنی صف له منځه یوړ او د ماښام پورې یې ۱۳ میله مخکې تګ کړی وه او د ویسل د سیند غاړې ته د فیس میس سیمې ته نږدې شول، جنرال لیونډروف د فلینډرز په سیمې باندې د حملې امر وکړ.

جرمني فوځ د پاریس خواته ۳۷ میله مزل د کومې ستونزې د رامنځه کیدو پرته وکړ، په دې ستونزمن وخت کې متحدو فوځونو د امریکایي فوځ نه مرسته وغوښته، امریکایي فوځ ۱۱۰ میله مزل وواهه او ځان یې د جګړې ډګر ته ورسوه او د جرمني د مخکې تګ مخه یې ونیوله، جرمني فوځ درې ورځې کوښښ وکړ؛ خو ونه توانیدل چې مخکې لاړ شي.

Visit www.ketabton.com for more Pashto ebooks.

په دې حمله کې جنرال ليونډروف بريالی شو؛ خو د لښکرکشۍ اصلي موخه يې ترلاسه نکړه.

ځلورمه جرمنۍ حمله (د نويون-ماؤنټډ جګړه)

اوس جنرال ليونډروف په ډېر خطرناک حالت کې وه، د نيول شويو سيمو تنظيم ډېر ستونزمن وه؛ ځکه نو د نيول شويو سيمو پرېښودل او دفاعي حالت خپلول ورته غوره ول؛ خو دا کار د عامو خلکو د ناخوښۍ د فوځ د بې همتۍ او د دښمن د خوښۍ او د هغوی د بريا او لوړ همتۍ باعث کيده.

ځکه، نو هغه ته اړينه وه، چې نيول شوې سيمې وساتي او د خپلو موخو د ترلاسه کولو لپاره مخکې تګ وکړي، دښمن ډېر کمزوری کړي، ددې موخې د ترلاسه کولو لپاره يې د ماؤنټډ-نويون د دوه شاخې څخه حمله کولو غوښتل.

جګړې بله موخه هم درلوده، د دريمې جرمنۍ حملې په پايله کې انګليسي فوځ ډېر خراب شوی او ټول فوځ يې جنوب خواته راغلی وه؛ ځکه نو د شمال له لوري د فلينډرز د سيمې څخه پرې حمله کيدای شو.

د جون په ۹ د جنرال هوټير ۱۸ فوځ د ماؤئټډ-نويون له سيمې نه حمله پيل کړه او د جنرال ميکسن فوځ په سوئزون باندې حمله وکړه، د فرانسوي فوځ مشر جنرال فايي يول يې د ماتې لپاره يو غوره تکنيک جوړ کړی وه، جنرال يول د دفاع لپاره يوه قوي دفاعي کرښه جوړه کړه او دغه کرښه به د ډزو په وجه بالاخره دښمن ته ماته ورکوي.

د جرمني حمله د جنرال يول د دفاعي تدبير په وجه ناکامه شوه، جرمني ته زيات زيان واوښت او يوازې ۹ ميله مخکې تګ يې وکړای شو، وروسته د فرانسوي فوځ حملې زياتې شوې او د جرمني فوځ د مخکې تګ مخه يې ډپ کړه، د جون په ۱۳ جګړه پای ته ورسيده، په دې جګړه کې جرمني فوځ ته زيات زيان ورسيده او مقابل لوري کې فرانسوي فوځ ته کم.

Visit www.ketabton.com for more Pashto ebooks.

پنځمه جرمنۍ حمله (د چمپین-مارین جګړه)

د څلورمې جرمنۍ حملې یوه میاشت وروسته د جګړې جبهه لږ څه ارامه وه، د جرمني زیاتو مشرانو د سولې غږ پورته کاوه؛ خو جنرال لیونډروف په فلینډرز باندې د حملې خپل پلان عملي کول غوښتل.

د څلورمې جګړې په جریان کې جرمنۍ فوځ د خراب موسمي حالت په وجه په زکام او نورو وبایي ناروغیو باندې اخته شو، ددې حالت په اړه متحدو فوځونو ډېر پروپاګند کاوه.

د امریکایي فوځ په راتلو د متحدو فوځونو ځواک د جرمني برابر شوی وه، په جګړه کې د امریکا داخلیدو جګړه بیخي بدله کړه، اوس جګړه په نویو ساینسي وسائلو باندې کیده.

د خراب حالت په درلودلو سره بیا جنرال لیونډروف په دوه ځایونو باندې د قوي حملو پلان جوړ کړی وه، ۵۲ برخې جرمنۍ او ۳۶ برخې متحد فوځ د یوه بل مخامخ ول، په ۳۶ برخو کې ۲۳ فرانسوي، ۹ انګلیسي، ۲ ایټالوي او ۲ امریکایي برخې وې.

د پلان مطابق د جرمني اووم فوځ به ریمز په خپله ولکه کې راولي، لس ورځې وروسته به د جرمني لومړی فوځ د مارن په ختیزو سیمو باندې حمله کوي.

د جرمني اووم فوځ به د معمول مطابق ګوله باري کوي؛ خو دا ځل جنرال فوش قوي ګوله باري پېل کړه، په دې ډول متحد فوځ نږدې پروت جرمني فوځ ته سخت زیان واړوه او مخکې پروت صف یې ګډوډ کړ.

د لومړۍ جرمنۍ حملې غوندې پنځمه حمله هم ناکامه شوه، بلخوا لومړي فوځ لږه بریا ترلاسه کړه؛ خو وروسته متحد فوځونه ډېر مقاومت وکړ او هغوی یې نورې بریا ته پرینښودل.

د جرمني فوځ مورال ډېر ټیټ شوی وه، دښمن یې اوس ډېر مقاومت پېل کړی وه، د هغوی د مخکې تګ مخه یې نیوله.

Visit www.ketabton.com for more Pashto ebooks.

په مجموعي توګه په دې پنځو جرمنیو حملو کې د جرمني ۸ لکه بهترین، قوي او تجربه کار فوځ ووژل شو، فوځ کې یې وبایي ناروغی خپرې شوې وې، اوس جرمنی فوځ د حملې کولو په حالت کې نه وه.

د متحدو فوځونو لومړۍ ځوابي حمله (د ائزن-مارن جګړه)

جنرال فوش د جرمني فوځ پرضد د قوي حملو لپاره له مخکې څخه پلان جوړ کړی وه، تر څو خپلو سیمې بیرته ونیسي، هغه په دې انتظار وه، چې څه وخت به جرمنی حملې ناکامیږي او د هغوی په ستړي فوځ به حمله کوي، د جرمني د پنځمې حملې وروسته یې سمدستي د جولایي په ۱۸ حمله پیل کړه.

د فرانسي لسم او شپږم فوځ ته د لویدیزې جبهې څخه د حملې امر شوی وه او نهم او پنځم فوځ د ختیځ خوا څخه حمله کوونکی وه، د پلان مطابق د جولایي په ۱۸ سهار وخت لسم فوځ او یو ساعت وروسته شپږم فوځ حمله پیل کړه، جګړه د مارن په سیمه کې ښه ګرمه روانه وه.

په دې جګړه کې د متحدو فوځونو سره ۳۵۰ ټانکه ول، په لومړۍ نړیواله جګړه کې مخکې له دې ټانکونه په دومره ښه ډول نه وه استعمال شوي، لکه څنګه چې په دې جګړه کې استعمال شول، د شپې پورې متحد فوځونو ۵ میله مخکې کړی وه، په دا بله ورځ لسم فوځ د سوئزون-کیټو-تیهري د سړک خواته مخکې روان وه.

په دې سړک یې حمله وکړه، چې په دې سره د دښمن د حمل و نقل لاره بندیده؛ خو ددې ځای د نیولو څخه تېر شول، جرمني فوځ شا تګ وکړ، هغه ځای ته ولاړل، چې د کوم ځای څخه ورته سامان الات او خوراکي توکي راتلل.

د اګست په دریمه جرمنی فوځ د شا تګ په پایله کې د ویسل او ائزن د سیند شاته خپلې قوي مورچې ته ورسیده، د اګست په ۶ دوه برخې امریکایي فوځ د جرمني په فوځ حمله وکړ؛ خو بریالي نشول، د یوې بریا په ترلاسه کولو سره متحدو فوځونو جشن جوړ کړ او په پاریس کې یې اتش بازي وکړه، خلک ډېر خوشحاله شول، جنرال فوش ته د (مارشال) لقب ورکړل شو.

Visit www.ketabton.com for more Pashto ebooks.

د متحدو فوځونو دويمه ځوابي حمله (د ايمنز جګړه)

متحدو فوځونو په جولايي کې د ايمنز د نيولو پلان جوړ کړی وه، د پلان مطابق څلورم انګليسي فوځ به د ختيځ له لوري حمله کوي، د ښي خوا څخه به يې د فرانسې لومړی فوځ مرسته کوي او د فرانسې دريم فوځ به د جنوبي غاړې لخوا په دښمن باندې فشار اچوي.

په دې حمله کې ۶۰۰ نوي جوړ شوي ټانکونه استعال شول، ۱۹۰۰ جنګي الوتکې په وکارول شوې، بلخوا جرمنۍ فوځ د تخنيک او شمېر له مخې ډېر کمزوری وه، په دې سيمه کې د جرمني دويم او ۱۸ فوځ موجود وه، چې يو څو ټانکونه او نږدې ۳۵۰ الوتکې يې درلودې.

په دې ډول دا يو طرفه جګړه وه، د اګست په ۸ سهار ۴:۲۰ بجې انګليسي فوځ حمله پېل کړه، انګليسي فوځ د ټانکونو شاته روان وه، يو ساعت وروسته لومړي فرانسوي فوځ حمله پېل کړه.

په دې جګړه جرمني ته زيات زيان واوښت، د ټانکونو په مقابل کې د جرمني ۶ برخې فوځ يا شا تګ وکړ او يا هم تسليم شول، په دوه ساعتونو کې ۱۶۰۰۰ تنه جرمنۍ فوځ اسير شو او د غرمې پورې متحد د جرمني د فوځ نه يوازې ۹ ميله لرې وه.

جنرال ليوډنډروف وويل، چې د اګست ۸ د جرمني په تاريخ کې توره ورځ ده، په دې بريا سره د متحد فوځ حوصلې لوړې شوې، د اګست د لسمې پورې متحد فوځ ۱۲ ميله نور هم مخکې تګ کړی وه.

جنرال فوش جنرال هيګ ته امر کړی وه، چې مخکې ته ادامه ورکړي، تر څو د دښمن د ماتې څخه ګټه پورته کړي، جنرال هيګ دا حمله پای ته ورسوله او د اګست په ۲۱ بيا نوې حمله پېل کړه، جرمني فوځ يې د حملې ښه ځواب ورکړ.

Visit www.ketabton.com for more Pashto ebooks.

د اګست په ۲۳ جنرال هيګ د يوې عمومي حملې امر وکړ، په دې سره جرمني فوځ نور شا تګ هم وکړ، د اګست په ۳۰-۳۱ متحد فوځ د سينټ کوئنټن د غره لوړې څوکې ونيولې.

د پرلپسې ماتو وروسته، د اګست په مياشت کې يو کراون کونسل(جرګه) جوړه شوه، چې د جګړې حالت وڅيړې او د راتلونکي لپاره پلان جوړ کړي، جنرال ليوډنډروف خپله استعفا وړاندې کړه؛ خو ونه منل شوه او پريکړه وشوه، چې د اخري سلګۍ پورې به په فرانسه کې د خپلې دفاعي کرښې د ساتلو لپاره جګړه روانه وي.

د بې طرفه هيوادونو لخوا د سولې د راوستو لپاره کوښښونه روان ول، په لومړيو کې لږ څه پرمختګ شو؛ خو وروسته هر څه ناکام شول.

د متحدو فوځونو دريمه ځوابي حمله (د سينټ مي هيل جګړه)

جرمني د فوځ د کموالي په وجه هره لحظه شا تګ کاوه، تر څو سينټ مي هيل ته ورسيده، د امريکا نوي روزل شوي فوځ چې دا خبر واوريده، پريکړه يې وکړه، چې په دې ستړي شوي فوځ باندې بايد حمله وکړي، د خپل فوځ مورال يې لوړ کړ، په دې سره په متحدو هيوادونو کې خپلې نمبرې لوړې کړې.

ددې موخې لپاره امريکايي جنرال پيرشنګ د جنرال فوش نه اجازه واخيسته، اخو د جرمني شا تګ وروستۍ مرحلې ته رسيدلی وه، د سپتمبر په ۱۱ جرمني خپله اخري توپ خانه انتقالوله، په دا بله ورځ جنرال پيرشنګ يوه قوي حمله وکړه، جرمني فوځ لږ لږ مقاومت کاوه؛ خو په برياليتوب سره يې د شا تګ عمل روان وساته.

د متحدو فوځونو وروستۍ حملې

د جنرال فوش او نورو متحدينو له نظره يې د ۱۹۱۹ ز کال په مارچ کې بايد وروستۍ حملې پيل شي؛ خو وروستيو جګړو يې پلان بدل کړ؛ ځکه چې حوصلې يې لوړې شوې وې، اوس جنرال فوش د دښمن د شا تګ لپاره پلان جوړ کړ، هغه

Visit www.ketabton.com for more Pashto ebooks.

پوه شوی وه، چې جرمنۍ فوځ قوي بحران سره مخ دی، یو د فوځ کموالی بلخوا د سوداګریزې لارې بندوالی او بل اقتصادي وران ویجاړ حالت.

په دې حالاتو کې هغه فکر وکړ، چې په دښمن باید وروستۍ حملې پیل شي، انګلیسي پارلمان هم ددې جګړې سره موافقه وکړه.

اوس متحد فوځونه ۲۲۰ برخې وه، چې ۱۰۲ فرانسوي، ۶۰ انګلیسي، ۴۲ امریکایي، ۱۲ بلیجیمي، ۲ ایټالوي او ۲ برخې پرتګالی فوځ وه، په دوی کې امریکایي فوځ د ډیر قوت خاوند وه او نور نسبتاً کمزوري ول، ۱۶۰ برخې یې جګړې ته چمتو کړی وه او ۶۰ یې د محفوظ فوځ په توګه ساتلی وه.

مقابل کې یې ۱۹۷ برخې جرمنۍ فوځ وه، چې ۱۸۴ یې جنګي وه.

متحد فوځ د سره منظم شوی وه، جنرال فوش نسل او هیواد ته د نظر کولو پرته فوځونه منظم کړي ول، فرانسوي جنرال د انګلیسي، امریکایي مشرانو د لاس لاندې ول او همداسې برعکس.

د سپتمبر د ۲۶ څخه د اکتوبر د ۳۱ پورې

۱- جنوبي پنسر (میوز-ارګان)

په میوز او پنسر کې جرمنۍ فوځ موجود وه، امریکایي فوځ ته امر وشو، چې حمله پرې وکړي، ددې جګړې لپاره د فرانسې ۲۲۰۰۰۰ تنه فوځ دلته راوستل شو او ۶۰۰۰۰۰ امریکایي فوځ د سینټ می هیل ته را راون کړل شو.

د فرانسې څلورم فوځ هم د ښي خوا څخه دلته متوجه شوی وه، د سپتمبر په ۲۶ د سهار په ۵:۲۵ بجو فرانسوي فوځ حمله پیل کړه، لومړۍ یې قوي ګوله باري وکړه او بیا یې مخکې تګ پیل کړ، د سپتمبر د ۲۷ ماښام پورې یې ۳ میله مخکې کړی وه، څو منټه وروسته امریکایي فوځ د جنرال پرشنګ په مشرۍ په فرانسوي فوځ باندې حمله وکړه.

نورې درې ورځې قوي جګړه روانه وه، د اکتوبر د لومړۍ نیټې پورې فرانسوي فوځ نور ۶ میله مخکې تګ کړی وه، د اکتوبر د ۹ پورې یې نور ۱,۵ میله مخکې

Visit www.ketabton.com for more Pashto ebooks.

تګ وکړ، فرانسوي فوځ باحوصله وه او په میرانه یې جګړه کوله، مقابل کې یې جرمني فوځ د دفاع لپاره ډېرې هڅې کولې، د اکتوبر د ۳۱ پورې څلورم فوځ نږدې ۲۰ میله مخکې تګ کړی وه.

د سپمتبر په ۲۶ امریکایي فوځ ناڅاپي حمله وکړه او لږ څه بریا یې ترلاسه کړه، د ماښام پورې یې جرمنی فوځ ۵ میله شا تګ ته اړ کړ، وروسته بیا امریکایي فوځ قوي حملې پېل کړې، د امریکایي فوځ مخکې تګ د اکتوبر د لومړۍ نیټې پورې روان وه، جرمني فوځ ډګر پرېښود.

د اکتوبر په ۴ امریکایي فوځ بیا منظم شو او حملو ته یې ځان چمتو کړ، د امریکایي فوځ مرستې ته دویم فوځ هم راغی، ټوله میاشت قوي جګړه روانه وه، د اکتوبر د ۳۱ قوي امریکایي فوځ یوازې ۱۰ میله مخکې تګ کړی وه.

۲- لویدیځ پنسر (کیمبرائي-سینټ کوئنټن)

په دې سیمه کې د فرانسې د لومړي فوځ سربیره لومړی، دویم، دریم او څلورم انګلیسي فوځ موجود وه، د سپتمبر په ۲۷ حمله پیل شوه، د حملې د پټولو لپاره لومړی ګوله باري ونه کړل شوه، یوازې پیاده فوځ یې ورولیږه، د فوځ شاته یې ټانکونه روان کړي وه؛ خو بریالي نشول.

د سپتمبر د ۲۸ په شپه متحد فوځ د دښمن دفاعي کرښه ماته کړه او ۶ میله مخکې ولاړ، جنرال لیوډنډروف جنرال هیډن برګ ته په راپور کې وویل، چې د ماتې نه د ځان ساتلو یوازینی لپاره جنګ بندي کول دي.

د سپتمبر په ۲۹ ماښام فرانسوي فوځ مشهورې هیډن برګ دفاعي کرښې ته ورسیده او په ولکه کې یې راوسته، په دا بله ورځ یې کیمبرائي محاصر کړه، چې دا محاصره د اکتوبر د ۹ پورې روانه وه، جرمني فوځ کیمبرائي خالي کړه او ولاړ، بلخوا فرانسوي فوځ په کوئنټن باندې حمله وکړه، مخکې ولاړ او د هیډن برګ د کرښې دریمه برخه یې هم ونیوله.

Visit www.ketabton.com for more Pashto ebooks.

جرمنی فوځ د سيل دريا ته رسيدلی وه، د اکتوبر په ۱۷ متحدو فوځونو په دې ځای حمله وکړه، د لاکيټاو په جنوب کې متحد فوځ ډېره ښه جګړه وکړه، د اکتوبر په ۲۰ يې دښمن ددې سيمې څخه په بشپړ ډول وويسته.

د اکتوبر په ۳۱ جرمني فوځ د شيلډ په سيمه کې يوه بله دفاعي کرښه جوړه کړه، متحد فوځ يې په مقابل کې مورچې جوړې کړې او د حملې لپاره يې چمتوالی پيل کړ.

۳- د فلنډرز حمله

د فرانسې شپږم، د انګلستان دويم او بيلجيمي فوځ د بيلجيم د پاچاه البرټ په مشرۍ د سپتمبر په ۲۸ باندې حمله پيل کړه، د اکتوبر په لومړۍ نيټه يې فوځ ۸ ميله مخکې تګ وکړ.

په دې جبهه کې جرمني د فوځ د کموالي سره مخ وه، دا سيمه پاريس ته نږدې وه او دا وخت د بارانو موسم وه.

د اکتوبر د ۱۴ پورې قوي بارانونه ول، چې په وجه يې جګړه ونشوه، وروسته د موسم په ښه کيدو متحد فوځ بيا جګړه پيل کړه، د اکتوبر د ۲۰ پورې يې جرمنۍ فوځ د ليز سيند پورې شا تګ ته اړ کړی وه، د اکتوبر په ۲۸ جنرال ليوډنډروف خپل فوځ ته د شا تګ امر وکړ او د شيلډ په سيمه کې يې د دفاعي کرښې د جوړولو امر ورکړ.

د نومبر د لومړۍ څخه تر يوولسم پورې

په لويديزه جبهه کې انګليسي فوځ د جګړې وروستۍ مرحلې ته داخل شوی وه، جنرال هيګ غوښتل، چې جرمنيان د شيلډ د دفاعي کرښې نه وشړي، هغه د والنسينس د سيمې څخه د حملې پلان جوړ کړ.

متحدو فوځونو د نومبر په ۲ د شپې مهال ښار په خپله ولکه کې راووست، جنرال هيګ د يوې قوي حملې پلان جوړ کړ، د متحد فوځ په مخکې جرمنی فوځ ډېر کمزوری وه او د خپلې دفاعي کرښې (شيلډ) نه شا تګ ته اړ شول، جرمنی

Visit www.ketabton.com for more Pashto ebooks.

فوځ د حمل و نقل د وسائلو د کموالي، د خراب ریل ګاډي نظام، خراب موسم او د متحدو فوځونو د هوايي حملو سره مخ وه.

متحدو فوځونو د نومبر د ۱۱پورې د بي وي، ایویسنس، ماؤبیوګ، برسن، ټورنايي او د رینامګس سیمې په ولکه کې راوستې وې، د جګړې څخه څو ساعته مخکې د کاناډا فوځ مانز ته داخل شوی وه، دا جبهه هم غلې شوه او لومړۍ نړیواله جګړه پای ته ورسیده، د جرمني د لویدیزې جبهې په غلې کیدو سره اوس د لومړۍ نړیوالې جګړې یوازې یوه جبهه پاتې وه، چې جګړه په کې روانه وه.

دا جبهه د جرمني افریقايي مستعمرې وې، چې په ختیزه افریقا کې موجودې وې، جرمني جنرال لیوټوربیک چې د جرمني د ماتې خبر واوریده؛ نو د نومبر په ۱۴ یې جنګ بندي ومنله او په دې ډول لومړۍ نړیواله جګړه په بشپړ ډول پای ته ورسیده، د متحدو فوځونو د سلو ورځو وروستیو جګړو د جرمني ملا ماته کړې وه، د جرمني اقتصاد ډېر خراب وه، د فوځ د کموالي سره مخ وه او نه یې شو کولای، چې خپلې پولې وساتي، جرمني مشرانو ومنله، چې نور باید دښمن ته تسلیم شي.

د ایټالیې جبهه

د ایټالیې په جبهه کې د جرمني او اسټریا مشترک فوځ تېر کال بریالی شوی وه، هغوی ایټالوي فوځ د پي ایو سیند پورې شا تګ ته اړ کړی وه.

د پي ایو او وټوریو وینټیو جګړې

جرمني د ۱۹۱۸ ز کال د پسرلي په موسم کې قوي حملې پیل کړې وې، دواړو خواوو د خپلو ملګرو هیوادو څخه وغوښتل، چې جګړه قوي کړي، جرمني د اسټریا نه وغوښتل، چې په ایټالیې باندې یوه قوي حمله وکړي، بلخوا د متحدو فوځونو مشر جنرال فوش د ایټالیې څخه وغوښتل، چې د ایسونزو په سیند باندې یوه قوي حمله وکړي.

د ایټالیې د فوځ مشر جنرال ارمیند وډیاز د جنرال فوش هغه غوښته رده کړه، چې ایټالیا دې د ټرینټینو د جبهې له لارې حمله وکړي، اسټریا د جرمني د غوښتنې

Visit www.ketabton.com for more Pashto ebooks.

سره سم حمله وکړه، استریا ددې حملې لپاره ۵۸ برخې فوځ چمتو کړی وه، په مقابل کې یې ۵۷ برخې ایټالوي فوځ موجود وه، په دې کې ۵ برخې انګلیسي او فرانسوي فوځ هم شامل وه.

جنرال کونریډ د استریا د فوځ مشري کوله، د پي ایو په جبهه کې جنرال بوروایوک د فوځ مشر وه، استریایي فوځ د ستونزو سره مخ شو؛ ځکه نو د دوه مختلفو سیمو له لارې یې حمله پیل کړه.

د جون د میاشتې په ۱۳ د ټرینټینو د جنوب له لارې حمله پیل شوه؛ خو د ۱۵ تاریخ څخه ځانګړې حملې پیل شوې، جنرال بوروایوک په لومړیو ډېر بریالی وه، په درې ځایونو کې د سیند ته تېر شوی وه، په ځینو ځایونو کې یې درې میله مخکې تګ هم کړی وه او د دښمن په صفونو کې یې درز اچولی وه، راتلونکې اته ورځې د سیند په غاړه قوي جګړه روانه وه، د متحدو فوځونو الوتکو ګوله باري کوله.

د ایټالیې لخوا قوي ځوابي حملې کیدلې، د قوي هوایي حملو په پایله کې د استریا فوځ د منځه تلو د ګواښ سره مخ وه.

فرانسوي جنرال فوش چې د ۱۹۱۸ ز کال د جولایې په لومړۍ نیټه د متحد فوځ مشر ټاکل شوی وه، هغه جنرل ډیاز ته امر وکړ، چې د استریا په ماته خوړلي فوځ باندې یوه قوي حمله وکړي او بشپړ شکست ورکړي؛ خو جنرال ډیاز د جنرال پي ایټرو بیډګلیو په مشوره دا حمله ونکړه او د فوځ د بیا منظمولو پورې یې دا کار وځنډوه.

جنرال ډیاز په استریا باندې د حملې لپاره پوره چمتوالی پیل کړ، هغه سره ۵۷ برخې فوځ وه، چې ایټالوي، انګلیسي، فرانسوي، چکسلواکي فوځونه هم په کې ول، سربیره پر دوی د امریکا فوځ هم په کې وه، ۷۷۰۰ توپونه ورسره ول، په مقابل کې یې د استریا ۵۸ برخې فوځ او ۶۰۰۰ توپکې وې.

د اکتوبر ۲۹ پریکونې ورځ وه، د ایټالیې فوځ درې خونړۍ حملې وکړې، چې استریا ته ستره ضربه ورسوله، د جګړې په دوران کې د استریا فوځ کله دفاعي

Visit www.ketabton.com for more Pashto ebooks.

جګړه کوله، کله بې زړه نا زړه او به د ایټالوي فوځ په ګرد او غبار کې ورک شول.

د اکتوبر په ۳۰-۳۱ اسټریا اصلي ماته وخوړه، په دې ورځ یې هر فوځي په یوازې ځان په جلا جلا ځایونو کې جګړه پېل کړې وه.

د نومبر په ۳ مابښام ایټالوي فوځ ټرنیټینو په خپله ولکه کې راوستی وه، په دې جګړه کې نږدې ۵۰۰۰۰۰ تنه اسټریایي فوځ اسیر شو.

ایټالیي ته شانداره بریا او د ښمن ته یې شرمناکه ماتې په برخه ورورسیده، په دې ډول د لومړۍ نړیوالې جګړې دا جبهه هم له منځه ولاړه او جګړه په کې پای ته ورسیده.

د بالکانو جبهه او د بلغاریې ماته

د جګړې په دې وروستي کال دا جبهه ډېره مهمه وه، جرمنی فوځ ددې ځای څخه لویدیزې جبهې ته غوښتل شوی وه.

اوس د بالکانو په جبهه کې بلغاریه یوازې پاتې وه او مقابله یې د متحدو هیوادونو د قوي او مسلح فوځ سره وه، اقتصاد یې په بشپړ ډول خراب شوی وه، متحدو هیوادونو پرې د سوداګرۍ ټولې لارې بندې کړې وې، د هیواد دننه یې د خوراک او څښاک په شیانو کې کموالی راغلی وه، د وسلو، بارودو او توپ خانې د کموالي سره هم وه.

د ۱۹۱۸ ز کال په جولایي جنرال فرینچټ د لویدیزې جبهې څخه دې جبهې راولیږل شو، هغه یو تکړه فوځ او ښه اداره کوونکی وه، د هغه د لاس لاندې ۳۵۰۰۰۰ تنه مسلح فوځ وه، چې په لوړ همت او حوصلې سره یې جګړه کوله، متحدو فوځونو د یوې قوي پریکونې حملې پریکړه کړې وه، د ۱۹۱۸ ز کال په سپټمبر قوي ګوله باري پېل شوه، په دې ګوله بارۍ کې د سربیا ۶ او د فرانسې دوه برخې فوځ مخکې لاړه، د سپټمبر په ۱۵ او ۱۶ یوه بله قوي حمله وشوه.

Visit www.ketabton.com for more Pashto ebooks.

په دې حمله کې د یونان، انګلستان، فرانسې، ایټالیې او سربیا فوځ شامل وه، ددې حملې په پایله کې د بلغاریي فوځ شا تګ ته اړ شو او د سپتمبر د ۱۷ پورې متحد فوځ ۲۰ میله مخکې تګ کړی وه.

د ترکیي جبهه او د موسل خواته د متحد فوځ مخکې تګ

انګلیسي فوځ چې کله بیت المقدس (یروشلم) ونیوه؛ نو سمدستي قوي بارانونه پېل شول او جنرال ایلن بي اړ شو، چې نوره جګړه ودروي، هغه غوښتل، چې د عربو په جبهه کې مخکې لاړ شي، د حجاز د ریل پټلۍ له منځه یوسي، تر څو د مسلمانانو دوه ستر مرکزونه مکه معظیمه او مدینه منوره ونیسي او خپله پخوانۍ صلیبي دښمني یو ځل بیا ښکاره کړي، او یا کم از کم د ترکیي او عربو تر منځ اړیکې پرې کړي او د یوه بل نه یې لرې کړي.

ددې پلان د پلي کولو لپاره یې په عمان باندې حمله وکړه، دا ډېره قوي حمله وه، ترکي فوخ یې په میړانه دفاع وکړه او جنرال ایلن بي یې شا تګ ته اړ کړ.

هغوی د اپریل په ۱۱ یو ځل بیا حمله وکړه، دا ځل دا حمله د مصر د تنګي لخوا شوې وه، دا ځل بیا انګلیسي فرنګي فوځ ناکام شو، جنرال ایلن بي خپل فوځ ته د فلسطین پورې د شا تګ امر وکړ.

د ایلن بي سره ډېر فوځ وه، یوه ترکي د دوه انګلیسي فوځیانو سره جګړه کوله، ترکی فوځ د ۳۰۰۰۰ تنو څخه کم وه، جنرال فالکن چې تېر کال دلته موجود وه، اوس یې لویدیزې جبهې ته غوښتی وه، د هغه پر ځای یې جنرال لیمین وان سینډرز د ترکي او جرمني فوځ د مشرۍ لپاره رالیږلی وه، د مشرۍ په تبدیلۍ سره په جګړیزو تکتیکونو کې تغیر راغی.

د سپتمبر په ۱۹ جنرال ایلن بي د عربو په جبهه کې د جګړې لپاره خپل فوځ په اوو برخو وویشه او هر یو ته یې د جلا لارې څخه د حملې امر ورکړ، ددې حملې پېل د مجیدو د جګړې څخه وشو، د پیاده فوځ سره هوایي فوځ هم ملګرتیا کوله، هوایي فوځ دومره ګوله باري وکړه، چې د څو ساعتونو پورې په سړکونو کې تګ راتګ بند وه، څو لوړ تعمیرونه په خاورو بدل شول او د ژوند یې فلج کړ.

Visit www.ketabton.com for more Pashto ebooks.

لوی لارنس په خپله حمله کې د فلسطین او حجاز د ریل ګاډي په پټلۍ باندې د ولکې کولو لپاره په دیرا باندې حمله وکړه او ویې نیوه، د نوي زیلانډ او استرېلیا فوځ عمان ونیوه او د ترکیي څلورم فوځ یې محاصره کړ، په پای کې ۱۰۰۰۰ تنه ترکي فوځ اسیر شو.

انګلستان خپل پنځم صحرایي فوځ د دمشق د نیولو لپاره روان کړ، د ترکي فوځ د لږ مقاومت نه وروسته یې د اکتوبر په لومړۍ نیټه دمشق ونیوه، د شپږم فوځ ۱۶ برخې د اکتوبر په ۱۶ هومز[5] ونیوه، د انګلستان اووم فوځ نور مخکې تګ کاوه؛ مو د زکام وباء یې مخه ونیوله، پنځم فوځ نور هم مخکې لاړ او د اکتوبر په ۲۶ یې هری ټین ونیوه.

بلخوا د ترکیي اقتصادي حالت ډېر خراب وه، مسلسل شکستونو یې مورال ډېر کړی وه، د جرمني په اړه خبرونو هم وار خطا کړي وه، په اکتوبر ۳۰-۱۹۱۸ د ترکیي جبهو ته خبر ورسیده، چې ترکي فوځ وسله غورځولې او د سولې تړون یې لاسلیک کړی دی.

پنځم سپور انګلیسي فوځ په ۳۸ ورځو کې ۵۵۰ میله مخکې تګ کړی وه، په مجموعي ټول ۷۵۰۰۰ ترکي فوځ اسیر شوی وه.

د ۱۹۱۸ ز کال په فبرورۍ کې د میزوپوټامیا په جبهه کې د جنرال رابرټ سن پر ځای جنرال هنري ولن مقرر شو، جنرال ولسن غوښتل، چې خپلې موخې باید د سیاست له لارې ترلاسه کړي، نه د فوځ په واسطه، هغه غوښتل، چې د ترکي او جرمني فوځ څخه د رومانیې، جورجیا او اذربایجان د خلاصون لپاره باید ځانګړي اقدامات وکړل شي.

د اکتوبر د ۲۰ وروسته جنرال ولسن جنرال الیګزنډر ته امر وکړ، چې د موسل[6] خواته مخکې تګ وکړي، په مقابل کې یې ترکي جنرال اسماعیل حقي د سولې په

---

[5] کې پروت دی (ژباړن) کیدای شي، چې موخه ترې اوسنی حمص وي، دا ښار اوس په شام (سوریه
[6] کیدای شي، چې موخه ترې اوسنی موصل وي، موصل په عراق کې پروت دی.

Visit www.ketabton.com for more Pashto ebooks.

لار کې د پرمختګ لپاره خپل شا تګ ته اړ کړ او د زيب د سيند بلې خواته يې ورسوه.

د جنرال ولسن فوځ دومره چټک وه، چې په ۳۹ ګينټو کې يې ۷۷ ميله واټن وواهه، دې نوي حالت ته په کتو سره اسماعيل حقي خپل فوځ بيا منظم کړ او د سيند سره نږدې يې مورچې جوړې کړې.

انګليسي فوځ د اکتوبر په ۲۶ د يوه پُل پواسطه له سينده تېر شو او ۳۰ ميله وړاندې ورغلل، په دا بله ورځ ترکي جنرال خپل فوځ شرقت کلا ته ورسوه او د چمتوالي امر يې ورکړ.

د شرقت په سيمه د اکتوبر د ۲۹ پورې جګړه روانه وه، جنرال اسماعيل حقي کوښښ کاوه، چې جګړه ونکړي؛ ځکه چې نا اميده شوی وه، ماته خوړلي ترکي جنرال حقي د اکتوبر په ۳۰ خپله وسله وغورځوله، ۱۱۳۰۰ تنه يې اسيرشو او ۵۱ ټوپکې يې له لاسه ورکړې.

په دا بله ورځ د سولې تړون لاسليک او پلی شو؛ خو يو ګروپ هندي فوځ يې د موسل د نيولو لپاره وليږه، په موسل کې هم ترکي فوځ وسله وغورځوله.

هلته جنرال حليل د شپږم فوځ مشر وه، د انګليسانو د قوي ټينګار په وجه يې وسله وغورځوله او تسليم شو، د ميزوپوتاميا په جبهه ۱۸۶۲۰ تنه انګليسي فوځ ووژل شو؛ خو د تېلو په ذخيرو باندې د ولکې راوستلو لپاره ددې قربانۍ ورکول بې ځايه نه دي، په دې ډول په دې جبهه کې هم جګړه پای ته ورسيده.

هوايي جبهه

په ۱۹۱۸ ز کال کې په هوايي جبهه کې ښه والی او چټکتيا راغلې وه، په جنګي الوتکو کې مشينې ګنې لګول شوې وې او د دښمن پر ضد يې جګړه کوله، په خندقونو کې د پټ دښمن لپاره دا يوه ښه وسيله وګرځيدله.

متحد فوځ د هوايي فوځ پواسطه ښه پروپاګند کاوه، هغوی په ختيزه جبهه کې د جرمني فوځ د مورال د ټيټولو لپاره د هوا څخه کاغذونه لاندې راغورځول، تر څو

Visit www.ketabton.com for more Pashto ebooks.

د جګړې څخه د هغوی زړونه بد کړي، هغوی به یې د هیواد د خراب اقتصادي حالت نه ویرول او هم به یې د لوړې له لاسه د هغوی د خپلوانو د مرګ په اړه خبرونه ورکول.

سږکال الوتکو په الوتکو کې داسې مشینګنې ولګول شوې، چې د ودریدو پرته یې په مسلسل ډول ډزې کولې، چې په دې کار سره پیلوټ ته اسانتیا ورپه برخه کوله، اوس مشینګڼ کولای شول، چې بې د ستونزې هرې خواته چې وغواړي ډزې وکړې.

د فلسطین په جبهه کې متحد فوځ د هوایي فوځ څخه ډېر کار واخسیته، په ختیزه او لویدیزه جبهه کې یې هم ډېره مرسته ترې غوښته او دښمن ته یې زیات زیان واړوه.

## دریمه برخه

### د جګړې پای

جنګ بندي

دا د قوي جګړو د کال په نوم یادیږي، په دې کال کې هر هیواد د خپل دښمن هیواد د ماتولو کوښښ کاوه، دا د بشریت په تاریخ څکه مهم دی، چې لومړۍ نړیواله جګړه په کې پای ته ورسیده، د انسانیت نور قتل عام ودریده، انسان یو ځل بیا ساه واخیسته.

په دې کال د جګړې د بندولو لپاره ډېرې هڅې وشوې، ځینو فوځي جنرالان سولې ته لیواله نه وه او جګړه یې د وروستیو میاشتو پورې روانه وساتله، دلته په لنډ ډول د جنګ بندی په لاملونو او سفارتي کوښښونو باندې خبرې کوو.

د جنګ بندۍ لاملونه

د ۱۹۱۴ ز کال د جولایي د ۲۸ څخه پیل شوې لومړۍ نړیوالې جګړې د ښکیلو هیوادونو اقتصادي، ټولنیز، سیاسي، رواني او ذهني و جسماني حالت ډېر زیات

Visit www.ketabton.com for more Pashto ebooks.

خراب کړی وه او ښکیل هیوادونه د جګړې په ډګر کې د وسلې او فوځ د کموالي سره مخ ول.

د متحدو فوځونو حالت د خپلو ښو سفارتي اړیکو او په ښه ځای کې د موقعیت په درلودلو سره نسبتاً ښه وه، هغوی نوي هیوادونه په جګړه کې ښکیلول او نوي فوځونه یې جګړې ته لیږل.

بلخوا د جرمني پرته د ټولو مرکزي قوتونو سیاسي، اقتصادي حالت خراب وه او د زرګونو ستونز سره مخ ول، دغه هیوادونه د جرمني پرته د جګړې په پیل کې کمزوري معلومیدل، یوازې جرمني وه، چې ښه او قوي جګړه یې کوله، استریا خپل خراب حالت ته په کتو سره لومړی هیواد وه، چې د پټو تړونو له لارې یې جنګ بندي وکړه.

په جګړه کې د امریکا په داخلیدو سره تر ټولو زیات زیان جرمني ته ورسیده، امریکا د جرمني د سوداګریزې لارې د بندولو لپاره ښه اقدامات وکړل، متحد فوځونه مخکې په دې کار کې په بشپړ ډول ناکام شوي وه، امریکا د متحدو هیوادونو خوب چې د جرمني بشپړ ګیرول وه، ممکن کړ.

همدا کار وه، چې د جګړې مسیر یې بدل کړ، د ۱۹۱۸ ز کال په لومړیو شپږو میاشتو کې د سوداګریزې لارې د بندیدو په وجه د جرمني حالت ډېر خراب شوی وه، مزدورانو به شپه ورځ کار کاوه، چې ددې حالت ډېر په تنګ شوي وه او د ۱۹۱۸ ز کال په جنورۍ کې یې عمومي کاربندیز وکړ.

د جرمنیانو زړونه تنګ شوي او مات شوي وه، هغوی په سفارتي اړیکو کې هم ماته خوړلې وه، بلخوا یې د فوځ د کموالي سره مخ ول، همدا وجه وه، چې د جرمني په مشرانو کې د سولې پلویان زیات شوي وه.

د سوله خوښوونکو هیوادونو هڅې او د جرمني ټیټ شوی مورال وه، چې مشرانو نور د جګړې د جاري ساتلو پر ځای د سولې په خبرو باندې ټینګار کاوه،

Visit www.ketabton.com for more Pashto ebooks.

جنرال لیوډنډروف د امریکا د ولسمشر ویلسن د سولې لپاره وړاندې شوی تړون ومانه.

د ماتو، داخلي انتشار او د دښمن د پروپاګند په پایله کې د فوځ سربېره عام خلک هم د جګړې بېزاره شوي وه، متحدو هېوادونو د جرمني دننه خراب حالت ته پوکی ورکوه.

د اکتوبر په میاشت کې د جرمني بحري بېړۍ بغاوت وکړ، د بغاوت د ارامولو ټول کوښښونه ناکام شول او د نومبر په ۳ د کیل بندرګاه باغیانو ونیوله، ددې بغاوت د ارامولو لپاره ځمکنۍ فوځ ولیږل شو، دوی بغاوت ارام کړ؛ خو د بالتیک د بحیرې په بندرونو کې یې بېړۍ ونیولې او سره بیرغونه یې پرې لوړ کړل.

د جرمني دننه په بیویرا کې هم بغاوت وشو، هلته یې په دیوالونو باندې ورقې لګولې وې، چې بیویرا د مزدورانو او دهقانانو ازاد جمهوریت دی، ددې ټولو لامل متحد هېوادونه ول.

په دې حالاتو کې د جرمني چانسلر قیصر ته د تخت څخه د کوزیدو مشوره ورکړه، تر څو هېواد د کورنۍ جګړې او بد امنۍ څخه وساتل شي او یوازې د بهرني دښمن سره جګړه وکړای شي، د ډېر کشمکش وروسته د نومبر په ۹ چانسلر اعلان وکړ، چې قیصر دویم ویلیم د خپل تخت څخه کوز شوی دی.

اوس په هېواد کې د لیبرال ګوند سربېره سوسیالست او کمیونسټ ګوندونه هم فعال ول، دوی د پاچاهي نظام سره سخت مخالفت درلود، وروسته چانسلر میکس هم له خپلې دندې نه استعفاء ورکړه او د ایبرټ په مشرۍ یو مؤقت حکومت جوړ رامنځته شو، حکومت د مزدورانو او فوځ سره یو ځای د حکومت د جوړولو لپاره هڅې پیل کړې.

د قیصر ویلیم په استعفاء سره په پروسیا (جرمني) د لسګونو کلونو پاچاهي نظام پای ته ورسید، قیصر هېواد پرېښود او هالینډ ته ولاړ.

Visit www.ketabton.com for more Pashto ebooks.

اخوا د جګړې په پیل سره د اسټریا حالت ډېر ښه نه وه، عام خلک د جګړې څخه ستړي شوي وه، د پاچا لومړي چارلس د تخت کیناستو(۲۱ نومبر ۱۹۱۶) څخه مخکې حکومت جرمني حکومت سره په اړیکه کې وه، تر څو جنګ بندي رامنځته شي، داخلي حالت سخت خراب ول، که چیرته د یوکرائن او روسیي سره د سولې تړون نه وای لاسلیک شوای؛ نو پاچاهیت به یې چپه کړای وای.

د پاچاهي نظام د ساتلو لپاره پاچا ډېر کوښښونه کول، د اکتوبر په ۱۶ یې د ټولو قومونو نمائنده ګان راوغوښتل، هغوی ته یې د خودمختارو حکومتونو د جوړولو وعده ورکړه او د پاچاهیت پر ځای یې د مرکزي حکومت د جوړولو ژمنه هم ورکړه؛ خو په حالاتو کې ښه والی رامنځته نشو، د چکسلواکیا د ازادۍ د تحریک مشر ماسارائک د چکسلواکیي د ازدۍ اعلان وکړ، دغه شخص په امریکا کې اوسیده او د امریکا څخه یې پناه اخیستې وه.

د هنګري کونسل د پاچاهیت نه د ازادۍ غوښتنه کوله، د اسټریا جرمني قوم د ازادې جرمن اسټریا د جوړولو لپاره د پاڅون پریکړه کړې وه، حالت ډېر خراب وه، پاچاهیت د ذلت سره مخ شوی وه او څو څو ځلې پاچا د متحدو فوځونو څخه د جنګ بندۍ غوښتنه کړې وه.

د ترکیي فوځي او سیاسي حیثیت د لومړۍ نړیوالې جګړې د پیل څخه مخکې خراب شوی وه، هغه وخت چې کله یې د بالکانو په جګړه کې ماته وخوړه (۱۹۱۱-۱۲).

د ترکي فوځ د ماتې په وجه زیات زیان مسلمان امت ورسیده، فلسطین متحدو فوځونو ونیوه او خپل پخوانی خواهش یې پوره کړ، هلته یې د یهودو د میشت کولو لپاره پلان جوړ کړ،  د مسلمانانو د یو ځای والي او قوت نښه (خلافت) هم له منځه لاړ، خپل د خوښې اشخاص یې مشران وټاکل، تر څو په اسلامي هیوادونو باندې اصلي حکومت د لویدیز وي.

Visit www.ketabton.com for more Pashto ebooks.

په فلسطين، حجاز، مصر، شام او ميزوپوتاميا کې د ماتې وروسته د ترکيي اقتصادي، سياسي او جغرافيايي حالت ډېر کمزوری شو، عام خلک د لوږې سره مخ وه، همدا وجه وه، چې عام خلک د جګړې څخه بيزاره شوي وه.

سفارتي هڅې

۱۹۱۸ ز کال په سفارتي لحاظ ډېر مهم کال وه، د جنګ بندي لپاره په دې کال زياتې هڅې وشوې، د جنوری په ۵ انګليسي لومړي وزير لائيډ جارج چې د جرمني پر ضد يې نور هيوادونه جګړې ته هڅول، په يوه بيان کې وويل، چې د سولې د راوستو لپاره هر ډول کوښښ کوي، هغه د يوې نړيوالې ادارې په رامنځته کولو باندې ټينګار وکړ.

همدې دې ورته نظر د امريکا ولسمشر ويلسن هم د همدې کار د جنوری په ۸ څرګند کړ، هغه د سولې راوستو لپاره ۱۴ مادې وړاندې کړې او ځينې شرطونه يې هم وړاندې کړل، دا شرطونه نورو هيوادونو ډېر خوښ کړل او جرمني د همدې شرائطو په بنسټ سولې ته چمتوالی پېل کړ.

بلخوا، جنرال ليوډنډروف فکر کاوه، چې کولای شي متحد فوځونه مات کړي او پاچا قيصر ويليم همده ورته نظر درلوده او جګړه يې روانه ساتلې وه؛ خو کله چې جرمني مشرانو خپل ماته وليده؛ نو د امريکايي ولسمشر په وړانديز يې غور کولو پېل کړل.

په همدې کال په پېل کې د جرمني او روسيي تر منځ د بريسټ-ليټوويسک تړون لاسليک شو، په دې ډول، چې:

۱- روسيي په لويديز سرحد کې کورلينډ، لويديز پولينډ او کارس سيمې پريښودې.

۲- ترکيي اردهان او باټوم پريښودل.

۳- (روسيي) فن لينډ، اليندائس، استونيا او لوانيا يې هم پريښودل.

Visit www.ketabton.com for more Pashto ebooks.

دا تړون د ۱۹۱۸ ز کال د مارچ په ۳ لاسلیک شو، د مارچ په ۱۸ روسي پارلمان پاس کړ.

د سپتمبر په ۲۶ بلغاریي د متحدو قوتونو سره په دې ډول تړون لاسلیک کړ.

۱- د بلغاریي فوځ به هیڅ حرکت نه کوي.

۲- بلغاریه به ټولې نیول شوې سیمې پریږدي.

۳- د بلغاریي د لاس لاندې ټول د حمل و نقل وسائل به د متحدو فوځونو په ولکه کې وي او بلغاریه به ترې تېرېږي.

۴- بلغاریه به متحد فوځ ته د استریا دننه د جګړې کولو اجازه ورکوي.

د بلغاریي په ماتې سره ترکیه یوازې پاتې شوه، د ترکیي اړیکه د مرکزي قوتونو سره بیخي پرې شوه، چې په دې ډول جګړه جاري ساتل ورته ناشونې شوه، انور پاشا د خراب حالت په وجه استعفاء ورکړه، نوي حکومت د اکتوبر په ۱۴ د سولې غوښتنه وکړه او د اکتوبر په ۳۰ د جنګ بندی تړون لاسلیک شو؛ خو انګلیسي فوځ بیا هم د موسل خواته مخکې روان وه.

تړون په دې ډول وه:

۱- ترکي حکومت به دردانیل متحدو فوځونو ته خلاص پریږدي.

۲- ترکي فوځ به د دردانیل د بارودي سرنګونو په پاکولو کې مرسته کوي.

۳- په کلاګانو کې موجود ترکي فوځ به وسله غورځوي.

۴- مهم ځایونه به متحد فوځ ته ورکوي.

۵- ترکي بحري فوځ ته وسله غورځوي.

Visit www.ketabton.com for more Pashto ebooks.

د اسټریا-هنګري د مشترک سلطنت دننه هم سیاسي استحکام له منځه تللی وه، پاچا د اکتوبر په ۲۷ متحد فوځ ته پیغام ورکړ، چې د هر ډول شرائطو لاندې سولې ته تیار دی، د نومبر په ۳ د ولیلاګیوزتې سره نږدې تړون لاسلیک شو، داسې چې:

۱- اسټریا-هنګري به د ټائرول، ډالمیشن د سمندرونو او د یوګوسلاویا د خلکو د غوښتل شویو سیمو نه تېرېږي.

۲- اسټریا-هنګري به خپلې ټولې ریل پټلۍ هم پرېږدي.

۳- متحد فوځ چې د اسټریا کومې سیمې وغواړي، د ولکې لاندې یې راوستی شي.

۴- اسټریا به متحد فوځ ته د اسټریا دننه د جګړې کولو اجازه ورکوي.

جرمني مشران د امریکا د ولسمشر ویلسن د ۱۴ مادو تړون په منلو چمتو شول؛ خو جرمني په متحدو قوتونو کې خپل ځای تر اوسه وه وپیژندلی، خپله ولسمشر ویلسن د جرمنیانو په نسبت د انګلستان نه ویره درلوده او فکر یې کاوه، چې انګلستان به په راتلونکي کې امریکا ته ګواښ جوړېږي.

د ولسمشر وېلسن ۱۴ نکتې

د امریکا ولسمشر د ۱۹۱۸ ز کال د جنورۍ په ۸ یو بیان جاري کړ، چې په هغه کې د سولې لپاره ۱۴ مادې وړاندې کړې وې، دغه مادې (شرطونه) ډېر خوښ کړای شول او جرمني هم د همدې تړون په بنسټ سولې ته حاضر شو.

د تړون مادې په دې ډول وې:

۱- د هیوادونو تر منځ دې د پټو تړونونو سلسله پای ته ورسیږي.

۲- جګړه وي که سوله، په هر ډول حالاتو کې دې د سمندرونو ازادي وساتل شي.

۳- د اقتصادي ستونزو د لرې کولو لپاره دې ټول هیوادونه ازاده سوداګري رامنځته کړي.

Visit www.ketabton.com for more Pashto ebooks.

۴- هر هیواد دې د خپل هیواد د ساتلو لپاره لږ تر لږه د جګړې (دفاع) وسائل ولري؛ خو باید چې تضمین ورکړي.

۵- د مستعمرو خلکو ته دې مساوي حقوق ورکړل شي، د حکومت جوړولو په اړه باید د هغوی سره معامله وشي.

۶- د روسیې ټولې نیول شوې سیمې باید بېرته وروسپارل شي او خپل داخلي مسائل دې په خپله حل کړي.

۷- بیلجیم باید د یوه ازاد او خودمختاره هیواد په توګه وپیژندل شي.

۸- د فرانسې نیول شوې سیمې دې بېرته ورکړل شي، په ۱۸۷۱ ز کال کې نیول شوي الزاس او لورن دې هم وروسپارل شي.

۹- ایټالیا دې د قومیت په اساس یو هیواد شي.

۱۰- د اسټریا-هنګري اوسیدونکي باید ازاد او خودمختاره وي.

۱۱- رومانیه، سربیا او مونټې نیګرو دې ازاد او خودمختاره شي او سربیا دې ازادو اوبو ته پرېښودل شي، بالکاني هیوادونه دې خپلو تاریخي سرحدونو پورې وتړل شي او سرحدونه دې د قومیت په اساس وویشل شي.

۱۲- د ترکیې اوسنی هیواد دې د ازاد او خودمختاره هیواد په توګه ومنل شي، نور حکومتونه چې د ترکې حکومت تابع دي، ازاد او خودمختاره کړل شي، دردانیل دې نړیوالو ته وسپارل شي، چې ټول په کې سمندري سوداګري وکړي او لاره دې ازاده پرېښودل شي.

۱۳- پولینډ دې د ازاد هیواد په توګه رامنځته شي، تر هغه ځایه چې د کوم ځای پورې پولنیډی قوم پروت وي.

۱۴- د لویو او کوچنیو هیوادونو سیاسي، سیمه ایزه او جغرافیایي ازادي او حیثیت دې یقیني شي او یو نړیوال مجلس دې جوړ کړای شي.

Visit www.ketabton.com for more Pashto ebooks.

د جنګ بندی لومړني شرطونه

د جرمني د عامو خلکو د فکر برعکس د جنګ بندی لومړني شرائط ډېر سخت ول، د متحدو فوځونو مشر جنرال فوش او ملګرو يې داسې شرائط وړاندې کړي وه.

۱- الزاس او لورن او هم د رهائن د سيند لويديزې سيمې دې فرانسې ته ورکړل شي.

۲- جرمني دې خپل ټول توپونه، بحري بېړۍ او جنګي الوتکې متحدو فوځونو ته وسپاري.

۳- د متحدو فوځونو ټول اسير شوي فوځونه دې پرېښودل شي؛ خو جرمني د خپلو اسير شويو فوځونو غوښتنه نشي کولای.

۴- جرمني دې ټولې نيول شوې سيمې متحدو فوځونو ته وسپاري او د جګړې د پېل څخه مخکې پولو ته دې ننوځي.

جرمني چمتو نه وه، په دې شرائطو سولې ته حاضر شي؛ خو داخلي حالات ډېر خراب شوي وه، د جرمني ځيني داسې مشران هم ول، چې په هر ډول شرائطو سولې ته ليوال وه، همدا وجه وه، چې جنرال ليوډنډروف استعفاء ورکړه.

د نومبر په ۱۰ جنرال ايبرټ زړه نا زړه په جنګ بندی باندې راضي شو او د نمائنده ګانو يې د نومبر په ۱۱ سهار ۶ د سولې تړون لاسليک کړ، چې د ورځې د ۱۱ بجو څخه يې پلي کيدل پېل شو، په دې ډول په ټولو جبهو کې جګړه بنده شوه او د انسانيت قتل عام پای ته ورسيدل.

د ورسلز د سولې تړون

د جنګ بندی وروسته د ۱۹۱۹ ز کال د جنورۍ په ۱۸ په پاريس کې د ورسلز په نوم د سولې کنفرانس جوړ شو، د کنفرانس ځانګړتيا دا وه، چې ټول نمائنده ګان په کې د متحدو هيوادونو وه، مرکزي هيوادونو په کې کوم استازی نه درلود.

Visit www.ketabton.com for more Pashto ebooks.

امریکايي ولسمشر ویلسن په دې ډول د چالاکۍ او هوښیارۍ نه کار واخیسته، هغه په دې کنفرانس کې د کوښښ کاوه، چې شرطونه په جرمني باندې ومني او هم د غنیمت د مال معاملات حل کړي.

د فتح په وخت کې متحد هیوادونه ډېر زیات شوي وه، د پاریس په دې کنفرانس کې پریکړه وشوه، چې د پنځو سترو متحدو هیوادونو (انګلستان، فرانسې، امریکا، ایټالیي او جاپان) د هیوادو دوه دوه نمائنده ګان دې یو کونسل (جرګه) جوړ کړي، چې ټول لس کسان شي، دوی دې غوښتنې ولیکي او څلور مشرانو (ویلسن، لائیډ جارج، د فرانسې لومړی وزیر کلیمنشو او د ایټالیي لومړی وزیر وټوریوارلینډ) ته وړاندې کړي.

د پاریس په کنفرانس کې ماهرینو د ټولو هیوادونو سیاسي، اقتصادي، ټولنیز، جنګي، تعمیري، زراعتي، معدني، نفوس، طبي او نور زیانونه و څېړل او بیا یې د جنګ بندی شرائط پورته ذکر شویو څلورو مشرانو ته وسپارل، جرمني د ټولې جګړې ذمه وار وپیژندل شو او د هر ډول زیان د تاوان په ورکولو یې اړ کړ.

د ورسلز د سولې د تړون ۴۴۰ برخې وې او په ۲۰۰ مخونو کې لیکل شوی وه، د ۱۹۱۹ ز کال د مۍ په ۶ دا تړون ومنل شو.

په دې تړون باندې کتاب لیکل کیدای شي؛ خو موږ دلته یو څو هغه شرائط چې په تړون کې ذکر شوي وه، د بیلګې په ډول را اخلو.

۱- جرمني باید ټولې مستعمرې متحدو فوځونو ته وسپاري.

۲- جرمني باید الزاس او لورن فرانسې ته وسپاري.

۳- جرمني باید شلزویک (شلزویک) ډنمارک ته وسپاري.

۴- پوس، اپرسلیشیا او د پروس هغه سیمې چې پولینډي قوم په کې اوسیږي، د پولینډ هیواد ته دې وسپارل شي.

۵- د میمل سیمه دې لتوانیا ته وسپارل شي.

Visit www.ketabton.com for more Pashto ebooks.

۶- د بیلجیم په لویدیزسرحد کې بیلجیمي سیمې دې بیرته بیلجیم ته وسپارل شي.

۷- ډانزګ دې ازاد ښار پریښودل شي او حکومت دې نړیوالې ټولنې ته وسپارل شي.

یوازې د پورته ذکر شویو اوو شرطونو په پایله کې جرمني د ۸۷ زره میله مربع سیمې او ۷ لکه نفوس نه محروم شو.

۸- د جګړې د زیان تاوان به سمدستي نه معلومیږي، پریکړه به د ۱۹۲۱ ز کال پورې وشي؛ خو د پریکړې د کیدو پورې به جرمني ۲۰ اربه طلایي فرانکه متحدو فوځونو ته سپاري، چې وروسته به مجرا کیږي.

۹- جرمني به ټول بحري هوایي وسائل او ایستل شوي د ډبرو سکرو کانونه متحدو قوتونو ته سپاري، دا به هم د تاوان سره جمع کیږي.

۱۰- په راتلونکي کې به جرمني د یو لک څخه زیات فوځ نه ساتي او بحري فوځ به یې د ۱۵ زرو څخه زیات نه وي.

۱۱- جرمني به د جبري فوځي خدمت قانون له منځه وړي او په راتلونکي کې به یې بیا نه رامنځته کوي.

۱۲- د جرمني وسله او مهمات به هم د فوځ د اندازې هومره وي او ددې څخه باید زیات جوړ نکړي، که یې داسې وکړل متحد فوځونه به بیا جګړه پیلوي.

۱۳- د رهاین لینډ په سیمه کې به د پنځوسو کیلومترو په اندازه خپلې کلاګانې ختموي او نور فوځي تعمیرونه به ورانوي.

۱۴- د جرمني بحري فوځ به یوازې شپږ جنګي بیړۍ، شپږ کوچني کروزنه، ۱۲ تباه کوونکي بیړۍ او ۱۲ تارپیډو لري، ددې څخه باید زیات جوړ نکړي.

۱۵- د جرمني څخه بهر نیول شوي ملکیتونه به جرمني ته بیا نه ورکول کیږي.

Visit www.ketabton.com for more Pashto ebooks.

دا او دې ورته نور شرطونه د مۍ په ۷ جرمني ته ولیږل شول او هغوی ته یې د تبصرې کولو لپاره وخت ورکړ، د مۍ په ۲۹ د جرمني د حکومت لخوا متبادل وړاندیزونه وشول؛ خو د متحدو قوتونو لخوا یې هر څه رد شول او د جرمني څخه یې وغوښتل، چې ژر تر ژره دې د ورسلز په تړون باندې لاسلیک وکړي.

د جرمني حکومتي مشرانو سخت عکس العمل وښوده، چې دا د امریکایي ولسمشر ویلسن د ۱۴ مادي تړون پر ضد دي او دا ډېر نا انصافه کړنه ده او موږ به په دې تړون باندې هیڅکله هم لاسلیک ونکړو.

په متحدو قوتونو کې د انګلستان لومړي وزیر د جرمني د ځینو وړاندیزونو سره موافق وه؛ خو ویلسن او کلیمنشو نه غوښتل، چې په اصل متن(تړون) کې لاس وهنه وشي، د امریکایي ولسمشر ویلسن په چل او دوکه باندې جرمنیان پوه شول.

ویلسن پوه شوی وه، چې په اورپا کې د جرمني پرته هیڅ داسې هیواد نشته، چې د امریکا اغېز چلینج کړي.

جرمني په دې وخت کې په ستونزو او مصیبتونو کې وه، چانسلر شنائډن ددې ذلت لرونکي تړون د لاسلیکولو څخه مخکې استعفاء ورکړه، اوس جرمني ولسمشر ایبرټ باور د چانسلر په توګه وټاکه او امر یې وکړ، چې د متحدو قوتونو د غوښتنې سره سم کارونه پر مخ بوځي.

د جګړې زیانونه

د څلور نیمو کلونو وینو تویولو وروسته لومړۍ نړیواله جګړه پای ته ورسیده، په میلیونونو خلک غمجن شول، په لکونو لکونو ورک او بې کوره شول، ځمکې بارود لړلې شوې، د هیوادونو اقتصاد خراب شو او انسانان په رواني ناروغیو باندې اخته شول.

د بشریت په تاریخ کې دغې دردناکې او ریږدوونکې جګړې ته د اروپا جګړه هم وایي، د خونړیو حالاتو په وجه ورته نړیواله جګړه هم ویل کیږي، په دې جګړه کې انسانان د حیواناتو په شان ووژل شول.

Visit www.ketabton.com for more Pashto ebooks.

د لومړۍ نړیوالې جګړې په جریان کې یوازې اروپا نه بلکې ټوله نړۍ د سختو ستونزو سره مخ وه، په سمندرونو، هوا او ځمکو کې جګړه روانه وه.

د جګړې ماهرینو د جګړې زیانونه په دوه ډولو ویشلي دي.

۱- بلاواسطه زیانونه

۲ بالواسطه زیانونه

۱- بلاواسطه زیانونه

په دې کې هغه زیانونه شامل دي، چې په جګړه کې ښکیلو هیوادونو په وسلو، فوځي سامان الاتو، د فوځ په معاشاتو او نورو باندې مصرف کړې وي، د ۱۹۱۴ ز کال څخه دمخه په یوه جګړه کې هم داسې زیان نه وه شوی.

لومړۍ نړیواله جګړه چې د ۱۹۱۴ ز کال د جولایي په ۲۸ پیل او د ۱۹۱۸ ز کال د نومبر د ۱۱ پورې روانه وه، په مجموعي ډول په کې د ۱۸۶۳۳۳۶۳۷۰۰۰ امریکایي ډالرو په برابر بلاواسطه زیان شوی وه.

متحدو هیوادونو ته په هر لحاظ زیات زیان رسیدلی وه، بلخوا د مرکزي هیوادونو بلاواسطه زیان نسبتاً کم وه؛ خو بیا هم اقتصاد حالت یې ډېر خراب شوی وه.

د متحدو هېوادونو او ملګرو یې بلاواسطه زیان

| شماره | هیواد | بلاواسطه جنګي زیان (ډالر) |
|---|---|---|
| ۱ | د امریکا متحده ایالات | ۲۲۶۲۵۲۵۳۰۰۰ |
| ۲ | لوی انګلستان | ۳۵۳۳۴۰۱۲۰۰۰ |
| ۳ | انګلیسي مستعمره (کاناډا) | ۱۶۶۵۵۷۶۰۰۰ |

Visit www.ketabton.com for more Pashto ebooks.

| | | |
|---|---|---|
| ۴ | انګليسي مستعمره (استرېليا | ۱۴۲۳۲۰۸۰۰۰ |
| ۵ | انګليسي مستعمره (نوی زيلاند) | ۳۷۸۷۵۰۰۰۰ |
| ۶ | انګليسي مستعمره (هند) | ۶۰۱۲۷۹۰۰۰ |
| ۷ | انګليسي مستعمره (متحده جنوبي افريقا) | ۳۰۰۰۰۰۰۰۰ |
| ۸ | نورې مستعمرې | ۱۲۵۰۰۰۰۰۰ |
| ۹ | فرانسه | ۲۴۲۶۵۵۸۳۰۰۰ |
| ۱۰ | روسيه | ۲۲۵۹۳۹۵۰۰۰۰ |
| ۱۱ | ايټاليا | ۱۲۴۱۳۹۹۸۹۹۹ |
| ۱۲ | بيلجيم | ۱۱۵۴۴۶۸۰۰۰ |
| ۱۳ | رومانيه | ۱۶۰۰۰۰۰۰۰۰ |
| ۱۴ | جاپان | ۴۰۰۰۰۰۰۰ |
| ۱۵ | سربيا | ۳۹۹۴۰۰۰۰۰ |
| ۱۶ | يونان | ۲۷۰۰۰۰۰۰۰ |
| ۱۷ | نور متحد هيوادونه | ۵۰۰۰۰۰۰۰۰ |

Visit www.ketabton.com for more Pashto ebooks.

مجموعه: ۱۲۵۶۹۰۴۷۷۰۰

د مرکزي هېوادونو بلاواسطه جنګي زيان

| شماره | هيواد | بلاواسطه جنګي زيان( امريکايي ډالر) |
|---|---|---|
| ۱ | جرمني | ۳۷۷۷۵۰۰۰۰۰۰ |
| ۲ | استريا-هنګري | ۲۰۶۲۲۹۶۰۰۰۰ |
| ۳ | ترکيه | ۱۴۳۰۰۰۰۰۰۰ |
| ۴ | بلغاريه | ۸۱۵۲۰۰۰۰۰ |
| | مجموعه | ۶۰۶۴۳۱۶۰۰۰۰ |

۲- بالواسطه جنګي زيان
په دې کې وژل شوي انسانان، ودانۍ، توليدات، املاک، جائدادونه او نور شامل دي.

وژل شوي انسانان

| شماره | هيواد | د وژل شويو شمېر |
|---|---|---|
| ۱ | د امريکا متحده ايالات | ۱۰۹۷۴۰ |
| ۲ | لوی انګلستان | ۸۳۹۹۰۴ |
| ۳ | جرمني | ۱۹۹۷۳۶۵ |
| ۴ | فرانسه | ۱۶۵۴۵۵۰ |

Visit www.ketabton.com for more Pashto ebooks.

| | | |
|---|---|---|
| ۵ | استرِیا-هنګري | ۱۱۳۲۵۰۰ |
| ۶ | روسیه | ۴۰۱۲۰۶۴ |
| ۷ | بیلجیم | ۲۷۲۰۰۰ |
| ۸ | ایټالیا | ۱۱۸۰۶۶۰ |
| ۹ | سربیا | ۷۵۷۳۴۳ |
| ۱۰ | رومانیه | ۳۹۷۱۱۷ |
| ۱۱ | یونان | ۳۷۵۰۰ |
| ۱۲ | پرتګال | ۴۱۰۰ |
| ۱۳ | جاپان | ۳۰۱ |
| ۱۴ | ترکیه | ۴۸۸۷۸۹ |
| ۱۵ | بلغاریه | ۱۰۶۶۸۷ |
| | وژل شوی فوځ | ۱۲۹۹۰۵۷۰ |
| | ښاري وژل شوي خلک | ۱۲۹۹۰۵۷۰ |
| | مجموعه | ۲۵۹۸۱۱۴۰ |

د املاکو زیان

د جګړې په دوران کې د املاکو او جائدادونو درسته اندازه معلومول ستونزمن کار دی، مختلفو لیکوالانو تخمیني لیکلي دي، د لومړۍ نړیوالې جګړې د املاکو او جائدادونو مجموعي زیان ۳۶۷۶۰ میلیون ډالره اټکل شوی ده، چې د دوی څخه د

Visit www.ketabton.com for more Pashto ebooks.

ځمکې زیان ۲۹۶۹۰ میلیون ډالره او سمندري زیان یې ۶۸۰۰ میلیون ډالره حساب شوی دی.

د تباه شویو سوداګریزو بحري بېړیو وزن نږدې ۱۵۳۹۸۳۹۲ ټنه وه، چې تخمیني قیمت یې ۳۰۰۰ میلیون ډالره حساب شوی دی.

د بې طرفه هېوادونو زیان

د جګړې په جریان کې بې طرفه هیوادونو د خپلې دفاع لپاره په خپلو پولو باندې فوځ اچولی وه، د خپلو بحري بېړیو د ساتنې لپاره یې ځانګړي اقدامات کړي وه، چې په دې باندې بې طرفه هیوادونو ډېر مصرف کړی وه.

د بې طرفه هیوادونو جنګي زیان نږدې ۱۷۵۰۰۰۰۰۰۰ ډالره حساب شوی دی.

د اروپا عمومي حالات

د لومړۍ نړیوالې جګړې په پای ته رسیدو د اروپا حالت داسې وه، لکه د یوه زلزله ځپلي هیواد، ګوله بارۍ ودان ځایونه ویجاړ کړي وه، هر خوا ټپیان خلک لیدل کیدل، یا هم داسې کسان لیدل کیدل، چې عمرونه زیات وه، ځوانه طبقه ډېره لږه تر سترګو کیده، د کونډو او یتیمانو یو زیات شمېر خلکو اسمان ته چیغې وهلې.

د حکومتونو سره د عامو خلکو د فلاح او بهبود لپاره هیڅ هم نه ول، خزانې بیخي خالي وې، نا امني، لوږې او تندې اباد ځایونه ګواښل.

په جګړه کې په مجموعي ډول د متحدو فوځونو ۵۱۵۲۱۱۵ تنه وژل شوي او ۱۲۸۳۱۰۰۴ تنه یې ټپیان ول، د اسیر شویو یا ورکو شویو فوځیانو شمېر یې ۴۱۲۱۰۹۰ تنه وه، په مجموعي ډول ۵۲,۳ سلنه فوځ یې له منځه تللی وه.

بلخوا د مرکزي هیوادونو د وژل شویو شمېر ۳۳۸۶۲۰۰ تنه وه، ۸۳۸۸۴۴۸ تنه یې ټپیان وه، اسیر یا ورک شوی فوځ ۳۶۲۹۸۲۹ تنه وه او په مجموعي ډول ۶۷,۴ سلنه فوځ یې له منځه تللی وه.

Visit www.ketabton.com for more Pashto ebooks.

په مجموعي ډول په لومړۍ نړیواله جګړه کې ۸۵۳۸۳۱۵ تنه فوځ وژل شوی وه، ۲۱۲۱۹۴۵۲ تنه ټپیان ول، ۷۷۵۰۹۱۹ تنه اسیر یا ورک شوي وه او ټول فوځ زیان ۵۷,۶ سلنه وه.

روسیه د تزار نیکولاس او د هغه د اداري د نالایقو او ناپوهو مشرانو په وجه د بدتر حالت سره مخ شوې وه، په ښارونو کې د اړتیا وړ لومړني شیان نه ول، مزدور او کاریګر د لوږې مړه کیدل، د حالاتو د ښه کولو لپاره کارګرو د یهودي کارل مارکس نظریه منلې وه او د هغې په اساس یې خپل حقوق غوښتل.

کاربندیز کیده، عام خلک د حکومت نه بیزاره ول او په پای کې انقلاب د بغاوت رنګ خپل کړ، تزار نیکولاس یې د تخت څخه ګوزار کړ او د هغه پر ځای انقلابي حکومت د لینن په مشرۍ رامنځته شو، لینن د مجبورۍ له وجې د جنګ بندی په تړون باندې لاسلیک وکړ.

ددې تړون له مخې روسیې:

یوکرائن، پولینډ، فن لینډ، لیتوانیا، استونیا او لتویا سیمې له لاسه ورکړې او هغه یې د ازادو هیوادونو په توګه په رسمیت وپیژندلې.

د جرمني حالت هم ډېر ښه نه وه، خلکو حوصلې له لاسه ورکړې وې، اقتصادي حالت خراب وه، د خوراک او څښاک قیمتونو له اسمان سره خبرې کولې.

د جمهوریت غوښتونکو، پاچاهیت غوښتونکو او کمیونسټانو تر منځ کشمکش روان وه، چې دې کشمکشونو خونړۍ رنګ خپلوه، شاهي کورنۍ یې ذلیله کړې او له هیواده شړلې وه.

په هیواد کې د جمهوریت د رامنځته کولو لپاره هڅې روانې او اخر یې جمهوریت رامنځته کړ.

اسټریا هم خپلې ځینې سیمې له لاسه ورکړې، په شمالي صنعتي سیمو کې ازاده چکسلواکیه رامنځته شوه، په جنوبي سیمو کې یې یوګوسلاویا او هنګري هم د یوه ازاد حکومت په ډول رامنځته شوه.

Visit www.ketabton.com for more Pashto ebooks.

په دې ډول د جګړې وروسته د اسټريا سره يوازې د ويانا سيمه پاتې شوه، د متحدو هيوادونو لخوا په اسټريا باندې قوي بنديزونه ولګول شول، اوس يې يوازې د ۳۰۰۰۰ فوځ او د دانيوب په سيند کې د درې بيړيو د ساتلو اجازه درلوده.

د ټولې اروپا نقشه بدله شوه، د ۱۹۱۴ ز کال دمخه اروپا اوس يوازې يوه کيسه ګرځيدلې وه، ځو نوي سلطنتونه رامنځته شوي وه او ځو پخواني حکومتونه د خاورو سره خاورې شوي وه.

د ژباړې پای

۲۰۱۳ اکتوبر ۲۴

مأخذونه:

A Conise History of World War 1

The rise and fall of the Great Powers by Paul Kennedy

History of Modern Europe

The Twenty Years Crises

A new History of Indo-Pakistan

The Struggle for Pakistan

د کتاب ليکوال د پورته مأخذونو سربيره د انټرنيټي ويبپاڼو نه هم ګټه اخيستې ده، چې شمېر ۲۶ ته رسيږي، دلته يې راوړل لږ ستونزمن وه، که چيرې ګوګل کې د لومړۍ نړيوالې جګړې په اړه پلټنه وکړی؛ نو ددې ويبپاڼو سربيره به د نورو زياتو ويبپاڼو سره مخ شئ.

Visit www.ketabton.com for more Pashto ebooks.

Visit www.ketabton.com for more Pashto ebooks.